خوارهٔ تراخهٔ

عبدالله جان مغموم (مرچکے)

تغمه امتیاز

د دستار سرې په شمار دي

یو وخت وۀ چې د میډیا طوطي د ترقۍ د عظمتونو د باموټو دومره څوکې نۀ وې سر کړې - په ټوله نړۍ د ریډیو د سحر "وړانګې" خورې وې - د پښتونخوا پښتانۀ هم د دغو وړانګو په "دارو" او ځړیکو منور وو - چې د ماښام د شفق بدرۍ به خپلې "پرې" راټولې کړې او د شپې مور به د خاموشۍ لور ته د سکون په زانګو کښې الله هو شروع کړه - نو د پښتنو په تودو تودو حجرو کښې به د برقاګانو محبتونو ډیوې بلې شوې - د ریډیو دیوقامت سیټ به په مېنځ کښې کېښودے شو ژبې به تالو له لاړې دوه غوږونه دوه سترګې به ځلور ځلور شوې - مشران به په کټونو او کشران به د حجرو د چوترو په بوګلو د پنجو په سر کښیناستل - لارې کوڅې به سپورې شاړې شوې - ګانړې به او دربدې پښتنو مېرمنو به لمبه کړې تنورو نه په ځائې پرېښودل - او دا ټول اهتمام به د دوئي د محبوب "مرچکي" د خورې خندا "آه ها ها ها" له پاره وو - دا هغه وخت وو چې ددې قوم دې خلقو د هر نظر هرې ژبې نه به د مرچکي د "خوږو ترخو" قیصې، ټپې او تذکرې څڅېدې - باوجود ددې چې مرچکي به په خوږه خوږه خندا خندا کښې په دوي تراخۀ تراخۀ تېرۀ تېرۀ د طنز غشي ورول بیا هم مرچکے د دوي د کور، غولي جارګي او ډیوډۍ یو (قابل) او فاتح فرد وو - خو چې هر کله ځان سره د میډیا د ترقۍ سیلۍ نورې نورې تماشې تنداړې راوړې زاړۀ هډونه خاورې شو - او نوو نسلونو نوې نوې مشغلې او تماشې شروع کړې - نو مرچکے هم هېر شو - او خواږۀ تراخۀ هم پوپنا شو - خو نن هغه طنز نګار قلمکار مرچکے په یوه نوې ځوانه جذبه دا دے بیا را اووتو - او خپل ځان دا ځل د عمر عمر دپاره د کتاب د نړۍ په لړۍ کښې دیوې مضبوطې کړۍ په حېثیت محفوظوي زما یقین دے چې د خوږ "مرچکي" (قدر من عبد الله جان مغموم صیب) د خوږو ترخو د کتاب د عمل د افکر د اخیال او احساس به د یو داسې سنګ مېل حېثیت واخلي چې بیا به ئې هیڅ یوه سیلۍ هیڅ یوه چپه د ځان سره چپه نۀ کړي - ځکه چې د "خوږو ترخو" په لړمون کښې ددې قوم زاړۀ خصلتونه، زاړۀ تورې تکې، او زاړۀ روایتونه خوندي دي او هر ژوندے قوم د خپل زوړ دور زوړ تاریخ درنا په بدرګه کښې د مستقبل د شهۍ په ارزو او طلب د منزل د پړاؤنو نخښې او کرښې سر کوي -

سید صابر شاه صابر
تهکال پېښور



عبداللہ جان مغموم

خوازه تراخه

(دویم ځل چاپ!)

د کال ۱۹۶۵ء نه تر کال ۱۹۸۸ء پورې
د ریډیو پاکستان پېښور نه وخت په
وخت د نشر شوو مضمونونو مجموعه

عبدالله جان مغموم (مرچکے)
تمغهٔ امتیاز

(ټول حقوق په حق د ليکوال کښې محفوظ دي)

د کتاب نوم ـــــــــ خوابونه تراخه

ليکوال ـــــــــ عبدالله جان مغموم

د چاپ کال ـــــــــ ۲۰۰۶ ء

بيعه ـــــــــ ۱۵۰/ روپۍ

کاتب ـــــــــ محمد رسول

پرېس ـــــــــ جدون پرنټنګ پرېس پېښور

د موندلو درک

۱- يونيورسټي بُک ايجنسي خېبر بازار پېښور
۲- عبدالله جان مغموم
بمعرفت پوسټ ماسټر شاهين ټاؤن -
يونيورسټي روډ پېښور
د کور فون نمبر ۵۷۰۳۳۶۹

لیکونه

د ځینې نوموړو ادیبانو، شاعرانو او نقادانو لیکونه
مضمونونه او احساسات

لیکوال

1	ډاکټر محمد همایون هما	۸
2	محترم حمدالله جان بسمل	۱۹
3	محترم فضل حق شیدا	۳۰
4	محترم میر عبدالصمد خان	۳۳
5	محترم قاضي سرور	۳۶
6	ښاغلی مولانا محمد اسرائیل	۳۹
7	ښاغلی مشتاق احمد مشتاق	۴۰
8	ښاغلی عبدالرحمن شباب	۴۱

مضمونونه

۸	حجره	۴۸
۹	دېراتې	۵۴
۱۰	پواړه	۶۱
۱۱	روژه دار	۶۸
۱۲	ګلاب ماما	۷۵
۱۳	د سپیوږ وادهٔ	۸۱
۱۴	انبور	۸۹
۱۵	خوابښیانې	۹۵
۱۶	نوموونه	۱۰۲
۱۷	سُنت	۱۰۸
۱۸	ښځه او خاوند	۱۱۳
۱۹	د سوال کالې	۱۲۰
۲۰	پښاړ په سر	۱۲۵
۲۱	د وخت قدر	۱۳۲
۲۲	د وادهٔ روټۍ	۱۳۹
۲۳	د روژې آداب	۱۴۴
۲۴	د جنازې نمونځ	۱۴۹
۲۵	خچنه	۱۵۵

۲۶	نشیان	۱۶۲
۲۷	اوزګار خیل	۱۶۹
۲۸	د جمعې موخۀ	۱۷۵
۲۹	د اختر میاشت	۱۸۰
۳۰	خوابښې	۱۸۵
۳۱	نانباځې	۱۹۱
۳۲	خچینه ببو	۱۹۶
۳۳	ساده ګل	۲۰۲
۳۴	دا ناپوهي ده	۲۰۸
۳۵	دا انصاف دے	۲۱۴
۳۶	د روژه دار مقام	۲۱۹
۳۷	قربانې	۲۲۴
۳۸	وهمونه	۲۳۰
۳۹	چرسیان	۲۳۶
۴۰	مامدې	۲۴۱
۴۱	قرضدار	۲۴۶
۴۲	د پور داخې	۲۵۳
۴۳	کانړې	۲۶۰
۴۴	د بجلۍ غلا کړکي	۲۶۶
۴۵	شرک	۲۷۲
۴۶	امروتان	۲۷۸
۴۷	خیرات	۲۸۴

۴۸	زما دې توبه وي	۲۹۰
۴۹	د ځېلو غل	۲۹۶
۵۰	کباب	۳۰۱
۵۱	د مرګ ځانګوکانې	۳۰۷
۵۲	دوکانداران	۳۱۳
۵۳	صفائي	۳۱۷
۵۴	د ښځې مقام	۳۲۲
۵۵	لوظ	۳۲۸
۵۶	نصيحت	۳۳۳
۵۷	د کېلې پوستکې	۳۴۰
۵۸	جوارګر	۳۴۵
۵۹	ژوند	۳۵۰

عبدالله جان مغموم ؟

۱- چي په ۱۴ اګست کال ۱۹۴۷ء د شپې ۱۲ بجې ئې د ریډیو پاکستان پېښور نه په پښتو ژبه کښې د آزادۍ اولنے اعلان کړے وُ ۔

۲- چي د اعلٰی خدماتو د منني په توګه ورله صدر پاکستان تمغۂ امتیاز ورکړې ده ۔

۳- چي په کال ۱۹۸۲ء کښې ورله د بهترین براډکاسټر په حېث ریډیو ایوارډ ورکړے شوے دے ۔

۴- چي اباسین آرټ کونسل ورله د "ځواني مرګ" ډرامې په لیکنې ولنے انعام ورکړے دے ۔

۵- چي پاکستان رائټرز ګلډ ورله په "خوابۀ ترانۀ" کتاب د بهترین طنز و مزاح په حېث اولنے انعام ورکړے دے ۔

۶- چي په حېثیت د پښنده خان د ریډیو د حجره پروګرام مشهور کردار وُ ۔

۷- چي د پښتو ډرامو یادګاري فنکار وُ ۔

۸- چي د شاهکار پروګرام "خوابۀ ترانۀ" لیکونکے او د "مرچکي غونډي" د زوال کردار خاوند وُ ۔

۹- او د دې هرڅۀ نه علاوه د پښتو یو رنګین او د کالجونو د سټوډنټانو ډیر خوښ شاعر وُ ۔

(محمد همایون هما)

عبد الله جان مغموم

(پښنده خان او مرچکے)

د ډيلاپو د دوؤ لافاني کردارونو تخليق کار

د دې خبرې ډېر وخت اوشو ـ څلويښت کاله څو به ئې کيږي ـ څو د ژوند څنې لمحې دومره يادګارې وي چې په زړهٔ او ذهن لافاني نقشونه پرېږدي او بيا دغې هېروند دچا د وس خبره پاتې نه شي ـ دا هم دغه رنګ يوه تاريخي پېښه وه چې دومره موده پس هم لا زهٔ د هغې د روماني انګازو نه بهر شوے نه يم ـ دا د کال ۱۹۶۰ء د ژمي ديو ښائسته وږمېږ ماذيګرې يادونه دې ـ د مردان په ګورنمنټ کالج کښې د شعر و سخن يو ښونده ور محفل جوړ وهٔ ـ د کالج په هال کښې د پښې اېښودو ځائے نه وهٔ ـ په ږومبي قطارونو کښې په کسو او سوفو ملمانهٔ ناست وهٔ او شاته ټول هال د کالج د هلکانو نه ډک وهٔ ـ د دغې مشاعرې ته چې صدارت ئې مولانا عبدالقادر صيب کوؤ د پښتو او مردان د هغې وخت ټول نوموړي شاعران راغلي وو او د سټيج د پاسه په کسو ناست وو. حافظ محمد ادريس صاحب د دغه يادګارې مشاعرې ميزباني کوله هغه به وار په وار د خپلو څوانو ورو تعارف تېکوسره شاعرانو ته د کلام د اوږدولو بلنه ورکوله ـ حمزه شنواري

محمد رخان سمندر، شهزاد خان جوهر، سید رسول رسا، عبداللطیف
وهمي، خیرالحق ګوهر، ډاکټر امین ـ قمر راهي او نور ډیر
زیات شمیره د عبدالله جان مغموم په تعارف کښي حافظ صیب
ووي چي تاسو به په ریډیو ډرامې اورئ ـ د هغه د حق آواز او
د بیدارۍ په اعلان به هم را لوړېدلي یئ ـ هغه هره ورځ حجرې
ته په سندرو سور راځي ـ "عبدالله جان مغموم" نو مغموم بیخي
نه دے خلق یې د پسنده خان په نامه ډیر ښه پېژني او عجیبه
خبره دا ده چي هغه اوس اوس دي مشاعرو له د پېښور نه په
سندرو سور دا رسیدلے دے ـ د حال نه یو هلک چغه کړه هسي واڼۍ
مه پخپله اولیده چي د موټر نه راکوز شو ـ حافظ صیب د چشمو
نه لاندې وکتل او مسکے غوندې شو ـ او عبدالله جان مغموم
د حاضرینو د لاسونو په ناتاره ډیرقا کښي روسټرم ته اودرېدو ـ
منډه وجود، لوړ قد، سکڼ رنګ، په مخ یې تور نیسکلي وړه
وړه بزیره ـ او په سر ولاړ کو منزکړي ویښته ـ مغموم صیب
په دغه زمانه کښي د پېښور ریډیو پښتو ډرامو کښي د خپلو
د زواله مرکزي کردارونو او د هغه وخت د عوامي مقبولیت معراج
ته رسیدلي ډیر وګړام " حجره " کښي د پسنده خان د کردار په
وجه په عوامو کښي بي شانته ډیر مشهور وه ـ په دغه ورځو
کښي ریډیو ما ډپاره د رومان یوه جزیره وه په زړه درې پلوشو
رنګ ورو یوه دکه جزیره چي زه به یې تنش په تصور د ښاپیرو
وطن ته اورسیدم ـ او په دغه ورځ نو زما د خیالونو د روماني
جزیرې یو کردار زما د وړاندې ژوندے جاړ ولاړ وه ـ او

ما ورته په غمځو غمځو کړل - زما د ځان باقي سُرور هم وتحٔ انتها ته ووه - مغموم صیب د ډیرو یو هُنر مند صدا کار وو، او خپل شعر و نه به ئې په داسي مؤثر ډراماټي انداز کښې اوُرول چې اوریدونکي به ورته حیراني شول - په د غه ورځ هم مغموم صیب په خپل کړنګید لي آواز کښې د تهکو د مناسب اداشیګي او وقفو (STRESSES AND PAUSCS) سره چې د خپل غزل اولنۍ مصرعه اووے -

ه زلزلې شي زلزلې شي، زلزلې شي ......

نو په ټول هال کښې یو ه درنه خاموشي خوره شوه، مغموم په ټول هال چارچاپېره یو نظر اوغورزوو، چې ښۀ سَسپېنس ئې پیدا کړو او ناست کسان ئې د شعر د بلې مصرعې اوریدو ته ښۀ لیوالۀ کړل نو یو ساعت د پُن اسراره شان حِصار تیا نه پس ئې د خپل شوخ او رنګین غزل دویمه مصرعه د کالج هلکانو ته ور لوړه کړه او خپل شعر ئې داسي پوره کړو چې

ه زلزلې شي زلزلې شي زلزلې شي

چې ستا شونډې زما شونډو ته نیږدې شي

د دوئمې مصرعې د اوریدو سره په هال کښې یو ناتماره داسي چغې شوې لکه چې د بم چاودنه شوې وي، ټو پټه لړه شوې میږونه دزدزیدل شروع شول د لاسونو پړقا او د هلکانو شور آسمان په سر را وا خستو -

د مشاعرې نه پس چې ټول شاعران او نور میلمانۀ د چایو میز ته اوردیدل نوزۀ د مغموم صیب نه هسې تاوید م راتاویدم

او د یدان تنده مې سړوله.

ماچې عبدالله جان مغموم په رومبي ځل ګڼه لیدلے وه نو خلوښت کاله پس چې ورته ګورم نو ماته ئې په رنګ او څوسه کښې هیڅ فرق نه ښکاري - هم هغه خندنی څهره - مسکی سترګې د سر د ویښتو او د بږیرې ښکلے کټ (صرف فرق پکښې دادے چې ښکلا ویښته تور وو او اوس سر او بږیره دواړه سپین دي) په کړنګیدلي اواز کښې ښکلے پړیکړے نیږي د خبرو چې شګفته انداز - د مینې مجسمه او د خلوص تصویر - زه فکر کوم چې د ځنې خلقو په خوئې بوئې او په خد و خال و ختو ته پیلي ښکلي ولې نه پاتې کوي ماته د دې غټه وجه دا ښکاري چې دا فقیر توره او قلندرمزاجه خلق د خپلو مثبت فکرونو په وجه همیشه په خپله دنیا کښې مست ګرځي هغه چې وئیلے شي چې "مخ د ذهن آئینه وي" زه دا وئیم چې د زړه روښانتیا هم د څهرې د سدابهارۍ سبب ګرځي - نن چې مغموم صيب د درې اویا کالو په عمر کښې هم تکه د ښکلا په شان ژوندے ګرځیدے لیدے شي نو دا ئې په اصل کښې په خپله پاک هیښی او د زړه او د ذهن په سالمتیا و ختو ته ماتې ورکړې ده.

زه د مغموم سره د څه ډېرې نزدې ملګرتیا دعوه خو نه کوم خو هغه زما خوښ دے او د زړونو د قربت د پاره د رسمي ملګرتیا او روابطو تعلق او دوستۍ ضرورت نه وي ما ترې ډیرې ورځې پورې صرف د هغه آواز اوریدو - بیا مې چې په قند او دغه وخت په نوړو مجلو کښې د مغموم شوخ او رنګین غزلونه

اولوستل نو یو قلبي تعلق او مینه مې ورسره پیدا شوه. وروستو چې ما د ریډیو د پاره باقاعده ډرامې لیکل شروع کړل نو رو رو مې ورسره لیدل کتل سوا شو. د پېښور په خیبر بازار کښې د فاروق میډیکل سټور په نوم د مغموم صیب د انګریزي دارو ګانو دُکان وُه. زهٔ به چې کله هم د هغه دُکان ته لاړم نو ډېر په مینه به ئې راسره خبر په خبر اوکړو. او قهوه به ئې راباندې ضرور څښوله. یوازې زهٔ نه، هر شاعر لیکوال او د فن سره مینه لرونکي به چې په مغموم صیب پېښن شول نو هغه به ئې ډېر عزت او قدر کولو. په دوکان کښې به ئې د ریډیو ملګري راغونډ وو. د قهوې دور به چلېدو. ګپونه به کېدهٔ او ټوقې وشتې به روانې وې. د مغموم په رنګې خوږ مینه ناک او د خپل فن معراج ته رسېدلے فنکار، د ریډیو دومره اهم شخصیت د ریډیو د واکدارانو نه څهٔ ګیله من غونډې ښکاري. خو د مغموم غونډې د خپل فن په سردرو کښې ورک خلق د خپل خفګان اظهار چرې هم نهٔ کوي. دا ئې لا څهٔ کوئې په تېرو ورځو کښې مې د ټیلي ویژن یو پروګرام کښې د ریډیو پاکستان د یو پخواني د اټکهک قاضي سرور خبرې اورېدې. هغه د پاکستان د جوړېدو په وخت د پېښور ریډیو د کارکنانو د خدماتو او جوش جذبې ذکر کولو. و ئیل ئې چې د پېښور ریډیو نه په پښتو کښې د آزادۍ ومبۍ ترانه زموږ انقلابي شاعر او د پښتو ډېر لوے ادبي قهرمان ښاغلي اجمل خټک لیکلې وه. او په اُردو کښې د آزادۍ رناوُ نسیمنټ فلانې سړي کړې وو، نو د قاضي صیب نه د یو

آزاد وطن په ريډيو په پښتو کښې د آزادۍ د رومبي اعلان کوونکي نوم هډو ښيځي هم وو يا ئې ذکر ضروري نه گڼلو او زما په خيال دوی خبرې لا تر اوسه پورې چا ته ذکر نه دي کړې او نه چا څه دوی په حقله ليکلي دي نو ځکه زه په رومبي ځل د تاريخ د پاره دا خبره محفوظ کول غواړم چې د پېښور د ريډيو سټيشن نه په ۱۴ اگست کال ۱۹۴۷ء د شپې ۱۲ بجې په پښتو کښې د آزادۍ رومبے اناونسمنټ عبدالله جان مغموم کړے وو - او دا د هغه په ريډيو کښې د فني ژوند ډېره لويه تاريخي لمحه وه - بلکې د هغه د پاره يو ډېر لوے اعزاز هم دے - رو ما ته دا فخر حاصل دے چې د عبدالله جان مغموم په آواز نشر شوے د آزادۍ اولنے اعلان ما اورېدلے وو - مغموم صيب چې تر څو په ريډيو کښې کار کولو نو د مائيک مخې ته ئې د خپلو فنکارانه صلاحيتونو په اظهار کښې د هيڅ شوهتيانه کار نه دے اخستے - د مائيک سره د مينې او د خپل فن سره د عشق په برکت ئې خپل هر کې دار لا فاني کړے دے -

د پېښور ښار نه قطب ارخ ته څلور ميله لرې د خليلو په ټپه کښې پروت "دارمنگي" د عبدالله جان مغموم کلے دے هغه د سکول د کاغذونو په حساب په کال ۱۹۲۸ء کښې د دغې کلي په يوه درنه علمي کورنۍ کښې زېږېدلے دے - والد صيب ئې د خپل وخت ډېر لوے عالم مفسر او حافظ قرآن وو - ايا ندا او وزے وئے چې مغموم زما د ماشوم والي د لوبو ملگرے دے - زمونږ تر زوږ هم ده نو ځکه په ماشوم والي د خپلې مور سره زمونږ کلي

ته ډېر تلے راغلے دے - د مغموم والد صاحب ډېر درونډ خویه او سنجیده بنی آدم وو خو د آیاز لاله د مخه مور بې ئې باغ و بهار شخصیت لرلو - هر وخت به ئې خوله د خندا ډکه وه - مُدام به خوشحاله وه او دومره خوند ناکې خبرې به ئې کولې چې د بنده زړهٔ به غوښتل چې دې خبرې کولے او ما اوریدے - د مغموم صیب د شخصیت په حقله د آیاز داؤدزي دا تجزیه ډېره مناسبه ده چې مغموم ته د پلار نه وراثت کښې مُصلح رسېدلې ده او د مور دَ اړخه ورته باغ و بهار کردار "پښنده خانی" دا ئې د پلار دَ دیني علم او د پېر هېڅکاره ثوند اعزاز دے چې د هلکوانے راسې به مغموم چرې نمونځ قضا کړے نهٔ وي هر وخت ئې په شونډو د خدائے ذکر جاري وي - پاتې شوه د هغه خوش طبعي؟ نو دا ډېر یواته ملکه ئې د مور د شودو برکت دے -

عبد الله جان مغموم لا په سکول کښې سبق وے چې دَ ریډیو پروګرامونو کښې د ماشومانو کردارونه به ئې ادا کول - چې لسم ئې پاس کړو نو په ریډیو کښې سټوډیو کلرک بهرتي شو خو د خپلو فنکارانه صلاحیتونو په برکت ډېر زر ئې دَ ریډیو په پروګرامونو کښې برخه اخستل شروع کړه او بیا د پښتو ډرامو داسې پوخ ضرورت شو چې د مغموم نه بغیر به د پښتو هره ډرامه نیمګړې او ناپوره شان به لګېده خو د دوستانو د خبرو اترو پروګرام "حجره" کښې د پښنده خان کردار زهٔ د عبد الله جان مغموم دَ فن دَ شناخت بنیاد ګڼم - دا پروګرام به د ریډیو نه پوره دېرش کاله هره ورځ نشر شوے

دي - په دې پروګرام جرګه کښې د مغموم نه علاوه شهزاده خان
جوهر، رحیم شاه نسیم، او ګل محمد خان ګل هم برخه اخسته - دا
د جرګې دوستان وو - د دوي په دغه جرګه پروګرام کښې هغه
شته او سنجیده توقې ټقالې اوکیږې اوسه پورې
د خلقو یاد دي د ریډیو پاکستان پېښور، خوش قسمتي وه
چې په دغه وخت کښې دا نامتو فنکاران د دوستانو او د
جرګې د ملګرو په شکل کښې په ریډیو کښې راغونډ
شوي وو - او چې ترڅو دا د څلورو ملګرو ډله برابره وه -
نو جرګه اباده وه او چې په دغه ډلې مرګي چپاؤ اوکړو
نو درې ملګري ئې ترې نه یو رل او د جرګې څلورم ملګرے
پښنده خان یعني عبدالله جان مغموم اکّي یوازې پاتې
شو او جرګه لاړه شاړه شوه او هغه چې شاړه شوې ده نو لا
شاړه ده -

"خوږه تراخه": د مغموم صیب په عوامي سطح یو بل مشهور
ریډیائي پروګرام وو - دا سې راته یاد دي چې دا پروګرام د کال
۱۹۶۵ء د جنګ په دوران کښې "د پاکستان غزا" په نوم شروع
کړے شوے وو - او د جنګ د ختمیدو نه پس د پاکستان غزا
پروګرام د جنګي مقصد و نو نه د معاشرې د اصلاح رنګ واخستو
او نوم ئې "خوږه تراخه" کېښودے شو - په دې پروګرام
کښې به مغموم صیب د مرچکي په نوم د امروزه ژوند خامۍ
په ګوته کولې - د لسو منټو دا پروګرام به هغه پخپله
لیکو، پخپله به ئې پېش کولو او پخپله به ئې نشر کولو دهرې

خبرې په شروع او په آخر کښې د مرچکي د خاص سټائل خندا
دا پروګرام ډېر خوندور کړے وه او خلقو به په ډېر
شوق او مينې سره اورېدو. د "خوږه ترخه" مضمونونه
بيا مغموم صېب په دوه جلده کښې په کتابي شکل کښې چاپ هم
کړه - زه داسې محسوسوم چې دا ليکونه په چاپ شکل کښې
د پښتو په نثري ادب کښې يوه ګټه وره اضافه ضرور ده خو
د مغموم صېب په آواز به چې دې پروګرام په اورېدو کښې
څومره خوند کولو په لوستو کښې ئې هغه مزه او اثر نه وو، او
زه وايم چې دا هم د مغموم صېب د فنکارۍ کمال وو چې مړه
ټکي به ئې د خپل آواز په جادو ژوندي کړه -

مغموم صېب په خپله ځوانۍ کښې ډېره رنګينه شاعري
کړې ده او ډېرې مستۍ او شوخۍ غزلې ئې ويلې دي - حقيقت
دا دے چې د مغموم ژوندۍ رنګينه شاعرۍ د هغه د فنکارانه
ژوند په شان يو انفراديت لري - د پېغلې او پېغلتوب د رنګين
تصور د مغموم په شاعرۍ کښې يوه داسې بنيادي نکته ده چې
د هغه د شاعرۍ ټوله ماڼۍ ئې دلکشه کړې هم ده او منقش
کړې هم - محترم اياز داؤدزي په خپل يو شهکار مضمون
پېغله! د مغموم د شاعرۍ تر شا محرک قوت " د
عنوان لاندې چې د ګلستان مجلې د کوټې د اکتوبر ۱۹۵۲ء په ګڼه
کښې چاپ شوے دے - د مغموم صېب د شاعرۍ خوږه په ګوته
کړې دي - هغه په خپل دغه مضمون کښې وائي ....
" د مغموم په شاعرۍ د پېغلې او پېغلتوب خيال داسې ورخور دے

چې د هغهٔ هر شعر او هر غزل په ځېله یوه ښکلې نازولې پېغله ښکاري"

پېغله یو نسواني کردار دے او په کومه شاعرۍ کښې چې دا کردار بیا بیا راځي نو په دا سې توګه شاعرۍ د نسوانیت رنګ غالب وي - نو مغموم صیب د پېغلې او د هغې د ښائست سره د تړلي څیزونو یعنې د مکسو - د لوپټې د بنګړو ذکر په دا سې انساني جذبه کړے دے چې شاعري ئې ما ورائي او تصوراتي جهانونو ته نۀ ده رسېدلې - د بنې آدمو د ماحول شاعري ښکاري مغموم صیب پېغله د خپلې شاعرۍ په نیوکلس جوړه ولو کښې د انسان د فطري جذبو ډېر مؤثر اظهار کړے دے - نو دا ما د پاره ډېره د حیرت خبره ده چې مغموم صیب لا تر اوسه د خپلې شعري مجموعې چاپ کولو ته خیال شوے نۀ دے - او دا زما د پاره بیخي یو انکشاف وو - چې د هغه ټبر هم شاعره ده، او مغموم صیب د خپلې شاعرۍ د مجموعې د چاپ کولو نه آګاه و د هغې د شاعرۍ د چاپ کولو د پاره په منډو ترړو دے -

عبدالله جان مغموم د پښتو په صحافتي ډګر هم کار کړے دے - "د خپلواک" د خپل وخت یوه ښکاره پنځلس ورځنۍ رساله وه چې د کال ۱۹۵۸ - ۶۱ء تر منځه د پېښور نه د هغه په ادارت کښې خورېده - د "خپلواک" ژوند مختصر وو خو معیاري رساله وه او د خلقو تر اوسه پورې یاده ده - مغموم صیب یو مینه ناک بنی آدم دے - ما د ټیلي ویژن د پاره خپله رومبۍ ډرامه فیصله هم د مغموم په وینا او مشوره ټیلي ویژن ته لیږلې وه چې په کال ۱۹۶۸ء کښې د پېښور نه د پښتو هفته وار پروګرام "آغوش

ښکاره کېږي نشر شوه۔

عبدالله جان مغموم یکوال شاعر، صحافي او صداکار د پښتو په ریډیو پروګرامونو او ډرامو کښې د خپلو لازواله او لافاني کردارونو د پښنده خان یادګاري کس دار او د مرچکي په نوم دریدلی په تاریخ کښې د دوام بیا مونده په وجه د ریډیو دنیا یو ډېر د عزت او احترام ژوندی نوم دے۔

پروفیسر ډاکټر محمد همایون هما
ګورنمنټ کالج
مردان

حمد الله جان بسمل

عبدالله جان مغموم
فن او شخصیت

د مشرانو د خولې وېناده چې
"د خوږ کښې کا نړۍ ډېر دي خو کار په سر تمام دے" او خوشحال بابا وائي ؎

چې دستار تړي هزار دي (نو)
د دستار سړي په شمار دي

خبره مې په دې پورې اوکړه چې د دنيا د بنې آدم و يو سيلاب دے چې روان دے څوک راځي او څوک تړې ځي خو په دوي کښې ډېر کم داسې خلق دي چې تاريخ کښې ئې ځان له مقام پيدا کړے وي او تاريخ کښې مقام هله پيدا کېږي چې څوک تاريخ متاثره کړي او دې ته ئې مجبوره کړي چې هغه له ځائے ورکړي خو تاريخ متاثره کول څه داسې آسان کار نه دے ځکه چې د انساني تهذيب بې شمېره زنګونه ـ جنبتونه او طرفونه دي او دا ټول چې را يو ځائے شي نو ثقافت او تهذيب ترې نه جوړيږي د دې يوه حصه يا طرف (Direction) ادب هم دے ـ ادب په ډېره نا محسوسه طريقه انساني تهذيب او ثقافت له لارې بدلوي او انساني ژوند کښې د اصلاح خوشحالي ترقۍ او تفريح مدونو له وده ورکوي ـ

عبدالله جان معصوم د ادبي میدان شهسوار دے۔ د فن د دنیا ځلنده ستورے دے۔ ډېر لوئے براډکاسټر او ډېر لوے همه ګیر فنکار دے۔ معصوم صیب په داسې وخت کښې د نشر یاتو شعبه کښې نوم پیدا کړو چې ریډیو خلقو اورېدو، خو پښتنو وئ نه چې دا څۀ شے دے چا به چې په ریډیو خبرې کولې هغه عامو خلقو ته د دې دنیا مخلوق نۀ ښکارېدو۔ د عامو خلقو دا خیال وُ چې دې مخلوق ته رسېدل دوي سره خبرې کول یا ملاقات کول۔ دوي سره ناسته پاسته یا نزدې ورتلل ناممکن دي۔ دې نه دا ثابتېږي چې د دغه زمانه کښې دَ ریډیو سړي ریډیو ته رسېدل او بیا یو خاص نوم او مقام پیدا کول د یو ډېر ترقي یافته، جدید او جدت پسند او د ایډوانس ذهن د خاوند کار دے۔ دې نه دا معلومېږي چې معصوم صیب نۀ یوازې د یو رسا ذهن خاوند وُ۔ بلکې انتهائي زړه ور هم وُ۔ چې یو څو ئې داسې جدید چې اداري ته ځان او رسولو او بیا ئې دا چې د خلقو د خبرو او ذهنیت پروا ئې او نه کړه ځکه چې هغه زمانه کښې ریډیو کښې ټولو کارکوونکو ته عامو خلقو ډمان وئیل۔ معصوم صیب راته خبره کوله چې په ابتدا کښې به چې د ریډیو سټېشن سره اکثر خلق تېرېدل (خصوصاً د مانکي شېخان) نو مخونو ته به ئې د څادر پسکې اونیولې چې هسې نه چې په ریډیو سټېشن مونظر پرېوځي او هسې نه چې ګنهګاران شو۔

یو ډېر لوئے او ثقه سړي په هغه زمانه کښې زمانه ټیوس اوکېږو چې ته څۀ کار کوې۔ ما ورته وئیل چې زۀ ریډیو کښې نوکر

چې هغه مشر سړي سر اوځوړولو او افسوس ئې اوکړو چې تا او ستا جان مغموم هر څه کښې ودکړه. ماوئیل ولې؟ وې ستا خاندان او د مغموم خاندان زمونږ پیر خانه وه او تاسو د هغه پیرخانه د ړې وړې کړه -

اوس فکر اوکړئ چې په داسې وخت کښې د ابلاغ دې اهمه اداره کښې کډکول څومره ګرانه کشاله وه او څومره دروند تهمت په سر منل وو. څوما اووئیل چې مغموم صیب ډېر زړه ور و. روستو بیا دې وخت راغلو چې هم هغه خلقو چا چې ریډیو ته د کرکې او نفرت په نظر کتل هغه خلقو ریډیو کښې تقریرونه او ملازمتونه کول په لوے فخر ګڼلو او اوس هم د ریډیو سره تعلق قائمول په لوے فخر ګڼي -

نن صبا میډیا ډېره ترقي کړې ده خصوصاً الیکټرانک میډیا بې اندازې مخکښې تګ اوکړو - خو دا ترقي د تعداد سره تعلق لري د معیار سره نه. په ملک کښې عموماً او په دنیا کښې خصوصاً د ریډیو سټېشنونو شمېر زیات شو د ټي وي چینلې بې شمېره را اووتې - زما په خیال چې په دنیا کښې نن د هر څه نه زیات شمېر د الیکټرانک او پرنټ میډیا دے او دا شمېر ورځ په ورځ زیاتیږي - د دې ادارو کښې اوس هم د هغه خلقو نه چې په مختلفو حیثیتونو کښې کار و ته کوي چا چې په ما او په مغموم صیب باندې دا الزام لګولو چې مونږه د خلقو پیرخانې ورانې کړې - او هم هغه خلق اوس په خپلو د غو بچو فخر کوي چې څوک د ریډیو غونډې ادارې سره تړلي دي - دا د خوشحالۍ او فخر خبره

ده - دا یو داسې لوی کار دے چې صرف لوی خلق ئې کولی شي - ما هغکښې ذکر اوکړو چې د میډیا په حقله بې شکه چې شمس سپوږمۍ شو څو معیار هغه پاتې نه شو کوم چې د مغموم صیب غوندې خلقو قائم کړے وُ - ریډیو او ټیلي ویژن بانديَ صرف خبرې کول او په ټیلي فون بانديَ اوریدونکو او کتونکو سره یو غربل غر ویشتل څۀ معنی نۀ لري - د میډیا اصل مقصد یو خاص پیغام رسول وي او مقصد دا وي چې د پیغام د بار بار رسولو په ذریعه د خلقو ذهن له یو خاص جهت (ډائریکشن) ورکړي - مغرب لوی لوی ټیکنالوجي د دغه غرض دپاره دا وُباسي او کارترې اخلي - او مونږ صرف دا خپله توره کړو چې " شو آن لائن " کښې د ټیکنالوجي مظاهره اوکړو او بس پاتې شو مقصد نو هغې سر او نۀ وړو -

دا دومره خبرې مې په دې پورې اوکړې - چې مغموم صیب ته که مونږ د یو براډکاسټر په نظر اوګورو نو ځان له ئې یو خاص تاریخ جوړ کړے دے یو لیجنډ (Legend) دے - د خپل وخت زبردست اناؤنسر د ډراموسرخیل فنکار، بې مثاله کمپیر - او هر کردار ئې چې کړے دے نو هم په هغه نامې مشهور شوے دے او خلقو پېژندلے دے -

" حجره " پروګرام د خپل وخت د ټولو نه زیات اوریدلے شوے پروګرام وُ په دغه پروګرام کښې عبدالله جان مغموم د پښنده خان په نامه کردار اداکولو د یو اَن پړه او ساده زمیدار چې هر وخت به په سندرا سور وۀ - او لور به ورسره وُ -

پښنده خان او د هغه سندرې دومره مشهورې وې چې تر اوسه پورې لا د خلقو په ژبو باندې نقش دي . او ثبوت ئې دا دے چې بلا خلق اوس هم مغموم صیب د پښنده خان په نامه پېژني .

" خوابدهٔ تراخهٔ " د مغموم صیب یو داسې پروګرام دے کوم به چې دهٔ پخپله لیکلو او په خپل آواز کښې به ئې په خپله نشرولو . په دې پروګرام کښې به مغموم صیب د " مرچکي " په نامه اورېدونکو ته مخاطب کېدو او د اورېدونکو په ژړونو او زخمونو کښې ځان له یو ځائې هېر ورنکې مقام پېدا کړے وه . د " خوابدهٔ تراخهٔ " پروګرام د اورېدو دپاره به خلقو اوږدو نیټو ته ځان رسولو . او د دې پروګرام اورېدل به ئې یوه فریضه ګڼله . او د دې ثبوت دا دے چې د " خوابدهٔ تراخهٔ " د اورېدو دپاره به په بازارونو کښې خلق په دومره ګڼ شمېر کښې پېړیو ته را غونډه شول چې تر پښو به جام شو . د دې پروګرام " خوابدهٔ تراخهٔ " د مقبولیت وجه یوازې د پروګرام مسوده نهٔ وه . کومه به چې مغموم صیب لیکله بلکې د هغهٔ د وینا او ښکلې پکښې هم ډېر لوئې لاس وهٔ . تر څو پورې چې د مسودې تعلق دے نو په دې کښې شک نشته چې د طنز و مزاح په لیکونو کښې " خوابدهٔ تراخهٔ " یو منفرد طرزِ تحریر لري . ځکه چې په پښتو کښې د پرو لیکوالو ادیبانو د طنز و مزاح په میدان کښې ډېر ښکلې کوششونه کړي دي چې په خپل وخت سره ئې لوے نوم پېدا کړے دے خو د مغموم صیب " خوابدهٔ

تراخۀ" منفرد حیثیت ځکه لري چې دده هره یوه مسوده کښې صرف طنز و مزاح نۀ دے ـ بلکې د طنز سره یکښې د اصلاح پهلو هم ډېر نمایان دے یعنې د معصوم صیب "خوابۀ تراخۀ" نۀ یوازې طنز دے ـ نه یوازې مزاح دے او نۀ یوازې د چا په شخصیت کمزورې پورې ټوقې دي بلکې د هر پروګرام شروع کښې د طنز او مزاح نه شوې ده نو خاتمه ئې په نصیحت او د اصلاح په خبرو په داسې ډول کښې کړے شوې ده چې خلق ئې د خپلې نیکې مشورې په خپلولو مجبوره کړي دي، او زما په خیال چې دا د معصوم صیب د قلم زور وۀ چې هره خامي او د معاشرې هره یوه ناړامه یې چې معصوم صیب یو ځل د خپل قلم لاندې راوسته او خپل مخصوص انداز کښې به ئې پرې داسې بحث اوکړو نو بیا به خلق مجبوره وو چې د معصوم په ښودلې شوې مشورې دې عمل اوکړي ـ نو زۀ دا په یقین سره وئیلے شم چې د "خوږ و ترخو" د کامیابۍ سبب که یو خوا ته د هغه د قلم او طرزِ تحریر زور وه نو ورسره د هرې مسودې طرزِ ادائیګی او عوامو ته د پېښې کولو طریقه ډېر وګام د کامیابۍ لوے سبب وو ـ

معصوم به د هر پروګرام شروع د یو خاص قسم منفردې خندا نه کوله ـ ډېرو خلقو ـ ډیرو براډ کاسټرانو د دغې رنګې خندا د کولو کوشش نه کړے دې خو کامیاب شوی نۀ دی ـ د معصوم خندا صرف خندا نۀ وه یو ډېر لوے پیغام وو ـ دې خندا کښې به معصوم صیب خپل ټول ذهني حالت ـ غصه ـ خوشحال ، خفګان بلکې خپل ټول شخصیت اورېدونکو ته اورسولو ر دې

تر په نثري ټوټه کښې موږ ته امدادي عنصر وټیلي شو) او دې
څنډا به د مغموم صیب د خبرې اثر کښې نور هم ډېر زور او شدت
[illegible] وستو - او ابلاغ کښې به ئې دومره لوے کار اوکړو چې اورېدونکے
په فوراً د مغموم صیب سره د هغه سوچ او طبیعت کښې
شامل شو دا د ډېرې لویې فنکارۍ مظاهره وه نو چې څوک
پرې پوهېږي - عبدالله جان مغموم په ریډیو کښې د فنکار
په حیثیت دومره زیات او دومره متنوع کارونه کړي دي
چې دی لنډ تنګ وخت کښې د هغې احاطه کول زما څخه چې
دیو بنده په وس کښې هم نۀ ده - ځکه چې مغموم صیب د نثریاتو
په تاریخ کښې په خپل ځان کښې یوه اداره ده - د دۀ دور یو مثال
دے چې نعم البدل ئې لا تر اوسه پورې نشته -

د فنکارو د نثریاتو د یو نامتو براډکاسټر نه علاوه
مغموم صیب یو ډېر لوے لیکوال هم دے - او د هغه زماني د پښتو
لیکوالو سره تعلق لري چې د چا نوم د پښتو ادب په دنیا کښې
په ډېر عزت او ډېر احترام سره اخستے شي - لکه د مثال په طور
په [illegible] کښې دا دي -
[illegible] - میر حمزه خان شینواري - قلندر مومند -
[illegible] شریف مفتون - فضل حق شیدا - اجمل خټک
[illegible] ادیبانو په خپل وخت کښې د پښتو ژبې
[illegible] خدمت کړے دے - حقیقت دا دے چې دا لوے ادیبان
[illegible] ادب په دنیا کښې ئې ډېر لوے مقام لرلو - په دغه
[illegible] ادیبانو کښې مغموم صیب هم د یو ځلانده ستوري په حیثیت

شامل دے ۔

د ټیکوال په حیثیت د مغموم صیب ځان له یو منفرد دستائل دے او دغه ډېر منفرد او (ORIGINAL) اسلوب دے ۔ دا سې ښکاري لکه چې مغموم صیب د هیچا نه متاثره نۀ دے ۔ په خپل ځان کښې ډوب یو سمندر دے ۔ او دا زما خیال دے چې پښتنو ټیکوالو کښې دے هو بنے ټیکوال دے چې د ژبې نۀ ئې په ټیک کښې تکلف د منځ نه او ویستو ۔ هم دغه ژبه کښې ئې ټیکل شروع کړه کومو کښې چې خلق د یو بل سره خبرې کوي ۔ د کتابي ژبې تکلفات ئې یو خوا ته کېښودل ۔ او د غه وجه ده چې هغه یکدم خپلو لوستونکو او اورېدونکو ته دومره ورنزدې شو چې هغوي خپل یو ډېر نزدې ملګرے وګڼلو او د هغۀ پیغام ئې د زړهٔ د کومې نه قبول کړو ۔ د مغموم صیب شال د یو حاذق طبیب په شان دے ۔ هغه نۀ یوازې مرض په ګوته کوي بلکې د تشخیص سره سره د مرض علاج هم ښائي ۔

مغموم صیب یو خو هغه خۀ ټیکي کوم چې هغه وینې ګورې مشاهده کوي ئې هغه د خپل ټیک په رڼا کښې د معاشرې د خرابو ۔ د ښو ۔ د معصوم والي او پاک والي د وس او بې وسۍ او تکلیفونو او خوشحالۍ یو ډېر صحیح تصویر پېش کوي ۔ او د دې صحیح تصویر د پېش کولو او د مکمل پیغام رسولو د پاره هغه له خدائے پاک دومره رسا ژبه ورکړې ده چې د خوږو نه خوږه ده او د ترخو نه ترخه ده که لولې ئې نو پکښې ډېره لویه مزه ده کښې د لطف خزانه ده ۔ د هغۀ "خوائږه ترخۀ" که د ریډیو د

پروګرام په شکل کښې وي او که د کتاب په شکل کښې. د مغموم
صیب هم د دغه استاذۍ په وجه ډېر شهرت لري او خلق ئې
په شان ډېر خوښوي.

د پښتو کتاب په چاپ کولو چې څومره خرچه راځي نو دغې
زیات خرچ ئې بیا په مفت تقسیمولو او خلقو ته رسولو باندې
راځي. څو "خوبونه ترخه" چې مغموم صیب په ورومبي ځل
چاپ کړو نو په دوه درې میاشت کښې ټول خرڅ شو او بیا به
ورپسې خلق الټې تلټې کې ګرځېدل. اوس مغموم صیب یو ځل بیا
خوبونه ترخه ستاسو لاسونو ته در اورسولو امید دے چې په
لوستلو او لوستلو کښې به ئې هم د هغه مینې اظهار اوکړئ لکه چې
څنګه مو کړے وه.

د "خوبونو ترخو" کښې د ډرې نه علاوه د مغموم صیب کردار
سازي هم ډېره د کمال ده. که ځو د خوانۍ خبرې کوي او که د انګور
لوبندو واڼۍ چې کښې مغموم پخپله خوانۍ پاتې شوې ده یا
پخوا پخپله انګور ده. د کلا تې بیو نامه چې زۀ اوس هم
د اوږم نو راته د پښتو شپېتو کالو یوه ښځه را مخکښې شي
چې سر ئې په تور سرپیچک تړلے دے. تور او سپین ګېږ وړ ویښته
ئې غوږونو سره د سرپیچک نه بهر ته راوتي دي لاسونه ئې د
سوټو نه ګنده دي او سپیاڼې ټېپي. یا د کوډ کوټه کښې ولاړه ده په
ماشومانو پسې لنحاله رانستې ده. چې ځئ ورک شئ دلته
موخه شور جوړ کړے دے. څو د "خوبونو ترخو" پروګرام کښې
د ټولو نه لوئے کردار مغموم صیب (مرحوم) پخپله دے چې ثاني ئې

نشته -

د املې شوې خبره ده چې کومه مسوده ريډيو له او ليکلې شي نو هغه د غوږ دپاره وي دسترګو دپاره نه وي - او دا سې مسوده صب چې چاپ شي نو لوستونکي له خوند نه ورکوي - څو د مغموم صب " خوانده تراخه " کېنې د ټولونه لوے کمال دا دے چې لکه ځنګه اورېدل خوند کوي دهغې نه زيات ئې لوستل مزه کوي - او دَ نشريا تو په تاريخ کښې دا په وجې ليک او اولنے ليکوال دے چې دا دواړه کمالونه پکښې شته -

ښخوا يو ځلې د پېښور يونيورسټۍ دسنډيکېټ عالمانو فاضلانو په دې غرض را جمع شول چې د کالجونو په نصاب کښې د طنز و مزاح مضمون هم شامل کړي او په دې لړکښې د مغموم صب " خوانده تراخه " کتاب هم دغه سنډيکېټ ته وړاندې کړے شو، وه خودَ لکېنټې ځنې عالمانو دا اعتراض اوکړو چې ددې کتاب مضمونونه دَ ريډيو دپاره ليکلے شوي دي او صرف د اورېدو دپاره دي د لوستو دپاره نه دي - څنګه اووېم نو زما په خيال يا څو هغوې دا کتاب لوستے نه وُه - هسې په تياره کښې ئې ګوزار اوکړو او يا کېدے شي " څه پېشه ورانه رقابت پکښې شامل وُه - دا صفت يوازې د مغموم صب په ليک کښې نه دے - وائس آف جرمنۍ د ډېر ښخوا راسې ځنې نشر شوے مواد کتابي شکل کښې چاپ کوي - لکه ښخوا به چې ريډيو کښې د TALKS يعنې د تقريرونو شعبه ډېره زياته اهمه وه او په سټېشن کښې به چې د ټولونه قابل ډېرو ډيو سر وُه هغه ته به دا شعبه ورحواله کېده

نو خبره مې دا کوله چې وائس آف جرمنۍ به تر اوسه د ډېره یوند نشر شوي تقریرونه کتابي شکل کښې چاپ کول او خلقو به ډېر زیات خوښول - نو بیا د مغموم صیب په کتاب دا قسم اعتراض کول سره د ډېره علمه د کم علمۍ مظاهره نوه - (کښې)

بهرحال خبرې ډېرې دي - د مغموم صیب تحقله خبرې کول ډېر وخت غواړي، او اوس هم زما خیال دے چې ما په سپره کښې ئې پوره نه دي رېښلي - که ژوند وو نو د مغموم صیب تحقله نیمګړے بیان به چرې بیا سرته اورسوم - اوس کتاب ستاسو په لاس کښې دے وې لولئ او خپله فیصله اوکړئ په لوئے الله مو سپارم - والسلام -

د مغموم صیب د دُعا ګانو محتاجه
حمد الله جان بسمل

محکمه قومي تعمیر نو

۸۰ ، فیروز پور روډ لاهور

۱۲ ، نومبر ۷۰ ۱۹ ع

عزتمنده وروره خدائے دې خوشحاله لره !

السلام علیکم ۔ اُمید دے روغ جوړ به يُ ۔ کتاب دې را ورسید ۀ ۔ د یادګیرنې دې ډېره ډېره شکریه ۔ د دې نه اول بل یو جلد هم تۀ دے را رسیدلی ۔ شکریه مې دې زر ځکه ادا نۀ کړه ۔ چې کتاب مې لوستۀ ، ویلې مې چې د لوستو نه پس به خپله رائې هم در اولیږم ۔ په نثر کښې په دومره ساده ، پسته او خوږه ژبه کښې د پښتو ډېر کم کتابونه لیکلي شوی دی ۔ ځکه چې آسانه او عام فهمه پښتو لیکل ګران او ګرانه لیکل آسان دي ۔ زما ګمان نۀ وو، چې کومې خبرې اترې د ریډیو دپاره او لیکلے شي او صرف غوږ او غبن سره تعلق لري ، هغه به کتابي شکل کښې داسې دلچسپ وي چې سترګې به ترې بل طرف ته هډو اوړي نه ۔ د خبر او بصر دا امتزاج زما ډېر خوښ شو ۔ خدائے دې ژبه کښې اثر او قلم کښې قوت هم دغه رنګ لره ۔

د کتاب د لوستو نه ماته ذاتي فائده دا حاصله شوه چې ډېر تکي مې ترې زده کړل او هېر شوي متلونه را یاد شُو ۔ حیران په دې یم چې زمونږ د محمدزو او ستاسو د داوُدزو علاقه یو بل سره پیوست ده ، ولې بیا هم په کښې د لفظونو ساخت او تلفظ بیل بیل دے ۔ مثلاً

موږ چغرق وایو او تاسو چغرک ـ موږ سړه لرو تبه تاسو سړلړې تبه ـ موږ څانګې پانګې تاسو جانګي پانګي وایئ ـ داسې ډېر نکي مې تر نظره دا غلل چې تاسوئ یو شان وایئ، موږ ئې بل شان په ډېر وتکو څو هڅه وي ورسته شوم لکه " بوکلي "

ورور مې ستا د اقمي او قلمي کوښښ ډېر د ستاینې دی ځکه چې ته د یو مخلص او دردمند مصلح په شان اصلاح کول غواړې دیني لوی جهاد دی، یو لوی تحریک دی چې ډېر ثواب لري ـ خدای دې کړي چې دا سلسله د غسي روانه وي ـ که د پښتنو خان د لاسه ونه ـ که د مرچکي یا د بل چا د لاسه ـ د پښتنو معاشره چې څومره خرابوونه یا کیږي هومره به درته زما غونډې خلق دعاګانې کوي ـ

دا ستا خوش قسمتي ده، چې د خپلو نیکو خیالاتو د اظهار د پاره درته ښه ذریعه حاصله ده، چې په لږ وخت کښې ئې لکونه خلق آوري او ګټه ترې نه اخستې شي ـ

دا بنه ده چې خلق ستا خبرې اوري او ته ئې ته آورې کښي په فضول بحث کښې به ئې د دلته ډېر وخت ضائع کړے وو ـ یا به ستا ګرېوان څیرلے وو، یا د هغوي سرمات ـ دا مې ځکه اووے چې کس ډېر نا پوهه وي ته به د هغه د فائدې خبره کوې او هغه به ګڼه د ناپامو بدېو ته اړوي ـ کڼا دې کتاب کښې داسې هیڅ نشته، چې د چا ذره به پرې آزار شي ـ تا ډېره پسته ژبه استعمال کړې ده ـ ما خو په کښې تول خوانده اولیدل، تراخه را ته هیڅ ښکاره نه شو ـ هسې دې پرې نوم خوانده ترا خه اېښے دے ـ

زیات خوشحاله په دې یم چې تا نه صرف زموږ کمزورې ښکاره

کړي دي بلکې دهغې علاج دې هم شوي دی - ځنې حکیم تشخیص نه کولے شي ولې نسخه نشي لیکلے - تا دیو حاذق نبض شناس په شان قوم ته تشخیص او علاج دواړه ښودلي دي - اَللّٰهُمَّ زِدْ فَزِدْ - ماته د کتاب لوستونه روحاني خوشحالي هم حاصله شوه - ځکه چې تا لکه د یو مُعَلِّم د اخلاقي قدرونو او د مذهبي پابندۍ درس هم ورکړے دے -

معلومیږي دا سې چې ستا ټوله توجه د مردان او پېښور ضلع تمدن دا کښلې ده - او په دې کښې کوم ځکه نۀ ئې چې ته هم د غه ماحول کښې پېدا او لوئے شوے یې - گني د خټکو، بنګښو، مروتو، وزیرو، مسعودو ځانګ له دودونه دستورونه او رسمونه دي - اگر چې کومې کمزورې تا په گوته کړې دي - هغه من حیث القوم ټولو پښتنو کښې عامې دي - لیکن ځنې قبیلو کښې داسې خامې دي، چې هم هغوي پورې محدودې دي - د گنو - پوړه - اترې - گوړې په ځائے کله کله د میزرو، باجرې، پاستې - بنګړې، او نسانو کجاوو او د صحبت ذکر هم پکار دے کۀ ژوندون وو نو نور بیا -

او س دې په لوئے الله سپارم - والسلام

ستا ورور

فضل حق شیدا

ډائرېکټر محکمه تعمیرنو -

لاهور

لاهور
۹-۱۰-۶۹

کبران مغموم صاحب!

السلام علیکم - ستاسو مزه ناک او د افادیت نه ډک تصنیف "خواږه تراخه" مې ښه په شوق مطالعه کړه - زه د دې کتاب په لوستو ډېر زیات ځکه خوشحال شوم - چې په دې کښې تاسو هغه څه لیکلي دي او په ډېر ښه شان مو لیکلي دي، چې هغه لا څوک بل چا لیکلي نه دي او که لیکلي ئې هم دي نو په واعظانه او بې اثره ډول مزاح نګاري په ادب کښې د ټولو نه ګران کار دے ځکه چې په دې کښې څوک د بل چا خیالات نه بلکې خپل خیالات چې تجربې او مشاهدې ورته ښائيلي وي، لیکي - زه تاسو ته په دې تخلیقي ادب مبارکي درکوم -

ستاسو دا کتاب به نه صرف په پښتو ادب کښې همېشه یو اوچت او ممتاز مقام لري - بلکې د دې اصلاحي او تعمیري حیثیت به هم همېشه باقي وي - په دې کتاب کښې چې تاسو د کومو ناپسندېده دودونو، رواجونو او د عادتونو جرړې پرې کړې دي او په داسې ښې طریقې مو پرې کړې دي چې زما په خیال کښې پښتو خو لا پرېږده چې د نورو ژبو ادب کښې به ئې هم مثال او معیار نه دی - زما د ډېرې زمانې نه دا خواهش وو، چې په دې حقله څوک ریښتیا خبرې وکړي - ما هم په خپلو کتابونو او مضمونو کښې

د معاشرتي خرابو په حقله ډېر څهٔ ليکلي دي - ليکن هغه فقط اصلاحي
کارکنانو د پاره دي، تاسو خو عوامو سره مخامخ خبرې کړي دي او دا
طريقه زما يا د نورو ليکوالو د طريقو نه ډېره غوره او بهتره ده -
ځکه چې دا سې خبرې په پوهه کښې راځي او چې هر څوک يې واوري
يا اولولي هغه سمدستي په خپلو غلطو آگاه شي - او چې څوک
په خپلو غلطو آگاه شي هغه خپله اصلاح هم ضرور کوي -

خدائے دې اوکړي چې دا کتاب ټول پښتانهٔ سړي او
پښتنې ښځې اولولي - کهٔ بوډاګان دي، کهٔ زلمي دي کهٔ جونې - تاسو
چې د کومو معاشرتي ناسورونو چيره نه کړې ده د هغو نورو هم
چيرل ضروري دي - تاسو چې دومره همت کړے دے، نو اوس دومره
همت نور او کړئ چې دا کتاب لکه دَ رحمان باباؒ ديوان د هر
پښتون په کور کښې پروت وي - پکار ده چې دا کتاب د هلکو او دَ
جينو په درسي کتابونو کښې هم شامل شي، او ددې مطالعه دې
لازمي اوګڼلے شي - بلکې کهٔ زما استطاعت وے، نو ما خو به ددې
کتاب يو يو مضمون په ريکارډ کښې ډک کړے وے، چې پښتنو به
حجرو، په مجلسونو او په کورونو کښې اورېدے -

دا واقعه ده چې پښتانهٔ معاشرتي رنځوران دي او چې
ترڅو چې هغوي معاشرتي تندرستي نهٔ کړې حاصله، تر هغه
هېڅ ترقي نهٔ شي موندے تاسو په خپل کتاب کښې ددې ټولو
مرضونو تفصيل بيان کړے دے - کهٔ پښتانهٔ او نور مسلمانان
دې ټولو معاشرتي رنځورونه ځان خلاص کړي، نو
هغه به په دنيا کښې د ټولو نه زيات توانا او خوشحال قام جوړ شي -

زهٔ اُمید کوم چې تاسو به دا قسم نور معاشرتي
[illegible] مقصود په ګوته کړئ او په دا خپله خوند ناکه او
[illegible] په کښې به ئې خلقو ته دارو دُرمل او ښایئ -

والسلام
ستاسو ورور
میر عبدالصمد خان
ایډیټر "دوسرا سرحد"

قاضي سرور ———— د پېښور ريډيو سټېشن ډائرېکټر

د عبدالله جان مغموم
د فن او شخصيت په حقله
څو خبرې

د عبدالله جان مغموم په ريډيائي ډرامو کښې بې شمېره داسې کردارونه وو چې تر اوسه پورې په عوامو کښې بې ښانه ډېر مقبول دي لکه "پائنده خان" چې د تاريخ په پاڼو کښې ئې ځان له يو منفرد مقام حاصل کړے دے. کله هم چې د ريډيو پاکستان د پښتو پروګرامونو ذکر کولے شي نو د "پائنده خان" کردار به ارو مرو يادولے شي.

دغه رنګ د پاکستان د جوړېدو نه اګاهو "د دوستانو خبرې اترې" د پروګرام يو نه هېرېدونکے کردار هدايت خان به هم تول عمر يادولے شي. او بيا په تېره تېره د "خوابنده ترانه" مقبول بلکې ډېر مقبول کردار "مرچکے" خو د اورېدونکو دومره خوښ کردار او پروګرام وو چې تر اوسه پورې د اورېدونکو ياد دي او تول عمر به ئې ياد وي. په "خوابنده ترانه" پروګرام کښې د مغموم کردار مرچکے د جهاد درجه لري. په دې پروګرام کښې مغموم پښتنو ته خپلې خامۍ په داسې انداز کښې په ګوته کولے

کومو خامیو چې د پښتو او پښتنو لمنې داغداره کړې وه. دغه خامې مغموم په "خوابونه تر اخځه" پرده پورته کړام کښې په داسې ډول بې نقابه چې د خلقو پام به ورته ضرور راګرځېدو او د هغو د لرې کولو کوشش به ئې کولو د "مرچکي" په آواز کښې درد وو. مغموم په لهجه کښې خوابونه وو د هغه په خبرو کښې اثر وو. تو ځکه به د اورېدونکو د ده خبرې خوښې وې. د ده خبرو ته به ئې غوږ کېښودو او د ده په وینا او مشورو به ئې عمل کولو.

عبدالله جان مغموم یو عظیم فنکار دے. یو داسې فنکار چې په مودو مودو کښې چرته پیدا کېږي. د فن او فنکار نو په دنیا کښې مونږ د دې حقیقت نه انکار نه شو کولے چې مغموم یو عظیم رشتونے او په ذهن کښې درد لرونکے انسان دے چې د خپل فن سره تل محبت کړے دے او خپل صلاحیتونه د پښتو معاشرې د اصلاح د پاره وقف کړي وو. عبدالله جان مغموم درېیو د پاره بې شمېره ډرامې لیکلي دي. په بې شمېره ډرامو کښې ئې برخه اخستې ده. مغموم که یو خوا ته بې شمېره کردارونو نامتو فنکار وو. نو ورسره د ډرامو یو ښے اداکار هم وو. مغموم که یو منلے شوے اناونسر و نو ورسره یو ښکلے کو مینټېټر هم وو. بې شمېره خوبې یاک په مغموم کښې راپیدا کړې وې.

عبدالله جان مغموم نن صبا د ریډیو پاکستان منتهٔ ژوندی وي. د هغهٔ فن دَ هغهٔ نوم او د هغهٔ کردار نن هم ژوندي دي

او په راتلونکي وخت کښې به هم ژوندی وي - يو داسې فنکار چې
چا د ريډيو پاکستان په تاريخ کښې يو نه هېرېدونکے مقام
حاصل کړے دے - او چې کله هم د ريډيو پاکستان د مشهورو
پروګرامونو او کردارونو ذکر کولے شي نو د عبدالله جان
مغموم نوم به پکښې سر کښې ليکلے شي - او د دې کردارونو
په حوالې سره د مغموم د صلاحيتونو منته به په ډېرو
ښو او عزتناکو الفاظو کښې کولے شي -

لنډه دا چې عبدالله جان مغموم د پښتو پروګرامونو په
حوالې سره يو تاريخ وُ - يو کتاب وُ - او يوه اداره وه - يو
داسې کتاب چې د هر لوستونکي د پاره پکښې خپل منزل ته د رسېدو
لار تيا کلے شوې وه -

قاضي سرور
اديب - صحافي - دانشور
او د ريډيو پاکستان پښور
سابقه ډائرېکټر

پښتو اکېډېمۍ ته !

پښتو ډېره معصومه !

السلام علیکم - دوغ جوړ او خوشحاله اوسې - ستا خوابده
... ادرم او پوهاوې زه نه هر پښتون ستا پروګرام آوري ـ
... تا نه ډېرې خوښوي ـ حقیقت دا دے چې په کومه ورځ سم دمازیګر
... مان په خپلو کښې پس پسې شروع کړې نو زه پوهے شم چې
... دیید ورځ ده ، او خوابده تر اخه پروګرام به وي ـ
... وېلے چې دیو پیر نه تر بل پیر پورې د خوږو ترخو
... د انتظار دا ورځې څومره درنې وي ـ

زه چې هر ځائے ته تلے یم ، ستا د خوږو ترخو تعریف او
... مې اورېدلې ده ، او په دې کامیابۍ زه تا له د زړه د اخلاصه
مبارکي درکوم ـ ستا ځینې پروګرامونه خو د مقصد په لحاظ
... بنۀ او د اوچت معیار دي چې د انسان د ځلې بې وا راه
... وځي ـ زه تا له په خوږو ترخو د زړه د اخلاصه مبارکي
درکوم او دعا کوم چې ستا دا خوارې په ځائے راشي او د پښتنې
ټولنې اصلاح اوشي ـ

په دې کتابي شکل کښې د خوږو ترخو چاپ کول د پښتو
... پوهې لوئے خدمت دے او الله پاک دې تا له د دې اجر درکړي ـ
آمین ـ

محمد اسرائیل کان الله له

پښتو اکېډېمي ـ

خوږه تراخه

ګرانه مرچکیه روره!
السلام علیکم ستا د روند سوغات "خواږه تراخه" ډېره
ډېره مننه رو د زړه د ا خلاصه درله مبارکي درکوم چې نښکلې
بسم الله دې اوکړه -
د خواږه تراخه" چې راوا خلم نو یو یو مضمون ئې ټوټو
ټوله اولولم او په هر ټوټه ئې د اولني ټول نه هم خوند زیات وی
او هم احساس په زیاتي تېزېږه او زور سره څوکه کوی یعنې
نوي یوازې خوند دے - نو بېخي رنګ دے او نو تنش سوے دے -
اولاچې ستا دخولي چاپخېله اوربدے هم وې نو ناڅاپي ئې د
خولې اوخېژي چې ؎
نُطق کو سو ناز هیں تیرے لب اعجاز پر
شاهد مضمون تصدق هے تیرے انداز پر
دُعا کوم چې خدا ئے پاک دې ددې نه هم زیات زور نظر- صفاپسته
او اواره ژبه او تېره اوکړنده قلم نصیب کړه چې "د خوږو ترخو"
د ترسکونو نه دفتر ونه ډک کړې او ټوټو جلد ونه تصنیف کړې آمین
ستا ورور
خاوري مشتاق احمد مشتاق
پښتو اکېډمي

پېژند ګلو

دَ ورسک دسړک په نمرختیزه غاړه دَ پېښور نه په شلورم ميل دَ خیبر په علاقه کښې دارمنګی نومې يو وړوکے شان کلے دے بردَ پخوانه آباد دے. په دې کلی کښې دَ کال ۱۹۲۸ء دَ اکتوبر په ۲۸، تاریخ په یوې درنې او عزتمنې کورنۍ کښې يو ماشُوم پیدا شوچې مور پلار ورله نُوم عبدالله جان کېښودو. په ماشومتوب کښې به دَهٔ ته خلقو دَ ډېرې مینې له کبله ککے وئیلو. دغه ککے عبدالله جان چې دَ خرپوسو او غورزو پرزونه راغوځکے شو نو تۀ کالو په عمر کښې والد محترم دَ پېښور ښار په سکول کښې داخل کړو. والئ چې دے دومره وران وُوچې اُستاذ به ورته دَ اورلمبه وئيله. چې کال ۱۹۴۴ء راتلو نوکګی عبدالله جان لسم پاس کړے وُو. او دَ وخت دغه سره لمبه بیادَ یو روښانه رڼا په شکل کښې بدله شوې وه. لسم پاس کولو سره سمدستی په ریډیو پاکستان پېښور کښې رچې هغه وخت آل انډیا ریډیو بللے شو، دَ سټوډیو کلرک په حېثیت ملازم شو. دنشریاتو سره ئې دَ اوَل نه دلچسپي وه. ځکه چې دَ سکول په زمانه کښې به ئې کله کله دَ بچو پروګرام کښې حصه اخېسته. دَ نشریاتو سره دغه تعلّق دَ عبدالله جان په ذهن داسې خور ووېچې دَ تعلیم نه فارغېد و سره سمدستی ئې دَ ریډیو ملازمت خپل کړو. دَ دغه ملازمت په دوران کښې به ئې کله کله په ډرامو او فیچرونو کښې حصه اخېسته. اُوچې لږه مُوده تېره شوه عبدالله جان دَ پښتو یو منلے شوے اناؤنسر اوُ دَ ډرامو دومره اُوچت

اداکار شو، چې په جذباتي اورومانی اداکارۍ کښې د دهٔ په شان مرکزي فنکار ریډیو پاکستان ترننه پورې پېدا نکړے شو. او بیا د دهٔ د اداکارۍ د عروج مرحله د "قاضي صیب او هدایت خان" د دوه ؤ دوستانو خبرو اترو کښې د "هدایت خان" د کردار په شکل کښې سرته اُورسېده. د دغې ورځې نه عبدالله جان د کلي نه هدایت خان شو. د "هدایت خان" دا کردار دومره مقبول شو چې د دې پروګرام په وخت به په حجرو کښې ریډیوګانو ته د پښتو اېښودو ځلئے نهٔ وُو. دے د اُولس په زړونو کښې تردې حده ځلئے شو چې د دهٔ ملاقات له به د لرې لرې ځائے نه خلق راتلل او د دهٔ یو نظر لیدل به ئې د ژوند یوه نهٔ هېرېدونکې واقعه ګڼله.

د ریډیو په شان ادبي ماحول کښې د فنکار عبدالله جان هغه ادبي صلاحیتونه کوم چې د مودو راسې د اظهار د پاره ناقلاره وُو. غزوني اوکړې او دغه ادبي میئې د عبدالله جان نوم سره د یو بل تکي اضافه اوکړه. او د دغې نه پس دغه تکي "مغموم" د دهٔ د نامې یو جزو اُوګرځېدو. او د دې روستو مغموم د غزل په مېدان کښې یُون شروع کړو. او ترننه پورې ئې کښې کافي مزل کړے دے. د غزلونو سېنهٔ ذخیره ئې جمع کړې ده. خو چاپ ته ئې لا برابر شوے نهٔ دے.

مغموم صیب د غزل په یوه ښکلې لار تګ شروع کړهٔ. دهٔ په غزل کښې د پیچیده تشبیهاتو، ګرانو او ثقیلو الفاظو په ځلئے ښغ په ښغه خوارهٔ او ساده الفاظ، د زړهٔ درزا، رنګین ماحول او ساده جذبات شامل کړل او د غزل یو سپېځلے شکل ئې پېش کړو.

د مغموم صیب شاعري د مستو خواهشاتو، نازکو احساساتو او رنګینو جذباتو یو ښکلے تصویر دے. دا د مینې په دُنیا کښې د مغموم یو خوږ او زړهٔ

ړلو کې کوشش وُو. په دې وجه دَ دۀ نه پس اکثرو شاعرانو دا طرز خوښ کړو او خپل ئې کړو.

په پنځلسم ۱۵ اگست ۱۹۴۷ء دَ پاکستان دَ جوړېدو اعلان اوشو. او په دغه ورځ دَ شپې دولس بجې دَ پېښور رېډيو سټېشن نه دَ ازادۍ دَ اولنۍ دستورې په سلسله کښې يو خاص پروگرام نشر شو او دا فخر عبدالله جان مغموم ته حاصل دے چې دَ آزادۍ دَ ورځې دَ ړومبي پروگرام ابتدا دَ شپې دولس بجې هم عبدالله جان مغموم دَ اناونسر په حېثيت اوکړه.

دَ پاکستان جوړېدو نه پس په کال ۱۹۴۸ء کښې دَ رېډيو پاکستان پېښور نه دَ "حجرې" په نوم يو بل پروگرام شروع شو. په دې پروگرام کښې عبدالله جان مغموم په يو نوي نوم او نوي کردار کښې اورېدونکو ته مخ شو. هدايت خان نوم ترې لرې کړے شو او "پښنده خان" نوم ورله کېښودے شو. دا پروگرام هم په عوامو کښې ډېر مقبول دے. دا پروگرام ترننه پورې دَ پېښور رېډيو نه باقاعده نشر کېږي. او عبدالله جان مغموم دَ پښنده خان په آواز اورېدونکو ته مخاطب کېږي. اورېدونکي هره ورځ دَ دۀ خبرې اوري خوږې پرې نه لګي وجه دا ده چې دَ دۀ په اداکارۍ کښې تصنع نشته. او دَ خپل کردار په اصل شکل کښې دَ اداکولو ملکه خدائے پاک ورېخښلې ده.

دَ آزادۍ نه پس لکه دَ نورو ازاد قامونو زمونږ په ژوند کښې هم بې شمېره واقعات، حالات او حادثې راپېښې شوې دي او په دغه حادثاتو کښې دَ ټولو نه مهمه حادثه دَ کال ۱۹۶۵ء دَ ستمبر دَ هندوستان او پاکستان ترمېنځه جنګ وُو. په دې جنګ کښې هرچا خپل خپل کردار په ډېر ښۀ شان سره ادا کړے وۀ. کۀ يو خوا ته دَ پاکستان شاهينان او نور تورياليے فوځ دَ دُښمن توپو مشين ګنونو او جهازونو سره په مېدان او فضا کښې په جنګ وُو. نو بل خوا ته رېډيو پاکستان هم دَ دُښمن خلاف دَ جنګ يو ځان له محاذ

پرانستي وو۔ او په دغه محاذ ئې دښمن له زبردسته ماتې ورکړې وه۔ دجنګ په دې ورځو شپو کښې به عبدالله جان مغموم هره شپه پاؤ کم نهه بجې د ريډيو پاکستان پېښور نه "د پاکستان غزا" په نوم يو پروګرام نشر کوُلو. ددې پروګرام دمقبوليت اندازه د دې نه لګېدې شي چې څهٔ وخت به دا پروګرام شروع شو نو په بازارونو کښې به تګ راتګ تپ اودرېدو۔ خلق به د ريډيو ګانو نه داسې راتاؤ شوُل چې پهٔ لاره تېرېدل به ګران وو۔ ترڅو به چې خلقو "د پاکستان غزا" پروګرام نهٔ وو اورېدلے تر هغې به ئې بل څهٔ کار نهٔ کوُلو۔

حقيقت دادے چې "د پاکستان غزا" به په مړو وجودونو کښې ساه راپيدا کوُله۔ او دهٔ جذبات به ئې رالړزوُل۔ پرېوتې حوصلې به ئې راپورته کوُلې۔ او د پاکستان د اوُلس په زړونو کښې به ئې د جهاد يوه نهٔ سړېدونکې جذبه راپيدا کوُله۔ نهٔ پوهېږم چې دا د مغموم د قلم زور وُو۔ که د مغموم د ژبې اثر وُو۔ چې ټول ملّت ئې د هر قسم حالاتو د مقابلې د پاره ډال سينه اُودرَوُلے وُو۔ نو ځکه زهٔ په يقين سره دا وئيلے شم چې ترڅو چې پورې د دغه جنګ نقش زمونږ په ذهنونو کښې موجود وي، "د پاکستان غزا" به ورسره سمه يادوُلې شي او د مغموم نوم به په عزّت او احترام سره اخيستے شي۔

د تاشقند د لوظنامې نه پس دا پروګرام بند شو۔ او په دې رنګ اورېدُونکي د يوُ ډېر دلچسپ او جذباتي پروګرام نه محرومه شوُل ـــ اورېدونکو ډېر شور او کړو خو د حالاتو او واقعاتو تقاضو د اُولس په خواهش او جذباتو بچې اوبهٔ توئ کړې۔ وخت تېرېدو، د خلقو غوښتنه هم هغسې جارې وه۔ چې کهٔ د "پاکستان غزا" نشي نشر کېدې نو نهٔ دې نشر کيږي خو په دغه ډول يو بل پروګرام دې عبدالله جان مغموم شروع کړي چې د اورېدونکو پرې تسلي کيږي۔

اُو آخر مغموم دَ خلقو دَ خواهش احترام اوکړو۔ او "دَ پاکستان غزا" په ډول یو یو بل پروګرام "خوارۀ تراخۀ" په نوم يې لیکل او پېش کول شروع کړل۔ دلته کښې هدایت خان، پښنده خان او مغموم عبدالله جان دَ مرحُکي په نامه دَ اوربېدونکو سره خپله پېژندګلو اوکړه۔ دَ نشریاتو په دُنیا کښې بیا یوه رنګینې راپېدا شوه۔ دَ اوربېدونکو بیا دېر یو نه پام شو۔ خو دې ځل دَ مغموم دَ خوږو ترخو دَ اوربېدونکو دپارۀ یوه هفته انتظار کول وُو۔ دَ یو پېر نه تر بل پېر پورې دېر اوږد انتظار وُه۔ اُوتاسو یقین اوکړئ چې دَ پښتو نخوا نر شبخې، ځوانان، بُوډاګان اُو ما شومان دَ کوتو په بند ونو دَ پېر ترورځې پورې ورځې شمېرې۔ دَ پېر ورځ اُو دَ ما سخُتَن پاؤ کم نهه بجې دَ هر چا په ذهن نقش شوی دی۔ په دې ورځ دَ خوږو ترخو دَ آوربېدو دپارۀ هر اوربېدونکے سم دَ سحرۀ لېواله وی۔ نو دا دَ عبدالله جان مغموم دَ قلم زور اُو دَ ژبې جادُو نۀ دے نو څۀ دی۔ زۀ په یقین سره دا وَئیلے شم چې مغموم په کوم ډول او کوم دلچسپ انداز کښې مونږ ته خپلې خامۍ په ګوته کوی، نو دَ هغې جواب نشته۔ دَ مغموم خبرې کۀ هر څو ترخې وی۔ په معاشرې پورې یو طنز وی۔ ولې دَ دې طنز اُو دې ترخو نه مغموم دَ چینو اُو شکرو داسې خول چاپېره کړی۔ چې اوربېدونکی يې په ترخو هډو پوئې نۀ شی۔ او خبره يې مغزو اُو زړۀ ته ورپرېوځي۔

نو خبره مې دا کوله چې دَ جنګ دَ لړو لړې کښې ونه پس مغموم صیب خپل قلم، ذهن اُو ژبه دَ خپل قوم دَ اصلاح دَ پارۀ وقف کړې دی۔ زمونږ په لړې لړې کلو کښې او سېدونکے اُولس لا ترا اُوسه پورې په تورو تیرُو کښې پروت دے، ترقی یافته قومونه صحراګانې او ځنګلونه خوږېږدو ده چې ستور اُو سپوږمۍ ته اُورسېدل۔ ولې مونږ ته لا ترا اُوسه پورې هم په خپل کور کښې چې لږه شپه راخوره شی نو په هر کوټ پېر اُو هره وُنه کښې راته پېرے نېغ ناست وی۔ دَ کور نه بهر و تل وی، اُو په مرۍ

راته دَ پیرې غلې کېدل وی ـ دَ پښتون په شان زړهٔ ور، بهادر اُو غیوّر قوم په باره کښې دَ دې قِسمه بُزدلۍ خیال هم نهٔ وُو را وستل پکار ـ دغه قِسما قسم وهمونه زمونږ دَ لارې خنډ ان دی ـ او ترڅو پورې چې دَ دغه وړه وړو خنډ انو دَ لرې کَوُلو بند وبست اُونشی ـ اُو زمونږ ذهنونه دَ دغه فرضیاتو نه اُوزګار نهٔ شی ـ ترهغې پورې مونږ یو قدم هم وړاندې نشو تلے ـ دې سره سره دَ مذهبی عقائد ومزے موهم کمزورے شوے دے ـ او دغه شان بې ځایه شکونو او دروغو روایتونو زمونږ دین دَ نورو خلقو دَ خندا کړے دے ـ نو ترڅو پورې چې دین ته توجّه اُونهٔ شی او دَ دین صحي مفهوم زمونږ په ذهن کښې کښېنهٔ نهٔ وُلے شی ترهغې پورې مونږه صحي مسلمانان هم نهٔ شو جوړېدے ـ ولې دا داسې مسائل دی چې په ظاهره خو واړهٔ لیدلے شی خو مېنځ کښې زمونږ دَ معاشرې په وړاندې ټګ کښې هم داحائل دی ـ دغه باریک اُو دَ نظر نه په خنډ ه عیبونه دَ مغمّوم صیب دَ تجسُّس نظر ډېر په آسانه بیا موی اوزمونږ په مخکښې ئې په عامیانه ژبه کښې په یوه مدلّله طریقه پېش کړی ـ نو په دې لحاظ سره کهٔ مغمّوم صیب دَ قوم دَ اصلاح دَ پارهٔ یو لوئے مُبلّغ اُوکڼو نو بې ځایه به نهٔ وی ـ

مغمّوم صیب له چې قُدرت دَ لیکلو کومه ملکه ورکړې ده، په خیالاتو کښې ئې خومره سوز، الوت اُوروانی ایښې ده ـ په قلم کښې خومره خوارهٔ ایښي دی، دَ هغې مثال دَ یو خوروُور سمندر یا دریاب دے ـ نو ترڅو پورې چې زما په قلم کښې دَ مغمّوم صیب روانی اُو دَ هغهٔ په شان دَ خیالاتو په یوه نکته دَ مرکوز کوُلو صفت نهٔ وی نو ترهغې پورې به زهٔ یو لوئے سمندر دَ قلم په یو څو ټکو کښې څنګه رابند کړے شم ـ

دا دَ مغمّوم کمال دے، چې کهٔ طنز لیکی کهٔ مزاح، نو په فقره فقره دَ اورېد ونکو اُو لوستونکو وښکے په خپله خورېږی اُو راتولیږی ـ که جذباتی

ــــوي. نو ورسره ورسره دَ جذباتو او احساساتو دَ طوفان يوه چپه اُوچتيږي ... بوزته کيږي اُو په تَدلار تدلار به ورخوريږي. اُو بيا په فطري وجدان ... ـسي ورغوبه شي لکه چې دا هم دَ لوستونکي يا آورېدونکي هم خپل جذبات ... ـــــت وي.

"خوانږه ترانخه" ستاسو دَ وړاندې دي. دَ دې نه به تاسو په ښه شان ... ـزه اُو لګولې شي چې دا په پښتو ادب کښې کوم مقام لري. په دې کښې ... خومانو، زنانه وُ اُو عوامو کومې محاورې دي، دا به دَ پښتو ادب په پنګه ... ـنه هم اُوکړي. اُو دَ دې دَ چاپ کېدو سره به په پښتو ادب کښې دَ نثر ... تحريريو نوے باب پرانستے شي.

په هريو "خوانږه ترانخه" کښې زمونږ دَ مختلفو معاشي بيمارو يُو نا يُو ... ـکه هم موجوده وي. نو پکار دي چې پښتون قوم دَ "مرحکي" دَ حکمت حوصله ... ـدې اُوکړي. اُوکم ازکم دَ خوږو ترخو يوه نسخه خو دَ ځان سره اُو ساتي.

زما دَ دې اُوږد بيان مقصد دَ عبدالله جان مغموم (مرحکي) ... ـتند کلو تاسو سره کوُل ؤو. دَ خوږو ترخو په حقله زهٔ خپله رائې ترخ ... ـحفوظ ساتم. اُو دا خبره لوستونکي ته پرېږدم چې خوږو ترخو له دَ پښتو ... ـب په ميدان کښې کوم مقام ورکوي.

عبدالرّحمٰن شبابؔ

۲۵/۳/۱۹۶۹ء

حجره

(خندا) يره چې دا څنګه وخت راغلو........ نهٔ څوک حجره
پېژني او نهٔ جُمات .... دا حُجره نو مشرانو د دې د پاره
جوړه کړې وه، چې د کلي خلق به د ورځې ټول په اَنګا بنګا خوارهٔ
وُو، څوک به په قُلبې پسې تلے وُو، څوک په کور د پسې .... څوک
به مزدورۍ پسې تلے وُو، څوک په نوکرۍ پسې .... د ورځې
د کلي خلقو د يو بل مخونه نهٔ ليدل .... اونهٔ به د يو بل
د حال نه خبرېدل .... نو چې ماښام به ټول خلق کورونو
ته راغلل .... روټۍ به ئې اوخوړه .... د ما سختن
نمونځ به ئې اوکړو .... نو په حُجره کښې به سره راغونډه شول
.... د يو بل د حال نه به خبر شول، د هقان به د کروکيلې
خبرې اوکړې، مزدور به د مزدورۍ اوُ نوکر به د خپلې نوکرۍ....
......او په دې طريقې سره به ئې يو بل ته حال احوال اُووئيلو
.... په حُجره کښې به د مطلب خبره کېده ....
د مقصد خبره به کېده، د کلي اولس د ښېګړې خبره به کېده
د روغ رنځور پوښتنه به کېده .... فضول خبره به چا
نهٔ شوه کوُلے .... پوُچ مجلس به چا نهٔ شو کولے...
.... چُغلي، غيبت، تاوېلي ماوېلي به پکښې نهٔ وو.........
حُجره به څهٔ وَه......... د ادب، انسانيت، سرېتوب اوُ

شرافت یوه مندرسه وه .... ولې نن؟ ..... (رخندا) نن حُجرې
هغه حُجرې نهٔ دی .... که سپکې خبرې اوربېدل غواړې
نو به حُجره کښې کښېنه. نن په حُجرو کښې تاوېلی ماوېلی شته،
چُغلی شته، په یوبل پسې سپکې سپورې شته ....
اوس څوک حُجرې له د یوبل د حال نه د خبرېدو د پاره نهٔ ځي
.... د یوبل په غم کښې د شریکېدو د پاره نهٔ ځي ......
یوبل سره د همدردۍ کولو د پاره نهٔ ځي .... ولې؟ ......
.... ځکه چې اوس هغه پخوانی خلق نشته، هغه پخوانۍ مینې
نشته، څوک نشته، درد نشته، نو هر کله چې دا هېڅ نشته، نو بیا
به حُجرې څنګه هغه حُجرې وی .... (رخندا) هغه بله
ورځ مې زړهٔ تنګ شو، ماوې راشه مرچکیه لږ حُجرې ته لاړ شه،
کهٔ نور څهٔ نهٔ وی نو د کلی د نوې زړې نه خو به ځان خبر کړې....
.... لاړم، د حُجرې په کوټه ورننه وتم د چلم لوخړو
پکښې داسې دندوکار جوړ کړے وُو، چې لاس په لاس پکښې سړے
نهٔ ښکارېدو، لږ څهٔ کښې به مې تیندک خوړلے وُو، خو خدائے خبر
کړو .... خبر شو خو .... د یو کټ نه آواز راغلو!
"مرچکیه کاکا نظر دې جوړ نهٔ لګی" .... "مرچکیه کاکا نن
دې جوړ مرچکے د بر خوړلے دے" .... "نه مړه هغه
متل دې نهٔ دے اوربدلے چې د "شپېتو شي نو د وېشتو شي"
مرچکے کاکا پرې د شپېتو نه هم ورتېر شوے دے، دے اوس
به پردې زمانه کښې ګرزی. نو چې په پردې زمانه کښې ګرزی، نو داسې
به غرېد لوستر کو خو به ټهقرې خوړی نو" .... او د لته ټولې
حُجرې یو برچا جوړه کړه .... نهٔ راته چاسترې مشی اوکړه

نهٔ راته چا په کټ کښې ځائے راکړو، نهٔ راته چا پخېر را غلې اُووے
.... زهٔ مشر وُم، سپين ږيرے وُوم........
پکار خو داوه چې زهٔ په حُجره راننه وُتے وے، چې ټول کشران راته پاسېدلے وے، په کټ کښې ئې راله ځائے راکړے وے، او چې ما تيندک اوخوړو نو پکار وه چې ټولو کشرانو را ټوپ کړے وے، او زهٔ ئې د مټ نه ټينګ رانيولے وے........ خو نه نهٔ راته چا سترې مشي اُووې، نهٔ راته ښوک پاسېدو، نهٔ راله چا په کټ کښې ځائے راکړو- او چې ما تيندک اوخوړو، نو نهٔ راله ښوک راپاسېدل بلکې خندا ئې راپورې جوړه کړه....... نو دا دې شوه حُجره
.... دا دې شوُل په حُجره کښې ناست خلق........
دا دې شوُل دَ نن زمانې کشران، چې په خپلو مشرانو پورې توقې کوي، پخپلو مشرانو پورې پچموزې کوي...... ځکه خو نن صبا مشران حُجرو ته نهٔ راځي........... او ولې لاړ شي، کهٔ په حيا خېل عزت ګران وي نو هيڅرې به حُجرې ته لاړ نهٔ شي- زهٔ په خپلو راتلو پښېمانه وُوم- په زړهٔ کښې مې وې چې "بنده چا کړُل چې ما کوُل" کهٔ زهٔ خبر وے نو ولې به حُجرې ته راتلم- خو شوے کار وُو- لاړم دَ يو کټ په لنګه کښېناستم........ غلے، خاموش، دَ مزې غږ ختو او زما نهٔ ختو......... خدائے خبر چې ولې نن زما زړهٔ ډېر زيات خفه شو........ خېر غلے کښېناستم غوږ مې کښېښودو........ مجلس ګرم وو........ دَ پوُلې خبره نهٔ وَه، دَ پټى خبره نهٔ وَه........ دَ ږغ رنځور خبره نهٔ وَه......... دَ خېر او خيريت خبره نهٔ وَه........ خبرې ډېرې وې.......... خو سپکې سپورې......... دومره سپکې چې ما لګه پکښې نهٔ وَه........ په يو بې پسې بد وئيلې....... په بل

جمهوري کړي .... دَ يو اصل نسل را يا د کړے، دَ بل قام قبيله
يې جمعه کړې .... لنډه دا چې څومره خولې، همره سپکې
سېرې ...... په دېکښې دَ مجلس رُخ بل طرف ته واوړېدو...
...... يو بکښې آواز اُوکړو چې "يره خدايه پاکه يو ښهٔ موړ باران
کړې، چې دا غنم خولې ښهٔ شي". هغه بل پرې آواز اوکړو
"خدايه پاک خو دې يو څاڅکے هم اُونهٔ کړي، زما دَ کاڼو وار دے
... مې ټول لُوند شي". "څَه مره ستا په کاڼو ... يُو ستا
... دي خراب شي نو څهٔ چل اوشو، پرېږده چې خدايه پاک يُو
... چې فصلونه ښهٔ شي"......... "دوره ستا په غنمو زما څهٔ،
خدايه پاک خو دې يو څاڅکے هم اُو نهٔ وروي"........... تهٔ
... بوس دَلَه وې، خدايه پاک به يې کهٔ خېر وَروي"..........
... دَلَه وې اُو کهٔ نهَ دَلَه وُم" (په غصَه) بُوس تهٔ دَلَه وې
... وس دومره انسانيت نشته. ښهٔ دَ ته پته ده چې ماکنې
... کړي دي، صبا له مې دَ کاڼو وار دے اُو بيا هم ته دا بکواس
... چې خدايه پاک يُو موټ بالان اُوکړي"......... "نو په تاکښې هم دومره
انسانيت نشته چې دَ خپلو يو جريب کنو دَ پاره دَ خلقو په زرګونو جريبه
... سکړې دَ لاسه تباه کوې. زهٔ خو به هم دغه وايم چې خدايه
پاک دې يو ښهٔ موړ باران اوکړي.......... (غصه) "اُو زهٔ وايم
چې خدايه پاکه يو څاڅکے هم اُو مهٔ وَروي"......... وَخَه څَه
خدايه پاک څهٔ ستا په مېنه کښې نهٔ اُوسيږي، چې ستا په دې پليته
... به باران نهٔ کوي" (غصه)......... کهٔ زما په مېنه کښې
... وسيږي نو ستا هم په مېنه کښې نهٔ اُوسيږي چې ستا په دې
... خوله به کښې خواه مخواه باران وروي"...........

(غصه) "هلکه بس کړه خو د دې راله تمام کړو......... دې خولې ته دې کوره واچوه کنې درپاسم"........."څوک؟ ته؟...... .... ته به پر ما پسې راپاسې؟ ته یې څوک، خوار شې خپل حیثیت دې اوپېژنه"........."ما خپل حیثیت پېژندلے دے، ته خپل حیثیت دې اوپېژنه"........"وَه څه مړه ډوزماره زه دې پېژنم چې ته څومره ځوان یې؟........" هلکه بس دا خوله دې بنده کړه نور زغم مې کوره تمام شو"............ وَه څه مړه که ستا زغم تمام شي نو کومه دا سې دُنیا به ورانه کړې- .... (غصه) که غیرت درکښې وی، نو را میدان ته شه چې توره سپینه سره معلومه کړو"........"یره نه منع کیږې ته هم ستا چې ما ترڅو کلمې نړوی ډېرے کړی نو ته نه قلاریږې"........ (خندا) یو هم میدان ته راوُد نګل اُوبل هُم........ د حُجرې خلق غلي تا ست وُو، نیمو یو پهٔ شا تپوُلو اُو نیمو بل له شاباسے ورکوُلو........ دوارو دَ یو بل ګریوانونو ته لاسُونه واچوُل،.......... میاندې اونځلے شوې .... مړی دَ قبرونو نه راوُ پسته شوُل........ یولوئے اندوخر جوړ شو........ اوکهٔ لږ نوروے نوریشتنیا به پکښې دَ یو کلمې ډېرے شوې وې...... یو به مړوُ، اوبل به دَ پانسۍ په تخته تاتهه شوے وُو........ آخر راپاسېدم...... یو مې دَ متهه اُونیوُ، یوخوا ته مې کړو، بل مې دَ لاسه اُونیوُ بل خواته مې کړو........ زوورنه مې یو له هم نهٔ شوه ورکولے........ ځکه چې زما پچقله خو هغوئې دَاکاهو نه ډکرى ورکړې وَه چې دَ شپېتو شى نو دَ ویشتو شى"........ زهٔ خو اوس دَ ویشتو دُم........ نو زورنه به مې پکښې چاله خرنګ ورکوُله .... خو چې دواړه مې په خپل خپل ځائې کښېنوُل..........

وړه غونډې قلارې شوه نو دواړو ته مې مخ راواړولو چې اے برخوردارانو دا څۀ دَ خدائے په قهر او رپېدلي يه .... دا خبره څۀ وَه، دَ کوم ځائے نه شروع شوې وَه، او په کوم ځائے موختمه کړه ...... دا خدائے پاک کښې هم ستاسو خولوته ناست دے چې يو وائي چې خدايه باران اوکړې، او بل وائي چې خدايه وُي مۀ کړې. .... خدائے پاک په خپلو کارونو ښۀ پوهيږي .... الله پاک دې هغه کار اوکړي چې دَ کُل عالم پکښې خېر وی". .... دا خوخبرې مې اوکړې او په دړوند زړۀ دَ حُجرې نه کورته راغلم .... په کټ کښې پرېوتم .... او لاړم په سوچونو فکرونو کښې غرق شوم .... سوچ مې کولو چې زمونږ دا نوے کولی ولې داسې بې سره شو .... ولې داسې کلک سترګے شو، دا ولې هريو داسې ځې په پوزه نۀ پرېږدی، دا به څۀ شی؟ دَ دې به انجام څۀ وی .... آيا زمونږ دا نوے کول به هم دغسې دَ يو بل وينو خښلو ته هر وخت تيار وی. خدايه تۀ رحم اوکړې، او زمونږ دَ دې نوی کول په زړونو کښې دَ انسان او انسانيت احترام راپيدا کړی چې دَ دوئ ژوند په آرام شی او دا دُنيا دَ دوئ دَ پاره جنت شی. آمين!

ډېرانے

(خندا) او نو ډېرانے لوېدو، لوېدو...... لوېدو...
..... اوس له ځېره دا دے غټ پټ زلمے تړې جوړ شو......
د ډېرانې نوم ډېرانے دے...... څو ډېرانې ته چې څوک ډېرانے
وائي نو خفه کېږي..... هلکه ولې خفه کېږې کډو سړيه؟ چې نوم
دې ډېرانے دے، نو خلق به درته ډېرانے نهٔ وائي نو څهٔ به وائي؟..
يره خدائے شته چې زما په څوله هم ډېرانے نوم نهٔ راځي......
ځکه چې آخر د بنې آدم نوم څرنګ ډېرانے کېدے شي؟ نو ځکه چې
زهٔ هر کله ډېرانې ته آواز کوم، نو ډېران "خان" ورته وايم - څو
"ډېران خان" نوم هم د ډېرانې نهٔ دے خوښ........ هغه وائي چې
د ډېران خان مطلب دے د "ډېران خان"..... (خندا) بيا نو
اوس څهٔ چل وکړو - هلکه زمونږ څهٔ ګناه او څهٔ قصور شو،
قصور خو دې د مور او د پلار دے چې نوم ئې درله ډېرانے ايښودو
چې هغوي درله دغه نوم کېښودو، نو مونږ څو به درته دغه
نوم اخلو نو هنْ؟..... اے تهٔ کوړئ خورشه، د خدائے
په خدايي کښې زمونږ د پاره هغه نومونه هم قحط شول،
او اوس لاړه خبره په ډېرانونو ولګېده..... (خندا)...
خاندئ مه دا د خندا خبره نهٔ ده - دا د ژړا خبره هم نهٔ ده،
دا زمونږ د جهالت او ناپوهۍ يو ژوندے ثبوت دے.......
داسې چل دے چې دا ډېرانے د مور پلار اِکې يو زوے دے.....

د ویراني نه مخکښې دده دري دونه په ماشوم والي کښې مړه شوي وو. او شافي بیو دې خدای ژوندی لري. هغې د ویراني مور ته په زوړ زړه دا خبره په کېږی کښې کښېنولې وه ...... چې ګلاتې هسې زړه مه خوره، چې تر څو دې د میرنې بابا جنډه او د قبیس دېره غلاف نه وي منلی او چې تر څو دې ماشوم ویران ته نه وي سپارلی تر هغې دې ماشومان نه شي پایدار ....

د شافي بیو دا خبره داسې کلکه د لوېښتې په ښکلې چوړې تونه کړې وه چې .... په کال پس ورله خدای پاک زوی ورکړو. نو اول جواب ئې په شافي بیو پسې وکړو ... . شافي بیو په شنه منډه راغله، ...... سره تیکه ماشوم وغشتو ..... په شکور کښې ئې واچولو .... او په ویران ئې دکه مرداره تیکه کښېښودو ...... ماشوم بغارې وهې. کوکارې ئې وهلې ...... ښخه ښخني ...... سمې واورې او په دې یخ ژمي کښې بوبنډ لغړ ماشوم په ویران لستې ...... چې ماشوم بنه بغارې ووهلې نو بیا دا ئې بیو راغله شافي بیو نه ئې تپوس وکړو ......: دا ماشوم څرنګې؟ ....

خر شوم ئې "

ئې خرڅوې؟ "

شکروټې اوړو."

بیو شافي بیو له ډک شکوټې اوړه ورکړل. او ماشوم شکور کښې دا او اچولو."..... او او په شکور کښې. خلق په کښې روټۍ نه پدو په دغه شکور کښې ئې او اچولو ...... څه؟ ...... نه نه مړو ولې شکور

څه پلیټ شو څه؟ ..... متیازې نه چې .... دغه څو دې
پکښې کړې وې .... هم په هغه شکورکښې ماښام بیا د ماشوم
پلار ته غبرګ سکړ کان پراته وو ..... (خندا) خیر د
ډېران ټوټه څو اوشوه .... اوس پاتې شوه د نوم
لانجه ..... نو داتې ابې وې چې نوم ئې شو تورګل .....
جانې ببو وې چې نوم ئې شو فقیرګل .... څو شافې بیو
وې چې ورک مو دا ګلونه شه هیڅ ضرورت د ګلو نو نشته
..... ماشوم مونږ په ډېران موندلے دے .... د ده نوم
شو ډېرانے" .... او د هغه ورځې نه ډېرانے لاړو ډېرانے شو..
...... اوس څو به ئې د چا هغه پلار نوم بدل کړي .... ډېراني سړ
که مونږ ډېره مهرباني وکړو نو یا به ئې ډېران ګل کړو او یا به
ډېران خان ..... (خندا) خیر .... د نوم لانجه هم غوڅه
شوه ..... ماشوم له ښے غوږ سورے کړے شو ..... کلے خبر
شو، مبارکیانے شروع شوې .... ټنبلوته او ټنګېدل..
...... هغه دغ دوېره جوړه شوه چې را شه که ئې ګورې ....
.... په ورځو ورځو دغه سلسله جارې وه. د جماعت په ملا صیب
تعویذونه ولیکلے شول - یو تعویذ په ټوپۍ کښې یو په غاړه
کښې او یو په سینه اوېزان کړے شول - د ګټونو لړۍ لګه
کړېدنې د ماشوم په غاړه کښې واچولے شوه ...... یوه غټه
د برستنو ستن د ماشوم په ټوپۍ کښې ښخ په ښغه او ټومبلے
شوه .... او د ماشوم د روزو په منځ زوړنده کړے شوه
...... یوه ټېره چاړه به شپه ورځ د ډېراني سر ته د بالښت د
لاندې پرته وه ...... وڅه د پاره؟ ...... مرو دا څو که

ورته غیب عالم په ډېراني پسې را ځي نو ددې چړې نه به ویرېږي ...... (خندا) شل کزه تک سور الوان را وغوښتې شو میرنۍ د زیارت د پاره یوه جنډه او یو غلاف تړې نه جوړ شو .... لاړې د ډېراني د مرګ تهولي لارې شافي ببو بندې کړې ـ نوم ئې ورله ډېرانے کېښو دو، نو د نظره نه ږغ شو. تعویذونه ئې ورته په غاړه کښې وا چول نو د مرګ دَ فرښتو لارې بندې کړه، کهتونه ئې ورته په غاړه کښې وا چول ډوډي نه ئې په امان کړو .... چاره ئې ورته مسرته کښوده نو د پیریانو او غیب عالم نه ئې په حفاظت کښې کړ و ...... او د میرنۍ بابا د زیارت د پاره جنډه خوږېږده چې غلاف هم جوړ شو، نو ...... اوس؟ ...... اوس خو به د مرګ دَ فرښتې پېریان هم ډېراني ته پورته ونه کوري (خندا) ښکه منئ او که نه؟ بیا اونه وایئ چې شافي ببو هوښیار نه ده ...... چې شافي ببو شته نو د ماشومانو د مرګ ویره په غرونو سر شوه ....

وه خوږېندو، وه تورسرو، وه د وهمونو وسوسو همونو په سیلاب کښې لاهو مېرمنو ...... وَه تاسو ته خدا یت وکړه دا څه کوئ؟ .... دا تاسو په څه بلا اخته یئ ...... وَه کورا آبادو تاسو اوس مرګ ته هم پولي چول شروع کړل ...... ستاسو څه خیال دے چې که خدا ے یک د ډېراني د ژوند اوربشه نه وه لیکلې نو ستاسو دې غیر ي حرکتونو به ډېرانے د مرګ نه په امان کړے وُ. ستا سو څه خیال دے چې دا ستاسو چړې چاقوان، ستاسو کهتونه

دا ستنې او تاوونه به کښې انسان د مرګ نه پخ کړے شي ؟ -

دا د میرخې بابا د زیارت جنډه او غلاف کښې خدا ے پاک د خپلې فیصلې نه اړولے شي ...... ؟ ستاسو ددې جنډې او غلاف نه میرخې بابا ته څۀ فائده ورسیده ...... خدا ے شته کۀ زیارتونو ته جنډې او غلافونه هیڅ فائده رسوي - دَ خدا ے زبرګان په جنډو نۀ خوشحالیږي - د خدا ے نیازبین په غلافونو نۀ خوشحالیږي ، کۀ د غه شل ګزه الوان دَ ډېرانی مور د خدا ے په نامه چا بندو لغړو له ورکړے وے چې هغوي ترې نه جامې جوړې کړے وے نو څومره ثواب به ئې شوے وُ ...... اے د وهمونو او وسوسو په سیلاب لاهو شوؤ خویندو دا ویښې شئ - د ماشوم په ډېران غوزو سروپ ناروا او د شرعې نه خلاف دي - د ماشوم نوم ډېرانے ایښنودل سروپ غیر اسلامي کار دے .... نو اے خویندو هرحرکت مو غلط ، هر قدم مو غلط ، هرکار مو غلط ، دا په څۀ بلا اخته یئ ...... خدا ے ته اوګورئ د وهمونو او وسوسو ددې تور تیپ دنیا نه را اووځئ مرګ او ژوند د خدا ے په لاس کښې دے - هیڅوک دالله تعالیٰ فیصله بدلولے نۀ شي - هیڅوک خدا ے پاک له تیر ورکولے نۀ شي (نعوذبالله) نو بیا ددې توتو او تهو تهکو څۀ ضرورت بیا ددې غیر اسلامي حرکتونو څۀ ضرورت ؟ ولې خپل اخرت خواره وئ .... ولې د وهمونو او وسوسو په بې پایانه سمندر کښې ځانونه لاهو کوئ ...... کوم کار چې زمونږ پېغمبر ؐ نۀ دے کړے هغه حرام دے ...... کوم قدم چې زمونږ پېغمبر ؐ نۀ دے پورته کړے هغه منع

دے ...... زمونږ پیغمبر موږ ته نهٔ دي وئیلي چې د مرګ
د ویرې ماشومان په ډېران لړه کوئ ...... یا ورله نوم
ډېرانے بږدئ یا ورته سرته چرې او چا قوان بږدئ...
نو بیا؟ ...... بیا مطلب دا شو چې دا زمونږ زنانه
چې کومې چادرې کوي، کوم حرکتونه کوي، کومې ټوټې
ټوټکې او منښتې کوي دا حرام دي سروپ حرام په
ځلو د مذهب حرام - باقي ستاسو خپله خوښه چې د ځان
د پاره جنت ګټئ او که د دوزخ سرو لمبو ته ځانونه ورغورځوئ
..... او اے ډېران خانه برخورداره! ته به اوس ټول عمر
ډېرانے یې، ځکه چې ستا نوم ډېرانے دے .... دا ټول بد
د سره شافي بابو کړي دي - ایمان چې په ماشوم والي کښې
یې هېر دے، او د خپل بالښت د لاندې نه دې دو غونډې
چاپه راویستے وے! او چې شافي بابو درته دا نږدې شوے
وے او شغ چې په دې پړینګ دې پرې وهلے وے، چې
بیا یې په چا بل چا ډېرانے نوم نهٔ ایښودے - چې بیا یې
ماشومان په ډېران نهٔ غورځولے ...... څهٔ؟ که هغه
دې په پړینګ وهلے وے نو ته به پانسي شوے وے؟
(خندا) نهٔ مړه سرې تیکي ماشومان څوک نهٔ پانسي کوي -
او ...... تا خو به هم څهٔ داسې ګذار خو په هغې نهٔ
کولو چې د ټک سره به مړه کېدو هسې لږه غونډې د
دې خېټې د پاسه به دې کړولے قدر له وه.....

(خندا) اوس؟ .... نو اوس زهٔ ځهٔ اوکوم .....
وخت تېر دے، او یهٔ د ورخه اورېدلي دي، او هغه د رحمان
بابا خبره چې ~

د ورخه تېرې او یهٔ بېرته نهٔ جار وځي
نهٔ جار وځي تېر ساعت په بېرته بیا

پواړه

کوړې کړې ائ تهٔ خدائے دې میراته کړه، ساک دې راله په بله واړ ولو۔ پشې پشې ائ تهٔ دَ خاوند کېره اوخورې یو کوټ پیه وو، هغه دې هم راله توئې کړه "کوړې کوړې کوړې" تهٔ دَ خاوند په شیره موړ شې کټوه دې راله جوته کړه .... (خندا) تاسو به وایئ چې لاړو مرچکے جوړ لېونے شو، چې دَ ځان سره وئیږی خو خدائے مې دې لېونے کوی نه۔ لېونۍ دې زما دښمنان شی، شکر دے سم دم روغ رمټ یُم۔ سحر مې چائې ښښلی دی، خو ......۔ پراټه ورسره نه .... (خندا) تاسو به وایئ چې هلکه مرچکیه! تهٔ خو ډېر چیبین خورئې۔ تشې چائې خو ستا دَ کړکړونه چرې نهٔ ښکته کیږی نو نن دې بې پراټې چائې څنګه تېرې شوې.....

...... نورونو! دا یو بېل داستان دے، دا به درته که خیری خهٔ بل وخت بیان کړم .... نو ما وے چې شکر دے روغ جوړ یُم، سحر مې چائې ښښلې دې، غرمه مې روټه خوړلې ده، ماښام مې هم خهٔ زهر کنډېر کړی دی........... (خندا) تاسو به وایئ چې هلکه! زهر دې څنګه کنډېر کړهٔ .... زهر دې ماښام کنډېر کړی دی، اُو تهٔ لا تر اوُسه قړته قړته کوے ....۔ پکار خو دا وو چې تر اوُسه پورې دې دَ کفن غم شوے وے.....

...... نورونو! دا تپېر دی کنه، دا کورے زما ډېر خوښ دی،

دومره مې خوښ دی چې نوم ئې هم راباندې بد لګي، دومره مې خوښ دی چې په کومه شپه تبه پاخه شي، نو وېم چې په هغه شپه کورته تلې. .... دومره مې خوښ دی چې دَ تبې پروه نه راته دَ زهر و خوراک آسان ښکاري......... خودا دَ زهرونه هم بتر تبه ما ښکاه اوخوړلې نو ځکه وېم چې ما ښام مې هم څه زهر کنه پرکړی دی .... یعنې تبه مې خوړلې دی .... تاسو راباندې دَ لېونو ګمان مه کوی .... دا کوې کړې .... پشې پشې کړې کړې آوازونه خو زمونږ په پښتنو کښې دومره عام دی چې راشه که ئې کورې .... دې کچه غرمه کښې خو لږ زمونږ مالت ته راشه، دَ هر کورنه به هم دغه آوازونه راځي، په هر کور کښې به دَ کور مېرمن یا دَ چرګانو سره په پربېنج وی، یا به ئې دَ پیشوګانو سره آنګنه اچولې وي .... یا به دَ سپو سره مُشت وګرېوان وی .... دَ سېړو ..... کنځلو ...... سپکو سپورو یوه نوې سیپاره به ورته په مخکښې غوړېدلې وی .... پیشترے ساک ئې په مُصَلّه .... نه رښتیا غلط شوم به مُصله نه په یوزی غوړولے وی .... ځکه چې مُصله اوس په اکثرو کورونو کښې نشته .... (خندا) هلکه! چې څوک نمونځ نه کوی، نو لېونی دی، څه چې په مصله باندې پنځه پاوه خرخ کوی، په دې کښې شک نشته چې دَ نمونځ دَپاره یوه چونتره په هر کور کښې شته، خو په دې چونتره باندې نمونځ کم او پیشترے ساک دېر غوړه وُلے شي .... ځکه یره شُکر دے چې چونتره خو په هر کور کښې شته، که نمونځ څوک نه کوی نو نه دې کوی کنه .... دَ چونترې دا ثواب لږ دے څه .... ؟ (خندا) یره خو .... چې اوخاندم که اُوژارم...... ...... خودا وخت نه دَ ژړا دے اُو نه دَ خندا، خندا اُو ژړا به

دَ نمونځ اُو بېلمازې دا بحث به فی الحال پرېږدو .... دا يَو ځان له داستان دے، دلته به د داستان خپلې داستان .... دَ کوم قوم نه چې خپله لاره هېره شي، خپل مقام اُو خپل منزل ترې هېر شي، خپل ځان او خپل مقصد ترې هېر شي، هغه قام د غسې په کندو کپرو سر شي. دَ هغه قام هم دغه رنګ سر تندے نهٔ لګی.

نو خبره مې دَ کور دَ مېرمن کوله، چې پېشترے ساګ به پهٔ پوزې اُو غوړوی، اُو دا به ترې غوجل ته ننوزی بدې به اُووَهی سټولی به اُونغاړی .... دا به سُوټو اُو خاشهو ته دَ بن شیٔ اُو کور به چرګانو .... پیشو ګانو .... اُو سپو ته پرېږدی. ځکه دَ خپل عادت نه مجبوره ده .... هغه چې او کوری چې مېرمن بی بی بدې اُووَهلې په غوجل وردننه شوه .... نو دلته دَ چرګې پسې ورته اُوخار ښتیږی، قړت قړت قړت .... په مکېز مکېز را روانه شی، په چونتره اُوچته وراُوخیژی، بدې اُووَهی پېشتری ساګ ته اَرمه شی، مېرمن بی بی په غوجل کښې مشغوله وی، ځکه په پېشتری ساګ ځان مشغولوی، دَ سترګو رپ کښې ټول ساګ په غولی کښې اُوکوی، اُو چې مېرمن دَ غوجل نه سر رابهر کړی. نو ګوری کړې کړې تهٔ دَ خاوندکیره اُوخورې، ساګ دې راله ټول اُوشیندلو .... (خندا) دَ سُو ټو نه په ګنده لاسُونو ئې زر زر ساګ راټول کړو، په بچ کښې ئې واچوُلو .... پُوزے ئې پرې اُوغوړُولو، .... او بیا ئې په غوجل ورمنډې کړې ....

هلته پیشو په بنېره ناسته وه، دَ کور مېرمن ئې ښاړله، خو چې دا په غوجل وردننه شوه، پیشو غلې غوندې دَ بنېرې نه

را کُوزه شوه په انغری پسې پراته وُو.......... وراوخته......
په کونټو شوه ورته.......... اُو پتیله ئې په بنجه داسې اُووَهله، چې کړنګ ئې شو، دَ پیُو یُو اُوږد لختےروان شو..
مېرمن دَ غوجل ته رادُوکړو "پشې پشې پشې ته میراته صلا شې، پسې دې راله ټول واړوُل"........... یو څو الله تللې منډې ئې په غولی کښې اُووَهلې، خوَ منډه وند څهٔ جوړېدل پسې پیشاتړے ساک خونهٔ وُو چې زرزرئې په پلیتو لاسُونو راغونډ کړے و پسې خو پسې ووُلاړل دَ مزکې خوراک شوُل. سِېرې اُوشوې، آزار اوشو. څهٔ ځان ته څهٔ پیشوته.......... ما خو خدائے هریانه کړ چې پسې مې په نغری هم داسې پرېښوده بنهٔ راته دا ځوانی کوتې پیشو معلومه ده، او بیا هم........ ما کهٔ ستا غوښې اُو نهٔ خوړې نو زهٔ به ستا لوُر یُم. (ښځه ځان سره خاندی) اخله خوارې دا مې څهٔ اُووې........ دَ پیشو لوُر........ (خندا) شُکر دے چې دَ پیشو لوُر نهٔ یُم........ ګنی نو زهٔ به اوُس داسې پیوُ ته غلې کېدم.......... او نکه دَ دې تورمخې پیشو په شان به دَ دُنیا سِېرې وې اُو زما به پرې سرو........... شُکر دے چې پیشو نهٔ یُم.......... دَ کور مېرمن شُکرونه اُووېستل.......
غوجل لا هم هغه رنګ ګنده وه.......... بیا په غوجل وراغله.......... دې ځل سپے په دې انتظار ناست وو چې کله به بیو غوجل ته ننووځی چې زهٔ لږه خولهٔ ترسکوُنه کړم.....
چې مېرمن غوجل ته دَ ننه شوه، سپے په پستو پستو قد مونو راغے.......... کوټې ته ننوتو........... دَ کټ لاندې دَ لاوو کټوی پرته وه.......... بنهٔ دَ کچالانو او غوښې نه ډکه...

.... ښکاه په ټول کور کښې چا روټۍ نه وه خوړلې، ځکه چې په بر مالت کښې خېرات وو، نو ښکانه لاوڼ د که کټوی پروت وو، سپي ورته ښنه په مزه کوښتې ماتې کړې، د کټوی نه ئې ورغولې لرې کړو، او شړپه شړپه شړپه.......... اول خوئې ښوروا او کوټله او وریښې ئې تیکې.......... ډېر خوند ئې ورکړو.......... سپی په شونډو ژبه او وهله، چې په دېکښې د کور مېرمن راغله، سپې دوه خېلې کړې، او دوه پردې په ځای ئې پښه کېښوده.......... د رب چې لاندې ئې ټوپ کړو.......... د کور مېرمن کټوی د غوږه اونیوله، بهر را تا ته ئې راوښته په کټوی کښې خاورې وې.......... هر څه د سپي د کومې تېر شوی وو.......... ښېرې آزار ئې ډېر اوکړل......

...... خو د ښېرو نه څه جوړېدل.......... ؟..........

تو خبر نه ئم چې د هغه پاتې ښوروا او کچالو سره به بیا هغې غریبې څه کړې وی.......... خو څه به ئې کړی وی...... زما په خیال چې د غرمې کار خو پرې کېدو.......... کېدے شي چې هم دغه جوته ښوروا ئې په کنډول کښې اچولې وی.......... سکر کان ئې ګکړی وی او د غرمې ئې د هلکانو په پلار پسې پټی ته لېږلې وی.......... څه؟ د سپي جوته؟.......... (خندا)

پلارې ښځې د سپي جوته هم جوته نه ګڼي..........

تو اے زما خوږو رو ښو!.......... دا مې درته یوه نقشه راکښله.......... دا مې درته یوه ننداره اوښودله.......... چې په کلو کښې.......... اکثرې بې پروا زنانه په دې غم کړې دی. که چرې دې زنانه غوجل ته د ننوتو نه مخکښې..........

ساک په چونتره نهٔ وے غوړولے، چې څهٔ وخت دَ ځائے غوښتے نه اوزګاره شوے وے، بیا ئې غوړولے وے نو چرګې به ورله ولې ساک دانه وانه کُولو.......... اَو دې به ولې دَ سُوټو په کنده لاسُونو هغه بیارا غونډاولو - اَوچج کښې به ئې دَ پُوزې لاندې پټولو........

..... که چرې مېرمن بی بی غوجل ته دَ ښوتو نه آګاهو دَ پېئُو پتیله دَ نغري نه را کُوزه کړې وے او پاس په خِلکی کښې ئې ایښې وے، نو پیشو به ورله پېه ولې دَ مزکې خوراک کوُل. که دې غوجل ته دَ ښوتو نه آګاهو دَ کوُټې دَ وره زنځیر کونډه کړے وے، نو سپی به وره له ولې دَ لاوڼ ډکه کټوی دَ ډېران کوُله .... آخر دا عقل به مونږ کله زده کوو........ دا نه مونږ دَ کور زنانه به کله دَ کور په سنبالې پوهیږی.

.... دا دَ پوهاو توب خوئ به کله دَ دوئ نه هیریږی.....

.... پرېږدهٔ نا مړو.......... هسې په زور موځان پواړکړید........ دَ کور صفائی، دَ بدن صفائی .... دَ لوښو لرګو صفائی......... دا خو دَ اسلام یو اهم تعلیم دے ....

نوراشے دا دَ سُوټو نه په کنده لاسُونو ساک مهٔ راټولوه.......

.... دا دَ خاښونو نه په کنده لاسُونو پوزه مهٔ پاکوه.........

.... (خندا) څومره بدی ښکاری چې دَ غوجل نه را اُوځي، نو لاسُونه مو په مُتیازو ناولی وی.......... او پوزه مو په سُوټو لړلې وی......... اَو بیا هم دَ غه لاسُونه په اوبو کښکال کړې.......

.... او دَ اُوړو ښانک ته کښېږې زرزر اُوړه وا غږې.......

...... دَ سُوټو ورېم داسې په آسانه دَ لاسُونو نهٔ ځي .... چې ترڅو مو په صابون ښهٔ ونځلی نهٔ وی......... نو دَ لاسُونو وینځلو دَ پاره یو پېیتاڅے صابون په کور کښې خامخا ساتئه........

بوۍ شوې اوکه نه .... ای تهٔ خدائے درته د بچو
غم اُومهٔ ښایه.......... د کُنډې ورځې نه مو خدائے اُوساته....
.... لږه مهرباني اوکړې .... په دې خاوندانو
بندې د سپي جُوتهٔ لاوڼ مهٔ خوَوې .... ټوله ورځ د
غریب په بوې جغ زارهٔ شنه شي، اُوچې کوره ته راشي نو تاسو ورته
د سپي جوتهٔ لاوڼ په مخکښې کېږدی ـ (خندا) دا کومې انصاف دے؟ ـ

روژه دار

(خندا) دَ پښتنو متل دے چې عالَم په څۀ، اُوصِبّ عالَم په څۀ .... روژه له خبرهٔ را روانه ده کنه .... دَ ډېرو روښو ملا ورته دَ اُوس نه ماته ده .... (خندا) اُوماته به وئې نۀ وی .... غریبانان به روژه نیسی .... څۀ آسان کار دے څۀ .... ؟ .... یو سړے چې ټوله ورځ لکه دَ چیلمۍ په رنګ څریږی .... نو دَ هغۀ دَ پاره دا شپږ ګېنټې روژه هم ډېره لویه خبره ده .... نو رخو لا اَلے ولے دَ چلمیانو اُو نسواریانو خو ورته دَ اُوس نه په سترګو تیارې څې راځی .... (خندا) .... دَ دې غریبانانو دَ پارهٔ خو دَ روژې څۀ یو غم نۀ دے .... دَ خوراک څښاک نه چُټې یو غم .... دَ نسوار تماکو نه پرهېز بل غم .... اُو دا شل رکعاته تراوې پکښې دَ ټولو نه لوے غم (خندا) .... نور خو، اوشوه کنه، روژه خوبس هم دغه روژه وی نو .... غیبت! په روژه کښې دَ نور کله نه ډېر .... دروغ! په روژه کښې دَ نور کله نه یو په دوه .... چُغلې او قسمونه! په روژه کښې دَ نور کله نه یو په څلور .... کنځل کوُو .... سپکه وَینا کوُو .... پُوچ مجلس کوُو، .... اُو دَ روژې مشغولولُو دَ پارهٔ تاش .... تُرُب .... فلاش .... سنیما ....

ټیسکوپ دا هرڅهٔ کوو........ (خندا) وی نو روژه به نهٔ مشغولوُ
........آخر دا دَ کال هومره ورځ به څرنګ تیریږی؟........
هسکه چې خوراک نهٔ وی ...... څښاک نهٔ وی ...... خوابهٔ نهٔ وی
آرسکون نهٔ وی..........نو روژه به څنګه تیریږی؟ ډېر ګران
کار دے، (خندا) توبه غریبانانو........شُکر دے چې دا روژه
په کال کښې صرف یوه میاشت راځی........ کهٔ دا خدائے مهٔ
کړې دَ کال یوو لس میاشتې روژه اوُ یوه میاشت کوژه وې نو خدائے
خبر چې دې مسلمانانو به په ژوندون دَ یر بل غوښې خوړلې کهٔ څهٔ چل به
ئې کولو........ (خندا) زما په خیال چې په یو بل به ئې چکُونه
لګول ووُ........چې اوس داسې حال دے ....چې یو
روژه کښې ښوک په پوزه هم نهٔ پرېږدی، نو خدائے خبر چې بیا به
ئې څهٔ حال وُو ....؟........(خندا) سړی خو اوُ شوه
سړی دی کنه .... غریبانان ہوې جغ ،کوه چاری ، اوُ بهٔ خو
هرڅهٔ کوی اوُ روژه هم نیسی....... نو کهٔ دَ هغوئ روژې ته
په ښته تیاره وی نو یوه خبره ده......... خو حیران دې شحوُ
...... چې سم دَ سحره به سرُونه په تور سرپیچک اوتړی.
.... تندے به په پوزه راواچوی...... . داسې ببرې
هم دَ سحره ناستې وی لکه سرې مچُی .... دَ ماښوما نو
غریبانانوئې بده ورځ وی........ چې په دې تبه پړه هم ترې
ترې اُوباسه، چې په هغې تبه پړه هم ترې دَرب اُوباسه ......
سړی اَوخوری څهٔ له مې غَپوی". یوه مې روژه ده، اوُ یومې تاسو
په تندې نهٔ پرېږدی"........"وَه میراتی چرته لاړې........
وی نه داکوډی دې په وینو سرې شه، سم دَ سحره دې دا میاندې

پروت د دېران لکه چې کوري نهٔ ته غولي دې .... راوا خېستې
زما خوروتږه .... کومه مور جاروکوي دې به دا .... دے
دا سې تر قارے کوي ښځې دا مازغهٔ مې دي نهٔ مې چاۍ .... ده
حال وُ زنانهٔ د شو غه نو (خندا) .... "الوزی نه را سر چې
بوږې بوږې سحره د سم .... وی نیولی يې روژه ....
کټ به پسې نمر په .... بزغو اُ ته وی پتا کبنې کټ په
.... وی خوړلے سر غوشاۓ ځائے .... راکاږی
وی پراتهٔ کوپل کندۍ څهٔ هر .... وی خوړلې کېږه کار کور د
مجید قرآن د .... نشته دس او ،نشته نمونځ ....
کوځهٔ په چرته ده وندے کا غوک اِکهٔ هم .... نشته تلاوت
کټه په اُوچته نه د خوشحالۍ ورته به دا نو .... ،شوه راښکاره
مرې دے شکر .... پخير بې بې وه " ...... کبنېنې
دهٔ باده لا د چې - میراته ده روژه یوه ...... راغلې نهٔ چې
...... کوی راښکاره نهٔ مخ غوک و هم یو اُو .... اوو ہستو
راځهٔ راځهٔ .... کړی مشغوله بنده سره خوور روژه چې
نو وے نهٔ روژه چې هم ای .... کبنېنه دلته ....
(اسویلے .... وې پخکړې چاۍ کومې کوړه دره مې به اوس
کنهٔ وایهٔ !بنه .... کړی تبره يې به خدائے مرې ځهٔ
خبره نه "دے حال ښکه" د (خندا) .... دے حال ښکه
به دې روغوند او .... شی پوښتلے او جوړ روغ ،شی شروع
رامېدان چې يې غوک هر .... کړی ورچسپان چا په خبره
بنې هسې پورې ماځیګر تک بنه کوږ به يې خودو .... کړه ته
سپورې .... اُووایې پورې ور به سپکې .... اُو باسی

...... وربوري اُو وائي .... شل عيبونه به په کښې راوباسی

او .... شمېره تهمتونه به پرې باندې اُو لګوی ...... بې

خوښېږ (خندا) .... کړی مشغوله روژه خپله به رنګ دې ...

.... هرڅهٔ چې وی خو مونږ ښځې نرتول روژه نيسو ....

ب د به خبره له نوريُ .... اَچوُو ګورے ته خولې چې

لوازمات څهٔ .... دی آداب څهٔ روژې دَ چې .... نو

پرون .... دے يُ مقصد اُو مطلب څهٔ .... دی يُ

.... ! مرچکيه چې وې يُ ته را شو، نزدې کادا کاکا ګُل ... ساده

.... "راغلهٔ خبره خوله روژه" -........ کاکا ګُل ساده هن ... وی

مياشت برکتونو دَ .... راغله مياشت بختوره کاکا ګُل ... او

مياشت برکتونو دَ چې منم اُو اُو .... ده مياشت عبادتونو دَ ...

نه دی مې به بيا نو چلمې يا اُو وے نسواری يا چې ! مرچکيه رمان ... خو

نهٔ او کوې چلِم نهٔ خو ، اُوکنه ده مياشت بختوره چې وو کړے ... تيو

يرَه (خندا) .... کنه وائيُ مياشت برکتی ته ورته خو حکه ... سور

ده پرېږد نهٔ .... اُونهٔکړو ته ورته مې خوښېږ راغله خبره د خو ... قصه

خوله کړه خبره مادا" - .... کړه خبره خپله کاکا ګُل ساده خبرې ... دا

.... ؟ .... کوُو کښې جُمات کوم به تراوې خبرې که ... چې

".کوُوکنه يُ به کښې جُمات خپل دې په هم ، کوو يُ به کښې جمات کوم ... په

اسے خو حض امام دا مره .... ؟ کښې جُمات خپل په ....

دومره ځوک هم تراوې .... کوی ژبه له سری چې ... سی

په خومې پسې دهٔ په .... کوی يُ دے دا چې لکه کوی ...

چې يُ خبر ،شو لاړ به ته کوزکندی .... راځي نهٔ بيا تو کو ...

دَ صيب مُلا بيا هلته .... کيږی تراوې اَتهٔ کښې جُمات په ...

دَ شلو تراوُو نه بُوټ وتلے وی .... ته به رب باور اُوکړه مرچکیه چې دَ سُبحَانَکَ اللّٰهُمَّ تر وَلَا الضَّآلِّیْنَ پورې ټول سبق په یو ساه وائي (خندا) سم دَ ریل ګاډے دے .... په وړو وړو پا ټکونو خدائے راستی کړه اُو دریږی .... رکوع اُو سجده په یوه ساه کوی، دومره خو تکړه دے .... زمونږ دَ جُمات اُستاذ خو داسې ټکیا وی، ته به وائې چې دَ خلورو وړو نهر دے، اُوخدائے راستی .... (خندا) ساده ګل اُوخندل .... اُوزه لاړ دَ فکرونو اُو سوچونو تورتم ته ورننکته شوُم .... ډیر خفګان مې اوکړو .... ډیر ارمان مې اوکړو .... چې اے خدایه پاکه دا مونږ ولې داسې بې حِسه شو .... مونږ دَ مذهب نه ولې داسې ماړهٔ شو، .... دا یو نمونځ دے .... دا هم راته یو لوئے پېټے ښکاری .... دَ دې نه هم مونږ بېګار جوړ کړے دے .... آخر صبر نهٔ شوُم .... لاړم دَ ګوز کندی دَ جُمات په اُستاذ پسې .... بحث مې ورسره شروع کړو .... (خندا) هغهٔ ته خوزهٔ جاهل غوندې ښکاریدم .... خو ما کله په قلاره پرېښودو .... ورته مې اُووې چې اُستاذانهٔ دا تراوې ولې داسې په منډه کوې .... دا فرض اُو سُنّت ګنی نمونځ دے .... اُودا تراویح ګنې بېګار دے .... نور نمونځ خو ښهٔ په قلاره اُو په آرام آرام کوې .... او چې خبره تراوُو ته شی، نو دَ ساده ګُل خبره چې بیا دَ ځان نه دَ ریل ګاډے جوړ کړې؟ .... دَ اُستاذ غوږونه سرهٔ شو، سترګې ئې دَ غصې نه وړې شوې .... ماوې بس ګُذارا هاندې کوی خو خدائے خیر کړو (خندا) ګوره اُستاذ په غصه کېږه مه

.... ما قائله کړه نو بس ، زۀ درته دا نۀ وايم چې تۀ تراوي
په منډه منډه مۀ کوه .... په منډه منډه نۀ چې په
تړه تړه خوئ کوه. خو دا راته اُووايه چې دا ئې په کوم کتاب کښې
ليکلي دی چې د تراوُو نمونځ به د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ نه تر وَلَا الضَّآلِّيْنَ
پورې په يو ساه وائې .... رکوع او سجده به په يو ساه کوې .....
...... د رکوع نه به نيغ سجدې ته ځې .... دا ولې؟ ....
(خندا) د اُستاذ سره جواب نۀ وو .... خو آخرئې راته اُووې
چې مرچکيه ستاخبره منم چې زۀ تراوې لږې تېزې کوُم ....
خو دا ځکه چې زما مقتديان ټوله ورځ د زميندارئ کارُونه اوکړی
.... دا وخت ټوټې ټوټې اوُ ذړې ذړې وی .... کۀ
تراوې زرزر اُونۀ کړم نو صبا له به راپسې يو مقتدی هم نۀ وی.
.... (خندا) څۀ چلېږه .... کۀ خدائے ناراضه
شي نو خبر دے خو چې مقتديان خوشحاله شی ......" اُستاذ! زۀ
منم ، چې ستا مقتديان زميداران خلق دی .... ټوله ورځ بوې
جغ اُوګوډ چاری اوکړی .... ماښام چې کورته راشی نو د لاده باد
بربوتي وی .... خو ګوره ستا مقتديان د ځان د پاره خو ټوله
ورځ لګه د سندا هومره کار کوی .... ټوله ورځ بوې ګوډ چاری
کوی .... ټوله ورځ خاوُرې په سر نوَلی .... نو د ځان د پاره
ټوله ورځې ګاډی راښکلے شی، .... اوُ د خدائے د پاره لس[۱۰]
منټه ناکام نۀ شی کوُلے؟ .... آخر په مُسلمان باندې خو د
الله تعالیٰ هم څۀ حقوُنه شته کۀ نه؟ .... نو د خدائے پاک
په دې حق کښې دے دومره بخيلی ولې کوی .... دومره غلا
ولې کوی .... دومره ناراستی ولې کوی؟ (خندا) د اُستاذ

نه خبره جوړه نهٔ شوه .... شوندې ئې وازې وازې کېدې،
هغه مې په ځائے پرېښودو اوُ زهٔ ترېنه راغلم .... نو رونړو...
.... ستاسو خدائے ایمان نصیب کړه .... نمونځ عبادت
دے ...... روژه عبادت دے .... تراوېح عبادت دے
.... په دېکښې بخیلي مهٔ کوئ .... په دېکښې غلا اوسستي
مهٔ کوئ .... چې ټوله ورځ دځان دپاره کارکوَلے شئ .....
...... نو په دې ټوله ورځ کښې یو څو منټه د خدائے دپاره هُم
اوُباسئ .... اوُ دغه څو منټه بنهٔ په تسلي ....
بنهٔ په آرام .... بنهٔ په خشوع د خدائے په وړاندې اودرېږئ
.... چې خدائے درنه راضي شي .... چې خدائے
درنه خوشحاله شي .... کورے په نیمګړو اوُ بېکاری نمونځونو
خدائے پاک دېر ناراضه کېږی .... نو چې هر څوک ناراضه
شي، نو څهٔ پرتوګ به ئې جوړ شي خو چې خدائے درنه ناراضه شي
نو دین اوُ دُنیا به مو خراب شي .... پوهٔ شوئ اوُکهٔ نه؟
.... (خندا) اوُ تراوېح په منډه منډه مهٔ کوئ.
اوُ مهٔ د ربل ګاډو پسې نمونځونه کوئ .... دا ګاډے به
یو ځل د پاټلي نه خطا کېږی اوُ ستاسو د ټولو هډوکي به
ماتوی .... پوهٔ شوئ؟ (خندا)

ګلاب ماما

(خندا) یره چا کول چې ما کول - دا مې په څهٔ بلا ځان وارولو -
صې برنا حقې مې ځان ته مچۍ را وپارولې -

سحر او ماښام د ښځو یو قطار وي چې زمونږ په کوڅه
را خلاص وي سرې مچۍ مې ځان ته راپارولې دي ، د هرې ببو
په ترخ کښې د خاوندانو په سر د شکایتونو کېلو او اعتراضونو
یوې بیان وي .... هرې ببو په لاس کښې د صابون چکې
و په جوله کښې یوه لپه خاورې نیولې وي .... نه نه
ته ئې په سر نهٔ تولې دا نخو دَ صابون په دغه چکې خپل
سرونه وینځي او دغه خاورې د خپلو خاوندانو په سر تولي -

بنه نو زهٔ د دوي سره څهٔ چل وکړم - هلکه زهٔ چرته
مُصنف یم ، زهٔ چرته مجسټرېټ یم ، زهٔ چرته د کلي مشر
یا سپین ږیرے یم چې د خلقو لانجې او کشالې به فیصله کوم ...
... زهٔ خاورې مرچکے ؟ .... نو یو غریب او بې وسه
مرچکے به د سنده کا تو بجنګ له څنګه میدان ته ورشي .... نه
تو بند و نه ، مرچکے د جنګ او د جګړو نهٔ دے - لنډے د چکړو
دے (خندا) ..... هغه بله ورځ ؟ ...... هغه بله
ورځ خو مې کهٔ تورسرے ملا هته کړے وے نو نخو د ملا هتیا ځائے
و په کښې کنه ...... نو سړو غریبانانو کوم قصور او

کومه ګناه کړې ده؟ ...... وه زوره ورو هسې خامخا ما په چا ولې خمبیره کوئ؟

یوه ببوږ "وئ تا خدائے خمبیره کړه مرچکیه - چې زموږ وار را غلو نو اوس .... " ولې ما په چا کمبیله کوئ ...... کهٔ څوک دې خمبیره کوي او کهٔ څوک دې پتیره کوي، نو زمونږ دا بیان به اودې او دا سړې به لږ پوهوې، ګنې نو خدائے راستي چې ..... دا کوسرې ویښې او کهٔ نه؟" (خندا) نه نه ببو خدائے دې او بخښه - کوسرې را ته مهٔ بښایه - پخوا مې کوسرې لیدلې دي او خدائے شته چې د هیڅ څیز نه دومره نهٔ ویریږدم څومره چې کوسرو میراته مړو ته مې هسې سترګې طې ظې شي ...... پوېږم پوېږم ئ ...... تاسو ما ته خپل بیان تېر کړئ نو بیا اوګورئ کنه چې زهٔ دې سړو ته کوم بیان تېروم - دوي هم خو په خپله حیا نهٔ پوهیږي ......(خندا) رونړو ببوګانو را ته په یوه ساه ټول بیانونه تېر کړل، ټول حالات ئې را ته واورول - او چې څهٔ وخت مې حالات او واقعات واورېدل نو یو سوړ اسوېلے مې اوکړو ..... اے کورئ څورکړې .... هغه د پښتو متل دے چې څهٔ ژړنده ورانه څهٔ دانې لوندې ... . ما یوا څې بښځې ملامتولې، دا څو خدائے شته چې د دې ببوګانو بیان مې واورېدلو نو بښځې څو پاکې زېرګانې دي ...... او دا سړي؟ ..... څهٔ ووېم چې دا سړي ولې داسې کوي ... .په رونړو! اے بهایئګانو کهٔ ستاسو دا عمل وي، کهٔ ستاسو دا خوې وي - نو خدائے شته کهٔ دا نه خوشحاله ورځ ووینئ

خو دے شته که ځ رانه په مړه خېټه خوب اوکړئ ---- او دا اوس
ته ځه شان دے؟ ......

اے هاغه دے ګلاب ماما د پېټيې نه راغلو ..... دقه دے په
... څه راننوتو ..... اے هاغه دے پټوم ئې د ځادرګۍ سره اودرولو
..... اوٌ ...... " روټئ پخه ده؟" ..... " اخله خواره لا څو تمر
د غرهٔ نه هم نهٔ دے پناه شوے، او بیا روټئ پخه ده؟ ......
... څه تهٔ لږ کښېنه دمه شه تنور مې لمبه کړے دے اوس به
سکروکان راؤنړوم -"

ګلاب ماما :- یره ښځې دا زړهٔ خو راته وائي چې دا ځوکه دې
دې ملا ته اونیسم او درې ځایه کښې ئې درباندې ما ته کړم شل ځله
مې درته وئیلي دي چې دا روټئ لږه په وخت پخوه خو ......
... سړیه په غصه کېږه مه، ...... غېوره وه غېوره پلا دله
دې بالښت راواخله ځے" ...... غېور لاړو پلا دله ئې بالښت
راواخستو، ماما په کټ کښې داسې کښېناستو لکه چې شل ئې وژلي
وې او یو تړې نه پاتې وې ببو لاړه منګې ئې اونغښتې او زر
تړې سکروکان په تنور پورې کول شروع کړل .... په دې کښې
ماشوم په ځانګو کښې بې واره کوکې شروع کړې -

ګلاب ماما :- " یه پرېږده دا سکروکان راشه دې ماشوم له
یره خدایه خو په څهٔ بلا اوړېدلے یم - ټوله ورځ مو کوچارې
دادده باده اوباسې - او چې کور ته راشو نو دلته هم سم چنګړیات
دې - راشه درته وېم" ....

ببو :- سړیه ماشوم دے، د پرونه راسې ئې په غوږ کښې
درد دے نو څهٔ اوکړم ورسره - نهٔ ورله دارو راوړې نهٔ ئې ډاکټر

ته ښائے ، نوزهٔ څهٔ اوکړم ، په تېلو او دتې چوتو نوي غوړنه

یا خهٔ شول -

ګلاب :- مهٔ قربېږه درته وېم ، ګني نو ......

او درب شو چې د ماما پښې د بیو په دا کپړی یوه بازینګره

واړوله .... (خندا) یره چې اوژاړم کهٔ او خاندم .... دا زړهٔ

نو را ته وائي چې راشه دا پښه راوا خله د ماما دې کپړی ته

ئې اونیسه ، او دا شروع شه پرې دهه ئې ، وهه ئې ، وهه ئې

چې سم د بو سو سخے ترې جوړ کړې نو چې ځان ته مې اوکتل - او

ماما ته مې اوکتل نو خدا ے شته چې ځان را ته ماندهٔ او ماما را ته

چاق ښکاره شو ، نو اوشوه غلے شوم ....

په رو ښودا څهٔ کوئې - دا تا سو په کومه لار روان یئې ....

سړے او په ښځه لاس اوچتول ...... د سړو سره نو دا چارې نهٔ

ښائي .... ښځه غریبه ناتوان مخلوق ، کمزورے مخلوق ، په ښځه

لاس اوچتول ؟ .... پرېږدئ مړو ...... سړو هم لا چرې

ښځې وهلې دي - دېر ښهٔ ښکارئ چې په ښځو نېغ کېږئ ،

.... او اے ګلاب ماماکهٔ تا تهوله ورځ په پټې کښې یوې جغ

کړې دي کهٔ تا تهوله ورځ کو د چارې کړې ده ، نو بیو غریبې

هم تهوله ورځ څهٔ پتوکاتي نهٔ دي کړې د هغې په سر هم څهٔ

یو غم نهٔ و - د هغې هم چې سحر په تُوره کُوکه پاسېدلې ده ، نو

سر تنده ئې لا نهٔ دے لګېدلے ...... ځاے غوشاے ئې کړې دي ، غوا

ئې لوشلې ده ، شو ملې ئې کړې دي - په تا پسې ئې پټې ته د سحر

چاے او د غرمې دوډئ هم درلېږلې دي تهٔ څهٔ خبرئې چې دې

غریبې دا دوډئ او چاے څنګه پخکړې وه .... (خندا) تا چې

د ډوډۍ نه قورپاله او د چایو نه کوټې ډکو نو دا سوچ خو به دې
بدکړے وي، چې نن د ډیګه ورځ ده چې خشاک د کوره نشته او بیو د ډېران
په خاشو، او خزلو ډوډۍ، چاے او تښود کوي ...... د دې
د پاسه هم چې ته د پښتې نه راغلې نو ننغ ننغ کیږې ته که څوک
او چارۍ دلاده باده و پسلے ئې نو ببو غریبه دکور دې زړه چاوډو
کارونو د ښې تو ښې نه ویسلې ده ...... او دا لینګ ښځې. ......
د دې ښځو سمبالول کني آسانه خبره ده .... دا شه کنه یوه ورځ
خو ورته کور شه چې د سر په کنډولي کېښې دې او به څنښي او که
نه ...... نو ننغ ننغ مه کېږه ښځه د روتډ خونړ په دغه کټ
کېښې کېښېنه - چې ډوډۍ پخه شي نو او به ئې خورې او پاسه د غه
ماشوم راواخله په غیږ کښې ئې واچوه، څه بو بو ورته او کړه
چې قلار شي - آخر ستا هم اولاد دے ستا هم زوے دے په تا باندې
هم د ده حق شته ...... څه؟ .... نه شي کولې د کیږانو
آوازونه؟ .... چې د کیږانو آوازونه نشي کولے نو خه لوے
شي بهرته لاړ شه، چې ډوډۍ پخه شي، نو غېور به د رسي
د رشي، بیا دې ستا قسم وي چې په دوا یو وښکو خوراک
او کړې ښه؟ .... (خندا)

وه زوره ورو دا څه ماشومان مو د ځان نه جوړ کړي
دي - په نه څه خبره په غصه، په نه څه خبره په قهر
کله پښه ېږي ته لاس کړې او کله چوکې ته - تا سوکنې په دې
خوې ډېر ښه ښکارې؟ نه خدا ے شته که ښه ښکارې - ما ته
خو داسې سړے ډېر بد ښکاري - دا چې د ځان نه ئې ماشوم
جوړ کړے وي سړو سره خونرم خوې، لویه سینه او ډېر صبر

خوند کوي ځکه چې سړے د لويې سينې خاوند وي ......

ګورئ رونړو! ښځه د خاوند صلاح کاره وي - د خاوند راز داره وي - ښځه د خاوند د ژوند ملګرې وي نو د يو دومره ننديې بني آدم، د يو دومره خوږ انسان سره څوک داسې سلوک کوي .... ښځې د خاوند د پاره مور پلار پرېښودلي وي - خپل خپلوان ئې پرېښودلي وي رونړه خوېندې ئې پرېښودلي وي - او خپل قسمت ئې د خاوند سره تړلے وي. او ددې د پاسه دې هم خاوند راپاڅي او ښځې ته دې ترخې تروې تدبيرې اوکړي - ښځه دې وهي او ټکوي - نه رونړو نا - ښځه د وهلو څيز نهٔ دے - ښځه د رټلو مخلوق نهٔ دے - ښځه د دم دلاسې - ښهٔ خوي او ښهٔ خصلت اوبدې ده - راشئ تاسو د ښځو سره ښهٔ سلوک راواخلئ راشئ تاسو د ښځو سره نرم سلوک راواخلئ، نو اوګورئ چې دا دوزخ کورونه مو جنت کيږي او کهٔ نه .... زوړه ورو تاسو خو زهٔ دې تور سرو ته خدائے شته چې ډېر کچه کړم .... سم شئ ګني نو هغه ډما مې به درپسې اوغږوم چې تاسو هم وواييئ چې شپاړس - (خندا)

بس ببوګانو! اوس خو خوشحالې شوئ کنه ....

څئ خدائے مو اوبخښه - صابونونه او خاورې اوړئ خپلو کورونو ته .... مهٔ راته خپل سرونه وينځئ او مهٔ د خاوندانو په سرونو کښې خاورې اچوئ .... بيا به سړي لږ ساړهٔ خوري ...... څهٔ ..... کهٔ اوس هم سم نهٔ شول نو بيا تاسو پوے شه او خاوندان مو پوے شه ما خو ستاسو ذمه نهٔ ده اخستې - او ايمان مو نصيب شه .... (خندا)

دَ سَپور وادهٔ

(خندا) او نو ښيښې درزېږي ...... تيمان کې ښېدهٔ
منګې غرېبدهٔ او تمبلونه ټنګېدهٔ ...... مړو خو سم يو قيامت
او نو .... په دې ځزارې درباري کښې په دَ يې
شپېږه جينکو يې سره آوازونه راپورته شول ...... د چا
واز نرې لکه يې سره سرېندهٔ ...... د چا آواز غټ لکه
يې سره د مسله .... د چا د آواز سر نژے او لکې غټه
.... او يوې جينې خو جان ورې پيلو ما ځيګړ دے
نا" ...... سندره په داسې شرميدلي آواز وئيله چې ما
وے کهٔ باچا مير کاکا چرته د جينکو په تولي کښې ورشامل شوے
دے .... څهٔ وشو کهٔ بډيره ئې ښېښه ده ...... ډېرهٔ
خوئې ځوان دے .... نو خبره مې د سندرو کوله ....
پروسه کال په دې ورځو شپو کښې زمونږ سره د ښوال په
ښوال د تودې د زوے وادهٔ وُ .... ډېره خوشحالي
وه .... او بيا په تېره تېره د تورې ښځه خو دومره
خوشحاله وه چې راشه کهٔ ئې ګورې .... او ولې به خوشحاله
نهٔ وه .... خانيه دَ اِکې يو نياز بين زوے وادهٔ ئې وو..
.... زهٔ خو وايم شکر دے چې د خوشحالۍ نه لکه د مرغۍ
په رنګ الوتلې نهٔ ده .... (خندا) ...... د مرغۍ

نوم مې وانخستو .... خدای پاک دې ئې او بخښي زموږ
په کلي کښې یوه مرغه ببو هم وه .... په مړو پسې
خبرې کول ښهٔ خبره نهٔ ده .... خو لکه د تورې د
ښځې د لاسه خو د خپل کور بندیان په اور کښې ولاړ دي او
د مرغه ببو د ژبې لمبو به د کور حالت خلق هم سوزول .....
... هغې له هم خدای پاک یو زوی ورکړی وُ .... مرغې
ببو هم زوی له وادهٔ ښهٔ په درز کښې کړی وُ .... خو
هغه غریب د دې د لاسه د خپل وخت نه اګاهو ګوډ ته زړهٔ
چاودی تلی وُ .... نو خبره مې د تورې د ښځې کوله ،
چې هغه ډېره زیاته خوشحاله وه .... هغې به هم
کله کله د جینکو سره په سندرو کښې حصه واخسته ..... خو
جینکو به ورپورې خندل ..... ځکه چې د تورې ښځې ته
هم یوه سندره یاده وه ...... " پانه د کور ګوډې نرې
قمیص ئې د پانوس رنګا کوینه پانه " چې دې به د سندرې
سر واړولو ، نو جینکو به ورپورې برق وهلې .... " انخواشه
مړې ، میرا ته دې دا د ګوګرې پانه شه - واوړې داواوړې او
" پانه د ګوګرې " .... (خندا) دا هم اوس د خدای
دوې اومنه لا څهٔ سندره ده .... د نیا نیکهٔ د زمانې سندره
دې دا ویستې ده .... دُنیا په سندرو کښې کوم ځای
ته اورسیدلې ده او ته لا هم هغسې د کور ګوډې پانې راځنې
.... او دا غریبه به کچه نچه د مجلس نه راووته
...... په زړهٔ ئې د کور ګوډې سندرې هسې غوبل جوړ کړې
وو. خو چا ورله وار نهٔ ورکولو .... لنډه دا چې تهوله شي

به دې بې سُره آوازونو اوچې سُره سندرو آسمان په سر
خستې وو .... (خندا) ارمان دے چې د سندرغاړو
آوازونه څولې په سُرکښې وے .... نو مرچکي به هم
تړي نه څهٔ خوند اخستو ..... خو .... خوند وڅوړو
س .... زړهٔ ئې راله خولې له راوستے وُ .... ناروا شه
که ثابته مياشت به تېرې نه ټهول کندې ستر که پټه کړې وے
...... د وادهٔ نه څو ورځې اګاهو د تورې ښځه په يوهٔ
پښه وکوزېدهٔ ټهول کلي ته ئې ووے .... خپلو خپلوانو
ته ئې ووے .... په رګ کښې رګے ئې پرې نهٔ ښودو - هر
چا ته ئې ووے چې اينې قرانکو چې رانهٔ شي چې مرے ژوندے
سره پرېږدم ...... مدام به مې د سپېڅو د نجي ورونه نهٔ
وي .... ټولې به راځئ .... خپل دے ماشومان هم
د ځان سره راولئ ...... هر څهٔ شک دے مه پرېږدئ ....
خو چې پاتې نهٔ شئ نيه ...... ! ..... او د ښځو دې هم چادر
ښهٔ وي .... د وادهٔ په شپه سره د لښکر لښکر. پخو سم
د ماسپښين د تورې کاکا په کور را د ننه شوې ....
يوه ښځه څلور ورسره نجي ...... يوه ښځه شپږ ورسره ماشومان
...... يوه ښځه يو لښکر زامن رو لونه ورپسې .... څوک په
ډولدې .... څوک په ولي .... څوک د کوټې نيولے ...
... څوک د ځانې نه مخکښې رو څوک د ځان نه وروستو ....
څوک سرتور سر ..... څوک پښې ابلې پښې ..... څوک ژاړه
څوک خاندهٔ ..... څوک بغارې وهه ..... چې په کوڅه به
د لښکر را دننه شو، نو د هرې ښځې د مخکښې وروستو ...

ډُو ډُو او ترخونو ته په بېل بېل قسم ژړا راخته ......
ټولې به پرې ناساتې وې ...... او چې څنګه به په کوڅه
رادننه شوه ...... د ترخ ماشوم به ئې ددزې چې په کټ کښې
را ویشتو ...... دغه بل ته به ئې په سر څپېړه وویشته
په هغه بل به ئې یوه کاږه سکونړې ولګوله .... او
ماشومانو به ورکړو زور ژړا له ...... یو الغاؤ تلغاؤ به
شو ...... او مور به ئې ورسره سمه یوه کوکاره را وویشته
...... ته د دوې زړونه وچوه ماله ټوټې ذرې وچولو ..
... د دې ځوانۍ کو ټهو دلاسه زمونږ په قسمت کښې یوه لحظه
خوشحالي هم نشته ...... ته دوې هم دومره د مړګي زړے
شه، چې زه ترې نه خلاصه شم " ...... (خندا) او دلته به
ماله خندا راغله ...... چې واه پښتنو سیانو د ځېل
زوزاد د سمبالی په چل هم نه پوهېږئ ...... په نیکبختو
که تاسو ورته لږ سرپټوب ښودلے وے، که تاسو ورته
لږ انسانیت ښودلے وے ...... نو دوې به ولې داسې شرمول
کول ... ګناه مو ټپله ده او ملامته کوئ ماشومان ......
اے تاسې خدائے درسره پوے شه" ...... رونړو! سر به مو
څه خوږوم ...... چې تمه زړے کېدو ...... نو د ټودې
کاکا په کور کښې د ښځو او ماشومانو داسې اندوخت جوړه
شو، چې د ناستې خوړېږده د ولاړې ځائے هم نه ؤ ..
..... ټولې ښځې او ماشومان په غولي کښې داسې قط په
قط ولاړ وو لکه چې د ګنهو په دوچه کښې ښځه ګړې وطني

کښي ولاړ وي ...... سندرو منډرو سره خوړلې وُ .....
(خندا) او د سندرو ځائې د ماشومانو ژړا (انګولا نیستې
وُ ...... هر قسم ژړا وه پکښې .... نوې ژړا
...... غټه ژړا کوکارې ...... بغارې .... بړانګې
...... سلګۍ ...... مړونځو څځ به موسر خوړووم .....
یې الغاوُ تلغاوُ وه .... د تودي کاکا د ښځې هم په
ژړهَ یوه تیارهَ تله او بله راتله ...... په حساب کتاب
ئې نهُ پوهیده چې څه چل ورسره وکړي ...... د ناستي
ځاے نهُ وُ .... د ملاستي ځاے نهُ وُ ...... د کینېناستي
ځاے نهُ وُ ..... (خندا) په دوونو کښي څو د غسې
چل وي نو ...... او بیا د پښتنو په دوونو کښي؟ .....
ښهٔ په قدر په عزت به میلمنې راوُغواړي .... په
قربان به ورته وښا وکړي ...... او چې څځ وختي راشي
...... نو بیا ورته د سپي په تالي کښي بړدي ...... لاړو
د ډیرې ما زیګر نه تورې ماښام شو ...... میلمنې هم هغسې
قط په قط ولاړې وې ...... چارو ټېرې غوښته چا
وبهٔ غوښتې ...... څو نهٔ د روټۍ درک لګیدو او نهٔ د اوبو
(خندا) په دې کښي دیو ماشوم په پښسه باندې ......
د خطایي نه یوې ښځې پښه کیښوده ...... ماشوم یو
نو کوکارې ووهلې ...... د ماشوم مور د نو لُور هم هیڅ ونهٔ
کړهٔ څو هغه ښځه ئې د څو نتهې نه ونیوه او په مزکه ئې
راوا چوله ...... هغه شرمول دواړو اوکړهٔ چې راشه
کهٔ ئې کوړي ...... د یوې لاس د شوړې شوړې وښتو

نه ډک .... د بلې لاس د اوږدو ږیښتو نه ډک
.... دیوې لوپټه ږیښتې ږیښتې .... د بلې ګوتې
پرېږې چرګې .... دواړو یو بل له ښځه حیاګانې په
لاس کښې ورکړې. (خندا) د واده هغه ګلابې او الوانې
جامې ئې په یو بل باندې په یو ساعت کښې د ښې بدې نه
رووېستې .... دوې دواړه د یو بل سره انګټه شوې وې
.... او ماشومانو ئې ورته د خولې ډول او سُرنا غږول
......." وه مورې" .... "وه بې بې". " وه مورې دا له
مړه کړه کنه" .... وه د مورته ئې داله چې نتهقه رووېسته
کنه ...... (خندا) .... د تورې ښځې په ډوډې لاسونه
ږیښو دلې وو ...... په فکې ورته ولاړه وه .... دَ
سیفور ټېکې د واده خوشحالې ترې نه هېره وه .... په
دې کښې یو څو زنانه راوړاندې شوې، او دوه چرګې ئې
د یو بل نه خلاصې کړې .... (خندا) ...... هغوی هم پوهې
بانه غوښته ..... ځکه چې ښې سترې شوې وې ...... نو
رونو ...... د غه ټولې شرمندګې روشوې ...... څو لا
چرته ..... لا څو د سیفور د مور په سر ډېرې مرحلې پاتې
وې .... د ماسختن دوټې څخه خاورې ایرې دا غله ......
پنځه سوه ښځې او ماشومان وو .... او تورې کاکا ورله
ایله بیله درې د یګه پخکړې وو .... هغه هم څنګ د کلي
ماشومانو او څنګ لویو په کنډولو او جولو کښې او چلولې
.... او د زنانه وُ مېلمنو د پاره ایله بیله یو دیګ پاتې شو
...... (خندا) او زما په خیال چې د غه یو دیګ څو ایله دَ

مېلمنو بوبولو کېدو ...... څهٔ خاورې زېږې مېلمنو ته په سترګو
کېږې وا چولے شوې ...... دَ چا نورې رسېدلې د چا نهٔ رسېدلې
...... (خندا) بیا چې څهٔ وخت د ښځو روټۍ شروع شوه ...
... کهٔ د غه نقشه موکتلے وے، نو هم به درله خندا درتله او
هم ژړا ...... مېلمنې څۀ په مزکه د پښو په سرناستې د وېښتو
کنټرول ورته په مزکه پروت ...... چا د جارګې دپاسه د وېښتو کنډو
پښے وُ او په ولاړې ئې ترې ګوپالې وهلې ...... څوک د کټ په
بازو ناسته وېشتېدلې ورېږې په زور زور تېره وه ...... د
هر چا سترګې بقې داوتې وې ...... (خندا) او یوې زنانه
ته د ناستې ځائے ښکاره نهٔ شو ...... نو غرېبې تالے په
لاس نیولے وُ ...... حقه حېرانه ولاړه وه چې چرته کېښېني
...... څلور ماشومان هم ورسره وُو ...... درې لوے او یو غوټکے
...... آخر غوټکے ماشوم ئې منځ کښې او درولو تالې ئې د هغۀ په
سر کېښو دو ...... او دوي ترې ګېر چاپېره شول ...... مور
به یوه نمرې پخپله خوړه او یوه به ئې مېزله (خندا) نه پېښتیا
...... خپل غوټکي زوے له په خوله کښې ورکوله ...... (خندا)
ځکه چې د هغۀ لاس تالې ته نهٔ رسېدو ...... (خندا) او څنګه به
رسېدو ...... تالے خو د هغۀ غریب په د غه منځګه کېږې پروت
وُ ...... (خندا) ...... نو دوڼو ...... خوږو دوڼو ...... خبر
یې چې ددې نه پس بیا څۀ اوشو ...... چې شپه څنګه تېره شوه
...... چې د سحر چاے څنګه او په کوم شان اوڅښلے شوې ......
چې د غرمې روټۍ او د ماذیګر اُودا په کوم هوښمند کو اوشوه ...
هغه ځان له بېل یو داستان دے ...... د سیفور د واده په یو

يو قدم يو يو داستان ليکلے شي .... (خندا) .... تاسو به
تپوس کوئ چې په دې کښې ګناه د چا وه؟ ...... نو زما په خيال چې
ګناه د دواړو ده .... هم د توري د ښځې او هم د دغه زنانو
..... د توري ښځې له پکار وو چې خپل ځان ته ئې کتلے وے ..... او
بيا ئې هم هغه هومره مېلمنې دا غوښتلے وے ...... چې څومره دې
عُذروالې شوې ...... چې څومره دې پاللې شوې .... چې
څومره دې مړه ولے شوې .... دا نه چې دا روئ غوښتې په
ځار قربان او قرانونو قسمونو ...... او بيا ئې د هغوي
خواوانو د تاسې بند وبست نهٔ شو کولے ..... او زنانو له پکار دي
..... چې داسې غم ښادۍ له ځي نو لښکرې لښکرې ماشومان دې
په ځان پسې نهٔ دوانوي (خندا) ...... صرف هغه ماشوم دې
دَ ځان سره بوزي ..... چې کوم د پرېښودو نهٔ وي ....
داسې په ډنګ ادياځې زنانه څو ما کهدو وچرته ليدلي نهٔ دي
لکه د پښتنو زنانوُ (خندا) ...... ځکه چې ښهٔ درته د غه
شرمندګيانې معلومه وي ...... په هر واده کښې درسره د غه
سلوک کيږي ...... ولې بيا هم ايله اشاره غواړي ..... ډېر ډېر دې
زور ورو په خپل لاس خپله بې عزتي څو خدا ے راستي کهٔ اوکړم
..... دا څو به درته د توري ښځې قسمونه ا چولي وو چې خواه
مخواه به راځئ ...... ما ته څو کهٔ تور ے قرآن په سر راغلے
وے ...... نو هم به مې ورسره قدم نهٔ وُ اښيے ...... په هر چا خپل
عزت ډېر ګران وي ...... (خندا) څو د زنانوُ سره د خپل عزت
هيڅ خيال نشته ...... (خندا) بيا څو هغه د چا خبره چې هيڅ به
نهٔ وي نو ...... (خندا)

انـزور

(خندا) ...... څه چلیږه .... ګل د کډو ګل دے چې
یو پورته کوم ترې لاندې بل دے ..... تاسو به وایئ چې
هلکه مرچکیه ستا هم جوړې بل څه کار نشته ، خو تو له
ورځ په کډ وانو پسې ګرځې ... . نو...... رؤنو....
چې د دنیا د حالاتو نه ځان خبروې نو په کډ وانو پسې
څو به ګرځې .... رونړو دا دُنیا هم یوه عجب خانه ده،
قسم قسم خلق پکښې شته .... قسم قسم نمونې پکښې
شته ، قسم قسم تماشې پکښې شته ..... زهٔ خو چې
څومره سوچونه او فکرونه کوم نو دې نتیجې ته را اورسیدم
چې په دې دنیا هیڅوک هم خوشحاله نشته ...... هیڅوک
مطمئن نشته .... هر سړے پریشانه دے ...... هر
څوک غمژن دے ...... هر څوک په څهٔ نا څهٔ لړه کښې
اخته دے ..... څنې پلاران د ځامنو نه سرتیکوي ......
او څنې ځامن د پلارانو نه مخ سر وهي .... څنې میاندې
د لونړو نه ګیله منې دي .... او څنې لونړه د میاندو د
لاسه په ژړا دي ...... څنې انړیاندې د خو ابنیانو نه په
سرو سترګو ژاړي او څنې خو ابنیانې د انړیاندو د لاسه
په هر سوران دي ...... (خندا) څهٔ عجبه تماشا ده نو...
هغه ورځ مې درته د مرجانې ببو قیصه کړې وه ....

چې ورانږدې سره هر وخت ګشت وکړي وان وي ......
پرون راله ګلی بیو په ګیله را غله چې مرچکیه ...... په
سترګو پړو نه شي ...... هغه بله ورځ دې په خوا بنیا نو پسې
د ډېر نه ټینګې جوړه کړې وه ...... تورله ملامته دې په
سوبنړ خوا بنیا نو باندې وېله ...... نو ته د رنړیاندو
د نارامونه هم څه خبره ...... ګلی بیو سر سرتوکړو
او ...... په خدایه که زما په دعا کیږي نو بختی ته
هیڅ کله بنه ورځ او مه بنئی ...... یا خدایه که زما په
دعا کیږي بختی شوله خوره ملوله کړې یه خدایه!"......
بس یس بیو دا شخړ کوي ...... زوره وړي ...... بختی
که جوړه بده شي ...... جوړه بده شي ...... بیا هم ستا
انړور ده ...... د زوے کور دې پرې را غونډ دے ......
...... نو خبر دے د زوے د خاطره دې بختی ته دا سې
چې مالګې بنېرې مه کوه ...... وه ته د دغه زوے نه
ما خدائے خلاصه کړه ...... دغه د بختی مرید زوے خو
چې هډو پیدا نه وے، (ژړه غونې) بچیه مرچکیه!......
تا نه قربا نشم زړه مې سورے سورے دے ...... په زړه مې
اوربلیږي ...... چې زه د زړه په سر سوري يم ...... نو
زوے او انړور دواړه دې خدائے د زړه په کیږي سوري
کړي نو د په هیڅ نه وېم" ...... خدائے شته ماله هم
ژړا غونډې را غله ...... د ګلی بیو دا سپین سر ......
دا چوچې چیچې سترګې ...... او د دغه سترګو نه
تورتوچې او سکې دا روانې شوې ...... یو زه یې په بنسي

دس سوڼ کړه .... او کوټې ته د لوښتې په پېشکي پاکې
کړي .... بیو ته لږ ه په حوصله شه ، ته ما ته سمه
په قلار خبره وکړه چې چل څه شوے دے ...... زوے
دې څه بې غېرتي کړې ده .. .. او بختی کوم ظلم کړے
دے ؟ .... ؟ بیو خپله قِصه شروع کړه چې ....
چیه مرچکیه ! تا ته خو پته ده چې منوګے زما په غېږ کښې
د پلار نه پاتې شو ..... ما به پردی خوارۍ مزدورۍ کولې
او د غه ځواني کوټے به مې لویَولو ...... چې لوے شو ....
د کار کسب شو ...... نو زهٔ ایله لږ ه ډېر دو خد متونه
ونکاره شوم .... بیا مې ورله ځه په زړهٔ چاوُدون
وادهٔ وکړو .... څهٔ په خوارومې د هغه ډولۍ کور ته
راوړه .... او چې ډولۍ مې راوړه ...... ناوې بې بچې
دپا لنګ نه قدم په مزکه کښېښودو نو بس ما سره په ترخ شو
.... په نهٔ څهٔ خبره به راپورې او نښته ...... چې
خاوند به ئې کور ته راغلو نو زما په سر به ورته راخته شو
...... تبوله شپه بنهه بنهه .... بنهه بنهه .... نو
زویه مرچکیه .... منوګے هم آخر بني آدم وو ..... د
ښځې په لمسون کښې راغلو ...... ښځه ئې دکوټې او نیو
..... لاړو ځان له او سیږي .... زهٔ ئې هم دغسې په
سپین میدان پرېښودم ... . زهٔ بیا پر دو خد متونو
ته کښېناستم ...... (ژړغونے) نو مرچکیه بچیه دا اوس
زما د پردو خد متونو عمر دے ...... دا زا من میانۍ د دې
دپاره غواړي ؟ .... د دې دپاسه به هم زهٔ کله

کله ورتلم ...... زوے مې وو کنه، ..... چې په زړهٔ به مې
دا اووریدو نو د یو ساعت د پاره به ودکړه ورغلم ...
نو د بختي په سترګو دا د یوې لحظې دپاره زما ورتګ هم
ښهٔ نهٔ ښکېدو .... نهٔ سترے مشے نهٔ خواره مشے ...
... بس برند برند به یې را ته ښکه سیرلي غوا اکتل .....
آخر چې یوه ورځ په کوڅه ورښکاره شوم ..... بختې
څنګه زهٔ اولیدم، .... په ځان یې غوټه راو ست
..... بوړیې بوړيي په کټ کښې پرېوته ...... زوے مې
ورله ذر ذر تلي رومبل او به یې ورله ورکړې .... ا
قصه لا په رفع دفع شوه ..... نو چې اوس زهٔ کله په کوڅ
ورښکاره شم بختې هډو بل کار نهٔ کوي .... کهٔ دکړو بخ
سره ولاړه وي ..... هلته ځان مزکې له را خطاکړي ....
کهٔ د نغرې سره ناسته وي هلته په مزکه ټرا ټرا اوغزېږ
..... کهٔ ځاے جاروکوي نو په مینځ غولي کښې شاولے واوړ
ځان را ګزار کړي ...... سترګې به بقې آسمان ته ونیسي
.... تهٔ به وے چې بس ساه یې خېژي ...... کهٔ خداے پاک
یې یوه ورځ هم دغسې ساه اوباسي ...... (خندا) خدا
شته چې خندا راله راغله ...... تهٔ ګوره ورته ......
دا بختې څومره مکاره ده .... ښه بیو نو اوس؟
...... اوس پکښې تهٔ ورځم ...... او څنګه به ورشم د زوے
دکړو ورو نه مې هم دا سې معلومېده چې ښکه هغه هم
زما په ورتلو خفه کېږي .... چې ما د کله راسې ورتلل
بند کړي دي نو د هغه راسې په بختي غوټه نهٔ ده راغلې

...... (خندا) او نو په بختي به غوټه ولې راځي ....
پیر یان څو ګلی بیو دځان ..... اوري ...... یره ....
سرے به څه اوو اڅ نو ...... دا ذمونږ دجهالت
تیا
ناپوهی او کم علمی انتها ده .... دا دبختی دوره ود
ده چې ګلی بیو که هېڅ هم نه ده ...... نو ددې څو ابنې
خوره ...... ددې د خاوند مور څو ده ...... نو خاوند
خو ئې څو بن دے ...... او د خاوند مور ئې دا سې بدې
شي ، بختي له څو یکار دي چې د خپل خاوند دمخه دګلی
بیو ډیر قدر او عزت کوي .... زه دا منم چې دښځو
دا ډیر لوے ارمان وي چې ځان له نغرے ډې وي ......
ځان له کټوی ځمڅی دې ئې وي ...... په خپله کټوی
کبنې دې په خپل لاس ځمڅی وهي ...... د خپل نغري نه
دې په خپله لکه دمبیرکی تاوېږي .... د څو ابنې سنحر
په کور باچا هي ئې نه ده څو بنه ..... او ځان له غریبي
ئې څو بنه ده .... د څوابنې سنحر دکور چرګان په لاوو
نه ئې نه دي پکار ..... خپل ځان له ئې پښترے ساګ
او شکرک څوښ وي .... دښځو دا فطرت منم.....
دښځو دا عادت منم ...... څو ګورې ، څو ښه وا !.....
اے په خپل نغري او خپلې کټوی ځمڅی پسې لېونو
تورې سرو ! ..... دا دومره څود غرضي څوند نه کوي
..... دا دومره سرتیزي څوند نه کوي ...... ګوره په
زامنو باندې د خپل مور پلار رهم څه حتی نه شته ....
ګلی بیو چې متوکي باندې د ډېره وینې ځنبولي دي نو

کښې د هغې په متوکې باندې هېڅ حق پاتې نهٔ شو ...... د
متوکے مور ددې د پاره لوے کړے وُ .... چې بختے دې
راشي او د کوټې دې ئې ونيسي، او څې لکه د طوطي دې
ئې والوزوي ..... د ګلی بوکښې په دې خپل زوے هېڅ
حق نشته؟ ..... نه! متوکے چې ټول عمر د مور پښې
وينځې، ټول عمر د هغې خدمت ونه اوکړي نو د هغې
د مور ولې اجر به پوره نهٔ کړي ...... او زهٔ خو د
متوکې په رنګې روښو ته دومره قدر له ورم چې اے د خدائے
دلارې نه نا خبره روښو ...... د مور پلار په اولاد
باندې بې شانه ډېر حقونه دي ...... دومره حقونه
چې اولادئې هېڅ کله پوره کولے نهٔ شي ..... د ښځې د پاره
مور پلار، او د مور پلار د پاره ښځه پرېښودل نهٔ دي
پکار ...... پاتې شوه بختے؟ نو کهٔ د متوکې په ځائے
زهٔ وے نو اول خو به مې په رضا صلاح لوے کړے وه .....
..... چې ښځې ګذاره کوه .... کهٔ زما مور دوه خبرې زياتې
هم اوکړي نو خير دے .... مشره ده ...... بوډۍ
ده ..... او کهٔ چرې په رضا صلاح پوے شوے نهٔ وے ...
..... نو چې دې څهٔ وخت په ځاى غوټه راوستے نو سبب
ئې د اوبو دې مېنځ ته سوبارے نيولے وُ، چې يو څو
مې لګاؤ کړے وے بيائې خدائے راستې کهٔ په ځان پسې يا ن
راوستے وے ..... اوُ نو .... داسې بنيادم بيا د ډېر مسلمان
وي ډېر .. ... (خندا)

خوابنیانې

(خندا) ټول زُومان خفه دي، نَه خدائ شته چې خفه دی. دَ خوابنیانو نه ډېر خفه دی .... دا مخامخ چې ناست دي، دا ټول زُومان دي او دوئ ماله په جرګه راغلي دي چې مرچکیه ته دا خوابنیانې پوئ کړه ګنی نو خدائ راستي چې ...... چې څهٔ؟ ...... (خندا) مخکښې خبره نهٔ کوي چې څهٔ ..... خویاران په غُصَه دي.....او خدائ شته چې ما ډېر فکر اوکړو، اوکړو، نو دې نتیجې ته راوُرسېدم چې خوابنیانې ملامته دی، په خوابنیانو کښې چل شته، نو ځکه خو دا زُومان داسې ګیله من دی ..... خو اے زُومانو صاحبانو! ځپله هم درله خدائ خوله درکړې ده. او په دغه خوَله کښې یوه ژبه هُم لرې. نو چې ماته په دې ژبه ګیا یې دا ستانوُنه تیروې نو دغـه داستانوُنه مو خوابنیانو ته تېر کړی. خو خدائ خبر چې څهٔ چل دے، دَ هریو زُوم دَ خوابنې په مخکښې ه اوچه او ځه او حلق ازغی ازغی شي. خبره خو پرېږده چې توُکانې هم بیا ئې شي تېرَ وے. (خندا) څهٔ خبر یُو خلق داسې وائي چې دَ خوابنې سلام ډېر درُوند دے. نو ځکه زُومان دَ خوابنیانو مخکښې کړوَنج

نشی کؤلے، نهٔ پوهېږم چې دې خوابنیانو له خدایٔ پاکٔ څنګه خوبونه
ورکړی دی نو .... : دَ جینی دَ خوابنې خوئ يو رنګ او دَ هلک
دَ خوابنې خوئ بل رنګ .... دَ جینی خوابنې وائئ، چې پس انډ
مې راغله، دا به را نه اوس په هر څهٔ قبضه اوکړی، هسې نه چې
دا دَ کور مشره شی، هسې نه چې دَ تور سپین مالکه شی، نهٔ
پوهېږم چې دا خوابنیانې به کله دَ عقل او دَ سوچ نه کار اخلی
.... پخپل کورکښې خو به ترېنه لوُرغریبه په اورکښې ولاړه وی
دَ پیشو په سترګه به ورته نهٔ ګوری، په نهٔ څهٔ خبره به ورته سپور
ستغې وائئ - او چې څهٔ وخت په ډولۍ پسې اَلاَاوُشی، ډولۍ دَ کور
وُوځی .... نو دَ مور زړهٔ سم دَ ډولۍ سره په منډه روان وی
...... (خندا) نَه نَه پخپلو پښو نهٔ ځو رورو، دَ زړهٔ ولې پښې
وی څهٔ چې دَ ډولۍ سره به په منډه روان وی - زړهٔ خو لکه چې
کله کله هوا خوری، نو داسې کله کله په هَوا اَلوُزی هم کنه
...... او او .... نو لوُر چې دَ خوابنې سخر کورته اوُرسی، نو بیا
دَ ببو هم دَ خوابنې سخر په کورکښې ډېر کاروُنه پیدا شی ......
چې دره ټمه او اوُوَمه هر څهٔ اوُشی، نو بیا هر سحر دَ ببو اوَل
کار دا وی چې .... "سهفوره ورشه بچیه اوُګوره چې خور
دې څهٔ کوی"؟ "سهفوره ورشه بچیَه اوُګوره چې خور دې
څنګه جامې اغوستې دی"؟ .... وغیره وغیره ......
(خندا) او کهٔ چرته دَ بَدَه شامته سهفورے راغلو او مور
ته یٔ اوُوې چې بي بي لګیا وه ځانے یٔ جاروُ کوُلو، نو
دلته دَ ببو په کبډه کښې دړد شي .... کهٔ په خپل کور
کښې شپه ورځ په دُوړو او خځلو کښې ډوبه ولاړه وه خو خبره

څوکهٔ دَ خاوند په کور ئې جارُو په لاس کښې را واخسته، نو لوئے
ګُفرا وشو ...... بیا به دَ ببو دا کوشش وی چې په څهٔ طریقې سره
دَ زُوم خپل مور پلار سره ویجاړے راوَلی ...... او زُوم ئې کډه
په سر کړی، ښځه دَ کوټې اوُنیسي، اوُ ځی چرته ځان له بېل نغرے
تود کړی. دَ هرې مور دا خواهش وی چې دَ هغې لوُر دې دَ ځان له
کټوې څمڅې مېرمن شی، دَ خواښې سخر په کور کښې لوُر پوُلاوُونه
چرګان خوری خو هم دَ جینۍ مور خوشحاله نهٔ وی. او کهٔ ځان له
کور کښې پیشترے ساګ او سُکړک خوری خو دَ جینۍ مور خوشحاله
وی ...... (خندا) اَئ ته کورې خور کړې، دا جهل میرات مړے
څومره ناکاره څیز دے، دې جهالت ډېرې کوُنې ورانې کړې،
ډېرې وادهٔ کړې جینکۍ ئې دَ مور پلار په کور کښېنولې. او دا ټولې
ناکړدې صرف اوَ صرف دَ مور دَ وجې په جینۍ اوشی ...... هم
دغه رنګ ګلاټې ببو هم یوه لوُر وادهٔ کړې دَه ...... په هره دوئمه
دریمه ئې بورچنه په سر کړے وی، او دَ لوُر کره روانه وی...
... دَ لوُر په کوُڅه داسې بُرو بِزن کښې را دننه شی چې ته به وایې
چې شل ئې وژلی دی او بس دَ لوُر دا خواښې سخر ترېنه پاتې
دی ...... (خندا) ...... ولې؟ دَ ولې ځواب دَ ګلاټې ببو نه
تپوس اوکړئ ...... زهٔ خو پرې خدائ شته کهٔ څهٔ پوهېږم
خو دومره قدر له خبر یم چې بورقه به دَ کټ په لنګه کېږدی او
په خرش پرش کښې به کښېنی ..... کهٔ لوُر ئې په دې تېرېږی
نو دَ دې ګلاټې به ورسره سم په دې راتاوېږی ...... کهٔ لوُر
ئې په هغې تېرېږی دَ دې ګلاټې به ورسره سم په هغې راتاوېږی
...... دَ لوُر قدم ته به ئې پام وی، دَ لوُر مخ ته به ګوری، دَ لوُر

جامو ته به کوری کهٔ لوُر ئې سپین کُلچه مخ نیولے وی، خو دې ته به ښوے پټوے ښکاری، کهٔ لوُر ئې پاکې ساکې جامې اچولې وی خو دې به دَخیرو لمسی ښکاری ...... کوشِش به ئې دا وی چې دَ لوُر سره یوې ډډې ته شی، او څو خبرې ورسره ځان له اوکړی .... (خندا) او خبر یے چې ځان له ورسره څهٔ خبرې کوی ....."لورې دا رنګ دې ولې داسې الوتے الوتے دے؟ خوابښې سخر درسره څنګه دی؟ جنګ جګړې خو در سره نهٔ کوی؟ ..... ډېر کارُونه مهٔ کوه، څهٔ وېنځه خو ئې نهٔ یې، ...... په دوئې وبا راشه پخپله کښتونو کښې ناستې وی او تانه ئې وېنځهٔ جوړه کړې دَه ...... اَئ تهٔ دَ دوئې بو نستے وُوُځه ...... خاوند ته دې اُووَایه چې ډېره ډاندۀ ه ترې بېله کړی، بس دے ډېره ئې پرې اُوخورَوُله- ورته اُووایه چې ځان راغونډ کړه- ترکوُمه به تهٔ کښتې او مور پلار به دې ئې څټمی ......کورے چې ضرور ورته بېګاه له اُو وے ښه؟ ...... اوهغه هلک دے نهٔ پرهیزی، خدا ئې خبرچې دې مور پلار پرې څهٔ جادُو کړے ...... بېخ دَ دې جادوکرو وُوځه، چې هلک ئې ړوند کوُڼ کړے دے"...... (خندا) لوُر کهٔ کُلاتې ببو ته ډېر اُووائي چې مورې شُکر دے زهٔ ښهٔ خوشحاله یم- خوابښې سخر راسره ډېر ښهٔ دی، ډېر قدر عزت مې کوی ..... هغه هم راسره ډېر ښهٔ سلوک کوی...... خو دَکُلاتې ببو په غوږ ونو دا خبرې نهٔ لګی ..... دَهغې هم هغه یوه خبره ده چې ...... "خواره شې چې ځان له کور دې شی نو لږه په خپل سُود زیان به پوئې شې، کالے پټرے به جوړ کړې، جوړې جامې به جوړې کړې، نهٔ به دربانډې دَچا آواز وی او نهٔ دَچا چغه- بس خو ښهٔ به خورې، ښهٔ به څښې او ښهٔ به

خوندې - دا دومره روڼه چې دے په مور پلار لا هوکوی، دا به ستا په بنه راشی کنه میراتی .... (خندا) څه چلېږه د لُور په مغزو کښې یُ خلل واچُولو....... شنهٔ شنهٔ باغونه یُ ورته اوښودل.... او کلاته به چې په کوُڅه څنګه اُووَته، دغسې دَ ناوې بی بی په کړووړو کښې فرق راغلو...... اکو بکړ یُ بدل شوُل ...... دَ خیال په دُنیا کښې لاړه ځان لهٔ کور ته ...... کور یُ سپین لکه شیشه پروت دے .... دې سرخنړه کړې پاکې جامې اغوستلې او په قبنج قبنج دَ نغری نه تاویږی - په غوږونو کښې یُ مکروُنه او په تندی یُ ټیکه تالی وهی - کله کوټې ته او کله بهر ...... دَ ځان سره دَ جلاله اُوبهٔ خوږې دی" سندرهٔ په نری آواز وائیُ ...... (خندا) اوچې دَ خیال دَ دُنیا نه رابېداره شوه نو یوخوا ته یُ سحر او بل خوا ته یُ خوابنې ناسته وَه ...... او دلته ورته دَ ناوې پهٔ زړهٔ تیارهٔ شوه ...... او ماښام له یُ چې خاوند کور ته راغلو، نو ناوې اغېړلې غوندې وَه .... چې خاوند ترې تپوس اُوکړو چې خبر دے؟ ...... نو ناوې بی بی ورته هغه ټول شنهٔ باغُونه قط په قط په محکښې کېښودل کوم چې ورته مور ښودلی وو...... او دلته دَ کلاتې ببو دَ زُوم په تنده دیارلس بجو ټنګ ناری کړې- ...... لاړو ځلمے لا له دَ فکرونو او خیالونو په تال په جُوړو شو .... او دَ دې ځی نه دَ زُوم په زړهٔ کښې دَ خوابنې خلاف دَ کرکې او نفرت بُوټے نال شو ...... او س چې کلاته ببو په کُوڅه درننُووځی، نو زُوم یُ څادر په اوږه دَ کوُڅې نه بُوټ اُوځی ...... خو کلاته په دَ خپل عادت نه مجبوره ده، هغه خپلې لُور ته هُم هغه رنګ وخت په وخت دَ شیطانی ډکے په غوږ کښې وهی ....

دَ ښځې خاوند ترمينځه هم دَ خفګان او بې اتفاقۍ تيره کېښودې شوه .... اوچې لرې ورځې تيرېدې نو دَ ښځې خاوند ترمينځه جنګ جګړې شروع شوې. ناوې هم دَ ژبې پېرې او تسمې راښکلې او خواښې سخر سره په ترخ شوه .... اوچې موږ خبرېدو خبرېدو نو دَ کلاڼې ببو لوُر مورکره خفه ناسته وَه .... اوس دَ کلاڼې ببو دا ضد دے چې خواښې سخر دې ورپسې راشي..... او دَ هلګ مور پلار وائي چې خدائي دَ خدائې بوه ده چې قدم هم ورپسې بدل نۀ کړو. پخپله تلې ده، پخپله به راځي .... (خندا) کورو به چې ضد به دَ چا پوره کيږي...... دَ هر چا ضد چې پوره کيږي، په هغې موځۀ کار نشته، خولاړه دَ جينۍ ژوندګی تباه شوه .... دَ جينۍ دَ مينې هغه کور وران شو .... اوس به ئې کلا ته ببو په خوند پوې شي.

اے خواښيانو صاحبانو! اے دَ خپلو لوُڼو دُشمنانو، دا ولې اور په خولۀ کښې کړزوئ. دا زُومان غريبانان ولې په قلارې نۀ پرېږدئ. دې خپلو لوُڼو ته ولې مشکلات راپيدا کوئ. دا زُومان چې ستاسو زُومان شو، نو بس دَ مور پلار بياګني هيڅ هم نۀ شو..... لاړو دَ مور پلار هغه حق په سينه لاهوشو .... ؟ کورې مۀ کوئ .... دا بد مۀ خوښوئ .... دا لوُڼه چې يو ځل واده کړئ، نو بيا ورپسې دومره غوږ مۀ اُوړئ. پرېږدئ چې هغوئ په دغه نوی ماحول کښې ځانونه بلد کړي .... پرېږدئ چې هغوئ ځان له دَ ژوند نوې لارې چارې اُولټوي. دَ ښځې خوشحالی دَ خاوند سره تړلې ده، کومه ښځه چې دَ خاوند سترګو ته کوری، دَ خاوند خوښې ته ګوري، هغه ښځه هيڅکله

نهٔ بدرنګېږی. هغه ښځهٔ هېڅکله نهٔ خوارېږی .... نوراشه
ے خواښیانو په دې لوُښو او زُومانو پسې پړے لږ غوندې سست
کړه. چې نهٔ درنه دَ زُومانو نفرت پېدا کېږی، او نهٔ مو په لوُښو
کورُونه ورانېږی .... پاتې شوه کلا ته ښو ...... (خندا) نو
ناسوراشه لږ سېل خوئ اوکړه. لوُر ته ئې جارو په لاس کړې ده،
غوجل را جارُو کوی. نهٔ ئې دَ سر پته لګی او نهٔ دَ جامو، دَ
خاؤرو یو کنډُو دے چې په کورکښې ګرځی. دَ سخر په کورکښې
خوئ دَ دې په لاس کښې جارو هم بدی شوه، او دلته پرې
دَ سُوتو ټوکری غورزوی .... آفرین شه او دَ کلامې
ښو عقل له شه .... (خندا)

نوه‌ونه

(خندا) د پښتو متل دے چې نه ځې نو په شا به دې کړم او چې نه ځورې نو خټه به دې کړم؟ .... پروون مې هسې د ځان سره فکر کولو، نو خداے شته چې او مې خندل....
..... دا څو شک دے چې هغه وخت څوک وو نه، کني نو دا يقين به ئې دا غلے وُ چې لاړو مرچکے سودائي شو......
(خندا) سودائي کوي مې دې خداے نه ...... ځکه چې سوداييان غريبانان مې ډېر ليدلي دي سم دم سړے به وي .... کله به ئې په ذړه لاس اېښودلے وي ....
پتّوے دا ذړه څومې داسې تهوپو نه وهي" .... (خندا)
کله به ئې نبض په لاس کښې نيولے وي او کله د ښونو به د خپل نبض تينګړې شميرې ...... پتّوے دا نبض څومې نن هسې تړ قارے کوي .... (خندا) ...... کله به په تشته خپته لوے لوے ډکارې کوي .... " يره نن څو مې په دې ذړه داسې غبار را جمع شوے دے"..... (خندا) ...... هلکه ډوندے بني آدم ئې، نو ذړه به دې تهوپو نه نه وهي .... ؟ ..... هلکه روغ موتې سړے ئې نو نبض به دې تړ قارے نه کوي ...... هلکه د ساه بني آدم ئې، چې ساه را کاږې، نو په خپته کښې به دې هوا نه جمع کيږې .....

(خندا) ...... پرېږدئ زوروروسم دم ژوندمو ځان له ناقلاره
کړے دے ...... تاسو په رب باور وکړئ چې ډېر داسې سودایان
ې لېدلي دي، چې غټ پټ دهاتې هومره سړے به وي او زنګ
به ئې داسې زېړوي لکه کودکمان ...... تحول اعصاب ئې داسې
کمزوري شوي وي چې کله د اوښې بېره داپرېوته، نو دے
به اوچت ودانګي ته به وائي چې کمېنې بخت ورسره چرته
بم راګذار شو (خندا) کله په بې خیالئ کښې پرې پیشو میاؤ
ناري کړل نو دده زړه بیا په دیارلسو ګهنټو کښې ځاے له
نه راځي ...... د کوم سړي چې زړه پرېوځي، حوصله بېلي
...... همت پرېږدي ...... د ژوند نه نا اُمیده شي، نو هغه
سړے بیا وهمي شي ...... په هر قدم کښې ورته مرګ
ښکاري ...... په هر ګټ پېر ورته مرګ ښکاري ...... په
هره مرحله ورته مرګ نحوله وازه کړي وي ...... (خندا)
نو داسې سوداتي توب نه دې خداے هر مسلمان اوساتي
...... ددې مرض علاج ښته ډېر آسان علاج دے ......
مضبوطه حوصله، مضبوطه عقیده، او مضبوط ایمان"
...... هر کله چې د مرګ دپاره یوه ورځ او یوه نېټه مقرره
ده نو بیا هر وخت د مرګ نه د وېرې څه ضرورت دے ....
...... (خندا) وائي چې د کومې بلا نه نه خلاصېږې نو غاړه
غړېد ورځه ...... سودایانو رونړو! د خپل زړه په
دانارې ځانونه ناجانه کړئ - د زړه کار درزېدل دي،
پرېږدئ چې درزېږي ...... خپل نبض په قلار پرېږدئ -
تې قارے نه پر قارے نحودې کوي، د نبض کار هم دغه

تېر قارې او پېر تارې دي ...... پاتې شو د ذرو غبار ....
(خندا) نو په څوله څو موچالاس نه دي ايښودلي، اچوئ
ابدرې چې څومره مو ذره کيږي ...... څو کورې د خلقو
په مخکښې نه، په محفل په مجلس کښې نه .... ځکه چې
تاسو به خپل ذره سپکوئ، او نورو خلقو له به زړو سته
او پرېسوئ ...... (خندا) تاسو به وايئ چې مرچکيه
خبره دې د کوم ځاى نه شروع کړې وه، او کوم ځاى ته
دا اورسېدې، نېک بخته هغه خپله خبره دې اوکړه چې د ځان
سره دې ولې خندل؟ .... (خندل) هغه څو داسې چل وو
چې مونږ سره نن دې د اول دين کاکو ردي، نو سحر وختې
د اول دين کاکا د کوره يوه نرۍ ګوګه را وچته شوه او په
ټول کندې کښې خوره شوه ..... ګلی ته د مزکې ذړې
شي سيپيانى دې کره لاړه شاه، او د پښتوګۍ بيو نه تپوس اوکړه
چې عالمې ژړندې ته ځي او کنه؟ ..... که تلو نو ورته
اووايه چې بضلې به هم ورسره ژړندې ته ځي .... بيا
د هغه مخه د مجيدې دوې په کور راشه، يو لوټکې شوملې ترې
نه راوړه" .... (خندا) ...... څومره ښکلې نومونه
ئې وا نستل - ګلئ، سيپانې، پښتوګۍ، عالمې ...... بضلې
..... مجيدې ..... (خندا) تاسو به وايئ چې هلکه
سرچکيه په دې کښې د خندا څه دي چې تاسې داسې ککړې
اووهلې ..... نو رونړو! په دې کښې د خندا د پر څه دي..
..... په دې کښې د افسوس او د خفګان ډېر څه دي...
.... په دې کښې زمونږ د جهالت او ناپوهۍ ډېرې خبرې دي

...... دګلۍ نجېل اصل نوم ګل جانه دے ...... ګل جانے نه ګلی
جوړه شوه ..... د پښتو ګی نجېل نوم فاطمه دے ، جوړه شوه
ترې پښتوګی .... د غسې څټۍ وړسې د عالم خان عالمے
.... د فضل الرحمن نه پضلے ، د عبدالرحمن نه رخمانے
.... او د عبدالمجید نه مجیدے جوړشو ...... (رخندا)
.... ارمان دے پښتنو کښ چرته په بل وطن کښې و ے
...... نو هر یو ته به ددې نوو نوو تکو او نوو نوو
نومونو په راپېدا کولو یوه یوه ډکړې ملاؤ شوې وه -
...... او بنځو ته خو به هسې ډکړې ملاؤ شوې وې (رخندا)
ځکه چې دا ښځې د نوم په وړانولو او مختصره ولو کښې هسې کمال
کوي ...... افسوس دا له په دې دا ځي چې هونږ پښتانه
صرف د بنې آدمانو نومونه نیمګړي ، وړانی و یجاړ روبونړې
سونړې اخلو .... نو د به د هر ځېن نوم بنځ پوره
مکمل روښه درونند خوبز اخلو ..... د هر نوم څو موهیچرې
نیمګړے نه کړو .... د سندلو ا میښتې نوم موهیچرې
بونړے نه کړو .... د غوا غوړۍ نوم مو هیڅ کله سونړے
نه کړو .. .... نو مطلب دا شو چې زمونږ په ټلص کښې
انسان د څاروونه هم بر بوتے څېن شو هن ؟ .... وه
زما روږو ! ...... وه زما خو بنده و ا سیانړو ا لږ سوچ
اوکړئ ...... لږ فکر اوکړئ ...... د مسلمان د نوم څه
خاص معنی وې ...... څه خاص مطلب او خاص مقصد وي
.... لکه د سیف الرحمن معنی ده د الله تعالی توره ...... د
فضل الرحمن معنی ده د خدا ے فضل .... د عبدالرحمن معنی

ده د خدای بنده ...... (خندا) بیا نو د بېسپاني څه معنی
شوه .... د پېغلې څه معنی شوه او د رحماني څه معنی
شوه؟ (خندا) نه خاورې نه ایرې ...... نو دا مې واورئ
چې د چا نوم هېڅ کله مه نیمګړے کوئ .... د مسلمان
نوم د خدای د نوم سره تعلق لري د پېغمبر د نومونو سره
تعلق لري ...... نو د مسلمان نوم ورانول داسې دي لکه چې
دوی د خدای نوم وران کړي، یا د خپل پېغمبر نوم نیمګړے
کړي ...... محمد ګل ته به ماما نه وایو ځکه چې دا ګناه
ده - عبدالرحمن ته به رحمانے نه وایو، ځکه چې دا ګناه ده
.... عبدالغفور ته به غفوره نه وایو .... ځکه
چې غفور صرف د خدای صفت دے ...... عبدالرحیم ته
به رحیم نه وایو ځکه چې دا صرف د خدای صفت دے نو څه
پوهے شوئ؟ که اوس هم نه یئ پوهے، نو .... نو څه به
اووایم درته نور بس دومره قدر له به درته اووایم -----
چې ارمان چې دا خدای پاک په خپلو قدرتونو څه داسې چل
اوکړي .... چې هر څوک چې غلطه نامه اخلي چې
دا خوله ئې کږېږي .... چېره نه ..... صرف د یوې ګهنټې
د پاره ...... (خندا) پېره نور څه نشم وئیلے څو ددې
بسڅو څو به د ټولو خولې په ورځ کښې شل ځله کږېږي .....
او بیا به سمېږي ...... نو که چرې د غصې ورسره خدای
پاک هم په ترخه شو، نو په څو ورځو کښې به ټول سړي او
هره ښځه سمه دمه شي ..... مجال شته چې بیا څوک چا ته نیمګړے
یا کوږ نوم واخلي ...... وابه خلي کنې؟ .... وابه نه خلي

کنه؟ ...... (خندا) وئ د ډېر مسلمانانو ...... یعني ښه کار
به هم تاسو په ډېر کوئ ...... د راشئ خبرې د بونو ته مه
رسوئ ...... د خدای پاک د صبر رسئ ډېره اوږده ده،
هغه هیڅ چاله په خوله سوک نه ورکوي او نه چالره په دې
دنیا خوله کښېږدو وي ...... هر څه چې ورسره کوي، په هغه
دنیا به کوي ...... نو چې په هغه دنیا کښې بیا په دې نه څه
خبره تېرېږي خورو ...... نو د روښ نه ولې خپله عاره نه
خلاصوو ...... اوکورئ په دې خپلو ماشومانو ډېرانې، انډر
گل، ستوري گل ...... توت او بکیانه وغېره نومونه مه
ږدئ ښه ...... (خندا) سم اسلامي نومونه ورله ږدئ -
هسې نه چې صبا ورله چرته د څارووو نومونه خوښ کړئ ......
(خندا) او کنه څو چرته سندرا به درته ښه ښکاره شوې وي،
نو سمه ستې به مو په زوې نوم اېښی دلې وي سندرا ......
څه؟ ...... زما نوم چې مرچکې دی؟ ...... (خندا) او ...
...... زما نوم مرچکې دی ...... څو ...... مرچکې څو راته خلق
دېني نه وائي کني نو خپل نوم څو مي ...... پره مرچکې راته
خلق وائي نو ...... (خندا)

سُنّت

(خندا) او نو شړشم لوېد و ...... لوېد و ...... لوېد و .... او په څهٔ موده پس ترې غټ پټ دلسو کالو زلمو ته جوړ شو ...... د یو سپړلي او د بل سپړلي په طمع طمع لس کاله تېر شول او شړشم هم د غسې نا سُنته کی زېږد و ...... اصل خبره دا وه چې د زرغُن ماما زړهٔ غوښتل چې د شړشم سُنت بنهٔ په درز او بنهٔ په دُدز اوکړي ...... څو هغه د چا خبره چې تښه لاسه ته مې دُشمن ئې (خندا) د زرغُن ماما هُم لاس تش ؤ ...... نو د دوې ئې دادے له خېره شوندره شنه وه چې د سُنت په نیا نک کښېناستو ...... یره څو دومره بدي ښکارېده و چې زهٔ به ئې درته څهٔ ووایُم ..... خېر سر به موڅهٔ څو بَوم څو زرغن ماما څهٔ مالګه او بهٔ یو ځائے کړې او د شړشم سُنت ئې را ولاړ کړو. ...... بنهٔ ډونګه وړې او شول ..... بنهٔ تماشې وړې او شوې ...... د کلي مالت ښځو او جینکو په سندرو او لوبو ټوله شپه د زړهٔ براس داسې وویستو چې سحر له بیا دَ یوې هم د سرې نه آواز نهٔ را پورته کېده و ...... (خندا) وې نو ...... په ټول کلي کښې په ډېره موده پس خدائے پاک د غه یوه ښادي را پېښه کړې وه ...... د ښځو او جینکو په دې ډېرو نو کښې نوؤ نوؤ سندرو هسې غوبل جوړ کړے ؤ

...... د سنت په ورځ د ماسپښين نه پس زلمو ته شړشم په
نوو جامو او سهرو کښې په آس سور کړے شو، ډول سُرنا
وړپسې شو ...... شړشم مخکښې په آس لکه د خرد جال سوړ،
او خلق وړپسې .... د کلي په کوڅو کښې يو چکر ووهلے
شو ...... بيا د شهيد بابا سلام وشو .... او بيا
وړپس خپل کور ته راغلل .... (خندا) دلته نائي ماما د
شړشمو ډيوه د ښانک د لاندې بله کړې اېښې وه، ......
هلته په کور کښې په ښانک کښې اوبه پرتې وې .... تکه
سپينه پاغونډه د شړشم د مور په لاس کښې وه .... (خندا)
دهلک په سر قرآن کېښود ے شو، او په بسم الله کانو بهر
ته روان کړے شو..... په هر قدم ټوټې او ټوټکې وشوې
بهر په کوڅه کښې نائي ماما د بډې نه پاکي راووېسته او
چيړه و کښې (نغښتې) پاکي ...... ورسره جُخت په کنډول کښې
خپيا که لوټکے کېده، .... يو کاپړ لوټکې د تشو متيازو نه
ډک پروت ؤ. (خندا) او اُو مُتيازې ډک لوټکې تر
سپيرو سپين مو پوړې پروت ؤ .... ماما د پاکي
نه چيړې پرانستې ...... پرانستې .... پرانستې
...... او آخر په ډېر شوا خون يوه تکه توره پاکي ......
او يوه تکه توره نچه راووته .... د نائي ماما لاسونه
د ختو کنده وو ..... ځکه چې روس په دې ساعت ئې په
کوزه حجره کښې چاټې ډکې کړې وې .... د کوړ نه
دې مار جواب نه راتلل چې شابې هنک زر سنت کړئ ......
دهلک موړ په يوه پښه ولاړه ده ستړې شوه ...... (خندا)

صبر اوکړه بیبو ناڅۍ ماما خو لا تیار شوی هم نه دی، او ته بیا ستړې شوې؟ ...... د ناڅۍ ماما په لاسونو زلزله راغلې وه ...... پاکې ئې په ګوتو کښې نه ټینګېده ...... نخه ئې د ګوتو بښوئېده ...... او زما زړه ورته رپېدې اخستې ؤ. ...... یه خدایه خیر ...... یاالله دهغه سرته خیر کړې ...... او آخر خدای پاک خیر کړو ...... ماما شېرشم ته په آسمان کښې د سرو زرو مرغۍ وښودله ...... اُودلته خړپ شو ...... او ورسره غړشو چې د مُتیازو په لوټکې زخم وونځلي شو ...... زر زر د څپیاکې ایره په زخم واچولې شوه ...... او د ململو یوه چیرړه د زخم نه چاپېره کړې شوه ...... مبارکیانې شوې ...... سلامتیانې شوې ... زرغون ماما خوشحاله ...... د شېرشم مور خوشحاله ...... ټول خیل خپلوان خوشحاله ...... رخندا) وے نو خوشحالېده به نه، هلک سنت نه شو څه ...... هن! تاسو ته به دا سنت داسې آسانه قصه ښکارې نو ...... ناڅۍ ماما هم ډېر خوشحاله ؤ ...... ځکه چې ډېر کامیاب سنت ئې اوکړو؛ ...... ورځې تېرېدې او شپې اوړېدې ...... په دریمه ورځ د شېرشم زخمونو نوځ اوکړو ...... غماني ئې او پړسېدې ...... شپږې تبې اونیوُ ...... په ناڅۍ ماما پسې جواب روشو ...... او هغه د جواب سره سم را غلو ...... په دِو دِو ئې لاسونه کښېښودل ...... حق حیران ورته ولاړ ؤ ...... په ذهن کښې ئې نسخه نه راتله ...... ما سره خو خدایه شته چې غم شو ماوے که اوس ناڅۍ ماما رووې چې

دا واخلئ یوه پیره سوځي، او په دې زخمونو ورته لیږي
کېږي (خندا) څو نه خدایه خیر کړو..... تش سر
ئې او پړقولو...... آخر زه ور مخکښې شوم او ورته مې ووې
چې اې د خدای په قهر اخته خلقو! ماشوم درنه لا برو
خراب شو...... هسپتال ته ئې رسوئ....... کښي نو په ټول
بدن کښې به ئې نوئو اوشي، .... زه پوهېږم چې زموږ
دا خلق به کله پوهېږي .... زه پوهېږم چې زموږ
عقل به کله سر له راځي .... (خندا) په زرګونو ماما خدای
دې په نېکۍ کړه نو دا شرشم دې آګاهو ولې نه سنتولو.....
چې بنه ډېرمل شو نو بیا دې راوپرزولو...... ګورې سُنت
څو سنت وي کنه...... نو په سنت کښې دا ډنګ ډونګ
څو دومره ضروري نه ؤ چې تا ورته دا خپل زوی راولېولو
.... راولېولو...... راولېولو چې سم زلمې دې ترې
نه جوړ کړو...... او اې ناڅ ماما کور دې آباد شه......
د جهالت د زمانې دا چارې پرېږده....... دا زنګ وهلې
پاکي دې لرې کړه دا د خیرو ګوجي نجه دې او غورځوه...
..... په داسې پاکه او داسې پنجې سنت کول څو د خپله
لاسه ماشوم ته اجوړه کول دي...... په مټیازو زخم وینځل؟
...... (خندا) توبه خدایه توبه...... دا کښې د جهالت انتها
نه ده...... په مټیازو هم چرې زخمونه وینځلې شوي دي؟

نوټ:- څوا به په سنتولو کښې هم داسې کېدل - دا د
ناڅ کردار ګپ نه دے بلکې حقیقت دے -

اوُ بنه ! د څپیا کې ایره په زخمونو اچول؟ .... څومره لوے ظلم دے .... څومره غلیظ کار دے، ...... ناڅۍ ماما تاله پکار وو چې اول دې خپله پاکي اونجه ښهٔ وینځولے وې .... بیا دې ښهٔ په سپین ټهو صفا کړے وے .... او بیا د سنت نه پس دې زخم په مټیازو نهٔ وینځلے ...... ځکه چې مټیازې د زخم د وینځلو څیز نهٔ دے ...... اول خو د زخم وینځلو ضرورت نهٔ وُ .... او که ضرورت ئې وے .... نو ښکلي ورته واڅۍ کاسني غونډې دارو وي ..... په هغې به دې زخم وینځلے وُ او بیا په مزې د پنسلینو د مرهم پټۍ به دې پرې ایښودې وه .... نهٔ به زخم خرابیدو ... . نهٔ به زخم سخاکیدو ..... او نهٔ به په کښې نو وته کیدل .... (خندا) د خدائے خاطر او کړۀ سړو د ماشوما ډیرونه سره دا لوبې مهٔ کوۀ .... دا زنګ وهلي پاکیانې لره کړۀ .... دا د خیرو د کې پچې او غورزوۀ .... دا د مټیازو لوټکې مات کړۀ ..... کمني نو د چا مور پلار د اِکې زوے سنت به موکړے وي .... هغه به خراب شوے وي... ..... او خدائے راستی ره ناڅۍ ماما! چې نوی خو څهٔ نشم ویلے خو هغه د چا خبره چې هم په دغه زنګ وهلي پاکي به درنه غوبې پریکړې .... نوره خو ښه دې خپله ده۔

(خندا)

ښځه اوخاوند

(خندا) "مامدې"! ...... هن...... ستاد دوؤمیاشتو دغه ځوئے چې په زانګو کښې پروت وی، او مورئې د اُوړو ښانګ ته ناسته وی، لاسونه ئې په اُوړو لړلی وی، او په دې دوران کښې ماشوم ناګهانه ږغارې شروع کړی نو ته به څهٔ چل کوې؟ .... اُو اُو ته، ځکه چې مورخو به ورله راتلے نهٔ شی، لاسونه به ئې په اُوړو لړلی وی۔ او ماشوم به ګړ ګوزې کوی، ستا به هم ورته په ځټه تیارهٔ وی، نو په داسې وخت کښې به تهٔ څهٔ چل کوې؟ .... ماشوم به خنګه قلاره وې .... د هغهٔ زانګوله به جوته ځرنګ ورکوې، او د جوتې سره به هغه خاص قسم آوازونه اُو هغه خاص قسم خبرې ځرنګ کوې؟ .... تاته وېم کنه، ولې غلے شوې؟ .... ساے بنه څَه دا به پرېږدو........ تهٔ کورناست ئې .... د هلکانو مورپه غوجل کښې ده .... په نغری پسې پراتهٔ دی .... خپیاکه وربسی لوګے کیږی ...... او ناګهانه چش چې پسې سرله راوختل، نو په داسې وخت کښې به تهٔ څهٔ کوې؟ ځکه چې کهٔ د هلکانو مورته غږ کوې، او هغه راځی نو پیئو به سرخوړلے وی .... کهٔ تهٔ ئې راکوزَ وې نو کوتې به دې سوزی ...... او کهٔ نهٔ ئې راکوزَ وې، نو چتاکه د پاسه درې سېره پسې د مزکې خوراک کیږی .... نوبیا؟ ...... (خندا) ولې غلے شوې؟ ګران کاردے؟

وَه زوره ورځ دا خو دَ ښځو په ذمه واروکښې دَ ټولو نه آسان دوه
کارُونه وُو چې مادرته اوښودل .... نو دغه آسانو کارونو
ته هم چې ته ګران وے .... نو هغه کټوے پخول، اُوړه اَغږل
.... ماشوم په اوږنۍ کښې تړل .... هغۀ له دَ غوبړو نوټوې
جوړول وغيره وغيره خو دا سې کارُونه دي چې په سترګو به دې
ورته خدائے شته چې تيارۀ راشي .... (خندا) نو ځکه خودرته
زۀ وئيم چې اے مامد يانو ماماګانو دا هروخت دې ښځو ته غږُه غږ
مۀ کوئ .... دا هروخت دې ښځو له پېغورُونه مۀ ورکوئ
چې تاسو به تياره اُوخوړه او دَ سړو بُونسټے اُووَتو .... کۀ دَ سړے
په يوې جغ او دَ دفتر په کارُونو بونسټے اُووَتو .... نو ښځو له
دَ کور دې لانجې ماروکارونو او دَ ماشومانو دې سمبالی زړُونه اُوخوړل
.... خدائے شته چې لس جريبه پټے اړوُل آسان دي او دَ
يو په ضد شوي ماشوم قلارۀوُل ګران دي .... ماشوم چې يوځل
لغړيتې کړی چې يوځل ځان دَ ډاکې راوُولی .... چې يوځل په
مزکه ابغ نبغ لکه تخته شي، نو راشه کنه مامدې ماما .... نو
به دې هله اُوګنم چې هغه بيا ته دَ خپلې خبرې نه واړ وې ......
(خندا) خدائے شته مړه چې هغه نوُکارې درباندې اُونګوی
چې مخ دې لکه دَ پيشی په نوُکارو په سرو وينو سالُو کړی ......
جامې درباندې اُوشلوی .... دا هرڅۀ به درسره اُوکړی.
او بيا هم خدائيګوکۀ قلار شي، چې ترڅو ورسرة مور په هغه خپله
ژبه کښې خبرې نۀ وی کړې .... اوُ ...... اوُ ميانډو ته دَ خپل
اولاد رګهۀ نه معلوم وی .... دَ ژړا رګ، دَ خندا رګ، دَ مرورېدو
رګ .... دَ خفه کېدو، دَ اُوږي کېدو رګ دَ اُودۀ کېدو رګ،

سړو خو بټول رګونه ئې ورته معلوم وي نو ...... (خندا) لکه څرنګ چې ... نه د برګی اُو چپې رګونه معلوم وی .... چې برګی له لکه ... کړي نو د کیل د پاسه ترپکې وهی، اُو چې چپې له په دوه لاسی ځکه راخطاکړي نوهم د میږی په قدم روان وی'...... ولې ... غلط مې اُووې؟ ...... ټهیک مې اووې کنه؟ ان ..... نو ... دې اُو بخښه ماما دې ماما "هرسړے پیدا دے خپل خپل کار ... کړه کنه" ,,......... د سړو خپل کارُونه اوخپلې لا ښخې دی.....

..... د ښځوخپل، د دواړوکارُونه او د دواړو لا ښخې په خپل خپل ځائے ... لری. نو ځکه درته وئیم چې سړوله نهٔ دی پکار' چې خپله یوې ... جغ اُو یا خپل فائلونه، خپل دفترونه هروخت په ښځوخندوی

..... په دې باندې سړی ډیر بدی ښکاری ډیرکم همته ښکاری

.... ډیرکمزورے او بې حوصلې ښکاری .... څهٔ؟

...... ښځې چې سړو ته هروخت خپل ځائے غوښائے اُو اَخلې ... ځکنښې کوی؟ .... ډیر بد کوی .... ښځو له هم نهٔ دی پکار چې په خاوندانو باندې د کور د کارونو سرپښې کوی

.... اے ښه ګلالۍ ببو فرض کړو چې تا سحر وختی ... روانه کړه' لاړلې پټی ته، ګُلبې ته دې یوې جغ واچُول'.....

...... په پټی دې ورخوشې کړه، یوکیل تېرشو ...... دوهم تېرشو

.... او د دریم کمیل دې سرکښې په درته سرباندے اُوشلیدهٔ' نو بیا به ... څهٔ چل کوې؟ اُو اُو، تهٔ به بیا څهٔ چل کوې؟ ...... د لُو پټی نه به سرباندې جوړه کړې؟ .... خدائے پاک دې سرتوره نهٔ کړه ګُلالۍ ببو، هیڅ کله به د لُو پټی نه سرباندې جوړه نهٔ کړې. اُو کهٔ د یوساعت د پاره زهٔ دا اومنم چې تا خپله

لوُپتہ سربلندۍ کړه، نو د لوُپتې زور د ستہ معلوم دے؟........ په یو ترق کښې به دوه ټوټې وی........ نو قلبه په ځائے اُودریده کنه؟......... داخو ما مدۍ ماما وی چې سربلندۍ ورته اوشلیږی نو زر به د سر نه پټکے راکوز کړی، او سربلندۍ به ترې جوړه کړی... پرے نۀ پرے.......... (خندا) اے څه دا به پرېږدو...... په سادین دې ورخ وهلے دے....... اُوبۀ دې پرې ورخوشې کړی دی........ اُوبۀ دی چې لکه د کړې د پُور بربوټې وهی، او په یو ترات په سادین کښې لکه د بناماركړې وړې روانې دی........ په دې کښې ناګهانه اُوبو پُوله یوړه........ او دلته ناګمانه په اورنهې کښې ترلی شکور چې اُوده پروت وو، یو بغاره راووېسته نو ته به څۀ چل کوې، اَول به پُوله ترې کۀ اَول به شکور قلاره وې.

.... (خندا) اَول به ....اَول به .... مۀ کوه سمه صفه سپینه خبره اُوکړه - چې اَول به شکور بچے را واخلم .... ورته به د پیشوګانو او بیزوګانو پېښې اُوکړم - دم دلاسه به لۀ کړم، اُوچې هغه قلار شی، نو بیا به د پُولې غم کوُم .... هن کنه؟........ اُوچې تۀ د شکور سره دومره قیصې قطارې کوې نو پولو او ورخونو هر څۀ به اَول سرا و بیاکېره خوړلی وی.......... نو لے خوبند و، اے زنانۀ تور سرو! لږ ساړۀ خوری........ کۀ تاسوکرې نۀ یی نو سړی هم خدائے شته کۀ ملامته دی.. .... راشه په یو بل باندې دا ضباتې پرېږدی، یو بل باندې دا سرپېښې کوَل پرېږدی - ښځه او خاوند د یوکاډی دوه پایۍ دی، چې دواړه پایۍ په اتفاق وی، چې دواړه پایۍ خپلې خپلې ذمه واری ترسره کوی، نوګاډے به روان وی-ټولې

ونجې به سرته رسيږي - اوکۀ نه په دې دوارو پايو کښې يوه پايه
هم کش کړپ اوکړی، نوکاږے به په ځائے اودريږی.........
وچې کاږے په ځائے اودريږی، نوخاوند به گټمې خۀ او ښځه به
بخوی خۀ؟ .... نه! دا خو به خاوند خشاک راوړی، ښځه به
پرې تنور اچوي .... خاوند به اوړه راوړی ښځه به تربينه
روټۍ پخوی .... خاوند به غوړی راوړی او ښځه به ترې
پراټې پخوی .... او بيا؟ بيا به ئې مامدې ماما په هسکو
سترگو خوری .... کۀ په نورو نوړو وی اوکۀ په قوپالو قوپالو
وی .... مامدې ماما خپله د يوټۍ پوره کړه، اوکلاټمې ببو
خپله ذمه واری سرته اورسوله .... (خندا) دا نه چې
خاوند يو خوا ز مرے دَ برېتو نه نيولے وی، په پوزه ئې ئې نه پرېږدی
او ښځې بل خوا کوترے دَ پښې نه نيولے وی دَ خاوند په غوږ ونوکښې
ئې هر وخت غپوی .... دَ داسې ښځې خاوند ژوند ډېر تريخ
وی .... ډېر په عذاب ژوند ئې وی. .... دَ داسې
کور په قسمت کښې خوشحاله ورځ هډو وی نه، .... دا
خوخوند هله کوی چې خاوند په کوڅه را ننوځي چې ښځه ورته
په زوڼ تندی ستړی مۀ شې اوکړی، اوکۀ ماشومانو ډېره تنگه
کړی نۀ وی، نوخبرے لږه غونډې په خندا دې هم شی، ورسره
کم ازکم خاوند ته به دا احساس اوشی چې دا ښځه زما کورته په راتلو
خوشحاله شوه - او سرو له هم پکاردی چې په کوڅه لکه سيرلے غوټې
نۀ را ننوځي .... چې هرخۀ ته برند برند گوری - کۀ په لاره
کښې کوزه پرته وی، هغې له لته، کۀ منگے وی، هغې ته لته، چرگو
ته کنځل .... لکه چې سم ميرغضب په کوڅه را ننوتے وی.......

...... نۀ سړی له پکار دی چې کۀ د هر ستړے وی، خو بیا هم مُسکے مُسکے لکه شهزاده په کُوڅه رانوځی .... چې داسې معلومیږی چې لکه تۀ کور ته په راتلو د هر خوشحاله ئې ...... او بال بچ دې داسې یاد هد و لکه چې ثابت کال دې بهرته هر کړے وی .... یو ځوئے ځان ته را ګُجنت کړه .... بل ته په سر لاس راکاږه، او بل ته هسې دَ اوُښ پیښې اوکړه .... (خندا) مطلب مې دا دے چې ورته اوخانده .... او ښځه په هیڅ ځیز دومره نه خوشحالیږی لکه چې دَ بال بچ سره په مینه خوشحالیږی. ولې کلاتې بیو ګنی غلط مې اوُوے .... "مرچکیه دَ خولې نه دې قُربان کړې شکرې دې اوُ دُوړولې. الله دې دَ بچو دَ غمه اُوساته، یره خو مرچکیه قُرانګو چې د هر ښځهٔ سړے ئې، خو چې ...... کله کله دې په دې ښځو پسې دا سپورې ستغې نۀ وئیلے نو څومره به ښه وه هن ....
...... (خندا)

ښه مامد ئې ...... نو تاله لکه دَ ماشوم دَ قلادَه وُلوچل نۀ درځی هن؟ کوره .... خدائے مکړه که چرې داسې موقعه راغله، او ماشوم په ځانګوکښې بغاره را وو هسته نو آشنا نر به هله سیځے چې په یو ترپ ځانګوله ځان اُورسې، اوُ چې ځانګوله اُورسې نو ...... "وئ دا چا ...... دا چا ...... زما کلاب چا د لی کړے دے ...... او یربدې ...... کُرې، کُرې شه سپَیه، ائ تۀ بلا در باندې راپریوزه ...... پشې شه پیشو ...... قاں قوں ....
...... تپاتی ـ ـ ـ (خندا) دا خو دې شوه یوه .... پاتې شوُل پسه .... نو آشنا څۀ وخت چې پسه سر له راوخیژی نو بل کارمهٔ کوه، خو دَ یخوا و بو چُونګ را دِک کړه او شرپ چې

دَ پیوُ کښتوی ته ئے ورلیږه کړه. دَ سترګو په رَپ کښی به هغه په غُصَّه شوی پسی یخ یخ شی .... پوئ شوې اوکه نه ...... اَنِ .... مونږ سره چې ګرزې نو دا مزې به کوې .... (خندا)

دَ سوَال کالے

(رخندا) دَ سپفورماما دَ خوئې دَ وادهٔ نغارهٔ اوغږېدهٔ اُوچې دَ هلک خپلې خپلوانې په صده اُووَتې، نو ډېرو ببوګانو دَ فکر په تالونو جُوتې وهل شروع کړل، دَ شپې خوب اُو دَ ورځې آرام پرې حرام شو، دَ چا سره دَ جاموغم دَ چا سره دَ پېزارغم اُو دَ چا سره دَ کالی پېټرې غم ...... هره ببو به دَ سحر نه کوتې ته ننوته .... بکسُو نه به ئې په بَله راواړول ...... جامې به ئې تولې دَ کټ په لنګه ډېرے کړې .... " يره چې کومه جوړه به ښهٔ وی....... ....دا؟ ...... دا ميرات مړې خو مې دَ طوُرې په وادهٔ کښې هم اچولې وَه ..... نو بيا؟ .... ورک زمونږ دا لنډ تنګ ژوند شَه، چې دَ ښې بدې هغه جامې هم راسره نهٔ وی .... (رخندا) چا سلېپرو اُو چا سپنډلوته دا شوړې نيولې دی، سحرماښام ورله مخونه په شوړو وينځۍ او په جارګې ئې نمر ته مخامخ اُودرَوی .... پاتې شو کالے ...... نو کالی خو دَ هرچا نهٔ وی، دا خو يوه نيمه خوش قسمته وی چې خپل کالے او خپل پېټرے به ئې وی کښې نو دَ کالی پېټرې تولهٔ معامله دَ يو بل نه په سوال او غوښتو پوره کوَلے شی ...... تاسُو يقين اُوکړی چې په هر وادهٔ کښې به کم نه کم نيمو زنانهٔ وُ پردی کالی پېټرې په ځان راانبارکړې وی خنکلی دَ يوې نه غوښتې، مګرونه دَ بل چا نه غوښتی- اوکهٔ امېل

و کلو بند چرته ملا وُ شو، نو بیا خو واه واه ئ ایله خو سیالی پوره شوه، بیا چې کومې زنانه وادهٔ کښې دَ خواست ته ځکه، کلو بند او مګرونه اچولی وی نو که دَ هغې نخرې مو اوکتې نو حق حېران به شی ورته' (خندا) او په وادهٔ کښې چې کو مه زنانه بیا بیا خپلو کالو ته ګوری، نو پوئ شه چې خپل ئې نهٔ دی. .... خاندی مه ریشتیا وهم درته - زنانه هم داسې کوی - دا دَ دوئ عادت دے، او دا عادت ډېر خراب دے - ډېر نامناسبه دے ...... هرې زنانه دَ وادهٔ ښادی دَپاره دَ اول نه ځان له دَ کالو پټرو کور مېرے وی - چې څهٔ یره کالی به دَ فلانۍ نه اوغواړم ...... (خندا) چې څوک دَ کالو پټرو مېرمنه وی'...... نو دا بې کالو زنانه هسې هروخت دَ هغې خوشامندې کوی، کهٔ پیشترے ساک پوخ کړی نو..... "مامدې بچې راشه دا ساک خو دې لږ ببوله یوسه" کهٔ کړی پخه کړی نو ..... مامدې بچیه دَ ببو خو دې کړی ډېره خوښه وی راشه لږه خو ورله یوسه" ...... (خندا) کهٔ دَ ببو خوښه وی او کهٔ نا خوښه وی، خو دا به ورله دا څیزونه ورلیږی. ځان به ورته نزدې نزدې کوی.. ...... وئ نو خوشامدې به ئې نهٔ کوی، صباله به ئې ورته دَ کالو ضرورت نهٔ پېښېږی؟ .... دا خوئ چې تعلقات ښهٔ وی نو هله به ورله دَ کالو مېرمنه کالی ورکوی، کنی نو بلا پرې نهٔ ځوی چې بیا ورله کالی ورکوی ...... (مُسکا) په دې وادهٔ ښادی کښې دَ دې زنانهٔ وُ دَ یوې بلې جاموا و کالی پټری ته ډېر فکر وی، چې چا ډېر کالی په ځان انبارکړی وی، هغه قدرمنه ده، هغه دَ عزت مېرمن ده - هغه معتبره ده .... اَنٔ که دغه کالی دې خوارې غریبې دَ چانهٔ په خواست غوښتی وی هم......

(خندا) ځومره د حیرانتیا خبره ده، څومره د افسوس خبره ده،
هلکوچاله به خدائے ورکړی وی او چاله نه .... نو چې دا چا
له یې نهٔ دی ورکړی، نو خو اوشوه په خپله برخه دې صبر او شُکر
اوکړی کنه۔ که ګورګران دے نو د مړی ناکام دے۔ یره په پردی
څیز خو خدائے شته کهٔ بریت تاؤکړم .... بنه نو د دې اوس
څهٔ خوند دے چې د چانه والی، د چانه مګرونه، د چانه ټیکه
را واخله اوٌ خپل ټیس تپاس پرې برابر کړه، ولې دې خلقو ته
پته نهٔ ئې څهٔ چې قرا نګوکهٔ ئې خپل سلے هم شته ....
(خندا) .... د کلاتې ببو هم دا عادت وو....... د هغې
غریبې هم نهٔ کالے وو او نهٔ ئې پټرے. ...... خو یوه خورینګې
"زرکله" ورله خدائے پاک ورکړې وه، .... خدائے پاک څهٔ
ورکړې وه، خو دې وربورې ځان چیچړه کړے وو۔ او هغه
هم ځکه چې زرکلې ببو له خدائے پاک څهٔ کالی پټری ورکړی وو..
...... او یقین مې راځی چې د زرکلې ببو نه زیات به د کلاتې
ببو په بنه راتلل .... ځکه خو به کلاتې د زرکلې ببو نه داسې
هروخت ځاربېده قربانېده .... (خندا) خو....... اوس د
دواړو کوټې شوې ده ...... تعلقات ئې خراب شوی دی......
...... (خندا) او اوٌ نهٔ اوس د کلاتې ببو هغه ځاربېدل قربانېدل
شته او نهٔ زرکلې ببو له پیشترے ساک اوکړی ورلېږل شته ......
...... ځکه چې په هغه تېر اوړی کښې چې د طوری واده وو، نو
کلاتې د زرکلې نه کالی غوښتلی وو، او د واده په هلهٔ ګله کښې
یو مکر د کلاتې نه ورک شوے وو ...... (خندا)۔ نه نه اُوده نه
وه ..... خو ما درته اووے کنه چې کومه زنانه چې په ځان بانده

دَ خواست کالی را انبارَوی نو دَ هغې بیا داکوشش وی، چې دا کالی دې هر څوک اوګوری. اودَ وادهٔ دا ټولې ښځې دې بس هم دې ته ګوری... .... نو ګلاټې ببو هم دَ لوېټې پلوُونه دَ غوړونو شاته راتاوُکړې وو. او دا مګرونه ئې په ډاګه کړی وو، چې دَ هرچا پرې نظر پرېوتو...... او کله کله به ورله ببو داسې یوه تالی غوندې هم ورکړه .... او په دې ټېلوکښې چرته دَ ګلاټې ببو دَ غوړونه یو مګر لرې شوے دے .... خو ببو داسې په چُرت کښې وه چې ایله ماځیګر چرته خبر شوه، چې یو مګر دَ غوړ نه ټوپ کړی دی او خدائے خبر چې کوم ځائے کښې لرې شوے وُو، .... (خندا) لاړو دَ ببو هغه قینچ مکېز، او هغه غوړونو له تالے ټولې په ژړا او انګولا بدلې شوې. هغه شور ئې جوړکړو چې مزکه اوُ آسمان ئې په سر را واخېستل. کنځل خېرې، سپکې سپورې، هر څهٔ اوشوُل، خو مګر پیدا نهٔ شو، پېریانو ببو را وغوښتے شوه خو څهٔ ترې جوړه نهٔ شوه، کوُزه اوګوزَ ولے شوه خو څهٔ پته ئې اوُ نهٔ لګېده. لاړهٔ ګلاټه ببو دَ دواوُ زرو روپو په دوز کښې راغله........ په خندا خوشحالے وادهٔ له راغلې وه، اوُ په ژړا انګولا دَ وادهٔ دَ کورهٔ اووته .... او چې کورته راغله نو ماما هم ورته تک سوُر ناست وُو....... دَ ګلاټې مَلا ته ئې چُوکه اونیوه، او هغه بغارې ئې ترې اوُ وَیستې چې راشه که ئې ګورې.......... (خندا) اوُ نو........ هلکه ماما غریب څهٔ اوُکړی. هغه به دا دوه زرهٔ روپۍ دَ کوم ځائے نه را پیدا کوی. او بیا ګلاټې ببو به تا څهٔ چېټې وَه چې دَ زرګلے نه دې کالی غوښتل، خواره نهٔ شې کهٔ په دې وادهٔ کښې تا دادَخواست کالی نهٔ وے اچوُلے نو ګڼې چا به دَ وادهٔ نه را شړلې وې؟ .... اوُ چې څهٔ وخت زرګلے ببو خبر شوه، نو

راشه که ئې کورې، په هغه چړ چقو خورا نغله، او کلاتې له ئې هغه حیا
په لاس کښې ورکړه چې ټول عمر به ئې یاده لري. د ښځې نه ئې زیاته
سپکه کړه او کلا ته ورته داسې غلې ولاړه وه لکه چې په خوله کښې ئې
ژبه نه وي .... (خندا) او نو ملامته وه کنه، که په خوله کښې
ئې ژبه وَه نو هم په نه ژبې حساب وه .... اوس ماما لګیا دے
کله لس روپۍ میاشت او کله شل روپۍ میاشت زرګلې ببو له ورکوي..
.... او د هغه راسې بچې د دواړو ببو کانو کوټې ده، نو لا به کوټې
وي...... اوس چې کلا ته ببو واده ښادي له ځي نو هم دغسې بوړه
روانه وي. نه ئې غوږونو کښې مکروونه او نه ئې په تندي ټیکه ټالے
وهي ...... ښه د مزې سپکه لاړه شي، او ښه د مزې سپکه راشي
.... (خندا) آئ ته کور ئې خور کړې. دا زنانه څومره ساده کانې
دي. وَه زورَورو نودا ولې؟ .... داکالې داسې کنې د مخ پوړه
شوه چې که د چا ښځې په غوږونو او غاړه کښې کالے نه وي نو لکه د
بې پوزې مخ به بدې ښکاري........ کالې څه ئې؟ .... او بیا
د خواست کالے؟ بچې نفع کمه او نقصان ئې ډېر...... چې نیک نامي
لږه او بدنامي ئې ډېره،........ سرخوړکے ئې ډېر...... خفګان
ئې ډېر...... مړه کوه خوښند و دا د ناديد کو خلقو چارې مه
کوه .... کالے په سوال غوښتل ډېره سپکه خبره ده......
.... ډېره ناجائزه خبره ده. .. .. تاسو خو کالے
په سوال او غواړه په غاړه او غوږونو کښې ئې راواچوه. خو خبر
یې چې د کالو د مالکې زړه سم په دغه کالو کښې زوړند وي، او چې
ترڅو پورې کالی واپس مالکې ته نه وي رارسېدلے د هغې زړه میرات مړے
خدائے کوکه کورته راځي. او او ریشتیا وېم درته کنې نو چا د کالو د مهرمني
نه تپوس اوکړې .... (خندا).

پېزار په سر

(خندا) نن بیا د پېښ ورځ ده ..... نه رښتیا غلط شوم ـ
نن بیا د پېښ دورځې د ماسختن پاؤ کم نهٔ بجې دي ....
تاسو به په دې انتظار ناست یئ چې روس به مرچکے راشي
خۀ ترسکوني غوندې خبرې به وکړي .... مرچکے به
ترسکوني خبرې اوکړي، او تاسو به لږ او خاندئ ....هن؟
هر څو که زما دا ترسکوني خبرې ترسکوني نهٔ وي ......
بلکه د معاشرې په ناکړدو .... د خلقو په غلطو او
ناړاموپورې یو طنز وي ...... نو بیا هم دا طنز څني کسانو
ته یوه ټوقه ښکاري، او د ساعت تېرې د پاره ئې یوه
ښۀ مشغولا ګڼي ...... خیر ځ

فکرِ هر کس بقدرِ همت اوست

......بې سوچه خلق هم د غسې کوي ـ **ناخبره خلقو**
ته د کار خبرې هم ټوقه مسخره ښکاري ..... که څوک
ئې ټوقه ګڼي او که مسخره، خو مرچکے به خپل کار کوي....
زما کار د ناخبره خلقو خبرول دي .... او د ناخبره
خلقو کار په ما پورې او زما په خبرو پورې خندا کول دي ـ
......(خندا) ......پروت د کلي نه روان ؤم ښارته...
... سائیکل مې پنچر ؤ .... هوا تړې نه وتلې وه .....
سائیکل مې د غوږ نه نیولے په فکرونو کښې ډوب روان

ؤم .... خدا ے خبر چې څهٔ فکر مې کولو .... اوُ نو
...... د انسان څهٔ یو فکر نهٔ ونهٔ وي .... چې شمېره
سوچونه او فکرونه د انسان په دې وره غونډې کېږي
کښې را غونډ شوي وي .... کېږي څهٔ ده خوسمه دَ
فکرونو او سوچونو یوه ورانه ماشوره ده، چې نهٔ
ئې سر معلومه وي او نهٔ لکۍ .... نو ما هم دي یو فکر
لکۍ او د بل سر را په مخه کړی وو .... غوږئے مې ټق
شوے وو، کله به مې په فکر کښې هغهٔ ته په نوُکو کښې فینیل
اَچول .... سندوا مې لمرئ شوے وو، کله به مې هغه منډې
ته روان کړے وُ او هلته به د سودا گرو سره مشت وکوټوا
شوے وم .... بوجې مې دوه ودځې او شوې چې ټرنډې
ته او لېږې ده کله به په هغې پسې ټرنډې ته لا ړم - ټرنده
کړی به لا دانې نهٔ وې او وړهٔ کړې، د هغهٔ سره به په پرنج
شوم ...... لنډه دا چې هم په دې فکرونو کښې روان وم
...... چې ناگهانه د گنجې کلي نه یو دوه بیبیانې سړک ته
راوُختې ...... سپینې بودقې ئې په سروې ...... سلیپر
ئې په پښو وو .... (خندا) د سلیپرو د رنگ پته نهٔ
لگېده چې سرهٔ دي کهٔ تور، ځکه چې دومره دوړې ......
خاورې ...... ختې .... او شوتې ودپوډې نښتلي وې
چې کهٔ د سلیپرو مخو که شنه ښکارېده ...... نو مخ ئې خړ
ښکارېدو .... پوندې ئې داسې ښکارېدې لکه چې موچې
د څرمنې په ځائے د ختو پوندې ورله جوړې کړې وې..
...... دواړه بیبیانې زمانه مخکښې ښهٔ په مته قدم روانې

وي ...... کس ړه کس ړه ...... کشه کشه ...... کس ړه کس ړه
...کشه کشه ...... تا به وې چې دوه زنانه نه دي ......
مه د کډو دمه په سړک باندې روانه ده ...... په دې نه
چې مې وې چې داشه مرچکیه آواز پرې اوکړه چې یه نیک
بخته! دا قدمونه لږ اوچت اخله که ترشاره پوړی
مود سلیپر داسې په دې پوخ سړک راکښل نو دهغه
مخه به که خپ وي د سلیپرو خکې مخکښې د ځان سره
راوړې" ...... (خندا) څو بیا مې ووې ...... چې مرچکیه
ستا په څټ څه سندوا پښه ایښې ده، پر دې زنانه دي
...... ته به د هغوي د پښو خپ څه کوې، او که هغوي در ته
په غصه شوې نو بیا؟ ...... (خندا) خدای پاک مې دې
د ښځو د شر نه په امان کښې وساتي ...... هغه یو ځل
حیا مې لږه وه څه؟ ...... که هغه حیا مې یاده وي نو بیا
که ښځه ذات کوډې ته ځان غورزوي، نو هم دا زړه درته
وائي چې مرچکیه غږ به ورته نه کوې ......
داسې چل وو چې یو ځل هم دغسې په لاره روان
وم ...... زنانه مخکښې یو څو زنانه روانې وې ......
نه پوهېږم چې د چا غم له تلې او که د چا ښادۍ له ....
څو داسې په ترا تپ خلاصې وې چې بس الوتې ...... بورقې
ورپسې راکښلې شوې ...... د دوړو یوه سیلۍ ورپسې
روانه وه ...... دوې مخکښې او د دوړو سیلۍ ورپسې،
تا به وې چې د انډک سونډک سیلۍ رالوتې ده ......
سرې او شنې لوپټې ئې د سرونو نه داسې تښتېدلې وې ...

او د هغې بوډۍ نه بهر په مزکه سرې او شنې جنډې
دا کښلې شوې ...... په دې ډېره کښې مې سوچ اوکړو چې
مرچکیه دا څو ډېره بده خبره ده ...... د ښځې څو چې
لوپټه ښکاره شي نو پوې شه چې سر ئې ښکاره شو ....
او د سر برښنه په دل د ښځې ذات ډېره لويه بې عزتي ده....
ما د دغه زنانه وُ دا بې عزتي نه شوه زغملے ...... آخر مې
قدم تُند کړو ...... ورنزدې شوم او آواز مې ورته
وکړو ......" په ځورکۍ دا کوم داسې ډېلے تالاکيږي
چې تاسو ورپسې داسې په ترات خلاصې يئ، چې هډو
د ځان نه خبر نه يئ .... دا لوپټې څو مولبدې پورته
کړئ .... انصاف دا رو چې د کور نه د بهر وتو نه
پس نو بيا دا ووځئ ولې ؟" .... (خندا) ......نو
دو هي دا خبره نه وه سم د شين آسمان تندر ......
وئ دا چوچی سترګې دې خاوړې شه، خپله ځوړ موړ نه
لرې چې د پردو تور سرو لوپټو ته ګورې" ...... اے
ته د مزکې ته ړے شې، ستا په سترګو کښې څو هډو حيا
نشته" ...... نه ستا کار څه دے چې ته د پردو تور سرو
سره ځوله کړوې ازون په درله داسې حيا په لاس کښې
درکړم چې ته به ئې هم ياده لرې څه ورک شه، ځوانې
کُوټے شي. شرم درکښې نشته کني نو داسې بې سرپټو به
کار به دې نه کولو ...... لوفره" ...... دا څه دا څه ځورې
د داسې قام شرمو سره ځوله کړول هډو نه دي په کار" ....
زنانه لارې په خپله منځه، او ما وے چې خدايه چې دا مزکه وچوي

او زهٔ پکښې ورننوځم. چاکول چې ماکول ..... هلکه ریښتیا
مرچکیه! نو ستا څهٔ کار دوو ...... خپل کار به ئې کولو ......
لوېشتې نه چې سرونه خو دې ښکارېږي ...... ستا پرې څهٔ
...... نو رونو د هغه راسې مې قسم خوړلے دے چې ښځې
ذاتً به چرې هم نصیحت خبره نهٔ کوم ...... نو خبره مې کوله
د دغه بیبیانو چې سلیپرئې په ځان پسې راکښل ..... خو بې
مجلس ئې شروع کړے وُ ...... (خندا) د ښځو به څهٔ مجلس
وي خو .... وئ خورې د بور چنړې ډېره هوا ده، ته
به وے چې د کوزنل ښځه ده .... څه مرې قرانګو چې دا
د دې په رنګ خاوند خو څپلې دې کوسرې سره هم برابر نهٔ
کړم. په دې خاوند باندې دا دومره نازېږي" ......" چپ
شه خورې زامن ئې دازلمي شوي دي. څکه څپله برخه آسمان
نهٔ وینې، بني آدم خو ورته هډو بني آدم نهٔ ښکاري"...
وئ ته بني آدمان د دې شیرې ته کښېنه" دا په دې
تور سرکوندره شه، چې دا هوا ئې د مغزو نه وځي ......
(خندا) خدائے خبر چې څوک غریبه ئې دا په مخه کړې وه
خو دواړو ښځهٔ د زړهٔ براس وویستو، په دې کښې ناګهانه
هغه یوې ووې چې "خورې زما خو په دې سلیپرو کښې
داسې ساه دوبه شوه"...... هغه بلې ووے "زما هم
پکښې دا زړهٔ داسې تنګ شو چې .... دوناګهانه کړپ
کړپ .... دواړو سلیپر وویستهٔ، شړپ شړپ دواړو
سلیپر وغنړل دیو سلیپرو منځو کړهٔ د هغه بل په وخکې کښې
ورکړه .... اواو چت ئې د سر دپاسه سواره کړهٔ .....

(خندا) څه چلېږه سلیپر څو پاس په کوټو وختهٔ ...... دَ
ښځو ځینې سرته وختهٔ ...... د ځینو خاورو او سوټو نه ناولې
سلیپر دوا ړو بیبیانو په سر کېښوده پو نه وله ئې زور ورکړهٔ
او قدم ئې تُند کړو ...... (خندا) څو مره خوند ئې وکړو پړه
...... سلیپر پاس په سرونو سوارهٔ وو او زمونږ د زنانوُ په
عقل پورې ئې خندا کانې کولې، د خندا خندا نه د سلیپر و
خولې وازې تلې وې ...... سلیپر و خندا کوله او ماله ورپورې ئې
ژړا راتله ...... ما وے چې ښځهٔ په چغو چغو اوژاړم ......
د خپلو زنانوُ په دې عقلونو پورې ......

دغه زنانه کهٔ د بهر ملک یو سیلانې د غسې سلیپر په
سرو وینې نو یو ساعت څو به ورته ګوته په خوله شي، او
شاید چې په دې فلسفه باندې پوے نشي ...... (خندا)
...... او پوے به ځنګه شي آخر څهٔ وجه کېدے شي چې پېزار
دې د ښځو په ځاے په سر سور کړے شي ...... څو هغه غریب
به د مِنتُخ د حاله څهٔ خبر وي چې زمونږ زنانه ټول عمر په
کوږ او کلې مالت کښې ښپې ابله ښپې ګرزي - په ښپې
آبله ګرزېدو ئې د ښځو نه سمې ښپې جوړې شوې وي -
او چې په کال پس په دغه "ښپو" کښې سلیپر واچوي
نو دړه ئې پکښې تنګ شي، ساه ئې پکښې دوبه
شي او زړه ئې د ښځو نه راوباسي په سر ئې سوارهٔ
کړي ...... (خندا) .... چې په ترخ کښې ئې
نیولے نو بیا به هم ښهٔ وه .... څو په ترخ کښې

په نیو و جوړې د سلیمو ساه ږوبینږي ...... الله پاک
دې وکړي چې زموږ د زنانه وُ ښځې د پښتنو سره بلده ې
شي رو دا به په دې طریقې بلدېږي چې دوي په کور
په بهر هر وخت پښتانه په پښتو کوي د هر وخت پښتانه
را چولو په برکت به یو نحو د دوي ښځې د پښتنو سره بلده
شي نو ځکه به يې پلکنې بیا نه تنګيږي او بل به يې د پښتو نه ښځې
نه جوړېږي - (خندا)

دَ وخت قدر

اوُ نو خدائے شته چې په دوَه کښې حېران يُم ......

(خندا) تا سوبه وايَيه چې " ورکې دې دا د يرې قرتې شَه "چې هرڅهٔ ته يه تهٔ حېرانېږې، بيا دې سترګې څهٔ ته ځې شوې؟

(خندا) واقعي چې زهٔ هم هرڅهٔ ته حېرانېږم ....

خوسترګې مې دې خدائے پاک هيڅ کله نهٔ ځې کوی" ....

سترګې به دَ حرصی سړی ځې ځې کيږی، چې دَ بل مال ته به پسخيږی .... سترګې به دَ ناديدکه سړی ځې کيږی چې چرې به يُ څهٔ ليدلی نهٔ وی .... ماخوشکر دے هرڅهٔ ليدلی دی .... هرڅهٔ وينم، نهٔ دَ چاچامو ته پسخيږم اوُ نهٔ دَ چادولت ته .... په خپلی خامتا او په خپلی دې غريبه بنهٔ مطمئن يُم .... (خندا) حېران يه دې خبره يُم چې زمونږ مشران دې خدائے په بِهِشتو جنّتونوکړی، هغوئ به وې چې بچيه وخت ډېر قيمتی خيز دے .... وخت هيچرې مهٔ ضائع کوه .... وخت چې يوځلې تېرشی، نوبلاورپسې شی، بيا هيڅ کله واپس نهٔ راځی .... نودَ وخت قدر اوُکړه......

.... او يو منټ هم په فضولو کاروُنو مهٔ تېروه (خندا) نو .... نهٔ پوهېږم چې هغوئ نهٔ پوهېدل اوُکهٔ مونږ ډېر هوښياريُو .... ځکه چې زما په خيال چې خدائے دې هر

خۀ دومره ډېر کړي لکه مونږ اُوزګار خپلو سره چې وخت څومره ډېر دے .... دَ یو مُوټي تهانکرو سره به درله یوه ګهنټه وخت برابر نۀ کړم .... (خندا) هلکه یو موټے تهانکر خوبه یوَه لمبه شي .... لا سُونه پښې خوبه پرې ګرمې کړم .... نو دَ وخت سره به خۀ اُوکړم .... نۀ ورته لاس تو دیږي اَو نۀ پښې...... ...... نو تهانکر بنۀ شو...... کۀ یوه ګهنټه وخت .... (خندا) ولې غلي شوه ؟ غلي کیږه مه .... په غلي کېدو کار نۀ کیږي. .... بحث به راسره کوه .... اَو په دې خبره به مې قائله کوه چې دَ پښتنو په کتاب کښې دَ وخت نه دَ تهانکرو قدر زیات دے .... دا د قیصه خوانۍ بازار دے ...... عالمونه دي چې چلیږي راچلیږي .... خلقې دي چې لکه دَ مچ مېږو تیږیږي .... څوک سودا اخلي، څوک سودا خرڅوي .... څوک پوزه سونږ کوي، څوک لاړې تُوکي .... څوک ګنده ړه کړیوي څوک موم پلی خوري .... په دې بیړ کښې .... په دې بهیر کښې دَ هر قسم خلق شسته .... دَ بنګته .... دَ بره..... ..... دَ بهَر وطنونو .... دَ پنجاب دَ سند ه دَ بنګال .... او یو مخلوق پکښې بل هم شته، چې ورته پښتون وئیلے شي .... (خندا) چې وخت ور سره دومره ډېر دے چې هسې په خټو خټو اُودلو دلو هر یَو په ترخ کښې نیولے وي .... (خندا) کۀ چا پوزه سونږ کوله .... او سر ئې تیټ کړو .... نو تۀ راځه هم ګوره چې خۀ چل دے .... زۀ راځم هم ګورم چې خۀ تماشه دَه، بل راځي هغه هم ګوري چې خۀ قیصه ده .... (خندا) مره خو ژبه شوه دَ غریبانانو په تماشو پسې ....

.... یره ستا دې قسم وی یو دوه نولی پېدا کړه ، اؤ دَ قیصه خوانۍ به دې پلېټ فارم کښېنه .... کهٔ تا نه دَ وخت دا بې قدره اُوزګار خېل پښتانهٔ په ډلو ډلو را چاپېر نهٔ شو نو نوم به مې مرچکے نهٔ وی .... په پُوله به پټی په شاړو مېړو کښې به هره ورځ بې شمېره نولی وینی، خو بیا به هم دَ قیصه خوانۍ دَ پلېټ فارم دغه نولو ته به اودره یږی .... .. (خندا) یو به وائي، وی قرانګو دا خو نولے دے .... بل به وائي، اؤ قرانګو هلکه نولے دے .... وَی دَ دهٔ دې غوږونو ته خو اوګوره .... اُودغه پوزه ئې ..... (خندا) په یو ساعت کښې به دَ نولی یَو یَو اندام درته او شماری .... راغلی به وی مالګې کُوږکمان له ...... اُولګیا به وی دَ نولی غوږونه .... پوزه .... اُوپښې به شماری .... مالګی کُوږکمان اوخوړو سړ....... (خندا) اُودرېږه چې ځان خولېږه تماشه اوکړی...... په ډېره مُوده پس غریب ښارته راغلے دے .... دَ ښار نولے هم ورته دَ تماشو ځین ښکاری .... په دغه غوبل کښې به ترېنه یا چا جېب وهلے وی .... یا به ترېنه چا جېب پرېکړے وی، .... اؤ چې دے دَ نولو دَ تماشې نه اُوزګار شی، نو ایله چرته ځان ته ئې پام شی .... اُو چې ځان ته ئې پام شی نو لکه څنګه چې تش تور دَ کلی نه راغلے وی، دغسې تش تور سُو بارے کور ته لاړ شی .... (خندا) بیا ناست وی، په حجره جُومات کښې به کنه کیانو پسې دَ خولې توپې ورخلاصوی .... ویُم چې دغلته زهٔ وریاسېدے، اؤ دَ دې چنغړکُ نه مې اُونیولے چې ستا جیان اُوتَسوّم دا نولے تا چرته نهٔ وو لیدلے چې تهٔ ئې تماشې ته اودرېدې .... (خندا) .... نو هسې خبره مې کوُله .... چې موږ کرم

نهٔ یُو........ مونږ تول اُوزګاریُو.......... وخت راسره ډېر دے........ شُکر دے دَ سیالی د عِلّت راکښې خدائے پاک نهٔ دے اَچولے........... دَ هیڅ قوم سره سیالی نهٔ کوُو........ نهٔ مو ښې جامې ته زړهٔ کیږی۔ نهٔ ښهٔ پېزارته.......... نهٔ ښهٔ خوراک ته........ په شلېدلو اُوخیرنو خیچنو جامو موصبر دے........ په پښې ابله پښې سرتورسر موشکر دے........ په اوچ اوسپور سُکړک موتسلّه ده........ نو بیا په اُوزګاروخت کښې دَکارکوُلو څهٔ ضرورت دے...... چې خواه مخواه دې دَ ځان نه خُوَلې اُوباسو.......... پرهېږده چې لږ سهل اوکړو...... ...... دُنیا هسې هم په تېره ده........ هیڅ هم شل نهٔ کړه، نو پښتون به لې دېاله څهٔ شل کړی........ (خندا) اُو په ثبوت کښې به دې ته زردَ رحمان بابا دا شعر اووائی چې ـ

نولس وه، نولس ده نولس به وی تل
شل نهٔ کړه دا نیمګړې دُنیا هیچا

(خندا)

خو اے زما نیمګړو پښتنو روُڼو...... زهٔ منم چې دُنیا هیچا هم شل نهٔ کړه........ خو په محنت مشقّت، همت اُو دَ وخت په قدر خوئ دومره کړی دی، چې ځانونه ئې پټه ماموړ کړی دی .... په ګېډه ښهٔ ماړهٔ دی......... په تن روغ دی.... ...... اُو دومره څهٔ ورسره وی چې کهٔ صبا له ورته څهٔ مصیبت راپېښ شی، نو دَ قرض، دار دَ پاره لکه زمونږ په رنګ په بل پسې منډې نهٔ وهی.......... آخر دا څهٔ ژوند دے چې مونږ ته دې پروت وی مړے او دَ کفن دَ پېسو دَ پاره دې په یوُ بل پسې منډې

وهو........ (خندا) وَه غېرتي پښتنو په دې وخت کښې ستاسو
هغه غېرت څۀ شي.......... دې وخت کښې ستاسو ته ځان
بد ی نۀ ښکاری چې دا په یو بل پسې اَکلی تللی منډې وهی
.... -ګوری مشرانو متل کړے دے چې خپله لاسه ګُله لاسه
.... (خندا) نو هغه ګل لاسُونه خو تاسو واخستل په یَو کښې
مومړز او نیوُو اُو دبل نه مو اکاړه جوړه کړه .... په یو لاس
کښې مرز او چتوی او دَ بل لاس په اکاړه یعنې په تلی کښې ئې لکه
دَ بوګلی راخَلاصه وی - کله ورله پښې راکاږی او کله خټ، اُوکله
ورته لکه دَ ځوکوشتو په غوړ کښې بانګونه وائې- ټوله ورځ حال
په اُوړه اُو رسه په ترخ کښې کله به پُوله کله په پټمی کښې پټ پړق
پټ پړق طبچې غړوی .... (خندا) وَه زوړ ور و دَ مړز
نه څۀ غواړی .... هغه لاسُونه چې تاسو پرې محنت کوئے
شی، په مرز مو بند کړل .... هغه لاسُونه چې تاسو پرې
مزدوری کوَئے شی، په مرز مو بندیوان کړل،......... چې ټوله
ورځ تاسو دا مړز دے خپل تلی له راخلاصوی را خلاصوی راخلاصوی
نوګنې ترمابنامه به دړ له یو سېر اُوړۀ اوګټی؟.......... (خندا)
خدائېکوکۀ دړ له چتاکه هم اوګټی .... نو یَه زوړه ور و ولې
موپرې ځان دَکاره ویستے دے .... ولې موپرې خپل لاسُونه
بندیوان کړی دی؟............ یره خدایه! پخپلو قدرتونو
خو دَ دې مرز هم و نُوغے ورک کړې چې دَ دېرو غمو او تندرسته
پښتنو لاسُونه خو اُوزګار شی،........ (خندا) په دې کښې شک
نشته چې دَ مرز دَ نُوغی په وُرکېدو به دَ دُنیا نه یو ډېر دَ ترسکوُنې
غوښې مارغه ورک شی، خوخبر دے......... دا ترسکوُنه غوښنه

کهٔ هر و بالکل ورکه شي زهٔ پرې خوشاله یم، خوځې دَ پښتنو ورُونو لاسُونه دَکار روزګار دَپارهٔ وُزګار شي .... (خندا) پُښتانهٔ بې غم باچا قوم دے .... سپي به دے جنګوي .... سنډګان به دے جنګوي .... غویان به دے جنګوي .... چرګان به دے جنګوي او مرزان به دے جنګوي .... هر څیز جنګولو ته تیار دے - دَ هر څیز په جنګ کښې دهٔ له مزه ورځي .... (خندا) .... دا شکر دے چې دا سپړې او مچان په خپلو کښې جنګونه نهٔ کوي .... ګنی نو د هر پُښتانهٔ به تکیا و وچا به سپړې راجمع کوُلې اُوچا مچان .... دَ دغه سپړو او مچانو دَ غټولو ....څربولو اُو تکړه کوُلو دَپارهٔ به شپه ورځ لګیا وُو، نوې نوې طریقې او نوې نوې لارې به ئې لټولې، .... اے بنه کهٔ یو مرز را پاسېد و اُو بل مرز ئې بنه بنه کړو نو فائده ترې څهٔ ...... کهٔ یو چرګ را پاسېد و اُو بل چرګ ئې بسمه بسمه کړو نو خېر ترې څهٔ .... کهٔ یو سپے را خوشے شو او بل سپے ئې کوتره کوتره کړو نو تاسُو ته څهٔ خېر؟ .... (خندا) یَه تاسُو سره خدائے بنهٔ اوکړه پښتنو! دا په څهٔ بلا اورېدلی یئ .... دا څهٔ ماشوما مو دَ ځانهٔ جوړ کړی دی .... دا تاسو پیدا دَ څهٔ دَپاره یئ اُو دا کوئ څهٔ؟ .... دا وخت څومره قیمتي څیز دے اُو تاسو ئې په څنګه فضولیاتو کښې تېروئ .... را شئ تول مرزان دَ پنجرو نه راؤباسئ خوشې ئې کړئ، اُو یا ورته چاقو په څټ را کاږئ، په دګې کښې ئې اُوپېرئ .... په سکرو ئې وریت کړئ په مزې ئې اوکړوئ .... (خندا) دَخولې خوند به مو تر سکون شي کنه .... دغه رنګ دا کله مدارې

نه، کله حکیم ته ...... کله پالشي ته او کله مالشي ته دا سې وازه خوله مهٔ او دره ېږه چې دَ خپل ځان دَ حاله هم نهٔ یې خبر او چې خبر ېږې نو بیا مو ثابت جېب دَ کنډ کپانو جېبو نو ته رسېدلې وی. (خندا) نېک بختانو اوس خو تاسو یو آزاد قوم یئ. دَ غلامۍ دَ زمانې چارې پرېږدئ ....

.... یو غېرتي او محنتي قوم یئ .... نو دا فضولې لانجې پرېږدئ، دَ وخت قدر اُوکړئ. ګورئ وخت چې یو ځل تېر شي بیا واپس نهٔ راځي. هغه دَ رحمان بابا خبره چې ؎

تېر ساعت په مثال مړې دَ لحد دې
مړې چا دی ژوندی کړی په ژړا

(خندا) ...... په مخه مو ښه.

دَ وادهٔ روټۍ

نوټ: پخوا پخوا به په کلو کښې د و دونو روټۍ هم په دې طریقه ورکولے شوې.

(خندا) هغه د چا خبره چې یره خو .... دا "خو" مې په دې
پورې اُووے چې تاسو په رب باور اُوکړی چې دا خلق په دې وریژو
داسې اَړم وُو لکه چرګان چې دَ جوارو په دانو نهر نهور ورخلاص
شي .... څوک په مزکه دَ پښو په سر ناست .... دوه ،
درې ماشومان ورسره .... چا پرلت په مزکه غزولی پنځهٔ
شپږ ماشومان ورسره ، څوک په پلاله .... څوک په مزکه او څوک
په ډېران ...... ځائے په ځائے ډلې ډلې او غومبکې غومبکې دَ پښو
په سر ناست وُو .... وریژې وې چې دَ چا دَ وښکونه را بهېدې ..
.... وریژې وې چې دَ چا دَ سپېږمو نه را توئېدې ....
ګرمې ګرمې وریژې ورپسې یخې اُوبهٔ .... یو الغاوُ تلغاوُوو
.... دَ قیامت نقشه وه .... دَ هر چا نه کاډے په
سنډه وو ...... (خندا) دا ناشُونې چارې کېدې او مرچکے ورته
ګوته په خولهٔ ولاړ وو .... سوچ مې کُولو چې سنه دا اُوس
دَ بنی آدمانو چارې دی ، چې دا مونږ ئې کوُو .... دا اوس دَ انسانانو
چارې دی چې دا مونږ ئې کوو ..... ـــــ .. دا دَ وادهٔ روټۍ څوک چاله
داسې ورکوی لکه زرغُن ماما چې ورکړه .... اُو دا دَ وادهٔ روټۍ
څوک داسې خوری لکه دا مونږ ئې چې خورو .... (خندا) پربږدئه
مرو .... داسې دَ ځناورو خوراک خو خدا ئے شته که ځناور هم

اُوکړی .... (خندا) داسې چل وو، چې دَ زرغن ماما دَ ځوئے وادهٔ وُو .... کلی له ئې رونق کړې وه، .... سم دَ شپې نه دېګونه باندې شوی وو .... یوه چانجو پانجو دَ هلکو درنګړ مېښه حلاله شوې وَه .... نوله شپه دغه مېښه خوټکېده ......خوټکېده ...... خوټکېده .... اَنْ تر تهٔ سحر پورې .... اُو سحر چې نمر سرېکه وهله نو دَ کلی عالم ډلې ډلې را شروع شو .... هرېو دوه درې ماشومان په اوږه لکه دَ کنوګیږی راروان وو .... (خندا) وې نو ورېژې نهٔ وې .... دا خو به ماشومان لا اُودهٔ وو، کهٔ دَ مور پلار وَس ئې کېدے نو خدائے شته چې دَ قبر نه هم ورپسې هغهٔ مرهٔ ماشومان راپاسَوی .... چې بچیَه را پاسه یو دوه نمړی وریژی به اوخورې، نو بیا مرشه خبردے. (خندا) زرغونٔ ماما دَ کوربه انګړ کښې پلاله غوړه ولې وه .... ډلې ډلې به راتلې ...... دَ پښو په سر به کښېناستې .... دَ وریژو تالے به راتلو ...... پېنډی ته به په مخکښې ایښودے شو .... پېنډې به زر زر په همه څو نمړې واخېستې، نورې به ئې په جولو کښې واچولې .... بیا به ئې چغې سورې جوړې کړې .... بیا به تالے راغلو .... دَ ستړګو په رپ کښې به تش شو .... دوه دوه نمړې خوړلې نورې په جولو کښې اچولې .... او چې په څهٔ ساعت پس به پېنډه پاسېده نو دَ لویو او ماشومانو دَ جولو نه به لکه دَ چاړ څاڅکی بنوروا څڅېده .... (خندا) یه زما دې توبه وی .... یاالله زما دې توبه وی .... دا دومره وړه ستوګ تو ب؟ .... انسان هم لا چرې دومره سپک کار کوی .... مونږ سره هم کنی دا چارې ښائي .... وَه رُونو خدائے ته اوګوری .... دا دُنیا په ځان پورې مهٔ

خنده وی .... ګوری دا دومره مهمان نواز .... دا دومره
غیرتی .... دا دومره درونډ او ټقه پښتون، دومره سپک شوي چي اوس
دي په جولو کښي وړیږي پټوی .... (خندا) پریږدی مړو، دا خو
په وړیږی وی .... خدایږ شته چي سړۀ زړشي چي هم
دومره دَبي غیرتۍ کار خو اُو نۀ کړم .... آخر غیرت، پښتو......
....- انسانیت او شرافت خو هم په دُنیا کښي څۀ څیزونه دی.....
.... چي دَ هغې په برکت انسان انسان وی .... نو دَیو مُوټے
وریږو دَپارۀ دي مونږ دَ انسانیت دغه ټولې تقاضې ولې شانه کړو.....
.... دَ یوې جولې وریږو دَپارۀ دې مونږ ځانونه لکه دَ بېنې
ولې سپک کړو .... دَ درونډ قوم افراد، دَ مونږ خوئې
خاوندان وی، نو دا مونږ خپل ځانونه دومره ولې سپک کړی دی.
دا مونږ ځانونه ولې داسې ټیټ سترګی کړی دی ....
تاسو په خدایږ باور اُوکړه رُونو، چي دَ دُنیا په یو قوم
کښي هم دا شرمندګی نشته .... نۀ څوک دَ وَدوُنو
روټۍ ته لکه دَ ځناورو په شان په څلور بولی کښېني ....
او نۀ څوک په ودونو کښي وړیږی په جولو کښي پټوی ....
...... داسپک خوئې صرف او صرف په مونږ کښي دے ....
.... نو دا مونږ ګنی دومره سپک شو ....؟ (خندا)
خاندی مۀ .... اوژاړی .... ځکه چي مونږ خپل قوم
اوشرموُلو .... مونږ په خپلو ځلنده روایاتو خاورې
وارَوُلې .... مونږ ځانونه په دُنیا کښي لکه دَ بېنې سپک کړۀ
.... نو اے زما دَ وریږو پټنګانو رونو ....
پریږدی دا سپک عادت دَ ځان نه لرې کړی .... وریږو

تهٔ دَ پښتنو په سر مهٔ کښېنې .... وريژې په جولوکښې کورونو ته مهٔ ننبـتوې .... اُو اے زرغُن ماما تهٔ هم واوره .... اے زما پښتنو روُرونو! تاسو هم واورئ .... چې کهٔ دَ وَسه مونهٔ کېږى نو روټۍ بالکل مهٔ ورکوئ، هسې خلق په ځان پورې مهٔ خنده وئ .... اُو اے بنه چې پو سړے لس منه وريژې اخيستے شي ...... يوه مڼه اخيستے شي .... غوړې مصالحې اخيستے شي .... نو بيا کښې دَ مسلمانو دَ پاره، اُو اُو دَ مسلمانو دَ پاره ...... ولې؟ دا دَ کلى خلق کښې دَ وادهٔ دَ کور مسلمانانهٔ وى .... نو دَ مسلمانو دَ ناستې دَ پاره دَ کټونو بندوبست نشي کېدے؟ .... ولې نشي کېدے ...... سل کټونه خو به پيدا شي .... زر کټونه خو به پيدا شي .... نو بيا مسلمانو ته په مزکه دَ پټرې اُو پلالې غوړَوُلو څهٔ ضرورت دے .... يَه کور آبادو خو يَو لس کټوُنه راپيدا کړې .... بنهٔ په حيا عزّت به خلق راځى .... په حيا عزّت به په کټونو کښېني اوُ په حيا عزت به روټۍ خورى .... هم دَ کوُرنۍ پرده راجوړه .... هم دَ مسلمه عزّت شوے .... (خندا) يَه زورَ ورور نو تاسو اوُس دومره سادګان شوئ چې په خپل عزت کښې هم نهٔ پوهېږئ؟ .... ولې نهٔ پوهېږئ، بنهٔ پوهېږئ خو هسې کالے دَ سرنه اړوئ، .... ايں تاسو ته خدائے پاک چل اُو ښايه .... (خندا) نور چل نه .... مسلمانو ته دَ وادهٔ روټۍ دَ ورکوُلو .... اوُ دَ وادهٔ روټۍ دَ خوړلو چل .... راځئ روُرونو چې دَ نن نه دا لوظ اوکړو چې روټۍ

ته به په مزکه په خلور بولی نهٔ کښېنو....... وریژې به په جولو کښې نهٔ پېتوو....... دَ څادر ونو په پېڅکې پورې به ئې نهٔ غوټه کوو. .... اوُ که چا دا سپک کار اوکړو........ که چا دا دَ پښتونولی نه پرېوتے کار اوکړو نو بې شکه زما دَ طرف نه درته اجازت دے چې یو غټ سوباړے راخلی اوُ دَ وُلو دا مېنځ ورله سهی کوی. اوُ اوُ په خولهٔ کښې به ئې دَ وریژو ګوپاله وی، برابرنګه به هسې هم نشی وَهلے. خنګه خوښه مو ده؟........ اَی ستاسو ایمانونه نصیب شه .... راځه چې په دې خپلې پښتو پورې نوره خندا نهٔ کوؤ بَه......... راځه چې په دې خپلو ځانونو پورې دا خلق نور نهٔ خندَ وُو بَه........ راځه چې دې خپلو لړمونو نه لږه دَ صبر کځوره واغوندَ وُو بَه......... اوُ صبر مو کوتې شه!.......(خندا)

دَ روژې آداب

(خندا) اُو نوله خېره روژه دَه .... دَ ټولو خلقو روژه دَه۔ .... ټول مسلمانان هرهٔ ورځ يوه روژه نيسي .... اُو مونږه؟ .... مونږه پښتانهٔ سړی دوه روژې اُو زنانه موله خېره خلور روژې هرهٔ ورځ نيسي .... (خندا) تاسو به وايې چې هلکه مرچکيه اِتوانکو چې روژې دې مازغهٔ خراب کړی دی .... کنی نو په يوه ورځ کښې دوه اُو خلور روژې هم چانيولي دی؟ .... (خندا) واقعی چې په يوه ورځ کښې هم يوه روژه نيولے شی .... کهٔ دَ يوې نه زياتې چانيولے شوې .... نو مونږ پښتانهٔ کهٔ پرې دَلاده باده وتے نو هم به مو په يوه ورځ ديرش واړه روژې نيولې وې اُو ځان به مو دَ يو لوئ پيټی اُو لوئے بېکار نه خلاص کړے وو .... اَن کهٔ دې دېرش روژو راله دومره زور راکړے وے چې بيا پنځلس ورځې دَ کټ نه هم نهٔ شوے پاسېدے! .... (خندا) .... دَ کټ ملاسته څهٔ کوی، خدائے شته چې داسې رُوږه هم شته چې هرهٔ ورځ شپږه تبه يُ خوښه ده، خو روژه يُ نهٔ ده خوښه .... ولې؟ .... ځکه چې په شپږه تبه کښې به روټۍ خوړے شی، چائ به څښلے شی، چلم نسوار به کوُلے شی .... اُو په روژه کښې؟ .... (خندا) هر څيز ته به خړ خړ کوری .... هر څيز ته به بَرَګ بَرَګ کوری .... هر څيز ته به بغ بغ کوری نيمے نيمے به ورته غريب نهٔ پاتې کيږی، اُو خوړے به هيڅ هم نهٔ شی......

...... نو اُوواېسه چې شپېږه تبه بېنهٔ شوه، که روژه؟.......... (خندا) خاندې مه رېښتيا وېم درته .... نو خبره مې دا کوله چې زمونږ سرې دوه روژې اوزنانه مو څلور روژې دَ ورځې نيسي ...... (خندا) ګورئ شرع ظاهر ګورې .... اُو په ظاهره کښې خو دَ دې ژمې په دوه نيمو ګهنټو ورځ کښې پکار ده چې روژه هيڅا ته څهٔ اُو نهٔ وائي .... هيڅ تکليف ورته اُو نهٔ رسي .... خو تاسو يقين اوکړئ چې دَ روژې دَ رومبي سحر نه راپه ايسته په مونږ باندې څهٔ عجيبه غوندې چل شوېدے .... سحر هرسړے دَ کټ نه داسې راپاسي لکه چې ټوله شپه ئې کاڼې راښکلي وي، اُو هډ هډ ئې "وئې مړشوم، وئې مړشوم" نارې وهي.... .... (خندا) وئې نو روژه نهٔ ده ....؟ دَ روژې لړ دَرُوند سام دے څهٔ؟ ټوله ورځ هرسړے داسې مړاوے مړاوے ......مړزېن مړزېن او سست پست ښکاري، تهٔ به وے چې په لينګو کښې ئې زور نشته، دَ زړهٔ ماندرې ئې خدائے مکړه غوځې دي .... په قُلبې پسې روان وي، دَ مُوټې دَپاسه به اُودهٔ وي .... په سنډا پسې به روان وي اُو پښې به په ځان پسې راکاږي. (خندا) روژه ده کنه .... نو زهٔ چې دَ دې سړو دې علامو ته ګورم، ظاهري کړو وړو ته ئې ګورم، نو داسې راته ښکاري لکه چې دې سړو دَ يو په ځائے دوه روژې نيولې وي .... (خندا) پاتې شوې ښځې .... ؟......... نو دَ ښځو غريبانانو هم حال دَ کتو دے .... ټوله غُصَه په ماشوما نو اوباسي .... او نو غوئے نشته چې دَ يو په ځائے تربنه دوه درې اوباسي. .... سنډا مېښه نشته چې دَ دوه وُ په ځائے تربنه څلور ګُذارې اُوباسي دغه ماشومان عقربان ورله خدائے په کوتو ورکړي دي ......چې په دې څَه درب ترې اُوباسه ....چې په هغې څَه کړس ترې

اُو باسه .... (خندا) وَه دَمزکي زړے شي ځۀ له مې مازغۀ خوري
يو خو مې روژه ده، اُو يَو تا مزکه آسمان په سر را خيستے دي .... (خندا)
وَه چنغړک دې اُوچ شه، ځۀ له دې خوله وازه کړې ده، يو مې روژه ده
اُو يو تۀ .... (خندا) نو او وايه چې دَ ښځو غريبانانو هره ورځ خلور
روژې وی که نه .... ؟ .... يوه روژه خو مې خدائے راستی کۀ
دومره تنګ کړي، او بيا په تهره تهره دا دَ نن صبا روژه؟ .... چې دا
ماځيګرے شي، نو زمونږ دَ نر و ښځو په مخونو کښې رو رو رڼا راښکاره
شي .... دَ تندی ګنګي مروار په وار په هوا ربېدو شي ....
لړه لړه وينه راکښې راوُغړيږي .... هر يو په تندی لاس بردی
اُو نمر ته به ګوری .... بس که خبري يوه نيمه پاتې شو........
بس يره کۀ خبري بانګ ته لږ وخت دے .... (خندا) اُو چې
بانګ اُو وائي نو بيا .... چلمی لکه دَ غښتی دَ هر ځۀ نه آکاهو په چلم،
ورخلاص شي .... اُو داسې لوګے راکاږي چې په کټ کښې بوړی بوړی
پرېوځی .... سترګې ئې بَرګې بَرګې شي .... دواړه وَښکی ئې
داسې رَپي چې لکه بس خدائے مۀ کړه ځنکدن ئې وی ....
نسواري به زرد پښو په سر کښېني .... دَ نسوارو چونډی به ئې دَ
وَښکی دَ لاندې کړي .... او په چرتۀ چرتۀ، چرتۀ چرتۀ به شروع
اوکړي. په يو ساعت کښې به دَه له ټوله دُنيا اُولړي .... (خندا) مرو خو
چې دا شرمندګۀ اوشي نو بيا به لکه دَ خلورو ورځو نهر به روټه ورخلاص
شي .... او داسې په جوختو به په ځان کښې اُوګرځي، چې دَ خخوسکی
ځائے به په ځان کښې پرې نۀ بردی .... چټنی .... مُولۀ ......
دنيا .... پياز .... هر ځۀ به ګډوډ دَ ګېډې تنور ته ورښکته کړي
.... (خندا) اُو بيا چې جماعت له تراؤو لاړ شي ....

نوراشه کړه يې ګوري .... يو درزا رے وي ...... دا لوئ لوئ ډکارى وي چې دَجُمات په کوټه کښې لکه دَ بمونو خلاصيږي .... دا غټ غټ ډکارى وى چې دَجُمات په کوټه کښې لکه دَ توپو ډزيږى .... يوه لويه شرمندګى وى. غرّرّرّ .... ډرّرّرّ .... اُو په دغه آرړموکښې دَ مولۍ بوئ وى ...... دَ دنيا بوئ وى ...... دَ اُوږې اُو دَ پيازو بُوې وى .... (خندا) نو په داسې حالاتوکښې په جُمات کښې نموځُ کوُل؟ .... يرَه دَ ډېر لوئ زړه خاوند به وى ... زهُ خو چې جُمات ته تراوُو له حُم نو په غوږونو کښې مالُوچ اومنډم .... اوساه بيا په پوزه نهُ اخلم ...... خوله مې لکه دَکوکوشتکې وازه نيولې وى .... (خندا)

نو دغه زمونږ دَ خلقو روژه ده ، اُو دغه زمونږ دَ خلقو حال دے .... اے روُږنو! .... اے مُسلمانانو! ...... تاسوخدائے په جنت کړه .... هتوله معامله موډتې دَه .... زمونږ مثال داسې دے لکه "هندو ستومانه خدائے ناراضه" .... په نيوُو خو مونږ روژه نيسو ...... هغه کوم تکليف اُو کوم کړاوُ چې دے نو هغه خو مونږ کوُو .... هتوله ورځ څکه نهُ کوُو .... په نيمه شپه په دې يخ ژمى کښې دَ پيشمى دَپاره پاسُو .... دا هرڅهٔ کوُو اُو دَ دې باوجود هم زمونږ روژه په صحي روژوکښې حساب نهُ ده .... ولې؟ .... ځکه چې مونږ دَ روژې دَ آدابو څهٔ خيال نهُ ساتو .... مونږ دَ روژې اصلي مقصد شاته کړے دے .... دَ روژې مقصد صرف دا نهٔ دے ، چې مونږ دَ خوراک څښاک نه خولو ته ګوزے واچوُو او نور مو چې څهٔ زړهٔ غواړى هغه دې کوُو .... غيبت هسې هم بده خبره ده ، خو په روژه کښې ډيره بده خبره ده .... چُغلى ، کنځل ......

سپکه وښا هسې هم سپک کارونه دی .... خو په روژه کښې د بزیات سپک کار دے ...... نو راشه چې د خوراک ښبناک نه روژه کوه ، نو د دې نورو بدو چارونه هم لږ پرهیز اُوکړه کنه .... (خندا) اُو د روژې مقصد دا نۀ دے چې تاسو دې د ټولې ورځې د نهرې وَت کتې د ماښام اُو د پېشمې اُو باسه .... نه .... په روژه کښې به په خوراک کښې هم د اعتدال نه کار اخلې .... چې د روژې هغه اصلي مقصد تر سره شي .... اُو د ماښام دومره خوراک مهٔ کوه ، چې په تراوُو کښې لکه د پړسېدلو ښاروُو بیا غړېږه .... اُو جُمات کښې دې نه ښوک ساه قدر له نۀ شي اخستے .... (خندا) ښهٔ ؟ .... د ماښام مو ترسکُونو ښیزونو ته چې زړهٔ کېږی ؟ .... (خندا) وېه چبېنې خورو .... دا ترسکون ښیزونه چې د تراوُو نه راشه نو بیا خورې کنه ..... خو خدا ئے ته اوګوره چې په دې تراوُو کښې د خولې بوونه مهٔ خلاصَوه .... تاسو خو خپل زړونه سپکوه .... او نورو خلقو له زړونه خولې ته راولې ـ (خندا)

دَ جنازې مونځ

یره خدائے شته چې ډېره درنه جنازه وَه ....
مړو خدائے مې دې غاړه نهٔ نیسی نو په جنازې پسې دخلقو قطار
یو سر په هدیره کښې اُو بل سر ئې په کلی کښې وو .... ډېر
خلق وُو .... اصل کښې سپفور ماما دې خدائے اُو بخښی‘......
..... دَ هر چا په غم ښادۍ کښې به داسې شریکېدو لکه خپله غم
ښادی .... نو ځکه خو نن دَ هغهٔ په جنازه کښې هم دومره عالمونه
راچلېدلی وو .... جنازه هدیرې ته راوُرسېده .... کټ
قطب په سُوېل کښېښودے شو .... دَ جنازې دَ مونځ دَپارهٔ صفونه
جوړ شول .... یو صف ...... او وړپسې یو وړکوټے غوندې
بل صف .... دَ دغه زړکو نوکسانو نه ایله پنځوس کسان دَجنازې
دَ مونځ دَپارهٔ مېدان ته راوُوتل .... اُو نور؟ .... (خندا)
نور ټول لاړل لکه دَ کارغانو او ټپُو سانو ټولی ټولی څوک دَ قبرونو
په خازو او څوک په ډبکو کښېناستل ...... امام چغې وهلې چې
هلکو دړې صفونه برابر کړه .... دړې صفونه برابر
کړه .... (خندا) خو خلقو ځانونه داسې ناجاړه کړی
وُو چې هډو غږ ئې نهٔ ختو .... آخو دَ ړومبنی صف نه نیم
کسان راغلل او دړېم صف ئې جوړ کړو .... اُو دلته پهٔ
مرچکی باندې اور بل شو .... دلته دَ مرچکی دَ سرنه بیا

يولمبه پورته شوه .... يَه هلکو! يَه کورآبادو! ....
دا څۀ دَ سپفورماما جنج وو .... دا څۀ دَ سپفورماما ډولۍ
وه چې دا تاسو داسې پۀ يَو قُوراؤچلېدې .... زما پهٔ خيال
چې هم دغه ګُمان موووُ .... دَجنازې دَ پاره خونۀ يَـى
راغلى .... کۀ دَجنازې دَپاره راغلى وے .... نواُوس
به دَجنازې پهٔ نمونځ کښې هم شامل شوى وے .... ارمان ارمان
دے رُوړو .... ډېر افسوس دے .... لاړه دا مسلمانى جوړي
اُوس بس صرف تر نامې پورې پاتې شوه .... ګنى نو دَ
سپفور ماما جنازه به داسې نۀ سپکېده .... داسې به نـهٔ
بې قدره کېده .... زۀ پوئ يم چې داکوم کسان چې دَ
سپفورماما پهٔ جنازه کښې شامل نۀ شوُل، نو دوئ له دَ جنازې نمونځ
نۀ ورتلو .... دَجنازې نمونځ نۀ ورتلو نو ځکه پهٔ جنازه کښې هم
شامل نۀ شوُل .... (خندا) يَه هلکو نو څۀ ګُونګيان خونۀ
نَيه ، يادکړې کنه دَ جنازې نمونځ .... دَجنازې نمونځ څۀ
دومره اُوږد خونۀ دے .... څۀ دومره ګران خونۀ دے
.... اوس کۀ دَ يَو يَو نه تپوس اُوکړې .... نو
"جان جان لا ليه" .... اوُ "دَ جلاله اُوبهٔ خوږې دى" ......
سندرې خو به درته دَ الفَ نه ترېـيه پورې ټولې داسې يادې
وى لکه دَطوطى .... اوُدَجنازې دوه نيمې کرښې سبق
نشي يادَ ولے .... ګورے مۀ کوى .... دومره مـه
غافله کېږى .... داټش دَ نوم دَ مسلمانى نه هيڅ نـهٔ
جوړيږى .... مُسلمان خو هله صحى مسلمان شى چې
عمل يُې هم دَ مُسلمان شى .... اوُ اينې کۀ دَ جنازې نمونځ

ته دررځي .... نو قُلْ هُوَ اَلْحَمْدُ خو دررځي کنه ....

... تشه قل هو الحمد وايي نو د مړی د پاره دغه ثواب هم کافی دے .... (خندا) اوکه قُلْ هُوَ اَلْحَمْدُ هم نه دررځي .... نو دومره خو وُبلے شي کنه، چې خدايه وُبې بخښې .... خو د جنازې نمونځ نه ځانونه مه پټوه .... د جنازې د نمونځ نه ښنګ مه کوه ...... ځکه چې د جنازې نمونځ د الله تعالی په حضور کښې د مړی د بخښنې د پاره جرګه کيدل دی - نو دغه جرګه چې څومره کښه وی هومره سُود مند ه ده.. .... که اود سُونه مو نه وی .... نو تيمّم اُوکړی...... خه؟ چې د تيمّم نيت چاله نه وَرځي نو بيا؟ ...... (خندا) بيا شابه تکړه شئ ..... راځه چې سندرې زده کړو....... په مجرو کښې کښينو، د يو بل په سر غيبتونه اوکړو .... په يو بل پسې سپکې اُوو ايُو .... غټې غټې نوي نوي کنځل اُو نوې نوې افلاتې زده کړو.......: نو ايله به مو خاورې په سر او ايرې په ټوپل شي........ (خندا) ګيله به سړے د ماشومانو نه اُوکړی.......... ملامته به سړے په ماشومانو اُووايُ.......: خو چې لوئې لوئې په بډيرو سړی دا بهانه اُوکړی چې ماله د جنازې نمونځ اُو د تيمّم نيت نه راځي نو ډيره د افسوس خبره ده .... رُونو زده کړئ د جنازې نمونځ زده کړئ .... تيمّم هم زده کړئ ..... - هريَو بنه کار زده کړئ......... شرم مه کوئ .... په زده کړه کښې شرم نشته .... د هغه جهان د شرمندګۍ اُو ملامتې نه د دُنيا دا لږغوندې کړاوُ ډېر ښه دے...... ښنګه خو ښه

مو دَه؟........ اَی تهٔ خدائے مواُو بخښه....... دَ صبا
یَو یَو قمکے سبق اخلی........ اِنْ شَآءَ اللّٰه چې بیا دا نن ورځ را
نو تاسو به دَجنازې نمونځ دَ نیم نه زیات یاد کړے وی...... اختر
ما چې دا لوئے تقریر اُوکړو........ نوخلق دا سې غلی غوندې
ملامته ناست وو......... چا مزکه کرَوُله اُو چا په پوزه کښې
گوتې وهلې....... خودومره پوئ شوُم چې زما خبرې پرې
اثر اُوکړو..........

جنازه پوره شوه...... مړے په لحد کښې کېښودے شو
...... خاوُرې پرې وارَوَلے شوې....... په قبر گُونه
اوغوړوُلے شوُل........ لاس پوره شو........ دُعا اُو شوه...
...... اُو دَ دُعا نه پس ما آواز اُوکړو چې چار مو بنهٔ کورمو آباد
...... تاسو اُوس تلے شئ........ خوخلق خپلو خپلو کورونو ته
دَ تللو په ځائے ټول دَ سپغورماما حُجرې ته راغلل.........
دیگونه باندې شوی وُو......... وریژې پخېدې........تالی
ډکېدل........ اُو دَ کلی ډلې ډلې خلق....... پېښوې پېښوې
کېښناستل....... ډکېدل اُو پاسېدل...... په فکر ورته ولاړ
وُوم ورته مې کتل.......... سوچ ورته اُوړلے وُوم......... چې
یَه خدایَه دا مسلمانان ولې داسې بې کرکې شوُل؟ دا مسلمانان ولې داسې
دَ خدائے اُو دَ هغهٔ دَ رسول صلی اللّٰه علیه وآله وسلم دَ احکامو
نه رُوگرداند شوُل........ آیا دَ اسلام دا حُکم نهٔ دے چې دَ مړی
په کور کښې به درې ورځې دَ نغری نه لوگے نهٔ خیژی؟.........
آیا دَ اسلام دا اصُول نهٔ دی، چې دَ مړی په کور کښې خوړل څښل
منع اُو ناجائزه دی........ نو دا خلق خو داسې په اَرت مټ

نکیا دی ، دَ مړی دَ کور غوښې وریژې خوری لکه چې ان دَ سپفود
ماما دَ څوئے وادهٔ وی .... رُوښو کوم کوم غم موا اُوژاړم
...... کومه کومه ناړامه درته پهٔ کوته کړم ...... پرې
جنبې موا اُوژاړم ...... دُښمنی تربګنهٔ موا اُوژاړم ....
بې اُصوله کارُونه موا اُوژاړم .... آخر دا به څهٔ کیږی ....
آخر دا زمونږ انجام به څنګه وی؟ .... مهٔ کوی رُوښو مهٔ
کوی .... دَ مړی کور په دې خېراتونو مهٔ مجبوروی...
...... دَ مړی کور دَ همدردی جوګه وی ...... همدردی ورسره
اوکړی .... امداد ورسره اُوکړی ...... لاس ورسره اُوکړی
.... کهٔ دا یو وخت وریژې تاسو دَ مړی په کور کښې اُوخوری
نو څهٔ ...... کهٔ دا یو وخت وریژې تاسو دَ مړی په کور کښې اُونهٔ
خوری نو څهٔ؟ .... او اے دَ مړی دَ کورخاوندانو تاسو
هم دَ اسلام دَ اُصولو نه خلاف مهٔ کوی .... تاسو هم دا
په رومبی ورځ دیګونه باندې کوُل پریږدی ....
دا کورے خېرات نهٔ دے .... صرف نمائش دے ......
.... اُونمائښ هم داسې، چې دَ خدائے اُو دَ رسول صلی الله علیه
وآله وسلم مجرمان کیږی .... خېرات یوازې دَ دیګونو
پخول نهٔ دی .... غریب مسکین له جامې اخستل هم
خېرات دے .... رنځور له دارُو دُرمل کوُل هم خېرات
دے .... بربنډ په تن پټوُل هم خېرات دے ....
نو بیا دَ دیګونو پخوُلو څهٔ ضرورت؟ .... راشئ دا غیر اسلامی
کارُونه پریږدی .... دا دَ شرعې خلاف کارُونه
پریږدی .... دا خېرات ستاسو نهٔ کیږی ....

اوا ے دَ مړي خېرات خوړونکو ږُوېږو تاسو سُور اُو رخپلو لړمونږو ته اچوی . . . . سرې سروټکی کېږو ته ورښکته کوی . . . . دا سرې سروټکې به دې له یوه ورځ لړمونږنه لُو لپه کړی . . . . نوره اوس ستاسو خوښه . . . . . . چې دَ وریژو نه زړهٔ صبرَوی اُو کهٔ سرو سروټکو ته غاړه بږدی ـ

(ختـم)

خَچْنَه

"څهٔ شوهغه قام شرمے، دَ دهٔ دا جبرې اُو چه شه، چې مونږ ترې خلاصې شو. دهٔ خو مونږ په شرمونو اُو شرمَوُلو"! .... (خندا) زهٔ په کوټه کښې پروت وُم، سرلړلې راباندې راغلې وه، بنهٔ کلکه برستن مې اغوستې وه، خو دَ برستنې په چوندونو کښې مې دَ خچنې ببو لکه دَ رینې په شان تیرهٔ آواز ترغوږ وشو...... اُو دَ دې آواز په آوُرېدو مې یا خوداسې سخته بخنه نیولے وُم چې هسې کړکوزې مې وهلې اُو یا مې سمدستي کړمې او شوهٔ برستن مې دَ ځان نه اخوا لرې کړه اُو په کټ کښې ابغ نبغ لکه بوکلے کښېناستم ...... کلیمې مې په ځان چُف کړې، باباګان مې راوُلړزوُل، چې خدایه خیر....... بیا څهٔ شرق راپېوتے دے چې خَچنې بېوزبه دَ مّلانه راتاوُکړې ده اوُ ځکونه کوی......... دا زمانه کوم داسې قصور شوے دے چې اوُس راله جبرې په تالو کښې اُوچَوی....... ماکوم داسې دَ ندُ سرېتوب کار کړے دے چې قام شرمے شوُم......... یا مې په خچنې پسې کوم داسې دانګ ډبلې راخېستي دی، چې دا راند ځان خلاصَوی....... (خندا)....... زهٔ په کوټه کښې په دې سُوچونو کښې ناست وُم اوُ بهر دَ زرغون مور سره خچنه په بربېنج وَه........ دَ زرغون مور غریبه ساده بوده ښځه ده. که اوُ...... نا...... يُ نهُ کوُلے نوشایُد چې خلقو به وے چې ګنې ګوُنګې ده......... (خندا) شکر دے چې دَ زرغون مور ګونګې نهُ ده...... ګنې که چا خبره کوُلے اوُ وئېل يُ

چې مرچکې داسې کړې دي، او بل ترېنه تپوس کړے وے چې کوم مرچکے؟ نو ورته به ئې ضرور داوئېل چې هغه د ګونګي بوخښتن، .... (خندا) .... او شائد چې بیا مرچکے بنده د مرچکي په ځائے د ګونګي بو په خښتن مشهور وے .... هرچابه چې راته آواز کوُلو، نو وے به ئې چې "وَه د ګونګي بو خاونده"! .... (خندا) شکر دے چې د دې آواز نه خو خدائے ساتلي یُم .... په دې کښې شک نشته چې ژبه ډېر لوئے نعمت دے .... خو د خچنې بو په رنګ ژبه خو دې خدائے هیڅاله نۀ ورکوي .... د هغې خو ژبه نۀ ده سمه قېنچي ده ....

نو خبره مې کوُله چې خچنه بو د زرغون د مور سره په پرېنج وه ... تۀ ګوره دا اوُس د کولو کارُونه دي چې دا ستا خاوند ئې کوي .... پرېږده مرې قرآن کو دۀ خو هډو د سرېتوب نه ورېسې خبره او وېسته" .... "توورې تۀ راځه کښېنه دمه شه، دلاسه شه، ماته سمه خبره اوکړه چې چل څۀ شوے دے .... د زرغون پلار څه کړې دي. چې تۀ داسې په بلو بلو سرې؟ .... "د زرغون پلار نه مرچکے ورته وایه مرچکے؟ .... خاورې ئې نامه شه"........ دلته بیا د زرغون مور نه ساک سیلد اوړلے دُو........ شونډې ئې واغې واغې تلې راتلې خولۀ ئې جواب ته جوړوُله، خو ژبې ئې کارنۀ کوُلو........ ماچې سوچ اوکړو نو پوئې شوم چې د زرغون موربه ورته اوس لکه د ماشومانو په ژړا شي. برستن مې د ځان نه راچاپېره کړه او په زوبر کو زوبر کو د کوتې نه بهر راوُوتم .... خچنه بو لکه سره مچَۍ په غولې کښې ولاړه وَه- .... مائې چې لکه د پیشو په رنګ سرو سترګو ته اوکتل، نو خدائے اسے شته چې زۀ هم داسې وارخطا غونډې شوُم .... (خندا)........ او خانې د خچنې بو د ژبې ګذار ته خوزۀ هم د تېنګې نۀ وُم........

خوځان مې ناچاړه کړو ...... او .... "وه ببو پخير پخير ....
راځه راځه کښېنه .... په ډېره مُوده پس راښکاره شوې ....
خُوځې دې جوړ دے؟ .... کاکا څنګه دے؟ ...... دهغهٔ نه خو
کله کله ستاتپوس کوم" .... ملا نورخهٔ وبناته خولهٔ جوړوله
چې خچنې ببو ژبې له تهٔ نګړه ورکړه ...... مرچکيه! ماخو وې چې
تهٔ ډېرښهٔ سړے يې، خو اوس راته معلومه شوه، چې ډېر بې خوندهٔ
سړے يې - نهٔ درکښې حياء شته، نهٔ درکښې شرم شته ....
تاله شرم نهٔ درځي چې تهٔ په دې ديرو وخانه کښې په دې پردو ښځو پسې
لګيا يې .... پردو ښځو ته په دېوالونو اوکوډې او بيالاړشې په
دېرو وخانه کښې وريسې د ماښې غږوې، دا اوس ستا سړيتوب دے؟
.... وه ببو خداے ته اوګوره داخهٔ وائې .... ماکله
پردو ښځو ته په دېوالونو کتلي دي؟" ...... "چې په دېوالونو دې
نهٔ دي کتلي نو تهٔ زبرګ يې خهٔ چې زمونږ دکورونو د حال نه خبر
يې .... مره ماله به دې خداے په ګوتورانهٔ کړي نو، چې خهٔ
وخت ته ماته په دېوال ګورې، کهٔ ماتانه د بُوسو سځے جوړ نهٔ کړونو
زما نوم بدل کړه .... (دځان سره) ...... (خندا) ....
د بُوسو سځے ...... واه واه مرچکيه، اوس چې درنه ښځې د بُوسو
سځے هم جوړ کړي" .... "ببو د بُوسو سځے را نه مهٔ جوړوه.
.... تهٔ ګلرماته غوږاونيسې نوزهٔ به تا د خبرې په سر
لګه پوئې کړم" .... وه خهٔ مره ته به خهٔ وې او ستا هغه
پويول به خهٔ وي - قرتوليه قرتې دې زده دي نورايمان دې نشته
...... تهٔ خو بس شابه ګوتې تورې کړه او په ښځو باندې پورې
کړه" اېن شرمه" .... نورونو خهٔ په خوادرزاردمې خچنه ببو

صلاح کړه ...... کښې مې نوُله، اُو ټوله خبره مې ورته دَ سرنه اوکړه چې ایمان دې نصیب شه، زهٔ چې په ریډیو خانه کښې کومې خبرې کوُم، نو هغه دَ چا خاص بنده پخقله نهٔ وی، هغه خو داسې خبرې وې چې زمونږ په کلو، کورونو کښې عامې کیږی. آخر زهٔ هم دَ دې معاشرې یو فرد یَم، نو ځکه چې زهٔ کومې خبرې کوُم هغه به په چا ناچا ضرور چسپان کیږی .... نو کهٔ داسې خهٔ خبره راشی نو مهربانی اوکړه ځان ته ئې مهٔ راړوه. داخو یوه عامه خبره وی، اُو عامه خبره به هرچا باندې چسپان کیدے شی .... (خندا).

داسې چل دے چې هغه ورځې ما وئیلی ووچې اکثر ښځې دَ صفائی هډو خیال نهٔ ساتی....... لړل تپل ئې عادت وی، اُو په دې سلسله کښې مې یوَ څو مثالونه هم پیش کړی وو. دَ بد قسمتی نه دَ یو هاړتوب هغه قسمونه کوم چې ما بیان کړی وو، هغه په خچنې ښو کښې موجود وُو........ نو دَ هغه ورځې راسې داما ته دَ غصې نه سره لکه مچُید ناسته وه. اُو آخر چې نن ئې په زړهٔ د ډېرغبار راغلو نوپه ئې اُووَهلې اُو په ما پسې ئې راشت وهلې...... خچنه ښو دغه ده دَ کټ په لنګه ناسته ده، ماته داسې بربنډ بربنډ ګوری لکه چې بس اوس به مې لواړتیرکړی،........ (خندا) خوشکر دے چې دَ بربنډو بربنډ وکتو نه سوا ئې لاس نهٔ رسی ګنی نو خدائے خبرچې خهٔ چل به ئې راسره کوُلو........ دَ خچنې ښو یوَ ډوډَے تک توردے، لکه چې تورطبخی پورې ئې ځان مرلے وی....... بل ډُوډَے ئې دَ خټو ناوے دے لکه چې خټې ئې په ځان مرلی وی........ په لمن پورې ئې خهٔ داسې سلېخناک غوندې خیزانښتلے وُو، لکه دَ لاشوډو بډینګ.......

(خندا) مړو خوځۀ به ئې دړته ویم ...... دَ خچنې ببو جامې نۀ دی
سمه دَ کمخواب جوړه ده .... (خندا) تا سو به وايې چې هلکه
مرچکیه! دا خچنه ببو ځۀ ماشومه ده ځۀ چې دَ طبخې تورکی دَ خاورو
ختو او دَ لاشوړو برېنګ ئې په ځان پورې مښلو .... نو رُونو
ماشومه خونۀ ده .... رنده هم نۀ ده .... نابوهه
هم نۀ ده .... مازغۀ ئې هم په ځلئے دی .... سمه دمه
به خود ښځه ده .... نو بیا؟ .... غوږونه لږ را نزدې کړه
چې زۀ مو پوئې کړم .... هسې نه چې خچنه ببو ئې واوری، په
لوئے شر به واوړم .... هسې هم رانه په غُصه دَه ....
اُو چې لا تبصره هم واوری نو خدائے راستی کۀ مې په حیاء کښې
برېږدی .... داسې چل دے چې دَ خچنې ببو دا ښے ډُوډے
چې تور دے .... نو دا ئې دَ طبخې تورکے په ځان پورې نۀ دے
مړلے .... دَ دې غریبې هم لکه دَ نورو اکثرو ښځو په شان دا
عادت دے چې تنورته اُودرېږی .... نو دَ صافی کپړه دَ ځان
سره نۀ ساتی .... (خندا) اُو صافۍ ته ئې ضرورت ځۀ دے.
.... دَ پوهاړو ښځو جامې، جامې هم وی .... اُو صافی هم
وی .... نو خچنه ببو شوکړک دَ تنور نه را نړوی اُو په ښی ډُوډی
ئې راکاږی .... نو به شُکړک پورې چې ځۀ تورکے، اُو ایرې
انښتلې وی دَ خچنې ببو په ښې ډُوډی باندې صفا کېږی ....
نو ځکه به دَ دې عقربې ښے ډوډے هر وخت تک تور لکه طبخے
وی. (خندا) آسان چل دے کنه؟ ان ...... چې بیا اُو نۀ وائې..
.... پاتې شوکس ډُوډے .... دا کس ډُوډے ئې چې
هر وخت په ختو ناولے وی. نو دا چې ببو دَ ولې نه اُوبۀ را وُړی

نو منګے په کس ډوډي را سوروی .... (خندا) خبر دے کۀ دَ منګي بېخ دَ خټو ګنده وو، دَ سوټوناولے وی یا کۀ نور ګند بلا وربورې نښتلی وی. دَ منګی کورته را رسول ضروری دی بېخ ئې ونګل یا صفا کړل څۀ دومره ضروری خبره نۀ ده (خندا) نو دَ خڅنې ببو په کس ډوډی باندې هر وخت دَ خټو دا لوئے جاب په دې وجه موجود وی .... پاتې شوه لمن .... (خندا) نو دا په لمن باندې ئې برېنګونه دَ لاشوړونۀ دی ...... دا خوچې دَ کوم ماشوم پوزه را بهیږی، نو خڅنه ببو زر دَ قمیص لمنې ته کته اُو مسواکه کوته ور اَرمه کړی. ماشوم ته ئې دَ پوزې دَ پاسه کېږدی، اُو داسې زور ورکړی چې دَ هغۀ غریب نه بغارې اُوباسی اُو یوه غټه پېږه کړینګ په لمنه پورې دَ ماشوم دَ پوزې دَ هغه لاندې پړدو نه راؤباسی ...... دغه لمن دَ دَوه وُو کوتو په مېنځ کښې زر زر اُومړی ...... څه چلېږه .... هم دَ ماشوم پوزه پاکه شوه او هم دَ دې لمنه .... (خندا) خنګه چې بیا اُو نۀ وائې .... نو دغه شوه دَ خڅنې ببو دَ ډوډو...... اُو لمنې قیصه .... اُوس که زۀ دا قیصه په ریډیو خانه کښې اُوکړم .... اُو دَ خڅنې ببو نوم هم په کښې وا نخلم...... هسې دومره قدر له اُو وایم چې ځنې زنانه داسې کوي...... نو بیا به هم خڅنه ببو ماله په جنګ راځی، ځکه چې دَ غل په زړه کښې خس وی........ په زور ور وچې ماله په جنګ راځه نو دَ خپل ځان نه دا ناکاره عادتونه لرې کړی .... دا دَ پوهار توب (ویمن توب کاروته مۀ کوی .... چې درپورې په ریډیو خانه کښې سپینې سپینې خبرې نۀ کوُم ....

اُوکهٔ تاسو دَ پوهاړتوب دا عاتونه نهٔ پرېږدئ نوزهٔ خو به درېسې همدغسې خبرې کوُم .... (خندا) .... پوۍ شوئ اُوکهٔ نهٔ ؟......... (خندا) .

نشَیَان

(خندا) اُو نو چې دَ حُجرې په کوټه ورننوتم ..... نو
دَ چلم لوُخړو پکښې هسې دَ ندُوکار جوړ کړے وو.......
په حُجره کښې دَ ناستو خلقو مخونه خو پرېږده ، چې په طاخ
کښې هغه ډیوه هم داسې تتّه ښکارېده ، لکه په کوُرهٔ ورا ځ
کښې چې په آسمان کښې ستورې اِیله اِیله ځلېږي ....(خندا)
په کوټه کښې دَ هر کُټ نه دَ ټوخي داسې آوازوُنه ....
راتلل ، لکه چې چا په یوه لویَه پنجره کښې ډېر قُلنګې چرګان
راجمع کړی وی ، اوُ هغوئ ککړې وهي ...... ټوخه ټوخه
ټوخه ...... بُغَه بُغَه کُغَه کُغَه .... آخ تهو..
.... دَ بلغم یوه پېړه به دَ کټونو مېنځ ته لکه دَ غوا دَ ګُو
دَ پېړې شړپ شو چې راپرېوته .... دَ حُجرې دَ بل
کُټ نه به آق تهو چې یو چتا کړه ملبه په دېوال ور او ویښتلې شوه
...... (خندا) توبه خدایه توبه ...... یو ساعت ولاړ
وُم ...... خو خدایے شته چې په ځان اوویرېدم ....
..... ماوې چې یاران خو په خپل ترنګ کښې دی ، هسې نه
چې تاله اختر اُمبارکه کړی .... او په یوه پېړه دې په دا مخوکه
اُو نه ئ لی .... نو زر دَ یو کټ په لنګه کښېناستم ....
دَ چلم دَور اُو چلېدو .... ټوخه ټوخه او بُغه بُغه

آوازونه لږ په قلار شو...... په دې زړه کښې مې وې چې مرچکیه بنده .... هغه دځان دشمنان چې چاته وښلې شی، هغه دا دی .... (خندا) ته ګوره ورته داخځ به بلا اوړیدلی دی؟... ...... ریښتیا خبره داده چې په مونږ پښتنو کښې یو غټ عیب دا دے چې مونږ انتها پسند یو.....انتهاپسندې ځکه پښتنو ته اووې چې د دوی هر یو کار د خپلې اندازې نه پرې لږ ورتیر وی.......... لکه د مثال په طور..... چائې به واخلو.... .... داګنده بوټے انګریزانو د ځان سره راوړلے وو... .... او مونږ د هغوی په برکت په دې بلا باندې اوریدلی یو......انګریزانو به چائې څښلې.......... خویوه پیالی سحر اویوه نماښګر...... نیمې چائې او نیم به پکښې پیه وو.... .... دپاسه پرې راغلو مونږ د نړ ځامن...... (خندا) دانګریزانو نقل موشروع کړو.......... یعنې مونږ هم چائې څښل شروع کړل...... هں...... هں........ هن........ کیږده کیږده........ چې مونږ هوښیارانو د چایو نه سمه ګوتې جوړه کړه........ سحر چائې..... کچه غرمه چائې..... پخه غرمه چائې........ ما سپښین چائې........ ماښکر چائې .... ماښام چائې....... مړو خو چه قدم پورته کوو نو د چایو پیالی به مو دې خپلو شونډانو ته نیولې وی..... (خندا) په خوند ئې نه یو....... خو چې ګرم او خوږ ګړوبے وی، چې مونږ ئې د دې خپلو چنغړکونو نه ورلاندې کړو او خپل لړمونو پرې جلبل کړو........ (خندا) او مونږ خو چائې ځان ته دومره آسانې کړې چې........ د چینو په ځائې مو خبره

ګوړې نه کړه ...... تکه توره ګړه .... دوه چونډی چای
.... په ثابته پتیله کښې یوه د قهوې پیالی په ....
ترهغې به ئې ښخوکو چې ترڅو موتربنه زهر نه وی جوړ کړی
.... دغه د چائو په شکل کښې زهر چې تیار شي ......
نوهغه بیا مونږ په شوق سره ښښو ...... هر وخت ئې ښښو..
...... هره ګړۍ ئې ښښو ...... ځکه چې چائې دی کنه ؟
(خندا) انګریزان خو لاړل دفع شول او مونږ ئې په بلا واړولو
.... دغه بلا مونږ خورو ...... خو مونږ پرې نه پوهیږو
.... ځکه چې پښتانه ټول انتها پسند دی ....
دی کنه ؟ (خندا) .... دغه رنګ د تماکو قیصه هم ده.
.... خدائے خبر چې دا ګنده بوټے چا شرمونو د ټ
وطن ته را رسولے دے ؟ .... هرچا چې را رسه ولے
دے خو دومره به ئې کړی دی، دومره به چې د پښتون قوم
سره د دې نه سیوا به هم وکړے نه شی ...... پښتون
د نړۍ د تماکو د پاره چلم جوړ کړو .... (خندا) چلم؟
...... چې پښتانه وړته د حجرې شهزاده وائي .....
..... نو دغه شهزاده په هره حجره کښې هسکه غړې
لکه د جبې د ډینګ په شان ولاړ وی .... کله یو د
غوړه نیولے ځان ته را ښکلے کوړه کوړه .... کله
بل د مرۍ نه نیولے ځان ته را ښکلے خته خته ....
ته راځه خوله پرې ږده .... زه راځه خوله پرې ږده
...... بل راځه خوله پرې ږده .... خوک به جوړ
وی خوک به ناجوړه وی ...... خو د دې خبرې څه باک نشته

ځکه چې پښتون ډېر بې کوکې انسان دے .... (خندا) د نرې

رنځ يو بيمار خو دې چلم اُوځښی، خو چې بل پښتون پرې راخلاص

شی نو د هغه بيمار د خولې نه به چلم کښې پاتې شوے لوګے به دا ښې

راکاږی چې د خپل پرپوس هرې يوې خانې ته لې اُورسی

...... او نتيجه، نتيجه ئې به لږې ورځې پس ښکاره شی......

دے هم به رنځ کښې اخته شی .... دا هر څه کيږی.......

..... دا ټولې ناشونې چاری کيږی. .... خو به حُجره کښې

به هم يو چلم وی........ او هم به دغه يو چلم به روغ او ناروغ

به شريکه خوله اِږدی........ (خندا) د ډېرو روُږو سره

تماکو اکثر نۀ وی. .... نو هغوئې بيا به سار چلمونو پسې

ګرځی...... هغه بيا سار پک شی ......د چلم به تشه ايره

به تيلے لګوی اُو دځان سره به وائې چې څه يره تيلے پرې چک

لګوی...... (خندا) د چلم د پاره څۀ تاثم نشته ....

وخت نشته...... موقعه نشته ...... ډېر دراڼۀ دا انۀ

پښتانۀ مې ليدلی دی .... چې به لاړۀ به روان وی.

.... د کور زنانه به ورسره وی. اُو چې دے چلم اووينې

نو رُو به زنانه به ځائے پرېږدی........ او دے به چلم ته

ورستُون شی ...... (خندا) ولې؟ ..... ځکه چې نشئ

دے کنه غريب ...... وی ته د دې نشې نه خلاص شې.

.... دې نشې تۀ څومره هيټ ستړکے کړی، دې نشې

تۀ څومره بې حِسه کړې، چې چلم ته دې خپلې زنانه يوازې

پرېښودې (خندا) آفرين شه اُو تاله شه .... په چلميانو

روږو!......... وه د ځان دُشمنانو دا څۀ کوئ ....

.... یَه کورآبادو دَ هر څهٔ دَ پاره یو وخت وی یَوه موقعه وی، ستاسو په رنګ خونهٔ چې هر وخت مو دَ ځانونو نه دَ رېل انجنونه جوړ کړی دی ...... لوګی دی چې کله ئې په خوله اُو کله ئې په پوزه پوک وهه ..... دَ لرمونو نه موتک تور تنورونه جوړ شوی وی .... (خندا) ......چې په چلم موسود اُونهٔ شو، نو میراث مړی نسوار مو تربنه جوړ کړل ؟. .... سم دم سړے به وی .... سمې دمې خبرې به کوی اُو چې نسوار دَ شونډې دَ لاندې کړی، نو دغه سم دم سړے به دَ سترګو په رپ کښې چاړ شی .... سم دم سړے به وی او نبا پُسته دَ مزې دَ اُوښ پښې به شروع کړی .... (خندا) .... دَ غابنونو نسوار دې یَو، اُو دَ پوزې دې بل .... (خندا) توبه خدایه توبه ...... اُوخاندم کهٔ اُوژاړم.. .... چلم ته پښتانهٔ بادشاهی نشهٔ وائې..... نسوار وته دَ پیریانو نشهٔ وائې .... چرس وته دَ شهزادګانو نشه وائې... .... (خندا) اے دَ بادشاهی نشې نشیانو! .... لږ ډاکټر لوړشئ چې دَ خپلو لرمونو حال درته معلومه شی چې څنګه تک تور دي .... وَ دَ پیریانو دَ نشې پیریانو روڼو! لږه آئینه راواخلئ دا خپل غابنُونه مو پکښې اُوګورئ چې دَ لوګو وهلې کوټې لمَرې ترې نه جوړ شوی دی کنه ؟ .... غابنونه مو هر وخت داسې توروی لکه چې سکارهٔ موکړېولی وی .... (خندا) .... اُو اے دَ چرسو شهزادګانو روڼو! تاسو ولې دَ دې دُنیا نه داسې زړهٔ ستړی یئ .... چې په ویښه ځانُونه اُوده کوئ .... چې په ویښه ځانونه په هَوا کوئ .....

ځیری د دغه هوا نه به یو ځل داسې سر د لاندې راخطا شي
چې پښتنه به موچپ جوړ شي ...... (خندا) بیا به وهي بغاري
.... بیا به وهي کوکارې .... په نیک بختانو دا وخت
د اوده کیږ و نه دے ...... خبر نیږه چې د اوده قامونو
څه انجام وی؟ .... اوده قامونه تاترین ته ګذار شي...
.... اوده قامونه خوار و زار شي .... اوده قامونه نیست
و نابود شي .... تاسو وینئ بنی آدمان ګڼیا یکه د چرسو په
زور ځانونه اوده کوي .... (خندا) یره خو هغه د چا
خبره چې هیڅ به نه وېم نو .... راځه رامیدان ته شه.
.... چلمیان دې چلم پریږدي، چې په ځوانه ځوانۍ کښې
د سالنډی مریضان نه ښکاري .... نسواریان دې نسوار
پریږدي چې غاښونه یې د لوکو وهلي کوتې لټهرې نه ښکاري..
.... او خلقو له ترینه کرکه او نفرت نه ورځي
..... چرسیان دې چرس پریږدي چې په وینه هر وخت
نه اوده کیږي .... خوښه مو ده؟ .... څه؟
په روژه کښې به یې د پریښودو کوشش کوئ؟ ....
(خندا) یه زور وړ و نه یې وړته څه له اړ دې ....
په نیک کار کښې خوګ آنې بانې نه کوي ...... څه روژه او
څه اوس ...... کوره پښتون چې دومره غیرتي ......
..... دومره توریالي، دومره تورزن او میړنې یادیږي....
..... نو دا دومره غیرتي، توریالي او تورزن میړه د یو چلم
سره غیرت نشي کولې؟ .... د یو نسوار و سره قست نشي
کولې ...... د یو چرسو سره پښتو نشي کولې؟ ...... (خندا)

مړو خدایه راستی چې زهٔ خو مو ده پرخفه کړم .... ماخو
وې چې تا سو به دومره بې خوندی نهٔ کوې .... خو
.... خوند یې اُو نکړو .... څهٔ؟ .... څهٔ یَره
روژه خو هم څهٔ دومره لرې نهٔ ده ...... په روژه کښې سهی.
...... خوانې کچورے چې په روژه کښې کد دې بلا ګانو نه
خواه مخواه ځان خلاص کړی بنَه ...... اَی ته نهٔ ایمان
مونصیب شه، ځکه اُوس لاړشه خپلو خپلو کورونو ته...
...... ناوخته دے ...... خو کورے چې په لاره داسې
اُو نهٔ بُغېږی کنی نو سپی به درپسې شی. او داسې تراته
به دره له درکړی چې چرې په خوب کښې به موهم نهٔ وی
وَهلے .... (خندا)

اوزګارخیل

(خندا) .... خلق متل کوي چې تهٔ څوک ئې، زهٔ
خواه مخواه .... خواه مخواه خو به مو ډېر لیدلي وي، خو
دَ مرچکي نه کم .... اوُ اوُ .... خدائے شته چې زهٔ خواه
مخواه یم .... که خواه مخواه نهٔ وے، نو دَ چا په کاروُنو
کښې به مې کوتې نهٔ وهلې ! .... هلکه خو لکه څرنګ
چې نوره دُنیا سترګې پټوي، دَغسې به ما هم پټولې. نهٔ به هغه
هی وو اوُ نه به کړه کړه. هلکه زما په خټ، څهٔ سنړا ښېښه
ښېښې ده چې خواه مخواه مې ځان ته مجبوره را پاړه کړې دې ۔
ښځې زمانه خفه، سړي زمانه خفه .... دَ بسونو خاوندان
مانه خفه .... ټانګې وال ګاډي وال مانه خفه ....
قصابان ګوجران مانه خفه ....(خندا) مړه خو ټوله دُنیا
رانه خفه ده .... اوُ دا په څهٔ؟ دا په دې خپلې کږ ژبه.....
...... زما دا ژبه په خبر شه چې دې رانه ټوله دُنیا خفه کړې ده۔
.... خو خفه کیږي دې نو، زهٔ څهٔ اوُکړم، دا سترګې پټول
خو دَ مرچکي بنده نه نهٔ کیږي ۔ زهٔ خو چې غلط کار وینم نو بیا
مې ژبه خاربښتیږي .... اوُ چې ژبه مې خاربښتیږي، نو بې
وښلو پاتې کېدے نهٔ شم، اوُ چې بې دَ وښلو پاتې کېدے نهٔ شم
نو او شوه ټوله دُنیا رانه خفه ده .... هغه ورځ په هټۍ

کښې ناست وُم، دوه بُوډیانې رابنکاره شوې، هغه یوې بلې ته اُوې چې هغه ځوانی مرګ دا دے، چې په ښځو پسې په رېړ وګانو کښې سپکې سپورې وائي .... ما چې د ښوګانو دا خبره واورېده ...... نو رو را پاسېدم، لمن مې ځنډ وَهله، اُو غلے غوندې اُوکښېدم .... (خندا) وی نو کښېدم به نه؟ .... کهٔ هغوئ کوځړې را خستې وے اُو په دې کېړکه ئې پرې باندې ویشتلے وے نو بیا؟ .... کوځړې خو هسې هم هر وخت د ښوګانو په ترخونو کښې سر د ننه کړے وی- یا ئې اوچتې دَ سر په بُوساړې سُوَرې وی .... خو بس تیار کار وو، تش دَ کوځړې را لړه کوُل وو، اوآن زما دا کېړکه به وه .... (خندا) خېر د غلته خو خدائے خېر کړو- .... هغه بله ورځ په لوئے ښار اوړېدلے وُم، هغه د چا خبره چې کور ته را رسېدم نو سم دَ بُوسو سځے را نه جوړ شوے وُو........ ...... تاسو به وایه چې هلکه مرچکیه دا ولې؟ .... نو دا خو داسې چل وو چې په لاړه رارَوان وُم .... یو دوه ما شُومان وو په خپلو کښې انګته ښکته وُو .... بې شمېره خلق ترې راچاپېره وُو، تابه وې چې دوه پهلوانان کارې ته کُوز شوی دی، اُوخلق ئې تماشه کوی ...... "شابه ګنجیه ښنه ورته اړمه کړه ښنه، د غسې" -"شابه لاټوچې څټ ئې درنه خلاص نهٔ شی، دغسې تاؤکړه ورله څټ، هڅ هڅ، ای بې خونده، خلاص شوده نه کښه" ...... ای کدُو" .... (خندا) یو لوئے غوبل وُو .... په ډیرو ډیرو سړی ورته ولاړ وو .... زهٔ حق حیران، چې یه خدایه پاکه دا اوس کوم سړیتوب

دے، ماشومان خو ماشومان دی، نهٔ پوهیږی، نو دې لویو دځان
نه ولې ماشومان جوړکړی دی؟ ....آخر ور مخکښې شوم
دواړه ماشومان مې خلاص کړل، کنجی له مې په ختې اُو لاتو له مې
په سر یوه څپېړه ورکړه .... په دې کښې یو سړے را مخکښې
شو........"هلکه مرچکیه ستا پکښې څهٔ کار دے؟ پرېږده،
ماشومان دی چې سره نکیا وی"........هلکه مرچکیه ریشتیا
وی کنه وے، ستا پکښې څهٔ کار دے"؟.........دا مرچکے په خپله
حیا نهٔ پوهیږی. دهٔ ته شوک څهٔ وائی نه، نو په سر ختلے دے"
.... په دې کښې یو ځلموټے را مخکښې شو، دا سې تېله ئې راکړه
راکړه چې لتې خرانګې ئې را اُو غورځولم. او دلته راپورې خلقو
پرې وهلې........ ما هم بل غبرګ اونکړو، جامې مې اُو څنډلې
اُو مخ په کور را روان شوم........ راتلم راتلم راتلم چې شهید
بابا ته رااُورسېدم نو دلته هم څهٔ ګڼهٔ ګوڼه غوندې وه......
په دې زړهٔ کښې مې اُووې چې راشه بنده اندازه خوئ واخله
چې........ چې ورغلم نو څهٔ ګورم چې دوه چرګان دی، د یو بل
سره په جنګ دی........ د دواړو مښوکې د وینو نه لړلې......
.... د دواړو چارخوګو نه په وینو سالو. هغه خرې ئې په یو
بل وهلې چې راشه که ئې ګورې، دواړه بې زبانه د لاده باده
وتلی وُو........ اُو خلق ورته بنهٔ په شوق کښې په تماشه ولاړ وُو
.... خدائے شته چې ډېر مې زړهٔ خفه شو........
هم په چرګانو باندې اُو هم په دې تماشبینو باندې..........
په چرګانو ځکه، چې دواړه غریبانان د لاده باده وتلی وُو........
اُو په سړو ځکه چې،........ دا د انسانانو په جامه کښې ولاړ

انسانان، انسانان نهٔ وو بلکې ګټې وې، ځکه چې دَ کوم انسان په زړهٔ کښې رحم نهٔ وی، نو هغه انسان ځان ته دَ انسان وئیلو حق نهٔ لری۔ .... ور وړاندې شوم، دواړه چرګان مې دَ یو بل نه خلاص کړهٔ........... اُو چې چرګان مې خلاص کړل نو........"هلکه ستا په دېکښې څهٔ کار۔ دا چرګان ستا دی څهٔ"........ نهَ چرګان خوزما نهٔ دي خو........ بې ژبانه مال دے ...."چپ ګنی دا مَنبُوکه دې وَهَم، دَبې زبانه خپله، دے ډېر مشر راغلے دے چې پردی چرګان خلاصَوی"......... نه نه نو........ اُو درېږه تهٔ هم پخپله حَیاء نهٔ پوهېږې"........ اُو روڼو غبې شو چې یو کاپَر سُوک مې دَ وُلودا مېنځ اُو وَ هلو۔ بیا څهٔ وُو خو دَ نرنیچې هغه وُو، چې یو غبې به ئې رانه وېستو، دَ سترګو په دَپ کښې مې جامې تارتار شوې۔ چې بندهٔ ئې ګوښمال کړم نو کورته ترې را روان شوم، اُو چې دَ کوز کندی دَ بُوتاړګی نه راتاؤ شوم نو په دا مان باندې یؤ لوئے غوبل وو......... دوه سپی په خپلو کښې په جنګ وو، خلقې ورته ولاړې وې .... توبه خدایه توبه۔ دَ وئیلو اُو دَ لیدو ډېر فرق دے۔ نهٔ تاسو ته نهٔ شم وئیلے چې دَ هغه سپو غریبانانو څهٔ حال وُو......... اُو دا خلق؟........ خلق ورته داسې دپ ولاړ وو چې تا به وې چې ګنی یوه لویه تماشه ده....... یو زړهٔ خو راته وې چې ورمخکښې شهٔ، خو چې خپلو جامو، اُو دَ وُلو دردونو ته مې اوکتل نو حوصله می اُو نهٔ کړے شوه، روغوندې کورته را روان شوم، اُو چې په کُوڅَه شلېدلې جامې، ټول ګوېډلے ګوېډلے رانوتم، نو دَ هلکانو مور را منډه کړه"خېر شه سړیه" دا ولې؟ جنګ دې اوکړو څهٔ؟ .... نه ښځې جنګ

ې نۀ دے کړے خو...... تهوله قیصه مې چې ښځې ته تیره کړه......
...... نوتندے ئې په پوزه راواچولو، اُو هغه ئې راته واؤرولې
چې راشه کۀ ئې ګورې .... (خندا) دا ښکښې لا پاتې وَه. اوُ
بد قسمته مرچکیه، کور هم دغسې حال او بهر هم هغسې حال.
.... دَ هلکان مور لاړه، کورکمان اُو غوړې ئې راله سرۀ کړل،
اُو ماسترګې پټې کړې لاړم دَ سُوچونو او فکرونو په سمندر لاهو
شوُم....... چې یَه خدایه پاکه دا موږ به کله انسانان کیږو.
دا موږ به دَ انسان او انسانیت دا تقاضې کله محسُوسَوُو، زموږ دَ زړونو
نه به دا بې حِسی اُو بې رحمی کله اُووځی........ بنه دَخداے رُوئ
او منه، دَ دوهُو ماشومانو په جنګولو کښې څۀ خوند دے، چې تاسو
خواه مخواه عقربان یو بل له په پړزوُلو وروله، کۀ دَ یو ماشوم لاس
پښه مات شی نو بیا؟ کۀ دَ یو ماشوم سترګه ړنده شی نو بیا؟.......
اُو بنه چرګان کۀ دا جنګ اوکړی اوکړی، اوُ دا یو چرګ رابا سی
دا بل چرګ بنه بنه، تیکه تیکه کړی نو به دِ ښکښې څۀ خوند؟ دا
هم لا خداے روئ اوُ منه دَ تماشو کار دے؟..........
اُو کۀ دا سپی یو بل بوټی بوټی او قیمه قیمه کړی نو څۀ چل به
اوشی. کۀ ستا چرګ اوکټله اوُ زما بائیلله نو څۀ؟..........
پرېږدئ زورَ وُرو، ځنې کار دَ کوُلو وی اُو ځنې دَ نۀ کوُلو...
.... ځنې کار دَ کتو وی اوُ ځنې دَ نۀ کتو..........
په غلطو چارو باندې سرے بدی ښکاری.........راشئ دو نو
په زړونو کښې رحم راپیدا کړی. په زړونو کښې مینه اوُ محبت راپیدا
کړی........ الله پاک رحمان دے، نو ځکه ئې رحم کوونکے ډېر
خوښ وی........ الله پاک محبت خوښوی، نو ځکه ئې محبت

کوُنکی هم خوښ وی، راشئ سپي مهٔ جنګوئ. اوُکهٔ دوه سپي په جنګ شی نو دَ خلاصَوُلو کوشش ئې کوئ .... مېږان مهٔ جنګوئ، دا ظلم دے. دا ناروا کار دے. په دې کار بانـدې الله تعالیٰ ناراضه کیږی. چرګان مهٔ جنګوئ. چرګانو جنګوُل دَ انسانیت دَ تقاضو خلاف کار دے .... یَهٔ زورَوُرو نو دا تاسو څنګه عالَم یئ هر څهٔ جنګوُل درله خوند درکوی؟ (خندا) پرېږدئ مړو .... نور څهٔ نهٔ دی خو اُوزګار یئ اُوزګار. اُو دَ اُوزګار سړی دماغ دَ شېطان جاله وی. هر وخت ئې بد و چاروته فکر وی .... پاتې شوُم زهٔ؟ .... نو زما خو توبه ده چې پس له دې نه چاله مېدان ته ورغلم .... دا خپله ربېږو خانه مې ډېره بښهٔ ده چې پکښې خلقو ته ښځې ښځې خبرې اوکړم اوُ څوک راته کرُنج هم نهٔ شی کوُلے .... ولې کنی بـد مې اوُوے؟ (خندا)

د جمعې مونځ

(خندا) اُو نو دَ جُمعې مبارکه ورځ وه، تکې سپینې لکه ساکو دانه جامې مې
ا غوستې او بنې چغندې ئې ځپلې مې په پښو کړې - د هلکانو مور راته
ویل اُووې چې سرېبه باران شوے دے، نوې ځپلې نن مهٔ په پښو کوه.....
ـ او دا سپینې جامې نن مهٔ اغونده خو...... په ماکښې دا مصیبت
ـے چې زما نوو جامو اغوستو او نوی پېزار په پښو کوُلو ته خدائې
ـنه چې ډېره تادی وی .... خدائې خبر چې څهٔ چل دے نو،
ـودا چل په ماکښې شته، او کېدے شی چې نور خلق هم داسې وی،
ـه په خولهٔ به غږ نهٔ کوی، او مرچکے خو سم سپین سرے دے هره
ـخبره په سپین میدان کوی .... نو رُونو! دَ هلکانو دَ مور
ـه صلاح مې ځان غلے کړو، اُو ښائسته دَ مزې دَ سان پَرتُوک او دَ
ـوریا قمیص مې را واچوُل، ځپلې مې را په پښو کړې پېړمې مې
ـرا ښکلی اُو را روان شوُم مخ په ښار...... یره خدائې شته چې داسې
ـه چُرت کښې وُم....... کله پښو ته کوره ...... کله لمن ته کوره
ـو کله دَ پرتُوګ پېنڅو ته، .... (خندا) نه مړو .... یوُ
ځل خو مې درته اُووې چې نادیده نهٔ یم ...... دا زما عادت
دے .... نو بنهٔ په چُرت کښې را روان وُم، بېړې مې وهلې
وې، ما وې چې په پېنځو مې څاځکې پړیوځی - زړهٔ خو مې غوښتل
چې ځپلې هم دَ پښو نه اُو باسم، او په ترخ کښې ئې اُونیسم خو بیا

مې په دې زړهٔ کښې سوچ اوکړو چې مرچکیه، تهٔ خوتکیا ئې شپې ورځې په دې رېړه يو کښې په ببوکانو پورې خنداګانې کوې، چې هنر سليپر په سر يا په ترخ کښې ګرزوې او کهٔ نن تا ځپلې په ترخ کښې اوُمنړلې او چرته ببوکانو اوُليدې نو په شرمونو به اوُشرميږې ...... نو او شوه ځپلې مې اوسپارلې د باران څڅو او چقړو ته، او په خپل ترنګ کښې ښار ته روان وُم، چې د رامداس بازار دې مېنځ ته راوُرسېدم نو دا څهٔ غرمه به وه ...... په سړک باندې چقړو اوُد اوُبو ډنډونو هسې غوبل جوړ کړے وو۔ په دې کښې ناګهانه د روستو نه يوه رکشه راغله او لکه د سيلۍ مې په خوا کښې تيره شوه ...... او د تيرېدو سره شړاپ شوچې د ختې اوچقړې ترمې والوتې يو څوڅاڅکې مې په سترګو کښې پرېوتل ...... زر زر مې سترګې اومږلې، او چې نظر مې اوُلګېدو نو تاسو يقين اوُکړئ چې د هغه تکو سپينو جامو نه مې د سترګو په رپ کښې د رکشې ماما راله د چيټ جامې جوړې کړې وې.... ..... (خندا) وَه د نر بچيه، د باران نه تښتېدم او د ناوې لاندې مې شپه شوه۔ ما د کلي نه تر دې پورې څومره په احتياط او شوا څوُن ځان راوُرسوُلو او دلته راله د رکشې ماما ښهٔ اخر اُمبارکه کړو .... ما په زړهٔ کښې کله رکشې والا ته او کله ځان ته بد رد وئيلې چې په دې کښې يو موټر لکه د هوائي جهاز راخلاص او چې ما د سړک نه د نګل نو شړاپ شوچې موټر مې په خوا کښې لکه د سيلۍ تېر شو، باقي پاتې څهٔ کسر چې وو هغه د موټر ماما پوره کړو .... يه خدايه دا په څهٔ بلا واوُړېدم۔ اوس به څهٔ کوُم۔ د جُمې نمونځ به څرنګ کوُم ..... په دې سوچ کښې

روان وُم چې په دېکښې دَ شانه څۀ غرغراوشو .... اوچې ماروستو کتل کتل نو لارې مې په سرسوَرَه وه - نۀ دَ تېښتې درک وو اونۀ دَ منډې، پۀ دې زړهٔ کښې مې اُووې چې مرچکیه دَ لوند و په څۀ لواندهٔ شی، نۀ دَ منډو ضرورت شته او نۀ دَ ترنډو...... - او .... چراپ شو چې لارې تیره شوه ...... (خندا) او تاسو یقین اوکړه چې هغه تک سپین دَ وادهٔ ځلے مرچکے داسې شو لکه چې اوس دَ خټو دَ کانړ نه راوتلے وی. - جامې مې په خټو لړلې، پښې مې په خټو لړلې، مخ مې په خټو لړلے، پوزه لړلې سترګې لړلې - مرو خوسم دَ خټو ګوډاګے رانه جوړ شوے وو - په جامو کښې مې دَ سټنې دَ ایښودو سپین ځائے نۀ وو پاتې شوے ...... په زړهٔ ماتی زوړندسر راروان شوُم دَ ماېت خان صیب جُومات ته ......چې جُومات ته نزدې شوم نو........"وَه ځناورَه داڅۀ کوې، دې شکل ته خودې لـرې اوګوره، دې نمونځ له خلق داسې راځي"؟ ..... - نه وروره داسې نۀ راځي، زۀ هم داسې نۀ راتلم خو.......- "څه ځه مره ورکٔ شه نمونځ نۀ کوې خو په نمونځ پورې ټوقې کوې"- .... وروره تۀ زما خبره خوواوُره کنه .... (خندا) اوچې ماما ته مې ټوله قیصه تیره کړه نو اوَل خوئې ډېر اوخندل او بیا خدائې شته چې ډېر خفه شو .... زرئې راله خپل څادر راکړو، ما ترې لنګ اُووَهلو او دَ جُمعې نمونځ مې په لنګ کښې اوکړو....... دَ نمونځ نه پس مې اوَل قمیص او بیا پرتوګ دَ جُومات په بمبه اُوټپوُل. اوچې څۀ وخت مې جامې اُوچې شوې نو تاسو یقین اوکړه چې دَ هغه سپینو جامو نه دَ خړې خامتا جامې جوړې شوې وې ...... نو رِدُونو باس !.. .... بیا زما توبه کۀ دَ باران په ورځ ما سپینې جامې واچوُلې او

ښار ته لاړم - جُمعه نه کهٔ دَ لوئے اختر ورځ وی نو هم دَ باران په ورځ
به سپینې جامې اغوستې ښار بازار ته نهٔ ځم .... او نو دا آخر
اوس څهٔ شان دے؟ .... دا رکشې موټرې او لارۍ څوک
دا سې چلوی لکه دا خلق ئې چې چلوی .... وَکور آبادو! دَ
ولې زمونږ دَ دې زړونو نه دا احساس دا سې اوَوتو، دا ولې بل انسان
مونږ ته انسان نهٔ ښکاری - دا ولې دَ بل دَ تکلیف او خفګان احساس
زمونږ دَ زړونو نه دا سې ورک شو ...... یه دَ رکشو، موټرو او
لاروخاوندانو لږ ساړهٔ خوری - لږ په تلار، لږ په حوصله، او بیا
په باران، چقړو کښې خو په ښار بازار کښې دومره په آرام تیریږی -
دا سې په غوښمو مهٔ تیریږی، چې هرچا ته اختر اُمبارک کوی -
چې سړک خوشے وی نو بیا کهٔ په هَوا اَلُوزی - او کهٔ په سیلۍ الوزی
خو ښه مونږ له - خو چې دَ سړک په غاړه خلق روان وی نو دا سې
سرتیزی مهٔ کوی - دَ ژوند دَ تیرُولو خو هم څهٔ قاعدې
او ضابطې دی کنه - کهٔ دَ دغو قاعدو او ضابطو نه بهر شوی نو
ژوند به مونږ قلاره وی کورے - هر سړے به درته خبرې کوی -
هره ښځه به درته آزار کوی او لکه زما په رنګ چې دَ چا نه
دَ جُمعې نمونځ هم کړه وړ شی، نو یقین او کړه چې دَ نمونځ نه پس
به دَ هر څهٔ نه اول دا نهٔ وائی چې "اے خدایه ما او بخښې او زما
مور پلار او بخښې" بلکې لاسونه به اوَړَوُلی پورته کوی چې خدایه
ته دَ رکشو، موټرو او لاروخاوندانو سره پوئې شې (خندا) او خبر
یمه چې دَ خدائے پوهېدل څرنګ وی؟ .... دز چې رکشه به
درباندې اوړېدلې وی ...... درز چې موټر به مو جنګېدلے وی.
دز چې لارۍ به ...ردا ندت شوی وی .... نو بیا؟.......

بیا به دا سې چل اوکړی چې دَ انسانانو آزار مهٔ اخلی۔ دَ انسانانو زړهٔ مهٔ آزارَ وی۔ او دا رکشې موټرې او لاری په باران اوچتړو کښې لړې تابوُ ساتی چې دَ خلقو اختر نهٔ اُمبارکه کوي۔ او دَ خلقو دَ زړونو نه درته خېرې۔ آزار اوٗ بد دُعاګانې نهٔ اُوځی ..... پوهٔ شوې اوکنه۔ (خندا)

دَ اختر میاشت

(خندا) ځکه یره شکر دے چې روژه تېره شوه او ورسره یو لوے پیټے مو دَ اوږو نه کوز شو- دَ یو لوئے ناکام وو- دَ یو لوئے بیګا روو- ....هر سړے تنګ وُو،.........هر سړے تربوزې پورې راغلے وو..........او زنانه؟.........زنانه خودَ سړ نه هم پورې هلې تربوزې پورې راغلې وې..........(خندا) ټول دَ یو تنګ وو- دَ روژې په آخرنئ ورځ خوسم دَ ما سپښین نه خلق ځوک بهر مېدانو نو او ځوک دَ بکو ته وتلې وُو.........دَ نرځا منو دَ ما سپښین نه قبلې طرف ته سترګې نیولې وې- ....چې خدایه پاکه چې کله یه دا نمر دَ دې غر دَ سوکې نه ورپناه شي.........او یه دغه ځائے به یوه نرۍ خایسته لکه اوږدۀ میاشت راښکاره شي- هرچا په لاس کښې یو یو اورلړونے نیولے وو.........(خندا) مطلب مې دے ټوپک.........ټوپک دَ دې دَ پاره چې څنګه دَ اختر میاشت راښکاره شي، چې دے پرې دَ خوشحالۍ نه ډزې اوکړي....
.........بیابیا به ئې دَ ټوپک کمانئ تړقولې.........بیابیا به ئې دَ ټوپک په شپېلۍ کښې په یوه سترګه لکه دَ دوربین کتل، چې یره نلۍ خو ئې خیر نه نۀ ده.........دَ ډېرو ورونو په خپلو ټوپکو طما چو دَ ډزا تبار هم نۀ وُو، ځکه چې شکر دے دا سې ټوپکو نه او طماچې په کال کښې صرف دوه ځله دَ ډزو دَ پاره

مېدان ته راوُوځي .... يو ډوروکي اختر، اُو دوېم د لوئے اختر د مياشت د ښکاره کېد و په موقعه .... بياورته غلا فونه واچولے شي، اُو بنځه سمبال په دېوال پورې ځوړوا اُو لُوګُو ته اوېزان کړے شي .... (خندا) نو ډغه توپکونه په لاس خلق په انتظارکښې مخ په قبله ډلې ډلې اُو قطار قطار ولاړ وو - نمر ايله د غرهٔ د سُوکې نه اَنړے واړَوُلو .... اوُدلته ټس ټس ټس - ډز ډاز ډز - .... يَو شور شو يو الغاوُ شو يَو تلغاوُ شو .... هاغه ده .... اېنې هاغه وينې .... (خندا) خدائے شته کهٔ هيڅ هم وُو، خو خلقو ډزې اوکړې .... دا خومو خدائے پاک شرم پرده ساتلے چې د نمر پلوشې لړې نورې ښکته شوې .... يو يوه نرے غونډېد لکه تار مياشت راښکاره شوه .... - او دلته بيا د ټوپکو ټماڅو يَو ښار اُوچلېدو .... څه يره اختر شو روژه تېره شوه .... د خلقو نُول غوځ شو .... - ټول خوشحاله خوشحاله .... ځوک حجرو ځوک کورونو ته روان شُول ..... بحثونه شروع شوُل، .... قسم په خدائے د روژې شپې ده .... نه مړه قسم په خدائے چې د دوېمې شپې ده، ورته دې کاته نه چې ځومره اُوچته ولاړه وَه .... وغېره وغېره وغېرهٔ .... شپه په خوشحالو تېره شوه، نهٔ د تراوُوغم نهُ د پېشمنې فکر اُو نهُ صبا له د روژې لانجه .... هرڅهٔ بيا آسان شوُل .... هرڅهٔ بيا سم شوُل .... ټولې کندې کپرې هوارې شوې .... ټول مشکلات رفع شوُل .... اُو خلقو ايله لړه د اطمينان ساه واخېسته .... د اختر په سحر باندې خوراکُونو ته ډېر شُو .... چايُ دې يَو، مېنځې دې دوه ....

...... پراتې دي دړې کۀ چا يَو بل خۀ رالېږلي وو هغه دي ښلور.....
...... مړو خوځۀ به مو سرخوږ دُوم ، دَ اختر نموځۀ پوړې هرسړې اُوهرڅ ښځه داسې ايغ نيغ شوُل ، تکه دُوک ، هغه دَ دړو وغږن خبره چې دَ هر چا په کېږه ه دَ لَذ رسې تېکېده ه ،......... (خندا) دَ اختر نموځۀ اُوشو...... دَ اختر اُمبارکيانې اُوشوې ....
سړې يو بل ته ترغاړه وتل......... زنانه يوې بلې ته په پښو پرېوتې ......"بي بي سلا ما ليکم اختر دي اُمبارکه شه.....
بېوسلام دے اختر دِې اُمبارکه شه"- (خندا) .... ځلموټو هلکانو آګے په سرو رُومالونو کښې واچَولي .... اُو ټولی ټولی په يو ځائے اُو بل ځائے کښې په مزکه کې پښو په سر کښېناستۀ......
"چق په سُوکه" ......"نه سُوکه" په سُوکه"...... ښه کښېنوه ، نه تۀ کښېنوه ...... هن دا زما تۀ کښېنوه ...... ښه راکړه ...... تکه تکه تکه چق ..... اې ګُرانګو چې اُومې ګټله..
...... (خندا) دَ اختر دَ ړومبې ورځې نه دا لانجه شروع شوه ..... اَن تر دړې بې ورځې پوړې دي خلقو ځانونه دَ لاده باده او وېستل اُو دَ ګوبېخ بنيا دې او وېستو ...... ښه نو فائده ترينه څۀ ؟ .... سره پيسه حرامه ....
سُوده تاوان ...... سُوده سر خُوږے ...... ځکه چې دغه لکه دَ کانې غوندې سختې ويشېدلې آګے دَ خوراک نۀ دی....
...... دَ يوې نه زياته اوخوړه .... نو سمدستي به دې په کېږه ه کښې مرور اُو دَ مرور سره سمدستي پېچش ....
(خندا) بيا وهه بغارې ..... ښلور ورځې دَکټې ....
درې ورځې دَ وېه وېه ،...... اُودوه ورځې دَ پاپلې پاپلی

ګوزېدو .... دا خودې شوې اکېدې او دا شول د اګوجنګول ......
چې چا او بائللې هغه خو خود ببلات اوکړو او چا چې اوګټلې نو هغهٔ څهٔ اوګټل؟
.... ډېرې خاورې .... (خندا) اوکنه .... هلکه چې
پو ځيز بيا تهٔ خوړے نهٔ شي، يو ځيز بيا تهٔ هضمولے نهٔ شې، او چې خورې
نو نقصان درکوی نو دَ داسې ځيز هغه کته ببلات دې خدائے اووهي
.... ولې کنې بده مې اووې؟ ګورې کهٔ دغه اکې هره ورځ
سحر وختی دَ چائېو سره يوه يوه نيم پخته اوخوړے شي، نو خبريې
چې وجود ته څومره فائده رسوی؟ .... لږ دا کتر نه خو
تپوس اوکړې چې سترګې مو او غړېږی .... (خندا) تا سو به وايه
چې هلکه مرچکيه دا ځائے خودَ خندا نهٔ وُو، دلته دې ولې هېڅ هېڅ
اوکړل،...... نو واقعی چې دا څهٔ دَ خندا خبره نهٔ ده، خو رونړو! ما
په بلې خبرې پورې اوخندل .... داسې چل وو چې په دې روژه
کښې دَ تراوُو په نمونځ کښې به دا جُمات داسې وو، چې دَ نمونځ کډنه ارو
دَ لاسه به هسې برچق وو....... صفونه به وو، چې په هر جُمات
کښې به پېدا امام پسې ولاړ وو.......... په روژه کښې هر سړی نمونځ
کولو .... هر چا تراوې کولې .... هر چا نفلونه کول.
.... دومره خوند به ئې کولو چې زهٔ به در ته څهٔ اووايم ....
جُماتونه په روژه کښې ايله آباد شوی وُو........ خو .... خدائے
خبر چې څهٔ چل اوشی .... چې دَ اختر مياشت ختنګه را ښکاره شی
نو په جُماتونو کښې دَ نمونځ کډنه ارو په شمېرګو نې اونګی .... دَ اختر
په ړومبۍ شپه دَ څلورو صفونو نه خبره دوه صفه ته را ورسی .....
دَ اختر په دوېمه ورځ، په دغه دوه وُ صفونو کښې يو صف پاتې شی.....
..... دَ اختر په درېمه ورځ دغه يو صف هم نيمګړے شی ......

اُو دَ اختر په څلورمه ورځ؟ .... په ثابت کلی کښې په امام پسې دوه نیم کسه مقتدیان پاتې شی ..... یو امام اُو دغه دوه نیم مقتدیان بیا کالُوسی فرضُونه سُنتونه کوی .... اُو نور خلق لکه دَ موسمی کونترو داسې والُوزی چې بیا بل کال له دَ روژې میاشت کښې دَ ښښو اُو پُوندونه دَ کال خیری لرې کوی .... (خندا!) بیا په ټول کال کښې له خېره جُمات ته مخ کوی نهٔ .... نو دلته مرچکے بنده دَغه رُونړو دومره قدرله تپوس کوی چې اے زما موسمی نمونځ ګذارو رُونړو! .... دا نمونځ کښې یوازې په روژه کښې فرض دے؟....... دَ روژی نه بغېر کښې خدائے پاک نمونځ معاف کړے دے؟ ....کهٔ څهٔ داسې مسئله وی نو مونږ ته ئې هم اُوښایه مونږ به هم درته دُعا کوُو چې چارمو ښتهٔ اُو کور مو آباد....... دا ئې په کوم کتاب کښې لیکلی دی، ماته ئې هم لږ اُوښایه چې زهٔ هم چې دَ اختر په ورځ قبلې ته شاکړم نو چې بیا بل کال په روژه کښې داخېله مُوشا ده دې قبلې غریبې ته ور مخامخ کوُم...... ..... (خندا) خاندی مه - ریشتیا وایم درته ....

اے زما ناراسته رُونړو! .... اے زما دَ دین نه مړو رُونړو..... ...... داسې مهٔ کوئ - دا نمونځ یوازې په روژه کښې نه بلکې په کوژه کښې هم فرض دے .... او دا فرض هم داسې فرض دے لکه روژه ...... نو روژه خو تاسو په قسمونو هم نهٔ خورئ .... چې دَ لاده باده پرې وُدځئ نو هم ئې نهٔ خورئ، نو بیا دې نمونځ څهٔ ګناه کړې ده، راشئ دَ دې نمونځ سره داسې دُښمنی مهٔ کوئ.... .... چې خدائے درنه راضی وی، چې خدائے در نه خوشحاله وی..... ...... پوئ شوئ اے موسمی نمونځ ګذارو......... (خندا)

خوانبي

اُو سادہ ګل کاکا، دغه ټوله قیصه وَه چې په زَور زېرمې درته تېره کړه .... نواوس ته اُووایه چې ملا مته څوک دی؟
.... تاته وبُم کنه ...... (خندا) اُودهٔ شوې جوړې...
.... په هسکه خبرې ولې نهٔ کوې، ګوُنګے شوې څهٔ؟.....
.... څا! بابا جی، زهٔ وبُم چې دا تهٔ خولهٔ وازه وانه کے اوَ خبره نهٔ کوې چې دا څهٔ چل دے .... (خندا) تهٔ په رېوړو اخته ئې؟ .... شل ځله مې پوئ کړې چې اے ساده سړیهٔ دا رېوړے ډېرې مهٔ خوره- دا رېوړے ډېرې مهٔ خوره ......
.... دَ ځان نهٔ دې ماشوُم جوړ کړے دے .... هروختې لکه دَ اوښ خولهٔ وراٰنه وراٰنه کوې .... ګوره څوځُله مې په دې پوئ کړے ئې چې ډېر خوارډهٔ ښهٔ نهٔ دی، دَ غاښونو دَ پاره هم نقصانی او دَ صحت دَ پاره هم .... څهٔ؟ غاښونه دې نشته؟ (خندا) اوُ ریشتیا ستا خولهٔ خوله څېره دَ زړې کوټې طاخ دے .... څوکه غاښوُنه دې نشته، نو نورو وجود خو دې شته، ګوره دا ګوره اوُ دا رېوړے په وجود کښې ډېر ډېر مرضوُنه پیدا کوی .... اَول خو مې دا واوَره چې دا رېوړے چې دَ کومې کوړې نه جوړېږی کنه، نو هغه ګوړه کهٔ دې اُوکته نو خدائے شته چې باقی به درله درشی ....

تکه توره لکه دَ باړه وزو خبته ...... ګنډ بلا ...... خاشې....
.... پتری ...... بُوس دَ بوجه بېرګی........

مره خو هر څهٔ پکښې وی نو....... نو دَ دغې ګوړې نه زمونږ
ماماګان زمونږ دَ پاره دېوړیه جوړې کړی، کومه چې ښاروی
هم نهٔ خوری هغه ګوړه ستا په رنګ ماشومان دَ دېوړو په شکل
کښې شیه ورځې کړیوی....... او بیا ئې لکه ستا په رنګ زیړ
دَ دوان مخونه نیولی وی........ وینه ئې خرابه شی.....
....ګېډه کښې ئې چینجی اوشی....... بله پرېشر یوه بیماری
ده هغه ترې راپیدا شی....... شوګر یوه بیماری ده هغه
ترې جوړه شی، مره خو سمه دَ مرضونو جاله ترې نه جوړه
شی....... نو څکه دَ ته وېم چې....... دېوړیه مهٔ
خوره...... . تهٔ خولهٔ وازه کړه (آ آ آ) دغسې.......
لږه مې کړه دَ نه چې بیا ئې اُو نهٔ خورې ښه!........
(خندا) او لوېئې شې........خا! نو تا زما بیان واوُریدو
...... تهٔ اُو وایه کنه چې دا ما دَ ته کومه قیصه تېره کړه
په دې کښې څوک ملامته دی؟..... مرجانه ببو کنه؟ (خندا)
خو یام چې مرجانې ببو ته په مخ څهٔ اُو نهٔ وے ګورے......
نور خو څهٔ نشم وئیلے، خو چکُونه به دَ باندې اُو لګوی......
...... اُو...... هغې نن صبا دَ څان نه خیرَوُ نګې غوا جوړه
کړې ده، هرچا ته ئې بنکرونه غوړ کړی دی.......(خندا)
.... رُو نو تا سو به وَ ایسه چې مرچکید نن دې دَ ساده
ګُل سره دَ غونډ مجلس شروع کړے دے........ مونږ
ته خوئې هم اُو وایه کنه چې څهٔ چل دے؟.......نو چل

خو خهٔ خاص نشته . . . . دَ مرجانۍ ببو خبره مې ورته
کړ‌له . . . . تاسو به خبر يئ کنه چې مرجانۍ ببو دَ خپلې انږوَ
سره خهٔ چارې راخستې دی؟ . . . . نن صبا له خبره دَ
مرجانۍ ببو کوره مېله ګرمه ده . . . . سم دَ نمر خاتهٔ نه چې
دا به دې انږور پورې لګه دَ مُوچه اُونبلې نو دَ چا هغه پلار
خو به ئې تربنه ہیا خلاصه کړی . . . . . . ”وبه تهٔ دوه لېشتې
وُنه دې دَ خاوُرو لاندې شه“. اورله راغلې دَ کور مېرمن شوې؟
. . . . پام چې پس له دې نغری ته نږدې نشې . . . .
باخَه خهٔ پرلت دې غزَولے دے . . . . . . غوجل جارُوکړه . . . . .
. . . . . . خهٔ دَ کورنۍ لوُرخو نهٔ ئې . . . . دا نا وېتوب به دې
اوُس په ويو سُورکړم . . . . . . باس دومره لحاظ دې ډېر وو“ . . .
. . . . . . (خندا) . . . . دا مرجانه ببو ده بنه! دَ خپلې انږور
سره لګیا ده . . . . دَ لسوور ځوناوې سره . . . . نن صبا
دَ مرجانۍ ببو بل خهٔ کار نشته په يَو پښه په ټول کلی ګنبې ګرځي . . .
. . . . . . دَ يوې سره ناسته . . . . . . ”چپ شه خورې ناوې بی بی
دَکټ نه پښه لاندې نهٔ بږدی . . . . تهٔ به وے چې دَ پلار
په کور ورته نوکوان ګرزېدهٔ“ . . . . (خندا) . . . . . . ”نه نو
دَ دې خهٔ خیال دے . . . . کهٔ صَبا له مې په ځوئې یو دوه درې
نکره نو نوم به مې مرجانه نهٔ وی . . . . (خندا) . . . .
”چپ شه خورې ځوې مې هم ډېرې غېرته دے . . . . دا
خو راته هغهٔ په سرخېږولې ده ګنی نو“ . . . . . لنډه دا چې
خوند ئې وُ نکړو . . . . اوخوند به لې ځنګه کوُلو . . . .
آخر دا کوم انصاف دے . . . . دا کومه مسلمانی ده . . . .

دا انګور داسې یوُ بلا شوه ، دا انګور داسې دَ پښتو کوسره شو
دا انګور داسې دَ دیوال دَ سر څپیاکه شوه ، چې دَ هغې په قسمت
کښې دَ مرجانې دَ خولې یوه پسته خبره هم نشته . . . . یوه دَ
دلاسې خبره هم نشته . . . . دا انګیاندې دَ خواښې سحرکړه
دې دَ پاره راځي . . . . چې خواښې دې ورته هروخت په خوله
کښې څپڅوُنه منډی . . . . په نهٔ خدٔ دې پیغورُونه ورکوی
. . . . او کوُڅه په کوُڅه دې ګرځي دَ خلقو سره دې دَ هغې
په سر مجلسونه ګرموی . . . . یَرّه . . . . خدٔ اودیم نو . . . . .
ښهٔ راته یاد دی چې خدٔ وخت مرجانې ښوځوئې له وادهٔ کوُلو
نودوه میاشتې اګا هوُ ئې دَ کورمالت جینګه راغونډې کړی اوُ
هرهٔ شپه به ئې هغه دغ دُوېره اچولې وه ، چې ټول کندی به
ترې سترګه نشوه پټولے . . . . مرجانه ښو ډېره خوشحاله وَه
. . . . دَ ځوئې په وادهٔ ئې ښهٔ ارمانوُنه رژَوُلی وو . . . . .
ښهٔ ډوډیه ئې ورکړې وَه ، ښهٔ تماشې پرې ګډې کړې وې . . . .
. . . . . . اوُ ښهٔ پهٔ څار قرُبان ئې ناوې کورته راوستلې وَه . . . . . .
اوُ اوس هم هغه پهٔ څار قربان راوستې ناوې دَ ښو دَ سترګو
ازغے دے . . . . هم هغه به ارمانونو غوښتلې انګورئې
هروخت په زړهٔ کښې لکه دَ اغزی چُوکه کیږی . . . .
اے مرجانې ښو ! . . . . اے تاته خدائے دَ نېکو هدایت
وکړه . . . . داسې مهٔ کوه . . . . دا خپل کور پخپله پخپل
ځان مهٔ ورانَوه . . . . انګور دې سینې ته را نزدې کړه
. . . . دَ دُشمنې په سترګه نه دَ خواښې په سترګه ورته اوګوره
. . . . دغه انګور ستا دَ ځوې ښځه ده . . . . نو ته

ورته دَ څوئ په سترګه اوګوره ...... آخر دا څوئ به دې ترڅو
پورې ستا په ناکړدو سترګې پټوی .... ترڅو به ستا دا شرمندګي
زغمې .... آخر به یوه ورځ خبره دې ته راشي چې ښځه به
دَ کوټې اونیسي او خپله څه به کوی .... او بیا ....
..... ؟ .... (خندا) ته بیا غروه دَ خولې دومره او دَ شونډانو
باجه ...... وَه بختورو خواښیانو! خواښې دَ انږور دَ پاره په مثال
دَ موروی .... نو مورچرې دَ خپلې لور سره داسې سلوک کوی
.... فرض کړه چې ستاسو وادهٔ کړو لوښو سره خپلې خواښیانې
داسې سلوک راواخلي نو بیا؟ .... بیا خوهرڅ یوه به بده وکوټې
وهي او دَ لور به سر دَ هغې په خواښې پسې به دُو دُو روانه وی ....
...... (خندا) نو دَ خپلې لور دَ پاره خو دَ هغې دَ خواښې سره هر
وخت لاس ترګریوان یی او دَ خپلې انږور سره دا سلوک؟ پرېږده
مرو نهٔ مو هغه ځامن دَ ژوند په خوند پوئ شی او نهٔ انږور او
بچیله مو هم هر وخت په بکه بکه دَ خولې خوند خراب وی ......
..... خواښیانو له پکار دی چې دَ حقیقت نه سترګې نهٔ پټوی ....
هم دغسې هرڅ مور دَ څوئ دَ پاره وادهٔ کوی ....
اوچې دَ څوئ خپله ښځه او خپل بال بچ شی، نو دَ هغهٔ مینه قدرتًا
دَ خپل بال بچ سره زیاته وی .... په دې دې میاندې خفه
کیږی نه .... ځکه چې دا دَ قدرت قانون دے ....
دا دُنیا هم دغسې روانه ده .... مور پلار ځان کړوی،
کړوی کړوی .... ځامن رالویه وی رالویه وی ......
او چې وادهٔ ورله اوکړی - نو ځې دغه مرغه بیا دَ خپلو وزرو شی..
...... بس به نهٔ څهٔ خبره پرررچې والوزی ...... نواسے

مرجانې بېو .... او اے بد زبانه اُو بد مزاجه خوا ښيانو
بېوکانو! تاسو خرۀ پوئې شوې ..... - . خولې مولړې په واک
کښې کړې .... ژبې مولړې را قابو کړې ....
اُو په خپلو زړونو کښې دَ انړيانو و دَ يارۀ دَکرکې اُو نفرت په
ځائے مينه او محبت را پيدا کړې .... چې ستاسو
ژوند هم په آرام وې او دَ انړيانو مو هم .... اُوکنه دَ
خپل عادت نه منع نۀ شوې .... نو دا دُنيا به مو هم خرابه
وې اُو په هغه دُنيا به دَ دې بد کلامې اُو بد زبانې په وجه
دَ ژبو نه زوړندې يې .... بيا وهې جوتې، تا ته
زنګوته .... (خندا)

نانبائي

(خندا) زۀ هم خدائے شته چې بنۀ سودائي يم، ......
خاندې راپورې مه....... ريشتيا وايم درته..........
...... زما دا يقين دے چې زما دا سودائي توب به يوه ورځ ما
په چاباندې بنۀ خمبيره کړي. کۀ بنځو خمبيره کړم اوکۀ سړو......
...... (خندا) خو په بنځو مې دې خدائے پاک نۀ خمبيره کوي...
...... ځکه چې سړے يم کنه .... او سړے چې زنانه عالم
خمبيره کړي نو دَ پښتو په کتاب کښې دا ډېره دَ شرم خبره ده...
...... اوکۀ خدائے مکړه چرته سړو خمبيره کړم نو.......
...... هغه به هم دَ شرم خبره وي، خو دومره نه.........
خو بيا په دې زړۀ کښې وايم چې نه مرچکيه بنده، نۀ بنځې دومره
لېونۍ دي اُو نۀ سړي، چې تا به په ريشتيا ريشتيا اُو سپينو
سپينو خبرو خمبيره کوي....... خبرالله پاک مې دې دَ شرېا نو
دَ شر نه ساتي...... اُو دَ خمبيره کېدو نه هم.........
(خندا) خبره دَ خمبيرې راغله....... نو هغه ورځ يوازې
ناست وُم...... دَ پښو په سر...... مزکه مې کرُوله....
...... زما دا عادت دے چې زۀ څۀ سوچ کوُم، نو دَ پښو په
سر کښېنم او مزکه کرُوم....... هر څوکۀ دَ پښو په سر ناسته
دَ صحت دَ پاره مُضِره ده، خو زۀ دَ عادت نه مجبور يَم....

.... هغه متل دے چې .... هرڅهٔ بړو خو عادت نهٔ بړو .... نو ما هم ډېر کوشش اوکړو خو دا عادت را نه لا نهٔ ړو .... نو خبره مې کوَله چې هغه ورځ د پښو په سر ناست ؤم .... مزکه مې کرَوله اؤ سوچ مې کوَلو .... چې را شه مرچکيه نن خو دې بازار ته لاړشه، اؤ لږ د دې نانبايانو سېل وکړه چې دا ياران په څومره اوبو کښې دی .... په دې ښارکښې مې يو نانبائ دوست ؤ، چې په مَلک مشهور وو، .... او ښاريانو ورته "مَلک" وئيلو۔ دا ښاريان خدائے خبر چې څهٔ چل دے خو په دې "پېش" باندې ډېر مئين دی .... بخش ته به بخُش وائي .... بېټک ته به بېټک وائي .... ستېشن ته به ستېشن وائي۔ مَلک ته به مُلک وائي (خندا) مړه خو د زوَر او زېر غريبانانو سره خوئ سمه کلکه اوچه دشمنی ده .... نو سم د سحره روان شؤم۔ مَلک په دُکان ناست وو، سلام مې واچوَلو۔ مَلک سلام واخېستو، بره کړه اوشوه۔ مَلک ښهٔ غټ پټ سړے دے .... ډک وجود .... ښهٔ پلنه خېټه .... يو لنګ ئې وهلے وو او نور لکه د پښکال، د سنډا په خوَلو کښې جب جُوب ناست وو .... په خېټه کښې ئې د نوَم کوغالے دا سې ښکارېده لکه چې د خېټې په دې مېنځ کښې ئې چا د قهوې پيالۍ خښه کړې وی (خندا) خاندی مه ريشتيا وېم درته .... نو رُوږو د مَلک سره کښېناستم۔ ګپ موشروع کړو .... په دې کښې اشنا خپل شاګرد ته آواز اوکړو چې "اوئ بخُش اوړهٔ واغږه" .... او بخُش پا سېده و د اوړو بوجه ئې د غوږ نه اونيوه او په را ښکو را ښکو ئې د اوړو اَغږلو کنډال ته

يوړه ...... هر نانبائي په دوکان کښې يو لوئے کنډال جوړ
کړے وی .... دغه کنډال لکه د دوئي ښانک وی .....
...... خدائے مې دې غاړه نۀ نيسی خو هر يو کنډال چې يو
ځل خخ کړے شوے وی، نو بيا پکښې سحر ماښام اوړۀ اغږلے
شی، او نور مې يقين نۀ راځی چې په مودو مودو کښې پکښې چا
لاس وهلے وی (خندا) او و ينځلو نه ئې ضرورت څۀ دے
...... خو سحر ماښام پکښې اوړۀ اغږلے شی. او دا اوړه اغږلو
لوښے کۀ د اوړو نه ګنده وی نو دا څۀ بده خبره خو نۀ ده،
...... خير شاګرد چې د اوړو بوجه په کنډال کښې وراړوله
نو آشنا پرې آواز اوکړو، چې "ښۀ ئې اوخنډوه" ...... (خندا)
مه مه مه زوره وره ټولې خاورې دې ورسره ګډې وهلې، دا
دې څۀ اوکړه .... ملک مسکے غوندې شو او راته ئې په
سترګو کښې اووې چې آشنا دا خاورې ...... خاشې
او خزلې هر څۀ د دې اوړو سره اغږلے شی او دا خلق ئې خوري
.... هيڅ بلا ئې نۀ وهی (خندا) ...... خير بخش په
اوړو اغږلو شروع اوکړه .... يَه رُونو څۀ به ئې درته
اووَيم ...... چې هغه په کوم شان اوړۀ وا اغږل ......
کۀ تاسو ليدلے وے نو څنګه ببو به درته پاکه بی بی ښکاره شوې وې
...... تر دې څنګلو څنګلو پورې خوئې دا لاسونه په
اوړو لړلي وو ...... تروشکی ئې کول ...... آخ ټوخ
پکښې هم چلېدو ...... پوزه پکښې هم پاکېده ......
مړه خويوه لويه شرمندګی وه ...... زړۀ مې خولې له راغلو
..... خو څۀ مې وئيلے نشو ...... اووئيل به مې څنګه ......

کئ ځهٔ مې وئیلې وے نو خدائے شته چې مُلک دَ اوړو په کنډال
کښې زهٔ هم سرد لاندې پښې دَ پاسه اَپوټه اُو دَ ډُولے وے
.... (خندا) خیر اُوړهٔ واغږلے شوُل .... غرمه
شوه .... اُوړهٔ دَ کنډال نه په تخته واچولے شوُل ......
مُلک کښېناستو، تله ئې را واخسته اُو پېړې تلل ئې شروع کړهٔ.
.... دا نا نبایان همېشه دَ تول پارسنګ کاڼي پخپله جوړوی
(خندا) خدائے خبر چې په دېکښې ئې څهٔ مطلب دے نو....
.... خیر مُلک هم دَ کچه خښتې یوه کیتهه غونډی په
تله کښې واچوُله .... او پېړې تلل ئې شروع کړهٔ........
چې پېړې برابرې شوې نو مُلک راغلو....... تنور ته کښیناستو
.... په تندی ئې دواړه لاسونه کښېښودل اُو بابا کانو ته
ئې سلام اُوکړو....... بخُش پېړه راخسته اُو تنور کښې ئې
ورتپله....... چې لږ ساعت تېرېد و، نو نانبائي اشنا په
خولوکښې داسې جب جُوب شو لکه چې اوس دَ غُسل خانې
نه راوتے وی (خندا) ...... دَ تندی خولې ئې څاڅکې څاڅکې
دَ اوړو په پېړو راپرېوتې........ بخُش غریب زُکام هم
وهلے وو........ یوه پېړه به ئې چې پورې کړه نو بلې
لهٔ بهٔ ئې پوزه خواه مخواه سوُن کړُله....... او یو ځل خوئې
دَ پوزې نه یو نرے غونډې تار راروان شو اوبس دَ پېړې
دَ پاسه ترېنه دَ رامبېل چامبېل ګُل جوړېد و خو خدائے
خبر کړو........ (خندا) چې دا مې اوکتل....... نو
نور صبر مې اُونشو...... راپاسېدم سلام مې واچوُلو.
.... مَلک سلام واخیستو او راته ئې اُودې چې "په خدائے

مې سپارلې ئې" (خندا) هغهٔ زهٔ خدائې تهٔ اُو سپارلم اُو ما
هغه سُور تنورته اوسپارلو........ او په دې زړهٔ کښې
مې اُووَې چې اشناسوزېږه په دې اورکښې........ چې
په تاکښې صفائي نشته نو تهٔ به هېڅ کله دَ بنې ورځې مخ اُونهٔ وینې
کهٔ خبرې........ نو....... دغه حال دے زمونږ دَ بعضې
نیمو نانبایانو........ نو رُوڼو صفائي کېږدے شي. هر څهٔ
پاک صاف کېږدے شي خو که په مونږ کښې احساس را پېدا
شي. که زمونږ په زړونو کښې انساني همدردي را پېدا شي.
.... مونږ خو دَ دې خبرې قائل یُو چې "زمونږ دَ کورهٔ
وو ځه ہیځ ئې وو ځه"...... خو دا عادت ښهٔ نهٔ دے...
...... دَ دې هر څهٔ به زمونږ نه تپوس کولے شي.......
دَ دې هر څهٔ به مونږ خدائے له جواب ورکوو...... نو
چې هغه وخت مو بیا چینګه خولهٔ نیولې وی.........
نو دَ اوس نه خپل ځانونه دَ هغه شرمندګۍ نه ولې نهٔ خلاصوو
.... دا سې مو خوښه ده؟........ نو چې خوښه مو
ده نو را ځئ چې صفائي خپل یوا هم فرض اُوګڼو.........
او بیا لکه دَ مُلک په رنګ په پېړو باندې دَ رامبېل چامبېل
ګُلونه جوړوُو، پوئې شوې...... (خندا) .

خچنه ببو

"بیا دې کېږه کښې کوټې ورکړې دی ...... آی ته سر دې اوخرئیلے شه ، ستا د دې سرنه خوزهٔ په اور کښې ولاړه یم .... هره ورځ ستا د دې کېږې نه زهٔ چونګ سپږې اوباسم ، او بیا هم ستا دا ګنجے سر د سپږو نه پاک نهٔ شو ...... دې خوا راشه میرا ته چې وُې لېتوم درله" .... (خندا) مور ما شومه لور د مټ نه اونیوه او په راښکو یې د غولی مینځ ته بوتله ......
..... کښېنه دلته په دې مزکه .... ځوانی کوټې شې سم پرلت اوغزوه ، خهٔ د کمخواب جامې خودې نهٔ دی اچولې چې خیرنې به شي ..... د غسې" ..... (خندا) ماشومې په مزکه پرلت اوغزولو ، او شاته ورته خچنه ببو هم په مزکه داسې خوره وره کښېناسته لکه چې مزکه نهٔ وې سم قالین وی ..... خچنه ببو چې په مزکه ځنګه کښېناسته نو ....." وی ، دا خو جوړ میرات د چرګانو په غلو کښېناستم ...... بیخ د دې چرګانو ووځه ، په هرځائے کښې به دوې ګند کړے وی ، ځه چلیږه ټول پرتوګ مې پرې اولړے شو .... (خندا) خچنې ببو پرتوګ په مزکه راښکلو ، ځه چلیږه پاک صفا شو ، (خندا) مزکه نهٔ

ده سم دَ ډرائي کلينګ مشين دے .... دا غريبه هم داسې کوی .... کهٔ دَ قميص لمن ئې دَ سوټو نه ګنده شی نو هم په ديوال ئې راکاږی .... کهٔ دَ پرتوګ پينځه ئې ګنده شی نو هم په خاوړو ئې اُوچه کړی .... تاسو ئې لږ دې جامو ته اوګورئ .... دا ټول ټاکی ټاکی او داغونه داغونه .... داسې ښکاری لکه چې دَ چيټ جامی ئې اغوستې وی .... خو دا چيټ نهٔ دے .... ډيرې ورځې اُوشوې چې ښځې ښو دا جامې اچولې دی. دَ جامو خپل اصلی رنګ انګوری دے او اُوس .... ؟ اُوس خو سمې نسواری ښکاری .... (خندا) يره خوځهٔ اُوبهم نو، ډير خلق به داوائي چې يره غريبی ئې ده، صابون به ورکړه نهٔ وی، نو جامې ئې ځکه داسې دَ خيروړلمسے شوې دی .... خو دې خلقو سره زهٔ اتفاق نهٔ کوم، کهٔ چرې په چاکښې دَ صفائيه احساس وی نو هغه بې صابونه هم جامې وينځلے شی .... بې صابونه کهٔ جامې سپينې نهٔ شی نو دَ خيروړلمسے خو به هم ترې نهٔ جوړيږی کنه .... خير ښځې ښو دَ ماشومی لوَر دَ سرنه سپږې آهول شروع کړل .... سپږه راوُباسه اوُ په نوک ئې کيږده، بل ورله را خلاص کړه "ټق". سپږه راوُباسه دَ دوؤ نوکونو ترمينځه "ټق" سپږه راووځه "ټق" ترې اُوځه .... په يو ساعت کښې دَ سپږو قتل عام اوشو .... دَ مور نوکونه نهٔ وو دَ سپږو مقتل ګاه وو .... بې شميره سپږې راوُوتې اوُ دَ دوؤ نوکو ترمينځه

د نُوکُونو د پاسه ترمې ترمې لاړې .... (خندا) ده هر ساعت
تېرشو، د سپړو تهاربڼے نه وو، د موسیقۍ یو مست ربکارډ وو ....
ځکه چې مرغۍ به یو سر را پورته کړو نو ټمر د ښېرې سر له راغلے وو. یو ترق
ئې د ماشومې نه په دې کېږده اوو ښستو .... "پاسه میراته شې،
د اُوړو اخښلو راباندې ناوخته شو، ستا سپړې به خدائے خلاصې کړې
صبا له دې له د شمې به نه د سپړو دارُو اخلم چې سمه دې ېې غمه
کړم .... (خندا) .... مور را پاسېده د دُوړو ډکه لمن
ئې په کس لاس خندو هله .... نبغه لاړه کوټې ته د اُوړو
نه ئې شکرې را ډکه کړه، اُو غلبېل ئې پرې نسکور کړو. ښانک ئې
د چارګې نه راکوز کړو، او لاړه د چاتې سره نږدې د پښو
په سر به مزکه کېښناسته. لوټکے ئې د چاتې نه را ډک کړو په مزکه
ئې ځان ته کېښودو ...... شغه شغه شغه اُوړه ئې چاڼ
کړل. غړئې شُو چې لوټکے ئې په ښانک کښې را واړوُلو ....
وې دې خولاسُونه اُونهٔ وېنځل .... نه خدائے شته
که وُئې وېنځل .... اُودا دومره سپېږې ئې چې د نُوکُونو
لاندې چخښې کړې وې .... (خندا) څه یره سپړه
څهٔ ګنده یا پلیت څیز خو نهٔ دے. د بنی آدم د بدن وینه څښي
څهٔ د غاروی وینه خو نهٔ څښي چې ګنې پلیته شوه ......
خچنې به وچقه چقه، چقه چقه په هیبت هیبت اُوړه واغړل
.... ډډ ب شو چې په قُلبیه کښې ئې ورلړه کړهٔ. کړب
شو چې په قُلبیه ئې سر کېښودو. شړپ شو چې د ښانک اُوبهٔ
ئې په دېوال ور لړه کړې .... په بِسْمِ الله راپورته شوهٔ
او....... وې قرآنکو مالګه را نه هېره شوه، زهٔ هم ښهٔ

میراته یم۔ ورک زما دا دَ هیبت کارُونه شَه . . . . اُوس څهٔ اُوکړم؟ . . . . . . څَه بلا توره وریږي، نشتم پکښې اُوس مانګه کړلې وے دَاُوړو برخه مانګه به په کټوے کښې زیاته کړم، ټول پارسنګ به ئې برابر شي۔ (خندا) . . . . (آواز کوی) وَه میراتیه کوم خوا ورکه شوې کړی درنه پاتې شَه، دا مور دې دغلته په دغه طاخچه کښې کیښ ده۔ او لاړه شه څهٔ پترے مترے راغونډه کړه چې غرمې له پرې تنور لمبه کړم۔ ډکیډ وله یئ، نور دریاندې دَ چالاس نهٔ توریږی . . . .۔ ماشومې زر کړه په طاخ کښې کیښنوده، پوزه ئې په لستوڼي پاکه کړه اوٌ په یوه منډه دَ کوٹې نه اُووَته، او په څهٔ ساعت پس ئې ډکه غیږه پترے راوُړه.
. . . . . . ۔ چې غرمه شوه . . . . . . نو تنور لمبه شو، روٹۍ په تنور پورې شوې . . . . . . ۔ څهٔ اُومې څهٔ بخې راوُړولے شوې دَ چڼو دال ئې پخکړے وو . . . . دال څهٔ وو دَ مانګې درنګ وو . . . . . . په کنډول کښې دال او ترخ کښې ئې روٹۍ ماشومې لـه ورکړل، چې پلار یسې پټې نه روٹۍ یوړسی . . . . . . ۔ هلته کاغریب ډیر اُوږدے وو . . . . چې دَ لرې نه ئې ماشومه روٹۍ په لاس اُولیده، نو قلبه ئې اُودرَوله، غوایانو ته ئې موقے کیاه مخکښې واچوَله، او لاسُونه ئې په لمن پورې راښکل . . . . (خندا) څهٔ خیرن خونهٔ وُو، چې وینځلے ئې وے دَ خاوُرو نه کنده وو، نو خاوُرې څهٔ خراب خیز خونهٔ دے (خندا) بنیادم خو هم دَ دې خاوُرو نه پیدا دے، او هم دې خاوُروله به ځي، نو بیا دَ دې نخرو څهٔ ضرورت دے؟ . . . . ماما ډیر په طبَع دَ کیل دَ پاسه کښیناستو، کنډول ئې دَ پښو مینځ کښې کښېښودو . . . .

...... خو بیا ئې سوچ اوکړو چې ښنده ښځې خو ډېره ده، راشه یو څو گوټونه تر ېنه واخله....... اَو چې یو ښځه غټ گوټ ئې ترې واخستو، نو...... "آئے نه خدائے دَ دې ښځ اُوباسه، دا خو ئې دَ مالگې درنګ پخکړے دے. ېره ښځې چې تا سره زهٔ خهٔ اُوکړم. کله پکښې پوټسکے مالګه نهٔ وی، اُو کله دَ مالګې درنګ وی دا په خهٔ بلا اوړېدلے شم"........ شړپ شو چې کندول ئې په بله واړولو. او سپورې قوپالې ئې شروع کړې، چې په نمړه ئې شخوند اُوَهلونو......." دا څنګه چل دے، په روټۍ کښې خو هډو مالګه نشته،......... (خندا) یره خهٔ بد مې اُوکړل هغه ښځې مې هسې توئې کړه. کهٔ هغه مې نهٔ وې توئې کړے نو اُوس به مې پکښې روټۍ ماته کړې وَه. دَ روټۍ سره بهٔ دَ مالګې تول پارسنګ برابر شوے وو...... نو بیا؟....... زرزرې دَ بې مالګې روټۍ نه یو څو نمړی دَ حلقه تېرې کړې، اُوبهٔ ئې ورپسې اُوڅښلې او بیا په قُلبې پسې شو....... هَوُ شه بچې ...... کیل شه بچې .... (خندا) .... چې کاکا نمر پرېوانهٔ کورته راغلو..... نو دَ لوږې دَ لاسه ئې نظر نهٔ لګېدهٔ........ خپېنې ببوته ئې چُوکه اُو نیوه، اُو ښهٔ دَ لا دَه با دَه ئې اوو ېسته .... (خندا) اُو نو....... کاکا غریب گرم هم نهٔ وو..... ... تهوله ورځ ئې په نهَره کېږه ه قُلبه کړې وَه .... دے خولا خدائګو ښهٔ سړے دے، کهٔ دَ مرچکی غوندې دَتریخ طبیعت خاوند وے، نو خدائے خبر چې دَ ښځې سره به ئې خهٔ چل کُولو،........ نو دا موشوه مرغئ ببو، او دا ئې شوُل کارُونه .... دا خهٔ یوه ورځ نهٔ ده همېشه دغه قیصه وی....

...... هره ورځ دغه غوبل وی .... کله مانګه هېره..
.. کله مانګه دېره....... کله په کټوی کښې دومره مرچکې
چې دکور ټول بنی آدمان بیا شپېلی وهی - اوُ دَ کاکا غریب خوغاښونه
هم نِشته .... نو په دغه وخت کښې بیا دَ دهٔ لېده تماشه
اوکړی - هم شپېلی وهی اوُ هم ببوته په کنځلوسروی -
(خندا)....... کهٔ ښځې لږ فکراوکړی، لږ دَ احتیاط نه کار
واخلی، نو نهٔ به چرې مانګه زیاتیږی نهٔ به کمیږی، نهٔ به دَمرچکې
دَ لاسه ټول کور په ګډا سرکیږی....... آخر چې ښځه دَکور
اخلے بخلے هم په سمه طریقه اوُ نهٔ کړی، کورپه صحی طریقې سمبال نهٔ
کړی، نو یوې، جغ خو دا نشی کوُلے، ګود چاری دا نشی کولے...
...... پوُله پټی دا نشی سمبالولې، نو دا به څهٔ کوی......
..... دَدی بعضو ښځو نه خپلی ذمه واری ولې داسې هېرې
شوې دی- ولې دا حُنې ښځې داسې بې پروا شوې دی، ولې
په خاوند انو باندې داخپل ځانونه هروخت دَ ښځې نه زیات
سپکوی .... داګناه دَ چا ده .... دَ داسې ښځو اوکهٔ
دَخاوندانو؟....... زما په خیال خو ټوله ګناه دَ ښځو ده —
.... تاسو اووایئ ګنی زهٔ دروغ وایئم؟......(خندا)
نه خدا ئے راستی چې په روپۍ کښې شپاړس آنې ریشتیاخبره
مې اوکړه .... (خندا)

سَادہ گُل

هغه ورځ سَاده ګُل کاکا راغلو. بړه ګړه ئې راسره اُوکړل. کښیناستو

أو بیا ئې راته اُووې چې مرچکیه! ماوې هن قُربان! ....

"تهٔ پښتون ئې؟" اوُ شُکر دے پښتون یم ولې؟ ...." ماته خو

پښتون نهٔ ښکارې"........ ولې؟ پوزه مې د پښتنو نهٔ ده، مخ مې

د پښتنو نهٔ دے، سرمې د پښتنو نهٔ دے، ژبه مې د پښتنو نهٔ ده

آخرکوم هغه څیز دے چې هغه مې د پښتنو أو پښتونولې نه دے؟

.... ساده ګُل راته یَو ساعت په زُور زور اُوکتل، أو بیا

ئې اُووې چې مرچکیه په دې ربړه یو کښې پهٔ خپلې معاشرې پورې

خندا کانې مهٔ کوه، دا خپل ځان اُو خپل قام مهٔ سپکوه وَه. د دې

نورې دُنیا خلق چې دا ستا سپکې سپورې واؤرى نو هغوئې به

زمونږ په حقله په زړهٔ ونو کښې څهٔ وائې، زهٔ دا منم چې مونږ کښې

داځنې عیبوُنه شته، خو دا هر څهٔ د لاچارئ اُو مجبورئ نه دي

کني نو هر څوک د صفائیې په چل پوهیږي .... رخندا)

.... ساده ګُل کاکا! خو په ریشتیا ساده ګُل ئې کنه. وَه

کور آباد یه، لږ غوندې د عقل نه کار واخله. یَو پُوتسکے غوندې

دَسوچ نه کار واخله. یَو بکس غوندې د فکر نه کار واخله......

أو چې دَ دې ټولو څیزونو نه کار واخلې، نو بیا به په دې خبره

پوئې شې چې زما مقصد په پښتو معاشرې. پښتنو سړو یَا

پښتنو ز نانه وُ پورې خندا کوُل نهٔ دی۔ زما مطلب دَ دوئ اصلاح کوُل دی،........ تهٔ وے کنه چې کهٔ ستا دا خبرې دَ غېر قوم یو سړے واوُری، نو هغه به زمونږ په حقله څهٔ خیال کوی هن؟........ اوګوره کهٔ دَ یو غېر قوم سړے په خپلو سترګو زمونږ دا ناکړدې اُووینی نو بیا به څهٔ وائ؟........ (خندا) خاندی به را پورې کهٔ نه؟.......... بهرحال خندا خو په دواړه صُورته کښې شته، نو چې دَ دې خندا نه مونږ نشو خلاصېدے، نو دا ښهٔ نهٔ وی، چې دَ خلقو دَ خندا نه آګاه مونږ خپله اصلاح اُوکړو؟ یاتې شوه ستا دا خبره چې دا دَ پوهاړ توب خُویونه زمونږ په زنانهٔ وُ کښې دَ مجبورۍ نه راغلي دی........ (خندا) اُودا خبره دې منم چې دا هر څهٔ مونږ دَ مجبورۍ نهٔ کوُو، اوُ هغه مجبورې زمونږ دَ زنانهٔ وُ ناراستی، او پړسمن ولے دے نور هېڅ نشته.....
.... خو څه یره چې تهٔ پرې خفه کیږې نو بیا به زهٔ دا سې نهٔ وایم۔ خو........ ساده کُل ما ما زمونږ دَ مُعاشرې دا اصلاح به څنګه کیږی؟........ یوه طریقه ئې شته۔ را څهٔ تهٔ هم ښځې اُووَهه اوُ زهٔ به هم مَلا اُوتړم، چُوکه به په لاس کښې واخلم اوُ په دې ټوله علاقه کښې به کُوڅه په کُوڅه ګرزېږو دَ یو یو کور دروازه به ډبوُو۔ او دا آواز به کوُو، چې خوئندو ښېندو ایمانو نه مونصیب شه، لړل تپل مهٔ کوی، پواړ توب مهٔ کوی، څچن توب پرېږدی........
نو کهٔ زهٔ........ چا خمبیره کوُلم، نو چې تا خو هم لرېتیره کړی کنه۔........ (خندا) څنګه خوښه دې ده؟.........
چې نهٔ دې ده خوښه، نو په قلاره کښېنه ښه! ما خپل کار ته

پوهېږده ـ چې ستا دَ لاسه دَ ښځې یو کار نهٔ کېږی نو ما خومه منعې کوه کنه .... (خندا) .... ـ

هغه بله ورځ مې یَو دوست اُولیدو، داسې ښکلے نُوم ئې دے .... دهٔ بربنهٔ سړے دے .... هغه هم خدائے شته چې را ته کېله اُوکړه .... په دې زړهٔ کښې مې اُووې چې مرچکیه سم دم سړے وې، په قلار ژوند دې تېرَوُلو، دا په څهٔ بلا دې ځان وارَوُلو. هسې برناحق دې ځان ته مُچَی راوُپارَولې .... (خندا) یوه مُچَۍ راله په ژبه تَکَ راکوی، بله راله په سَر یَومې په پوزه بنګېږی، بله مې په غوږ .... هسې بنګار ے دے چې کېږ چاپېره رانه خېژی اُو زهٔ لکه دَ کوکوشتو کله یَو خوا توپ کله بل خوا توپ (خندا) دې اشنا را ته اُووَې چې مرچکیه خبرې دې دهٔ برې خوږې اُو دهٔ برې دَ مطلب دې، چې تهٔ لګیا ئې نو داسې خوږ راباندې لګې لکه چې یَو طوُطی لګیا وی اُو خوږې خوږې خبرې را ته کوی .... (خندا) خوروره! هر څهٔ چې، کوې کوه، منع کوُم دې نَه، خو خُدائے ته اُوګوره چې په دې مذهبی عقائدو کښې کوتې مهٔ وهَه .... دَ خلقو عقیدې مهٔ خرابَوه. .... دا دَ نُوم پرېوتو پحقله دې څهٔ وئیلی وُو. سرُوپ غلط اُو ناروا .... دا دَ توپو توتکو په حقله دې چې څهٔ غږَوُلی وُو، هسې بُوس دې دَل کړی وُو .... دَ زمانو راسې دا دُنیا راروانه ده، دغه نُومونه ئې هم پرېوځی ...... اُوَ دغه توپې توتکې هم کېږی. دا تهٔ پکښې لاکوم برې تولا راپیدا شوې، چې دَ نُوم دَ وجود نه دې هم انکار اُوکړو، اُو توپې توتکې دې هم غیراسلامی حرکت اُوبللو .... (خندا) واقعی چې بدخو

ي کړي دي . خوروره دا راته اُووايه چې چرته په يو مذهبي کتاب
کښې هم د نوُم د پرېوتو ذکر شته . بالکل نشته . يا چرته د طب په
يو کتاب کښې هم د نوُم د پرېوتو علاج شته .... ؟ بالکل نشته .
نو بيا .... ؟ .... پاتې شوه خبره د توبو اُو د ټوټکو ......
...... (خندا) .... نوروره دا مې اُومنله چې د ټانسلز يعنې د
غاړو علاج د کلي ببوګانې کولې شي .... د زيړې علاج کولې شي
...... اُو د داسې نورو څو مرضونو علاج به هم کوُلے شي ....
خو دا راته اُووايه چې د نرې رنځ د علاج د پاره تراوسه پورې څهٔ توبه
ولې را پيدا نهٔ شوه .... د ناسُور علاج په توبو ټوټکو ولې نشي
کېدے ، د زُکام اُو د پېچش د علاج ذريعه توبې ټوټکې ولې نهٔ شي کېدے
.... (خندا) بس صرف د زيړې اُو سورينې د پاره توبې شته ،...
.... دا د نورو مرضونو علاج به څوک کوي ؟ .... يره زهٔ خو
وايم چې د کلو دې زنانهٔ ولهٔ دې خدائے پاک دومره همت اُو برکت ورکړي
چې دوئ د هر مرض علاج په توبو اوکړېشي .... مونږ به هم د بلا
نه خلاص شو ، دې ترخو ترخو ګولو او داروګانو خو راله د خولې خوند
خراب کړو .... (خندا) داسې چل ؤو داګورے د وائي
خبره نهٔ ده بلکې حقيقت دے .... زمونږ به کلي کښې يوه ځوانه
جهانه ښځه وه .... دوه واړهٔ واړهٔ ماشومان بچي ئې ؤو....
.... خدائے خبر دے چې څهٔ چل ؤو خو د څو ورځو راسې
ئې په تشو کښې درد کېدو .... يوه ورځ ماځيګر کورناسته
وه .... په دې کښې چرته د بده شامته مرجانه ببو راغله...
..... "ولې بچيه ! ستا خو دا رنګ داسې اَلوتے دے ، خير خو به
يې ؟ .... ببو نهٔ پوهېږم چې څهٔ بلا را باندې شوې ده ،

خونن دوېمه ورځ ده چې په دې تشوکښې مې برېښ کېږي.......
"تشوکښې؟......... نه مرې قرانګو ښې چې پو ښتنې دې پرېوتې
دي....... ورشه د شرشمو تېل ترم کړه چې پوښتنې دې له پورته کوم
........"وی الله دې بدرنګه مه کړه، زه خو مړه شوم"........
نوردُو ښو تېل را واخستې شوُل، ترم کړے شوُل،......... ببو راغله
متهې ئې اُو نغښتې .... بابا ګان ئې راوُلېږ ذوُل........
لاسُونه ئې د شرشمو په تېلو غوړ کړل......... زنانه ئې د پښو په
سر کښېنوُله........ اوُ چې پښتو نه ئې ورته دا ګوتې ارمې کړې.....
.... نو د زنانه د خولې نه يو وائې اُوختل......... سترګې ئې
سپينې راوُوتې.......... د کورمالت ښځې راغونډې شوې.....
...... زنانه ئې په کټ کښې واچوُله......... څه ساعت پس ئې
د وينو اُلټې اُوکړه........ ټوله شپه ئې په اَلُون بَلُون تېره
کړه........ چې سحر له ئې هسپتال ته يوړه......... نو
ډاکټر ورته اُووې چې د دې تريخې چاؤدلے دے. لنډه دا چې
د هسپتال نه ئې مړه کورته راوُړه......... نو اے د سردار کړې
زوره! په دېکښې به اُوس ته څه وے..... ؟ ببو د خپلې ډاکترۍ
په زوريوه ځُونه ورانه کړه کنه. ... دوه واړه واړه ماشومان
ئې يسيران کړل اُوکه نه.......... ستا په خيال د غه ببو په چُونه
کښې سېزل ګنې نهُ وُو پکار؟......... نوروره! که د دې
د پاسه هم ته را پاسې اُو ما ته دا وے چې په داسې مذهبي عقيدو
کښې ګوتې مه وهه نو خفه کيږه مه، دا خبره دې نشم منلے.......
خدائے ته اُوګورې....... دا غلط خيالونه د زړه نه اُوباسه
.... دا غلطې عقيدې پرېږدې......... را شه سم پاڅه

څۀ .... کوی هغه وائي خدائے چې څۀ ...... شي مسلمانان
... کړي شروع عمل هغې په دی يُ کړی اوُ ، وائي رسول هغۀ د چې
هوَ لا سينه په عقيدې اُو نوُنه قانو کړی جوړ نو انسانا د ......
ضرورت کتاب د بل ته نو مونږ شته قرآن چې .... کړی
نۀ به پسې لاړو نورو په نو شته لارښودلې رسول د چې ، نشته
ژوند وسلم وآله عليه الله صلّى رسول د .... گرزو
څۀ هغوئ چې .... دے مثال يو ده نمونه يوه پاره د زمونږ
لارې دغې د کۀ اوُ .... کوی هغه .... وُو کړی
ارشد گُرزنه به ته ګړنګ داسې نو .... شوی لارې بې نه
نه، اوکه شوی پوئ .... لګی نۀ مو به تندے سر چې
.... نو پوهیږی نۀ هم اوس کۀ ....
(خدا) سوائ د خدائه به نور څۀ اوُکړم.
(خدا)

داناپوهي ده

خدا ئے خبر چې مونږ به کله پوهېږو........ خدا ئے خبر چې مونږ به دَ وهمونو اَو وَسْوَسو دَ دې دُنیا نه کله راؤځو........ خدا ئے خبر چې مونږ به دَ جهالت او ناپوهئ په تورو تیارو کښې ترکومه پورې تکرې خورو......... کله کله چې دَ خپل اُولس دې ناکړدو ته اُوګورم، نو خدا ئے شته چې ژړا راشي........ ته ګوره ورته چې زمونږ دَ باچامیر کا کا په مخکښې چې سحر وختی توره پیشو تیره شي، نو په هغه ورځ دَ هغه یو کار هم سمے نهٔ خوری. دَ غریب طبیعت ټوله ورځ خراب وی......... (خندا) هلکه باچامیره دا ولې؟......... دا؟......... دا ځکه مرچکیه! چې توره پیشو سپېره ده، اَو سپېرهٔ څیز چې دې سحر وختی په مخکښې تېره شي، نو خدا ئے راستی کهٔ راته دَ بنې ورځې مخ اُوویني، ټوله ورځ به تیندکونه خورې اَو سر تند ے به دې نهٔ لګي......... (خندا) څهٔ اُوَوائیم باچامیر کاکا، زما په مخکښې خو توره پیشو نه کهٔ تورسپے هم تېرشي نو څهٔ پرواه مې نهٔ وی......... دا ستا هسې وهم دے......... په اسلام کښې توره پیشو او سپینه پیشو نشته......... کلمه وایه اَو په غرخوورځه ورخېژه......... زما خو دا ایمان دے چې دَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه په برکت خو شیطان هم درته څهٔ

نهٔ شي وئيلے ـ پاتې لا توره پيشو او دَ هغې سپېرهٔ والے ....
باچا ميرکاکا تهٔ په خپله سپېرهٔ ئې چې داسې سپېره خيالات اوُ
سپېرهٔ وهمونه دې په زړهٔ کښې راځي .... توره پيشو
غريبه نهٔ سپېره ده او نهٔ توره بلا ده .... نه مره خدائے
راستي چې سپېره ده، تهٔ وايه کنه چې سپېره نه ده ....
خو سپېره ده .... او يوائځې زما دَ پاره نه، دَ ګلاميرپه مور
هم داسې چل کيږي .... (خاندي) يره څهٔ اووېم باچاميره
.... زهٔ خو وېم چې دَ ګلا مير مورکهٔ تورې جامې واچوي نو
هغه به هم سمه توره پيشو شي. بيا به څهٔ چل کوې ـ (خندا) باچامير
زما په دې خبره تندے ګنجي کړو .... اوُ ولې به ئې نهٔ
ګُنجي کوُلو، دَ ګلامير مور ته مې توره پيشو اُووې ـ (خندا)
يره خو ساده ګان به په دُنيا کښې ډېروي خو دَ باچا ميرکاکا نه
کم .... او دا ئې لا څهٔ کوې .... يوه ورځ ما سختن
هم دغه باچا مير راغلو .... تندے ئې پړسوُلے وو ....
.... راسره غم شو، ماوې چې جوړ کورې جنګ کړے دے،
دَ وړوکي دماغ خاوند دے، په نهٔ څهٔ خبره کټوه دُونيه له راخلاصوي
.... زړمې ترې تپوس اوکړو، چې خېر شه باچا ميرکاکا .....
وې: "خېر نه دَ هاتي سر" .... "دَ دې کارغهٔ جبان اوتسوم
دهٔ خونن مونږ په لوئے ډزکښې راوستو" .... (خندا) کارغهٔ
څنګه په لوئے ډز کښې راوستي؟ .... غوښه ئې درنه اوُتښتوُله
.... دَ صابون چکه ئې درنه په پنجو کښې يوړه ....کهٔ
پېره ئې درله توئې کړهٔ؟ آخر کارغهٔ څهٔ کړي دي ....؟
باچا ميرکاکا يو سوړ اسويلے اوکړو، اُو وې وئيل، نن سحر وختي

کارغان په بنېره ناست وو، قانړ قانړ یې کړل .... ماوې ښځې خدائے شته چې نن خو دې مېلمانهٔ راروان دی .... اومېلمانهٔ هم دوه درې نهٔ دی، بلکې ښهٔ ډېر دی، ځکه چې کارغانو ډېر شور جوړکړے دے .... نو بیا په کچه غرمه چې ورله اُوړهٔ آغږې اوکتهوې ورله پخوې، نوښهٔ به داوی چې دَ اوُس نه یوڅلورسېره اُوړهٔ را خوشتهٔ کړه اودَ قصاب نه دوه سېرهٔ غوښه واخله ..... نوکهٔ هرڅومره مېلمانهٔ راغلهٔ، بیا خېر دے، ......" اوُسړیه هسې داسې به کوُم، نن به ارمرو مېلمانهٔ راځی .... دَ کارغانو داچغې سورې هسې نهٔ دی .... زهٔ به اوُړهٔ خوشتهٔ کړم اوتهٔ لاړ شه دَ قصاب نه غوښه، اودَ هټۍ نه کچالان راوُړه"......... دَ کچالانو خو دې خدائے بېخ اُوباسی. کچالان هم لادَ خوراک خېز دے .... "ځَه چې کچالان دې نهٔ دی خوښ نو بیا آلوګان راوُړه". .... په آلوګانو دې کانې پرېوزی، زړهٔ خوېٔ راله سخاکړو"...... ......"يه سړیه داځهٔ دَ لېونو خبرې کوې، نو ځهٔ پکښې واچوُم." ځَه تهٔ آلوګان راوُړه مېلمانه به آلوګان اوُخوری اوتاله به یوه اَګۍ په ارکاړهٔ کښې اولړم .... (خندا) بس اَګۍ ښهٔ ده - زهٔ بهٔ دَ اګۍ سره روټۍ اوُخورم"....... "نومرچکیه اشنالاړم دوه سېرهٔ غوښه اُودوه سېره آلوګان مې راوُړهٔ .... دَ هلکانو مور څلورسېره اوُړهٔ واغږل .... زهٔ ترې لاړمه بېټهی ته .... غرمه چې کورته راغلم، نومېلمانهٔ نهٔ وُوراغلی. يه خدایه یاکه چې داځهٔ چل دے، کارغهٔ خوبه دروغ نهٔ وېٔ ویلي ...... مېلمانهٔ خوبه راځی ضرور .... خوکوره کهٔ مابښام له راشی .... کله کورته کله جُجرې ته .... مابښام شو، خومېلمانهٔ رانغلل، څلورسېره اوُړهٔ

لاړهٔ دَ غوا خوراک شو، او دوه سپېره غوښه او دوه سپېره آلوګان
صباله به ئې سحروختي که خېرې په ډېران واړه وُو......... نو مرچکيه
اشنا په دې کښې به تهٔ اوُس څهٔ اوُوائې؟.........(خانـدې)
په دې کښې؟......... په دې کښې خوږې دا زړهٔ والې چې کښېنم،
اوُ ستاسو دَ دواړو ښځې خاوند سرته ښهٔ ژړا اوُکړم........... آخر
تاسو بنی آدم يې کهٔ واښهٔ خورې........... موږ؟..........
"نه خدائے راستی چې سم دم دَ دوهٔو ښو او دوا ؤلاسونو بنی آدم
يوُ".......... (ښېښې) "چم دم دَ دوهٔو ښو بنی آدم يوُ........
يَه هلکه دَ خدائے په قهر واؤړېه، دا د ستا چاوټلی دی چې کارغهٔ
په بنېره قانّ قانّ اوکړی نو مسلمانهٔ به راځي؟........."پرېږده يره
مرچکيه تاهم دَ ځان نه ماشوم جوړکړے دے، تهٔ به وې چې ګنی هڅ ودَ
دې دُنيا سرے نهٔ ئې. دا خو ټولې دُنيا ته معلومه ده چې سحروختي
کارغهٔ په بنېره کښېني او قانّ قانّ اوکړی نو مسلمانهٔ ضرور راځي ــ
اوشوه دا به زموږ دَ تاوان قسمت راغلے وُو، ځکه مسلمانهٔ را نغلل
کني نو دا پخه خبره ده چې مسلمانهٔ راځي"......... بنه چې مسلمانهٔ
راځي". نو خدائے دې اوکړی چې صبا سحر له دې کارغهٔ بيا په بنېره
يَو ښو آوازونه اوُکړی. اوُ تهٔ بيا څلور سپېره اوُړهٔ دوه سپېره غوښه
او دوه سپېره آلوګان پله څهٔ کړې......... ستاګټه به هم دغسې په ډېرانو
سپی پيشوګان خورې که خېرې........

نورونو دا يوازې باچامير کاکا نهٔ دے، دَ باچامير رُونه نور
هم ډېر دی چې هغوئې هم توره پيشو سپېره ګنړی. اوُ دَ کارغهٔ آواز
دَ مسلمنو دَ را تګ ګوګوګنړی........... خو دا هرڅهٔ فضول
خبرې دی، فضول کاروُنه دی، فضول رسمونه اوُ وهمونه دی.

نۀ کارغه زبرګ دے، اُو نۀ هغۀ ته د چا د مېلمنو پخقله دَ غېبو علم شته .... راشئ دا خپلې عقيدې مو صحي کړئ، دا خپل عمل مو سم کړئ، وهمونه او وسوسې پرېږدئ، ګنې نو بټول عمر به لګه دَ باچا مير په شان تکرې خورئ .... کوم ځينې چې په اسلام کښې نشته، کوم کارچې دَ مسلمان دَ شان سره نۀ ښائي، هغه کارونه پرېږدئ ګنې نو هم به مودُ نيا خرابه وي اُو هم آخرت۔

(خندا) دېر روُنړه داسې هم شته چې دَ هغوئ دَ ښي لاس تلے اُو خارستيږي نو په زړۀ کښې خوشحاله شي چې ځه که خېرى دولت راتلونکے دے .... اُو دَ دې راتلونکې دولت په طمع دَ خپل جېب خوله پرانيزي، خرڅ له زور ورکړي۔ په فضولياتو شروع شي، ځکه چې دَ ښي لاس تلے ئې خارستيږي، دولت راتلونکے دے .... نو دَ راتلونکې دولت په طمع دَ خپل جېب دېواليه اُوباسي .... نور دولت هم رانه شي، اوچې په جېب کښې ئې څۀ وي هغه هم په ځوورځو کښې دَ خپله سره ځارکړي، او بيا؟ بيا ناست وي، اشنا دَ يو بل دَ جېب حسابونه جنګوي .... (خندا) يَه هلکه په ښکړه شئ دا په کوم کتاب کښې راغلي دي چې دَ ښي لاس دَ تلې خارښت دَ دولت دَ راتلو علامه ده .... مړه زما دَ لاسو نو تلي خو .... دَ لاسُونو څۀ چې دَ پښو هم، په دې مني کښې شپَه ورځې داسې خارښتيږي، چې په ګرَ وُلو ګوَ وُلو تړينه پوستکے لره کړم .... ماله خو هېڅرې هم دولت رانغلو .... نو نۀ پوهيږم چې زما اُو دَ خلقو په تلو کښې فرق دے، اُو کۀ په قسمتونو کښې .... رُونړو دولت په محنت ګټلے شي۔ په همت اُو زړۀ چاوُدون ګټلے شي .... راشئ همت اُوکړئ، ملا اُو تړئ، لکه دَ آزادو،

قامونو دا افرادو په شان محنت نه اُوېږه اړمه کړي .... د حلالو رزق اوگټهې او په نره پرې د آرام اوخوشحالۍ ژوند تېر کړي ...... د لاس خارخت ته مه گورئ ..... د خپلو مټو نه کار واخلئ .... دولت د لاس په تلی کښې نه ، د مردانو په مټو کښې دے .... اُوچې دکوم قوم د افرادو مټې مضبوطې وي ، هغه قوم په دُنیا کښې اُوچت وي ، نو مَوُړے وي ، ښاغلے وي .... اُو که چرې همت نشته وئ نو .... "خاوُرې به مو په سر او ايرې به مو په تو پل وي ......

(خـنـدا)

دا انصاف دے؟

(خندا) دا اُومې خندل ځکه .... چې .... خبره

دَ خندا ده ..... اَو خندا مې هم په خپل ځان پورې اُوکړه ....

اَو په خپل ځان پورې مې په دې وجه نهٔ دی خندلی چې کښې خُدائے

مکړه زهٔ دَ خندا خیز یَم .... نه خدائے پاک مې دې هیڅکله

هم دَ خندا خیز کوی نه .... ځکه چې که زهٔ دَ خندا خیز شوَم.....

...... نو بیا به راپورې ټول خلق خاندی .... اَو چې ټول خلق راپورې

خاندی نو بیا به زهٔ په زړهٔ کښې کچه کیږم .... اَو چې زهٔ کچه کیږم، نو کار نو

به ټول خراب شي .... (خندا) نو ځکه زهٔ وېرم چې نهٔ دې خدائے پاک

ما کچه کوی، اَو نهٔ دې خدائے پاک ټول کارونه خرابه وی ..... پرون

بیا زې ناست وُوم .... دَ فکرونو په ژور سمندر کښې غرق شو چې

ورغوپه شوَم .... سوچونه مې کوَل کوَل کوَل ...... آخر په دې زړهٔ

کښې مې اُووې چې مرچکیه! کهٔ چرې خدائے پاک په خپلو قدرتونو دَ بنی آدم

دا سترګې په تندی کښې خوله په زنه کښې اَو دَ سترګو په ځائے ورله دا

پوزه ورچسپان کړې وې نو بیا؟ .... (خندا) بیا به چې دا بنی آدم

څنګه ښکاریدو .... دَ تماشو یو خیز خو به وُو..... شکر دے

خدایه چې دا بنیادم خودې سَم دَم بنیادم پیدا کړے دے، اَو دَ تماشو

یو خیز خو دې ترې نهٔ دے جوړ کړے کنی نو ګُزاره به ډېره ګرانه

وه .... اے بنیاد ما نو رُوښو! تاسُو دَ خپل خدائے دې بې شمېره

مهربانو ته چرې فکر کړے دے؟ چې داخدائے پاک په دې خپلو بندګانو څومره مهربانه دے،....... (خندا) نه خدائے شته کهٔ چرې به مو په خیال کښې هم دا خبره راغې .... چې دَ خپل خدائے دَ دې بې شمېره مهربانو شکریه خوادا کړی .... رُونړو! خدائے پاک په انسان ډېر مئېن دے .... خدائے پاک دَ انسان سره ډېرې مهربانئ کړی دی۔ خو کاش چې انسان دَ الله تعالیٰ دَ دغه بې شمېره مهربانو شکریه خو پرېږدی چې هغه احساس قدر له خواوکړی .... نور به هر څهٔ پرېږدو .... یو عقل به واخلو........ آیا داڅنګ دَ الله تعالیٰ په خپل انسان باندې یوه لویَه مهربانی نهٔ ده.......... دَ دې عقل په زور انسان لګیا دے........ ستوری اُو سپوږمۍ رالاندې کوی .... په فضا کښې الوزی، په مزکه ئې حکومت دے .... دَ دې عقل په زور موټرونه اُو هوائي جهازونه جوړشوُل .... (خندا) کهٔ مونږ پورې وے نو خدائے شته کهٔ دَ خردَ سورلۍ نه موخبره ورمخکښې کړې وې.... ...... خو آسانه قیصَه وه هرچا به په خر لغتۍ اَړوُلې...... خرله به ئې په تشوکښې پُونده ورکوُله اُو چِقَه چِقَه به ئې کوُل ...... (خندا) یره خدائے شته چې خپل ځانی خومې دَ خرسّورلی خوښه ده اُو نهٔ مې بل خوک په خر سور خوښ وی .... هلکه سورلی خو هغه پکار ده چې سرے پرې دَ ستومانۍ اُو کړاوُ نه بچ شی .... نو دَ خر په سورلۍ خونهٔ څوک دَ ستومانۍ نه بچ کېدے شی اُو نهٔ دَ کړاوُنه .... چې په خپلو پښو مزل اُوکړې تو تشې پنډۍ به دې خوګېږی .... اُو چې په خر سورلی اوکړې نو دَ شپې چې په کټ پرېوزې نو هر اندام به دې کټ ته وائې چې" وَه قربان" .... هر اندام به دې زوبړګی اُو فریادُونه کوی..... توتې توتې اوذرې ذرې، به ئې .... (خندا) هلکه نو په داسې سورلۍ

خهٔ؟ پام کوه چې بیا په خر سوارهٔ نهٔ شې......... هسې هم چې داغسې
پټ سړے په وړوکي پچوني خر سوروي نو......... ماته خو خدائے شته چې
عجیبه غوندې ښکاري......... اُو دا ځنې نیم بني آدم خو دومره پرسمن
وي چې یو به ئې په خر خته اچولې وي اُو دَ ښځې دَپاسه به پخپله هم لکه دَ
بیزوګي اُوچت ناست وي......... یا به ګنے جوئي......... یا به ګنډ یري
کوټوي......... (خندا) خاندي مه......... دا دَ خندا خبره
نهٔ ده......... اے انسانانو روړو! .... اے بني آدمو روړو!
افسوس چې زمونږ دَ زړونو نه دَ رحم......... اُو همدردۍ جذبه
وتلې ده......... زمونږ په زړونو کښې رحم نشته ګنې نو به حیوان باندې
زیاتے کول هم دومره ګناه ده، لکه په انسان......... دَ حیوان سره زیاتي
هم دومره ناروا کار دے لکه چې دَ انسان سره زیاتے اُو ظلم ناروا کار دے
.... هلکه چې په خرهٔ دې خته واچوله نو کور آباد یه! خهٔ بالې به
خو دې نهٔ ماتیږي چې ته ورسره په خپلو پښو روان شې...... رُونړو به
خپلو زړونو کښې رحم راپیدا کړه چې خدائے پاک درباندې رحم اُوکړي به
خپلو زړونو کښې انصاف راپیدا کړه، چې خدائے پاک تاسو سره انصاف
اُوکړي......... تاسو چرې دا ګاډې والا لیدلي دي چې دوئ دَ خپلو
سنډاګانو سره کوم عمل کوي......... توبه خدایه توبه.........
انسان څومره خود غرضه دے......... انسان څومره سنګدله دے.
.... چې دَ خپل غرض دپاره......... دَ خپلې فائدې دَپاره دے
په یوې زبانه مال څومره ظلم کوي......... په یو ګاډي کښې به پنځهٔ
سوه منه لرګي واچوي......... سنډا به ئې په مخکښې اُوتړي.........
یو سړے به دَ کټ بازو په لاس دَ سنډا یو تښي ته اُو بل دَ کټ بازو به
لاس دَ سنډا بل تښي ته اُودریږي......... بیا به اُووهي.........

مّلا به په پټکی اوترړی .... (خندا) ته به وے چې د کشتۍ د پارۀ
میدان ته وړ کوزیږی .... سندا ته به آواز اوکړی "څه بچے ....
او د څه بچې سره درز درز .... یو ګذار به یو تشی، بل ګذار به بل
تشی .... سندا غریب حق حیران شي چې یه خدایه دا مې به څۀ
بلا سر شو، نۀ څۀ جرم او نۀ څۀ ګناه .... هسې برناحقه درز درز
.... (خندا) څه څه بچو ته به لا یوۀ شې .... ته خو هم
ځان نه سندا وے خو دا یاران به دومره نه کړ خیری به خو ورځو کښې سن....دا
جوړ کړی .... او ریشتیا چې یوه میاشت تیریږی نو د سندا د دواړو
تشو نه دا خرمن داسې الوتلې وی لکه د طبخی نه چې څوک تورکے راوګرځوی
.... کو نتې ئې لګیدلې وی .... ټول بدن ئې تغمې تغمې او
مورې مورې شی .... او په خو میاشتې پس د ځوان ځلمی غټ
پیټ سندا نه جانجو پانجو د هډوکو پنجره قصابی مال جوړ شی ....
قصاب دغه د هډوکو پنجره سندا واخلی .... بنۀ به مزه ئې
حلال کړی .... بیا خائسته د مزې ئې په مونږ خرخ کړی ....
او مونږ ئې بیا د قیمې کبابو او د غوښې په رنګ کښې د کومې نه ورستیر
کړو .... (خندا) دا دې شو د ګاډی والا سندا او دا ئې شو انجام
.... یه کور آبادو دا ولې؟ .... دا دومره ظلم ولې کوی ....
.... سندا چې بې ژبانه مال شو، نو ګنی بس هر قسم ظلم پرې روا شو، هر
قسم زیاتے پرې جائز شو؟ .... او ویریږی اے سنګدله مخلوقه
د خدائے د قهر نه او ویریږی ظلم مۀ کوی .... مۀ به انسان
او مۀ به حیوان .... سندا چې څومره پیټے اوړے شی، هغومره
ورته په ګاډي کښې اچوی .... سندا چې څومره پیټے راښکلے شی،
هغه پرې بارۀ وی .... د کوتک په زور به سندا پیتي مۀ اوړی.

...... دا ظلم دے .... اُو دَ ظالم انجام ډېر خراب وی .... ظالم به تول عمر خوار و زار وی .... ظالم به هيڅ کله په کښې ه مو ړ نهٔ شی .... دَ مرچکی صلاح وَه، نورهٔ ستا سو خپله خوښه .... اُولے دَ خرِ دَ سورلۍ شوقيا نو رُونهو .... په خر سوريدل په خپل ځان پورې خلق خندَوُل دی .... اُو بيا چې پرې لا ځتهٔ هم پرته وی ...... نو دَ ځتهې دَ پاسه سوريدل دَ بيزوګانو پېښې کوُل دی ...... (خندا) نو دَ ځان نه هسې خواه مخواه بيزوګان مهٔ جوړه وی ښه .... تا سو به هسې توقې کوی اُو کهٔ خدائے مکړه چرته ريشتيا بيزوګان شوی نو بيا؟ .... (خندا)

د روژه دار مقام

(خندا) اُو نو دَ تراوو نه پس نبغ لاړمه حُجرې ته ....
ماوې راشه مرچکیه بنده نن خو به دې حُجرې یوچکر اُوواهه ....
دَ کله راسې چې روژه شوې ده نو حُجرې ته دې مخ نهٔ دے وربنکاره کړے ...
.... راشه نن خو لږ اوګوره چې دَ حُجرې یاران په کوم چُرت کښې دی ....
نن صَبا په چاپسې دی .... نو روغوندې دَ کور نه مې مخه دَ حُجرې پَلوٗ کړه
.... چې دَ حُجرې په دُرشل مې قدم کښېښودو نو یارانو روژه غریبه راپرزَولې
وه .... (خندا) او یقین اوکړه چې دَ حُجرې ځوانانو روژه راپرزولې وه
.... چا به تربنه غوږ راښکلو .... چا تربنه پوزه .... چا به ورله
څنګل تاوَوُله اوُ چا پښه .... اُو چا ورله په تشو کښې سُوکُونه ورکوُل ....
(خندا) ولې؟ .... غوږ ورته کېږدئ .... "نهٔ مړه قسم په خدائے
چې حقه حلاله مویَوه خوړلې دَه .... دا میاشت وَه کهٔ سم شکوروو، ...
.... دَ ړومبۍ شپې میاشت هم چرې دومرهٔ اُوچته ولاړه وی .....
.... (خندا) او خدائے راستی چې حلاله روژه موخوړلې ده کهٔ
خوګ یې منی اوُ نهٔ منی .... څَه کهٔ خبری یوه مو په سر کښې اوخوړه
او یو به دَ اختر میاشت راوُخېژی له خېرهٔ په یو کم نو .... کلا بیَه
خو مره به پاتې شی کهٔ خېری .... اُو کلا بے تق تق چې په خندا شو ......
یار به روژه کوځے لګېدلے دے - مړهٔ چې بل پېر راځی نو کهٔ خېری ګرز
ګنبت کړې به مو وي .... (خندا) یوساعت ولاړوُم. دَ دوئ داتوقې

مي اوربد ي - دې ډېرهٔ خوراته وي چې راشه مرچکیه دا بې خبره مسلمانان خبرکړه، چې اے ناپوهه مسلمانانو خبریږه چې داستاسو د کومې میاشتې پحقله دومره د بېزارۍ دومره د ستومانۍ اودومره د نفرت اظهارکوئ؟ اے دغفلت په خوب اُوده ګړنوا .... اے د مذهب نه داسې مړ ورونو! .... دغفلت د خوبه راپاسئ - سترګې اُوغړوئ، سرونه را اوچت کړئ د الله تعالیٰ نعمت اُو عظمت د روژې په شکل کښې ترتاسو پورې رارسېدلے دے .... په دې غور اوکړئ - په دې کښې توبه اُوکړئ - د الله تعالیٰ اطاعت اوکړئ، د هغهٔ عبادت اوکړئ - هیڅ پته نشته هیچاته معلومه نهٔ ده چې راتلوُنکی کال به دا د برکتونو، دا د عظمتونو، دا د رحمتونو میاشت دا د زېرګو نه زېرګه میاشت زمونږ په قسمت کښې وی اُوکه نه .... ډېر روژدار به داسې وی چې راتلونکی کال له به ئې دا روژه په قسمت کښې نهٔ وی .... د رسول الله صلّی الله علیه وآله وسلّم ارشاد دے چې .... "ډېر داسې مسلمانان شته چې د هغوئ روژه صرف د لوږې اُوتندې نه زیات څهٔ حقیقت نهٔ لری.... .... ډېر داسې مسلمانان شته چې د روژې په میاشت کښې د هغوئ قیام د هغوئ اودربدل .... د هغوئ نمونځونه اُو نفلونه کول صرف د اودربدو نه زیات څهٔ حقیقت نهٔ لری، د ځان ستړی کوُلو نه زیات هیڅ نهٔ وی" .... نو اے مسلمانانو راشئ خپلې روژې سمې کړئ، خپل عبادت سم کړئ - هسې ځان مهٔ کړَوئ - هسې ځان مه ستړے کوئ .... روژه! دا چې مونږ ته یو لوئے بشکار، روژه! چې دا مونږ ته یو لوئے بیتجے بنکاری، د دې روژې په حقله الله تعالیٰ فرمائیلی دی چې زما بندګان روژه زما دپاره نیسی، اُوځکه به زهٔ د روژی اجرمسلمانانو له پخپله ورکوُم .... نو اے مسلمانانو دا چې تاسو کومه روژه نیسئ د دې اجر به تاسو د خپل خدائے نه خنګه غوارئ ....

...... ستاسو په دې بېکارې روژې الله تعالیٰ هېڅ کله نهٔ خوشحالېږي .... الله تعالیٰ څهٔ ستاسو د روژې محتاجه نهٔ دے، اُو نهٔ هغهٔ ته ستاسو روژه څهٔ فائده رسوُلے شي. د الله تعالیٰ مقصد د خپلو بندیانو ازمېښت کوُل دي، د خپلو بندیانو ایمانونه مضبوطوُل، د دوئ حوصلې او ارادې مضبوطوُل دي. اُوچې کومه روژه په دې مقصد اونیوې شي، په دې خاطر اُونیوې شي، صرف د الله دپاره اُونیوے شي، د الله د رضا دپاره اونیوے شي نو هغه په اصلي معنوکښې روژه ده، دغه روژه الله تعالیٰ ته منظوره ده. او هم د دغه روژې اجر به الله تعالیٰ پخپل لاس یعنې پخپل ځان مسلمان له ورکوي .... نو اے مسلمانانو ستاسو دا نهٔ ده خوښه چې هغه لوئے ذات پخپل لاس تاسو له انعام او اکرام در کړي؟ .... اے بدقسمتو د دومره لوئے انعام دپاره دومره معمولي تکلیف هم نهٔ شئ تېروُلے؟ دومره لوئے اجر دپاره دومره ناکام هم نهٔ شئ کولې؟ راشئ د الله تعالیٰ د رضا دپاره نفساني خواهشات شاته کړئ چې د روژې د اجر حقدار شئ .... راشئ د خوراک څښاک سره سره د دنیاوي خرافاتو نه ځان اُوساتئ چې الله تعالیٰ در له پخپل لاس د روژې اجر در کړي .... اُوکهٔ نه دا نهٔ شئ کوُلې .... کهٔ د نفساني خواهشاتو نه ځان نهٔ شئ ساتلے .... کهٔ دروغ نهٔ شئ پرېښودې .... کهٔ غیبت اُو پُوچ مجلس نهٔ شئ پرېښودے .... کهٔ د بد وچار ونه لاس نهٔ شئ راښکلے نو بیا؟ .... بیا داسې روژه، روژه نهٔ ده، بلکې د ماشومانو اُو ناپوهه خلقو یو شُغل دے .... یو داسې شغل، یو داسې کار، چې سبا د تکلیف او سبا د کړاؤ نه نور هېڅ حقیقت اُو هېڅ اهمیت نهٔ لري. نو اے زما مسلمانانو رونړو! دا روژه دومره سپکه مهٔ ګڼئ .... روژه د برکتونو میاشت ده، د

عظمتونو میاشت دَ رحمتونو میاشت ده .... دَ الله تعالیٰ په بې شمېره نعمتونو کښې یو لوئے نعمت دَ رمضان دا برکت ناکه میاشت ده. ځکه چې په دې میاشت کښې دَ الله تعالیٰ دَ رحمتونو دروازې پرانستے شی. په دې میاشت کښې سوالونه قبلیږی، په دې میاشت کښې ارمانونه پوره کیږی. په دې میاشت کښې مرادونه ترسره کیږی .... او په دې میاشت کښې بیا بیا دَ الله تعالیٰ دَ طرفه دا اعلان کیږی چې اے مسلمانانو غواړه څهٔ غواړه چې زهٔ ئې درکړم. وایه! څهٔ وایه چې زهٔ ئې پوره کړم.. .... خو ارمان چې مونږ په خپلو ځانونو کښې دومره ځلے پیدا کړو....... ارمان چې مونږ په خپل اسوېلی کښې دومره اثر خو پیدا کړو .... ارمان چې مونږ صحی مسلمانان شو، ارمان چې مونږ صحی روژه دار شو.......... نو زمونږ ټول ارمانونه به پوره شی. زمونږ مرادونه به ترسره شی. مونږ به الله تعالیٰ ته نزدې شو، او چې څوک الله تعالیٰ ته نزدې شی........ ټول کائنات به هغهٔ ته رانزدې شی. ټول مخلوقات به هغهٔ ته رانزدې شی .... دا کاڼې دا بوټې، دا وُنې داغنې، دا هرڅهٔ دَ دغه انسان احترام شروع کړی .... نو اے مسلمانانو! دغه مقام ته رسېدل څهٔ ګران کارنهٔ دے. څهٔ ناشونې یا ناممکنه کارنهٔ دے .... راشئ صحی مسلمانان شو .... په صحی لاره روان شو .... زړونه صفا کړو، بس دغه معراج ته دَ رسېدو دا یو ذریعه ده .... او راځه چې ټول په شریکه اُووایُو چې اے دَ رمضان میاشتې سلام دې وی په تا. اے دَ قرآن میاشتې سلام دې وی په تا .... اے دَ رحمتونو...... .... اے دَ عظمتونو میاشتې سلام دې وی په تا......... اے دَ امان میاشتې سلام دې وی په تا ځکه چې ته ګنهګاران دَ ګناه

نه منع کوي- اُو دَ پرهېزګارانو أو عابدانو ملګرے أو غمخواره ئې.....
...... سلام دې وی په‌تا رحمت دې وی په تا........

تاسو به وائيه چې مرچکيه حُجرې والهُو ته دې هېڅ اُو نهٔ
وے........دا دومره لوئے تقرير دې چې د ځان سره کوُلو، نو
لږ په اُوچت آواز به دې کړے وو، چې هغوئې هم اورېدلے وے
.... (خندا) اوُ بنهٔ مواُووې خوهغوئې د روژې
په کوښمال کوُلو داسې اَخته وُو چې زهٔ ئې هډو ليدم نه، نو
او شوه زهٔ هم تر بنه دغسې چپه خوله را روان شوُم.........
اوُدَ حُجرې والا مې قرآنو نه په ترخ کښې پرېښودل- په نهٔ خُټهٔ
خبره قسم، اوُ ورسره سمدستي مادې قرآن اُووَهی.......
.... يره خو......ـ . (خندا)

قربانۍ

(خندا) ...... چړې دي چې تېرېږي .... چاقوان
دي چې تېرېږي .... تبرګي دي چې پسېښېږي .... او
کوډې دي چې صفا کېږي .... (خندا) وړه نو دا
لوی اختر له خېره نه دے راروان .... زمونږ نو
ورته دا سترګې څلورې شوې ... . نو د خدا ے د نامې
نه ځار شم، چې هغه ورځو کے اختر هم دا سې په شوانخون
راړسېږي چې زمونږ ورپسې ژبې شي .... او بیا
دا لوے اختر هم دا سې په پایلي پل راروان وي چې زمونږ
ورته کتنه شي .... (خندا) خاندۍ مه ریشتیا وایم
درته .... د ټولو خلقو ورته کتنه شوه ....
اول زما .... او بیا دا پسې د بل ...... تاسو به وایئ
چې مرچکیه الله مه کړه ..... دا په لوے اختر کښې څه
چل دے چې زمونږ ورپسې ژبې کېږي ؟ (خندا) ګورے
مه کوئ کنه! هر چا سره پنځ څو مرچکي سره څو نه پنځ
کنه ...... مرچکے څو پوۓ دے .... چې وړوکي اختر
ته ځکه خوشحالېږو چې د دوژو او تراوۍ د بیګار نه خلاص
شو.... ... او لوے اختر ته ځکه خوشحالېږو چې د
قربانۍ غوښې لږې په مړه ګېډه وخورو ....
نو ځکه څو په هر کور کښې چړې او تبرونه د کوټي د

کوټونو ته میدان ته راووتل ...... څوک تړي نه په
ټیکري او څوک تړي نه د څپیاکې په توتني زنګونه لوي
کوي ...... د څپیاکو دګواټې لاندې کوړې پرته وه
...... هغه هم میدان ته راووته .... دهغې هم
خداے واورول .... شوړې دي چې کوړو ته
نیولے شوي دي ...... اوبه دي چې په کوړو اچولے
شي، خیرې اوګدونه دي چې د کوړو نه اخوا کولے شي
...... د اختر تر ورځې پورې به کهٔ څیرې دا چړې چاقوان
داسې سپین راوځي، لکه اَن چې نن د کارخانې نه راوتلي
وي ...... او کوړې به هم په هره ورځ لمبا او سرځنې
داسې وېږقینږي لکه سپینه شلانه ...... (خندا) ځه
بنهٔ ده یره چې په کال کښې یو ځل خو ددې چړو چاقوانو
او کوړو هم خداے پاک واورې ...... کهٔ د قربانۍ اختر
نهٔ وے نو چړې چاقوان به زنګونو او کوړې به خیرې
او ګدونو خوړلے وے ...... نو خبره مې دا کوله چې
په هر کور کښې د قربانۍ د غوښې د پاره بند وبستونه
روان دي ...... ډېرو ورونو خو ورته داوس نه دَ
غوښې خوراک پرېښودے دے ...... دا ختر نه یوه
هفته مخکښې د غوښې خوراک بند ...... ځکه چې دَ
قربانۍ غوښه لږه په خلاص متې وخوري ...... (خندا)
زبرګه غوښه چې څومره زیاته وخوړے شي نو هومره ثواب
دے ...... او د ثواب کارونو پسې خو هغه د چا خبره چې
زمونږ ژبې شوه ...... خېر سر به موځۀ خوږوم ......

نو کښې به څو ورځې پس به اختر راشي ...... څوک به غوا،
څوک به مېښه څوک به کډه یا کډوره قرباني کوي .... دَ
قربانۍ طریقه دا ده چې غوښه به د الله په توره درې ډېرې
کوي .... یوه ډېره د ځان .... یوه ډېره د خپلو
خپلوانو .... او دریمه ډېره د همسایه ؤ او غریبانانو....
... وېش به په دې طریقې سره کوي .... تقسیم به په دې
تول کوي .... په دې کښې به نهٔ کمے وي او نهٔ زیاتے...
.... خدایګو چې ډېره آسانه طریقه ده .... نهٔ په کښې
څهٔ کړچ شته او نهٔ په کښې څهٔ کړوچ ......(مُسکا) مونږ هم د قربانۍ
غوښه درې ډېرې کوؤ - یوه ډېره سوچه سره غوښه چې هډوکے په کښې بالکل نهٔ وي .....
... دویمه ډېره بوټۍ بوټۍ د نلو نه ډک .... دریمه
ډېره چرړي مرړي، جلي ملي، کلمې او پښتوجې وغیره د
وغیره (خندا) تاسو به وایئ چې هلکه دا دریمه ډېره
چرړي مرړي ...... جلي ملي او کلمې پښتوجې وغیره ولې
...... بس! دا د ولې تپوس زمانه کوئ؟ .... لږ په دې
خپلوګو بوانو کښې څو سربسکتة کړئ ...... بسکتة مو کړل؟..
.... اوس ماته غوږ کېږدئ .... اوس مرچکې ته
غوږ کېږدئ .... دا ورو مېنے ډېرے چې د تکي سره
غوښي نه مو جوړ کړے دے ...... دا زمونږ خپل دے...
.... دې نه څهٔ څو به شي کباب .... څهٔ به شي قیمه
...... او څهٔ به شي نسره کړي .... (خندا) دا څو دي
شو ورو مېنے ډېرے .... دا دویمه د نلي د غوښې ډېرې
.... دا هم زمونږ خپل دے .... دې کښې به پولاؤ پخوو

...... دنلي دغوښې پولاؤ .... پره ځو ډېر خوندکوي نو ......
(خندا) پاتې شو دا دريم ډېرے .... نو دا دريم ډېرے شو
د غريبانانو مسکينانو .... او نو د قربانۍ غوښه ده ....
.... د خدائے په نامه ځو هم پکښې څه ورکول پکار دي کنه ....
... نو دغه چېرې مرړې مونږ خلق د خدائے په نامه په
غريبانانو مسکينانو تقسيم کړو ،...... څه چلېږه قرباني
وشوه .... تقسيم اوشو څومره د انصاف تقسيم دے ....
... تقسيم ځو داسې بويه لکه چې مونږ خلق د قربانۍ غوښه
تقسيموؤ .... په ورځو ورځو لګيايو بيا د قربانۍ غوښې
خورو .... په ورځو ورځو لګيايو بيا د قربانۍ غوښې
ځوؤ ... . بويونه راکوه اوکړي ځو چاله ئې ورکوونه
...... (خندا) وئې نو خپله برخه څنګه چاله ورکړو، پام کوئ
چې ګورے خپله برخه چاله ورنۀ کړئ بسه ! .... او ايمان
مونصيب شه .... نو رونړو دا شوه زمونږه قرباني...
.... اودا شو زمونږ تقسيم ... . په نيک بختانو ......
په مسلمانانو ... . په تاسو ته خدائے پاک هدايت اوکړه
.... نۀ پوهېږم چې دا تاسو خپل ځان له دهوکه ورکوئ او
کۀ نه نعوذ بالله خدائے پاک له دهوکه ورکوئ ...... زما په
خيال ځو دا بالکل دهوکه ده .... ټول چل ول دے ....
هسې بل ته په سترګو کښې خاؤرې اچول دي .... ګورئ دا
درې ډيرې به داسې نۀ جوړېږي ... . ځان له به پکښې
د کبابو د قيمې او دورېڅو غوښه نۀ بېلوي ...... غوښه
به د الله په تورَه ... . بالکل برابره ...... په پوشان

او يو رنګ ډېرې کوئ ...... که فرق پکښې وي نو داسې شو
لکه چې تاسو د بل حق اوخوړو، غلا مو اوکړه، دا داسې شو
لکه چې تاسو د غريب مسکين سره زياتے اوکړو، ظلم مو اوکړو
...... نو روښو په خپل مال باندې ځانو نه مهٔ غلهٔ کوئ ....
په خپل مال باندې ځانونه مهٔ ظالمان کوئ ... ... د غريب
مسکين برخه کوئ، خو د چړو په شکل کښې نه - غريب
هم انسان دے نو انسان له د سپو د خوراک څيز مهٔ ورکوئ
دا څو خېرات دے دا څو د الله په نامه ورکړه ده، نو د الله
په نامه کښې صرف خراب او ردي څيز قربان کولے شي، نه! ....
د خدائے د نامې نذرانشم مسلمان څو د خدائے په نامه د سر
قربانۍ ورکولو نه دريغ نهٔ کوي نو بيا دا غوښه دومره
انجروت شو، چې تاسو ئې اوس د خدائے په نامه ورکولو
کښې دومره شومتيا کوئ ...... رختيا) انصاف دارو دا څو
داسې شوه لکه چې څاروے د ځان د پاره حلال کړئ او نوم پرې
کيږدئ د قربانۍ ...... نو ستاسو څهٔ خيال دے چې خدائے
پاک ته نهٔ ده معلومه چې مونږ غريب مسکين له پاتې شوې
غوښه د هغهٔ په نامه ورکوو؟ ...... راشئ دا د نامې
قربانۍ پرېږدئ ...... او د خدائے په نامه غريبانانو
له د ګټو او پترو جو په ځائے ښهٔ ښائسته غوښه ورکړئ
..... لکه څنګه غوښه چې ځان له ساتئ ـ
داسې غوښه غريب مسکين له هم ورکوئ ......
.... چې ستاسو خېرات د ريښتونو خېرات شي ـ او د

خدای په درګنبې قبول شي ...... پاتې شول چې چا قوان

او کوړې ؟ ... . (خندا) نو ددې نه مو نن هیڅ کوم

...... شابې زور ورکړئ چې چړې چا قوان ویړقوئ

...... کوړې او قیمه کش وځلقوئ نو د څپیا کې

په توتنی نه ...... ځکه چې څپیاکې پلیته ده .

(خندا)

وهمونه

(خندا) .... راشه کنه .... اوس ده نه هم ګډېږي
.... دے لا خان ته باچا میروائي .... (خندا) پره خو..
.... ارمان دے نو څه ابه، چې پاڅه نه وے او پا ....
زه نه وے .... څکه چې اوس دا خو ښم وښلې چې پاڅه نه
وے او پا باچا میر نه دي .... کنه داسې مې اوده، نو باچا میر
کاکا مې اوس د دي چنغرک نه نیسي. نو ده نو، دا زما چنغرک
خو هسې هم نرے نروچکے دے د باچا میر سوهاري سوهاري ګوتې
په ټې راته د ستر ګو په رپ کښې مجوتي کړي (خندا) او زه لا د دې
خپل نرې نروچکې چنغرک مجوتي کېږي د نه تیارنه ئم، څکه چې لا
خوږې ډېر کاردونه په سر دي. لا خو هغه د چاخبره چې په سپېږ
کښې مې بوتۍ هم نه ده رېښلې. خلق خو چې لسو ته پرس وائي
نو هم په لعد کښې نوب وهلو ته تیار نه دی. او زه خو لا شکر دے
د ځلو پښتو هغه بوړکه مې هم لا نه ده پورې کړې .... لا خو
څوان ځلے یم .... او د څوان سړي په سر تربوده توب پورې
ډېر کاروکه او ډېر منډونه پړانه دی .... (خندا) تاسو به وائي
چې مرچکیه ورک دې دا ناکاره عادت ئے، چې د نه څه خبرې
نه په د پوندالی قیصه جوړه کړم، او خواه مخواه به پرې خلقوله
زېه کړې .... نو زېه مو خدائے مکړه ژوبل، زېه مو د

دُښمنانو شه ...... دا سړې سړې او پرېکړې پرېکړې خبرې زما عادت دے نو .... زهٔ خهٔ اُوکړم، لکه چې هر سړے دَ خپل عادت نه مجبورهٔ وی، داسې زهٔ هم مجبورهٔ یَم کنه ...... کهٔ دَ چا کنډه کیږی اُوکهٔ ژبه کیږی یُ، خو زهٔ به خبرې سړې سړې کوم ...... پاتې شوه دَ کنډې اُو دَ ژبې خبره؟ ...... نوشُکر دے کهٔ په هرکندی کښې نهٔ وی نو په هر کلی کښې خو یوه ښو داسې ضرور وی، چې دَ ژبې اُو کنډې ماتولو سند یافته وی .... یوازې کنډه ماتول یُ خهٔ کوی .... (خندا) دَ ټانسلز اپرېشن خو ورته داسې آسان وی چې دَ جرنیلی هسپتال په ډاکټرانو پورې خنداګانې کوی. ټانسلز خو به پېژنئ کنه؟ ...... هغه مونږ کلی وال خلق چې ورته هډی وایُو .... اُو دَ زیړی علاج؟ .... (خندا) مړوخو .... خهٔ به موسر خُوږَ وُم .... دَ زیړی علاج کوی ...... دَ نذرماتی ټکټه ورله ورځي. دَ نوم پرېوتو علاج کوی .... (خندا)

دَ نوم پرېوتو خبره مې اُوکړه .... نو خدلئے شته چې کله کله خوراله ډېره خندا راشی، چې دا غټ پټ دَ هاتی همره سړے به وی، اُو بُوړی بُوړی به چرته په حُجره، جُمات یا لاره کُوځه کښې پروت وی یا اُو یَو سړی به ورله دَ کښې پِه دې کو غالی کښې شوک ورمنډه وی .... اُو زُورُونه به پرې کوی. .... دے به ورته کله سترګې پټې کړی، کله به ورته تندے ګُنجې کړی، کله به ورته په زبېرګو سرشی، اُو چې دے په زبېرګو سرشی، نو دَ دم والا دَ مُونو له زور ورکړی، چې کهٔ خبری نوم مې درله رالاندې کړو. (خندا) .... یَه نېک بختانو دا خهٔ کوی، دا په خهٔ بلا اَخته

بېره - کۀ درته اُووايم چې نُوم مُوم هېڅ نشته، دا هسې دَ خلقو وهم دے نو اُوس به راباندې دَ کُفر فتوىٰ اُولګوه . . . . . . خو فتوې مټوې راباندې مۀ لګوه - اُو يقين اُوکړه، چې دَ طب اُو ډاکټرۍ په کتابونو کښې دَ نوم پر بوتو هېڅ ذکر نشته، ګني لاړ شه، دَ ډاکټرانو تپوس اُوکړه - اُو دَ ډاکټر نه څۀ دَ ډاکټرانو نه تپوسونه اُوکړه چې هغوئې درته څۀ وائي - دا صرف او صرف دَ معدې خرابتيا سره تعلق لري . . . . دقه تهوقه به مو ما هم کېده . . . . . . (خندا) چتاکه خېز به مې چې پورته کړو، نو يو ترق به شو، او بيا به کورته په ځلور بولى راتلم - . . . . اُو چې تر څو پورې به راله ګډه ماما ګانې نۀ وې چاپې کړې، تر هغې پورې به نېغ نه شوم . . . . . . آخر چې ډېر تنګ شوم، نو يوه ورځ هم داسې کوښتى کونتى اُو په زبېرګو زبېرګو ډاکټر له لاړم . . . . ډاکټر چې زما حال ته اوکتل نو اُوچت راپاسېدو، . . . . "خبر شته مرچکيه څۀ چل دے"؟ . . . . (زبېرګى) وائي ډاکټر صيب مړ شوم - نوم مې پر بوتے دے څۀ داسې دارُو راله راکړه چې دَ دې بلا نه خوخلاص شم" . . . . (خندا)، ډاکټر تق تق چې په خندا شو . . . . . - "يره خو رېښتيا چې مرچکے ئې نو" . . . . "ډاکټر صيب مرچکے خو يم، ولې تۀ راکښې شک کوې څۀ؟ . . . . ډاکټر پاسېدو، يوه سپينه پوړۍ اُو دوه ګولۍ ئې راله راکړې، اُو راته ئې اُووې، چې څۀ مره، نُوم مُوم هېڅ نشته، معده دې خرابه ده . . . . دا دارُو اُوخوره ټيک ټاک به شې . . . . اُو واقعي چې هغه دارُو مې اُوخوړل نو ټيک ټاک شوم، اُو تا سُو يقين اُوکړه چې دَ هغې نه پس بيا چرې زما نُوم پر بنو تو . . . . ځکه چې زما دا يقين اوشو چې نوم پر بوتل هډو شته نۀ، چې يو خېز وي نۀ،

نو دَ پرېوتو ئې هډو سوال نۀ پېدا کېږي (خندا)

نو رُوښو خدا ئے ته اُوګورئ ځانُونه مُه د خندا کوئ ...... ګورئ؟ زۀ درنه يو تپوس کوُم .... دا انګرېزان چې وُو، نو دوئ زمونږ په دې علاقه باندې څومره موده حکومت کړے وُو؟ .... په سوُونو کاله کنه؟ .... اے ښه! نو په دې سوُونو کلونو کښې چرې تاسو يو انګرېز هم داسې ليدلے وُو، چې هغه خرانګې ورانګې پخپله بنګله کښې پروت وو، اُو بل انګرېز ورله د ګېډې په کوغالي کښې اُوړۀ اغږلي وو- (خندا) خانده مۀ رېښتيا وېم در ته .... انګرېز موچرې په دې کار نۀ وُو ليدلے کنه؟ ...... اے ښه چې انګرېز مو نۀ وُو ليدلے .... نو څۀ چل دے، د انګرېزانو ګېډې نۀ وې اُو په دغو ګېډو کښې د هغوئ نُومُونه نۀ وُو؟ کۀ هغوئ هم لکه زمونږ په رنګ انسانان وُو، کۀ هغوئ هم لکه زمونږ په رنګ ګېډې لرلې، او په دغه ګېډو کښې هغوئ هم لکه زمونږ په رنګ نُومونه لرل نو بيا د هغوئ نوُم ولې نۀ پرېوتو؟ .... ولې غلي شوئ؟ جواب راکړئ کنه؟ .... يۀ نېک بختانو سم دم مسلمانان يئ اُو په وهمونو وسوسو کښې پراتۀ يئ ...... نومُونه ستاسو پرېوزي (خندا) .... غېب عالم په تاسو کښېني ...... (خندا) ښه خدا ئے رُوئ اُومنه اوُس د غېب عالم د انسان سره څۀ کار دے؟ .... غېب عالم د انسان نه څۀ غواړي ...... ګورئ الله تعالیٰ انسان اشرف المخلوقات پېدا کړے دے .... يعنې د ټولو مخلوقاتو نه افضل، د ټولو مخلوقاتو نه اُوچت اوغوره .... نو دا اشرف المخلوقات، دا د الله تعالیٰ اُوچت اُو افضل تخليق دومره را پرېوتو، چې دے اوُس د غېب عالَم د وېرې د شپې د کوره نۀ شي وتے، يا غېب عالَم هر وخت دۀ ته په مرګه غلے وي، اُو دے ئې بې وسه،

بې کسه کړے دے .... رُوږدو، زهٔ دا نه دومره قدرله تپوس کوُم، چې نَعوُذُ بالله زمونږ په پېغمبر صلّی الله علیه وآلهٖ وسلم چرې غیب عالم ناست وُو، اے څهٔ هغه لوئې هستی به نهٔ یاد وُو........ په حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنهٔ په حضرت عمرؓ یا په خلورو یارانو کښې په بل یو خلیفه چرې غیب عالم ناست وو، .... یا هغوئ به هم پرېږدو، .... وروستو داسې راځو مخ په ښکته تر تابعینو تبع تابعینو پورې .... زما په خیال چې په احادیثو کښې، په تواریخ کښې، په روایاتو کښې، په کتابونو کښې چرته هم داسې څهٔ ذکر نشته چې غیب عالم راپاسېدلے وی، اوُ دَ اشرف المخلوقات په مرې باندې غلے شوے وی، الله مې دې په دې مثالونو غاړه نهٔ نیسی، الله مې دې په دې گستاخئ نهٔ گنهگاره وی. اوّل خو ما څهٔ گستاخی نهٔ ده کړې اوُکهٔ گستاخی مې کړې هم وی نو زهٔ دَ خدائے نه معافی غواړم، او زما دَ دې گستاخئ ذمه واری داسې دَ کمزورې عقیدې په خاوندانو باندې راځی........ چا چې دَ اسلام اوُ مسلمان نه هم دَ ختمې یو کوکوشتو جوړ کړے دے .... (خندا) .... دَ خندا مقام نهٔ دے..... خاندئ مهٔ، دا دَ ژړا مقام دے...... دَ ژړا مقام څکه دے، چې هغه مسلمان چې په ستورو او سپوږمۍ به ئې کمندُونه اَچوُل .... په سمندرونو او صحراګانو کښې به لکه دَ سیلئ روان وو، هغه مسلمان نن دې حدٌ ته بُزدله شوے چې دَ غیب عالم دَ ویرې دَ شپې په تیاره کښې دَ کوره نشي وتے..... (خندا) پرېږدئ زوړه ورو، څهٔ یو غم خو مونږ دے چې مرچکے به ئې اوُژاړی........ څهٔ یوه کړه خونهٔ ده چې مرچکے به ئې درله سمه کړی...... ایمانونه زمونږ کمزوری شوُل عقیدې زمونږ کمزورې

شوې- حوصلې زمونږ ماتې کوډې اوجا نجو پا نجو شوې . . . . نن د مسلمان دوهم نوم فکرونه ، وسوسې وهمونه اُوشکونه دے- . . . . ارمان چې مسلمان بيا هغه مسلمان شوے . . . . هغه د مضبوطې عقيدې خاوند ، هغه د اُوچتې حوصلې خاوند ، هغه د مضبوط ايمان څښتن- . . . . هغه مسلمان چې غيب عالَم به پرې چرې نهٔ کښېناستل - هغه مسلمان چې غيب عالَم به ئې هيڅکله لاړه نهٔ شوه نيولے . . . . . نننے مسلمان هم هغه پخوانے مسلمان کېدے شي خو . . . . که چرې زمونږ په خپل خدائے باندې ايمان دومره مضبوط شى ، چې نُور د دُنيا هيڅ يو طاقت را ته د هغهٔ په مقابله کښې نِشت ښکاره شى . . . . که چرې مونږ مرګ اُو ژوند د خدائے پاک د طرفه يوه اټله فيصله اُوګڼو . . . . اُو ترڅو پورې چې زمونږ په خپل خدائے باندې ايمانونه مضبوط شوي نهٔ وي نو هم دغه رنګ به تهٔ قرې خورو . . . . هم دغه رنګ به موهروخت نُومُونه پرېوتي وى . . . . هم دغه رنګ به راسره دا غيب عالَم پټ پټوښې کوى . . . . اُو هم دغه رنګ به مونږ سروهلى بروهلى ګرځو . . . . (خندا) . . . . تاسو به وايئ چې خبره دې شروع کړې وه د باچاميرنه . . . . اولاړې په کومو کندوکپرو سر شوې- نو رونړو باچامير مې هېر نهٔ دے ، لا خو مرچکے ژوندے دے که نن نهٔ شوه ، نو بله ورځ به ئې درته بيان تېر کړم . . . . باچامير خو زما ملګرے دے کنه - کنه باچاميره ؟ (خندا)

چرسیان

بَرّي .... چاله ئې لوړ تخوي او مونږ له ئې تنور تخوي
...... (خندا) ...... واقعي چې چاله به ئې لوړ، چاله به ئې
بشکه او چاله به ئې انبور تخوي، نو دا چرسیان ماماګان
دومره بختوران خلق دي، چې د لوګي نه ئې خبر نه شول - د
تاو نه ئې خبر نه شول ... . د لوګي نه ئې خبر نه شول
د کړاو نه ئې خبر نه شول .... نو بس تنور ئې
تخه کړي او دا ئې وړي، چرسیانو ماماګانو ته ئې په
مخکښې کېږدي ... . چې تور ئې شهزادګانو پام
کوي چې غم ئې ونه کړي ... . غمونه ټول را ټول
کړي ... . د چرسو په دانه کښې ئې تاو را تاو کړي
د چلم په ټوپي کښې کېږدي تیلي ورته ورته کړي، او
او باسي ئې ترې نه ډوزي ... ... (خندا) ....
ساده ګان به مو په دُنیا ډېر لیدلي وي نو د چرسیانو
ماماګانو نه کم - خفه کېږئ مه - ځکه چې خبره سمه
ده - نو .... ګورے دروغ نه ده .... شته په
دُنیا کښې ډېر داسي ساده ګان شته، چې هغوي د دُنیا
د لانجو او کشالو نه د تېښتې د کونه لټوي - او دا
کوشش کوي چې د څه ساعت د پاره د دُنیا د دې لانجو
او کشالو نه څټه لړي په خیالي دُنیا کښې ورک شوے

...... چې دا هر څه را ته د څه ساعت د پاره هېر شوے
او لاړې د دوو دوږو د چرسو د ګولۍ په لوګي کښې پاس
آسمانونو او فضا ګانو ته اوختې .... (خندا) ....
بیره څو څوک به څه دروایې نو هسې؟ .... زمونږ په
کلي کښې حجره ده .... په دغه حجره کښې یو څوا تنه
لکه د لحد په رنګ یوه لویه کنده کنستے شوې ده ....
او اوکنده ... . ما هم چې په وړومبۍ ورځې دا
لحد ولیدو، نو حیران غوندې شوم، چې هلکه په
حجره کښې د لحد د کنستو څه ضرورت؟ .... څو یوه
ورځ سحر څه ګورم چې د دغه لحد په غاړه دواړه طرفه
عملیان د ږبنو په سر ناست دي........ په لحد کښې
چلم اېغ نېغ لکه بوګلے ولاړ دے. د څپیاکې نه لوګے
مخ په بره لکه د چادتورو ګمخو تاو راتاو ختو........
او یاران ورته د ږبنو په سر داسې په طبع کښې ناست
وو، لکه یو روژه دار سړے چې د روژه ماتې په وخت سخت
تندې او خستے وي .... او اوبو ته لېوا له وي (خندا)
په دې کښې ناګهانه د چلم تو پیې یوه ملبه اوکړه او یو
مستانه پکښې چغې کړې چې بړي چاله به ئې لوړ، څوي څو
مونږ له ئې تنور څوي" .... چلم د یو سر نه را شروع
شو، هر چا به ترې نه یوه کاړه بوغه وهله او بل له به
ئې ورکولو....... هر سړی به بوغه راښکله او په ټوخې
به شروع شو .... په یو ساعت پس هر یو چرسي
ماما به داسې راکونښتي شو لکه لینده .... ټوخ ټوخ

ټوخه شراپ ... . بوغه بوغه بوغه ټراپ ....
ماوے که خدائے مهٔ کړه د هر يو ماما ګلمي د خولې په لار را بهر
شوې او د غه لحد ته ور پرېوتې ...... هر سړے
ټوخې ته په ګونټو شوے وُ ... . هر سړے ټوخې ته
په پنجو شوے وَ .... په يو ساعت کښې ئې هغه کانې اوګړې
چې راشه که ئې ګودې .... لکه د چرګانو په ذنګ
ککړې ئې اووهلې .... بلغمونه وو چې لړه کېدل.
...... لاړې وې چې رابهېدې، توکانړې وې چې توکلے
شوې .... ماشومان ولاړ ورته حېران چې دا
ماماګان په څهٔ بلا اوړېدلې دي .... زړهٔ ولاړ ورته
حيران چې دا ماماګان په څهٔ لانجه اخته شوي دي...
...... دا دوي څهٔ کوي؟ ......، د چلم دَور او چليدهٔ
.... هر سړے داسې بې دمه شو چې لېنګي ئې مړاوي شول
.... سترګې ئې داسې سرې شوې لکه آلوچې - ...... د نو
نې بيا هغه وُچې ځان ئې کښې ته رسولو او بورې بورې
په کښې پرېوتو ..... نهٔ د ځانه خبر نهٔ د جهانه خبر
..... د يو ماما په سر سادين اوبهٔ کول وو، څو
سادين اوخوړو سر ..... ، د بل ماما په سر وتره نيول
وو، څو وترې وخوړه کېږه .... د بل ماما په
سر څره چلول وو. څو څره لاړه غرقه شوه....
(زخندا) د وترو سادينونو غم څو به هغه خلق کوي
چې څوک ئې په خپله کتي ...... اوچرسيانو ماماګانو
له ئې څوئې هسې هم خدائے هم داسې ورکوي- نو

بیا د وترو سادېنونو غم څه له اوکړي هغه؟ .... په
رونړو! دا ولې د خپل ژوند سره لوبې کوئ - دا ولې مو د
خپلو سینو نه د بلغمو نو کندوان جوړ کړي دي، دا ولې مو د
خپلو تشو نه سرېندې جوړې کړي دي ... . چې ساه
اخلئ نو یو خرنجارے دے چې د سینو نه مو را ختيږي ......
چې قدم اخلئ نو د سږو نه مو سمې سنې جوړې کړې
دي ... . هر وخت سر نخوږے، هر وخت ټوخے، او
هر وخت طبیعت مړاوے .... بنه نو په دا سې نشه
څه؟ .... (خندا) زه منم چې د یو ساعت د پاره چرس
سړے آسمانونو او ستورو ته اورسوي - د دُنیا د لانجو نه
ئې بې غمه کړي، خو رونړو په خیالي دُنیا کښې چې څوک ستورو
او سپوږمۍ ته ختيږي، نو خبر ئې چې انجام ئې څه وي ......
د دغه خیالي دُنیا د آسمانونو نه بېروه ورځ دا سې سر د لاندې
را خطا شي چې بیابه ئې فډ سر لګي نه تندے ... .
... نو را شئ د تنور په روتهو ډېره ملامه تړئ - دا شئ
د ژوند نه دا تښتېدل پرېږدئ - د دُنیا د لانجو نه سترګې
پټول پرېږدئ - د کوم قوم په افرادو کښې چې د ژوند نه
د تښتې جذبه راپیدا شي، هغه قوم فنا شي، هغه
قوم تباه شي، نر هغه دے چې هرې سختۍ ته ورته غاړه
وځي ...... توانړ هغه دے چې د هرې سختۍ مقابله
په نره اوکړي .... (خندا) .... د چرسو نه څه غواړئ -
چرس هم لا د څښلو څیز دے - د بنې آدمانو د څښلو؟ وه
کور آبادوه همت اوکړئ ..... حوصله اوکړئ - د چرسو دا نه

لوړه کړئ - ...... د چرسو چلم مات کړئ او د غه لحد و نه ټپ کړئ ...... دے چرسو در له د ما نمونه خراب کړل دي چرسو در له صحتونه خراب کړل ...... دي چرسو در له ژوند خراب او تباه کړو .... هم د نيا ته شرمنده او هم خدا ے ته .... اے رو نړو ! هره هغه نشه چې انسان ديو ساعت د پاره هم د خدا ے د يادو نه غافله کوي .... هغه نشه حرامه ده ، په ټولو مذهبو حرامه - چرس هم منع دي - ځکه چې د چرسو د لوګي راکښلو او لنے اثر د حقيقت نه غافله کيدل دي د اصليت نه بې خبره کيدل دي او په خيالي دُنيا کښې ډوبيدل دي - نو راشئ دا چرس پرېږدئ چې ژوند مو سمم شي - راشئ دا چرس پرېږدئ چې صحتونه مو ښهٔ شي - راشئ دا چرس پرېږدئ چې خدا ے پاک در نه نور نهٔ ناراضه کيږي - څنګه خوښه موده ماما ګانو؟ .....

..... څه ګناه نمونه دي ده؟ ...... ته دهٔ ګناه رونړو ، دَ انسان د حوصلې په مخکښې هيڅ کار ناشونے نهٔ دے انسان ډير مضبوط مخلوق دے - انسان هر څه کولے شي خو په شرط د دې چې په مضبوطه اراده ئې د کولو نيت اوکړي - بس دے رو نړو نورا خلق په ځان پورې مهٔ خندوئ .....

..... خندا) اُو اُو مړو خدا ے شته چې دا تاسو څهٔ وخت بوغه راکاږئ او په ټوخې لاس پورې کړئ ، نو د غه وخت خو خدا ے شته چې بني آدم څه چې هغه چرګان هم ستاسو په دې ناکړو کړې وهي - (خندا)

مامدي

(خندا) يره ..... خو هغه متل دے چې "غم نه داری بُز بخر"
يعني چې غم دې نه وی ...... تو له ورځ اُوزګارېږ او د ندا کولی کوي
نو بيا چېلۍ واخله چې د نا اُوزګارتيا په خوند لږ پوه شی. د چېلۍ عادت
دے ورانی کوُل ...... هر څهٔ ته خُلهٔ اچوُل ..... هر څهٔ پسې منډه وهل..
..... هر وخت کړُو په کړُو په کوُل ...... مړو خو چېلۍ نهٔ ده سم سرخوړُکے دے.
..... خلقو چېلۍ اخېستي دی او ځان ئې په بلا اَخته کړُولے دے، او ماله خُدائے
ژبه راکړې ده، چې يو لوئے فساد ئې راته جوړ کړے دے. دا دے مامدې
اشنا ناست دے. او پېژنئ يې کله راته کوی ...... (خندا) ولې؟ ..... وے
دا هغه ورځ مې د ښځو طرفداری نهٔ وه کړې ..... دا هغه ورځ مې سړی نهٔ وُو
ملامته کړی . . . . . او د ښځو مقابله کښې سړی ملامتوُل د سړو لويه بې عزتی
ده ..... اُو چې ښځې ملامته کړم نو بيا راله ټولې تورسرې سپين سرې په
جنګ را روانې وی. دا د دُنيا خبرې وی او زما پرې سر وی. څوک راته وائي
...... "په خُله خوګونګ شې مرچکيه". ..... (خندا) او دا ئې څهٔ کوی
چې په ما غوندې غريب مرچکي پورې ئې چاربېتې هم جوړې کړی دی.
..... اُو اُو چاربېتې. يقين اوکړه داسې چاربېتې ئې جوړې کړی دی
چې زهٔ خو ورته حق حېران شوُم. دا چاربېته را پورې کلاوتې ښو جوړه
کړې ده :-

د رنګه تور مرچکے
لکه د سکور مرچکے

ژبه ئې تیره ده تکه وی تیره پاکی
رب دې مونږ ساتی

ژبه ئې چیچل کوی
چیچل څهٔ چې خوړل کوی

هره یو خبره ئې د اغزی پشانې وی
رب دې مونږ ساتی

خومره کلا نکار دے
خومره خومکار دے

چې نه یې اوباسی خدائیګو دے لوے پساتی
رب دې مونږ ساتی

رب خودې دے کونک کړی!
په سترګو دې دے ړوند کړی!

حیرانې یوچې دا شکل به کله څدایه مړی
رب دې مونږ ساتی

(خندا) نو دا د کلاتې بو چار بېته وه - خدائے خبر چې نور وبوکا نو به
راپورې خومره چار بېتې جوړې کړې وی ..... نور ونو دغه حال دے
نو..... چې د سرو سرو ینځم نو ښځې راپسې چار بېتې جوړوی - او چې
د ښځوسرو ینځم نو مامدیان ماما ګان راله په کلو راروان وی.....
دا دے مامدې راته ناست دے او وائې چې مرچکیه دا ښځې راته تا په سر
اوخېژولې - هغه ورځ دې خبرې څهٔ کړې دی چې هره یوه ښځهٔ خاوند ته سره
مچه شوې ده ، د خدائے خاطراوکړه او کدې ښځو دا طرفداری پرېږده..
...... ولې په مونږ باندې دا کوروند وراتوې ...... (خندا) خدائے
دې نهٔ کړی، چې زهٔ په چا باندې کوروران کړم ، زما مقصد خو د ښځې

خاوند ترمینځه اتفاق راوستل دی. زۀ خو وایم چې په هرکورکښې دې ښځه
خاوند داسې په اتفاق وی لکه د شاتو مچۍ...... خو مامدې اشنا وائي چې
نه، ستا دا ټولې خبرې غلطې دی...... اوچې هغۀ راته خپله قیصه تېره
کړه نو خدائے شته چې مامدې غریب ملا مته هم نۀ دے.........
نۀ کوره ورته دا اوس د کوُلو کاروُنه دی چې دا ښځې ئې کوی. سحروختی چې
ماماکان چائې وُڅښی اَوبوې جمع پۀ اوده کړی پټوته لاړشی نو ببوکانې هر
څۀ کندهکنډ ډیره پرېږدی اَو یوې بلې ته په دېوالونو سوَرې شی......
"مرجانې! یۀ څۀ کوې؟"..... یۀ دا ہُمه ګلاتې...... ستړې مۀ شې خورې.
جوړه ئې؟"..... بُوړه مستې. د بچو دعمه دې خدائے اُوساته ماوې چې
تپوس دې اوکړم چې څنګه ئې؟"....... ښځکه ہُمه خورې ښه ہُمه نو ښکاره
ئې ټوله شپه اُلُون بَلُون کړے دے"....... (خندا) ببوخیل بیان
شروع کړے وو. او شا ته چرګانو په غولی کښې اَتڼ اَچوَلے وو......
په هرڅۀ کښې به ئې مخوکه منډله. اُوخوندونه به ئې آخستل......
سپی هم چې اوکتل چې بی بی په دېوال کپ لګوی نو هغه هم د سرېخ د
سوری نه راپاسېدو، لکه ئې سنډ وهله او به منډلو منډلو قدمونو
دالان ته راغلو..... هغه هم د مستو په کټوی کښې بوتاړ دننه کړو او
د خُلې خوند ئې لږ بدل کړو. (خندا) لنډه دا چې شاته دا ټولې ناشونې
چارې کېدې او ببو د هیڅ نه خبر نۀ وه...... دا خو ښۀ وه چې متوکه
ببو په کوُڅه کښې مخ را ښکاره کړو کنی نو خدائے خبر چې مرجانه به ترڅو په
دېوال ملاسته وه، او ګلاته به ورته ترڅو په یوه پښه ولاړه وه......
"کوُړې کوُړې. وَه مرجانې میراتی لونبی لړکی دړله ټول سپی جُوته کړل".
او دلته درپ ئې شو چې مرجانې د دېوال نه راټوپ کړو....
...... (خندا) دا خو موشوه یوه...... مامدې آشنا ګیله کوی

چې زهٔ ښنکه هوې جغ په اوږده کړم په کوڅه اوځم ـ دغسې د هلکانو موربړ
په سر کړې ځي لاړه شی، دَ چم کاونډ کوره ناسته وی کپونه ټکوی ـ دَ
غرمې روټۍ راله په مازیګر او دَ مازیګر چائې راله په ماښام رالیږی ...
نو تهٔ اوس ماته اووایه چې دَ داسې ښځې سره زهٔ څهٔ اوکړم ـ تهٔ راپاسې دَ
ښځو سره راته وینځې ...... دَ داسې ښځو سره څوک څهٔ ناکام اوکړی ـ
..... (خندا) واقعي چې دَ داسې ښځو سره ناکام ګران دے ـ یهٔ خوئېند
یهٔ ایمان مونصیب شه دا ولې دَ نهٔ کڅولوچارې کوی ـ ورک دې داسې
ډېر کپونه شی ـ دے کپونو له مولږه دمه ورکړی ...... دَ دې کپونو اوَ
غیبتو نو دَ پاره څهٔ وخت مقرر کړی ...... دَ کور کار روزګار دَ هر
څهٔ نه آکا هو دے ...... ګورې دا سړی په ژوند پورې مهٔ ستومانه
کوی ـ یو دَ غریبانانو هسې سرتند ے نهٔ لګي ـ اویو تاسو ترپوزې پورې
راوستي دی ..... کهٔ ډېر موتنګ کړل نو خدائے شته چې هر څهٔ درته
په ډاګه پربږدی ـ بیا ناستې اوسه سوړ نغری اوبخ تبخي ته ......
زهٔ اوګورم چې بیا په نهره کېږه ه مرجانه ببو دَ کلاوتي ببو سره دیارلس
ګنتې په دېوال کپ او ټکوي ..... (خندا)

مامدې آشنا وائې چې یو ورځې کور ناست وم ...... په دېکښې
ناګهانه تم تړاق شو چې دَ هلکانو مور په کوزه باندې تیندک اوخوړ
......." په ستړګو ړنده يې څهٔ؟" ـ ـ . . "ببخ دَ دې کونې اوځه
دا میرات مړې په لاره کښې پرته وه" .... "ببخ دې ستا اوځي چې تهٔ
پرې تیرېږې راتیرېږې او دَ لارې نهٔ ئې اخوا کوې نه" ... ـ بس دے مړ
څهٔ تهٔ خونهٔ يې راپرېوتے ـ خپل ځان مې دے ستارا باندې څهٔ؟ ـ
.... (خندا) واقعي مامدې چې ستا پرې باندې څهٔ ـ پرېږدهٔ
يې بې همته او بې پرواه ښځې هم دغسې وی ...... "کړې کړې کړې

...... وَه ښځې ښځ دې اُوزَه. چرګانو درله ټول منګی جُوته کړل. لاس
دې ماتیږی چې په منګی برغولے کیدې؟ ...... "بس کړه مړه اُوبهٔ دې
ځهٔ غوړی خونهٔ دی. دېرئښهٔ اوکړل چې جُوته یُ کړل. دَکوئی نه به یُ بیا
رادک کړم. ځهٔ به تا خویٔ نهٔ راڅکوم چې دا سې شور دې جوړکړے دے"....
.... (خندا)

لنډه دا چې دَ ماَمدې غریب دا زړهٔ سُوَرے سُوَرے دے،
نوا ے خوئیند ومه کوی .... هیڅ یُوخاوند یمن توب او ځجن
توب نهٔ خوښوی. هیڅ یوخاوند دا نهٔ خوښوی چې دَ هغهٔ ښځه دې سحر
وختی بُرقعه په سرکړی او په کلی مالت کښې دې ګرځی. وَه کورآبادو ولې
مو په خپلو ځانونو دا کوروُنه دلوزخ کړی دی ولې مود دې خاوند انو،
غریبانانوژوند په عذاب کړے دے سمې شی. کمنی نویوه چار بیته
دربسې جوړوم. ګوُتې ښو خو په ما پسې چار بیته جوړه کړې ده :
چې ے دَ رنګه تور مرچکے. اوزهٔ وایم چې ...... ے

دَ رنګه سکنې مرچکے   نهٔ کوی سن مرچکے
چې غلط کاروُنه وینی هیا یُ کوی ژبه چیچلا،
هم کوی خوَړل
دے هوښیار مرچکے   نهٔ دے مکار مرچکے
حقه وینا کاندی ځکه بدی شی دَ ښځو
قمیص یُ دَ ترخزو
دَ پوا ړتوب دے دشمن   دَ ځجن توب دے دشمن
دزیاتی خوړدے دشمن   دحرام خوړدے دشمن
دشمن دَ هغه چا دے چې کوی ځوک بې ایمانی   ده خبره ایمانی

(خندا) .

قرضدار

(خندا) ...... ته گوره ورته چي غټ پټ دَ عقل خاوند مرچکے هم خدائے پاک لېونے کړو. هسې بر ناحق مې په ځان پورې خلق اوخند اُو کار هم اُونشو. اوُس هم راته خدائے شته چي دا ځان دومره سپک اُودومره ملاٰمته بنکاري چي تپوس ئې مه کوه .... داسې چل ووچي په کُلیّ پورې مې قرض وُو ډېره مُوده ترمېنځه تېره شوه. ساه مې ورته راکښلې وه، ماترې څوځله تقاضا اُوکړه خو هغهٔ به راته څهٔ اَنې بهانې اُوکړې .... شته په دُنیا کښې ډېر داسې خلق چي دَ قرض اخِستو په وخت خوشحاله وي. چي قرض ئې پکاروي نو هر وخت به در ته نښې چښې کيږي .... بالکل دَ ور مينه به دې پرې ماتيږي ...... اوُچي څهٔ وخت مطلب ترسره کړي. خپل خرې دَ چقړو نه اُوځي نو بيا ئې سترګې بدلې شي......... (خندا) اوَل به هغه ستا کُوڅې له هر وخت راروان وو زاري منتونه به ئې کوُل، اوُس به تهٔ هره ورځ ورځې اُو دَ خُلې نه به ورته دَ کابلې دروازه جوړوې .... اوَل دَ هغهٔ وارګو اوس ستا وار دے .... خودَ خُلې نه کابله دروازه نه، کهٔ کابله، هشنغره اوکوهاټه دروازه هم وانې يوځلے کړې او يوه لو..... يه دروازه ترې جوړه کړې، خوچې دَ چا نيت دَ قرض دَ ور کولو نهٔ وي، خدائے شته کهٔ ئې درله درکړي.

.... نو دغسې ګلۍ هم چې يو ځل قرض يوړو، نو پينځه کاله يې ترمينځه تېرشو، خودَ نهٔ راکوُلو نيت يې وُو، نه يې راکوُلو نو......
آخر هغه ورځ دَ بـدَه شامته بازار کښې مخې له راغلو......

زهٔ ـ "هلکه تهٔ به هغه زما پېسې کله راکوې"؟

ګلۍ ـ "ستا پېسې؟ بس څو ورځې صبر وُکړه نو......"

زهٔ ـ "او دا دومره موده مې چې درته صبر اوکړو نو دا څهٔ وو؟"

ګلۍ ـ "دا؟...... دا هم صبر وو، خو يو څو ورځې به نور ګورې".

زهٔ ـ "زهٔ نور نهٔ شم کتې".

ګلۍ ـ کمال دے دومره موده دې کتې شول او يو څو ورځې نور نهٔ شې کتې".

زهٔ ـ "درته مې اُووَې چې زهٔ نور صبر نهٔ شم کوُلې".

ګلۍ ـ "يَه هلکه! قرضدار چا مړکړے نهٔ دے، هسې به مـځه خوښوه، بس يو څو ورځې نور صبر اُوکړه نو......"

اُوَدَ نو س... سره چې په ځان پوهېدم پوهېدم نو سړے مې دَ چنغړک نه نيولے وو، دَرَب شوچې په مزګه مې را سملوُلو، او په سينه ورته کښېناستم...... خو چې په سينه ورته کښېناستم، اوُ دَ خواوُ شا نه خلق راجمع شوُل، نو دلته مې ځان ته فکرشو. عقل مې سر له راغلو، چې مړنَچکيه سره دَعقله دې کار اُوکړو خطا...... دا دې څهٔ اوکړه زوړه وړه .... (رخندا) خوشوے کار وو، بيا ترې روستو کېدل ګران وو........ خېر خلقو موږ دواړه لکه دَ قُلنګی چرګانو دَ يو بل نه جُدا کړو........ دَ ستړګو به رَبْ کښې دَرې دُنيا راجمع شوه...... ـــ. اُوَدَ خلقو داخبرې شروع شوې........ ته ګوره ورته غټ پټ سړے دے او هغه نرے نرو چکے سړے يُ

داپرزُولے وو، شرم هم ورله نه ورځي"........ هغه بل تپوس اوکړو چې دا ولې؟.... نو یو ماما ورته اُووې چې .... "ولې ملې ئې څهٔ کوې، خو په کمزوری باندې هر څوک چړچړ راځي، بس کمزورے ورته ښکارهٔ شوے دے، ځکه خو پرې دا سې سُورسُورکیږی کنه"

"یره دا سې سړے خوچې سړے یوڅولګاؤکړی، چې دا سرتیزی تربنه هیره کړی" ...... لنډه دا چې څومره ځلې هومره خبرې...

...... آخرمې دې خلقو ته مخ راواړولو چې رونو پینځهٔ کاله اُوشول چې په دې سرې پورې مې پینځهٔ سوه روپۍ دی. قرض ئې رانه اخستې دی اُوچې اوس ترې نه غواړم نو وائي چې څوورځې صبراوکړه......... دا اُوس انصاف دے......؟.... هغه یو راته اُووې چې روره دومره موده دې چې صبراوکړو نو یوڅوورځې صبرنورهم اوکړه کنه"

هغه یوبل آوازاوکړو..... "روره دا قرضونه څوک په بدمعاشئ نهٔ وَصُولوی اوَل به دې ورکولې نه، اوچې ور دې کړې نو اوس به ورته صبرکوې"

"بل تماشبین اُووې......"قرضدارخوچاوژلی نهٔ دی روره - قرضدارته خو به صبرکوې"........ (خندا) اُوخدائے شته چې زهٔ غلط شوُم، قرضدارته به صبرکوُل غواړی........ څومره؟ دَ څومره ئې څهٔ اندازه نشته - بس ترهغې پورې به صبرکوې چې تر څو پورې دَ قرضدارسره روپۍ پیدا شوې نهٔ وی. اوچې ترڅو پورې روپۍ نهٔ وی پیدا شوې نو تهٔ غږوه دَ خُلې رباب اُودَشونډو باجه....... (خندا) لنډه دا چې ټولوخلقو زهٔ ملامته کړم......

..... دَ ملامتۍ ډکې ډکې ټوکرے وې چې دې خلقو به زما په سر اړه ولې، زهٔ ټیټې سترګې ملامته ولاړوُم.........

چې لکه د بې لوزې جرم مې کړے وي چې خپلې پیسې مې او غو ښتلې .... اُو کُلے داسې ایغ نیغ ولاړ وو، چې لکه هغه مظلوم وي اُو زهٔ ظالم ...... (خندا) او ولې به نهٔ اودرېدو .... د ټولو خلقو همدردي هغهٔ سره وې، او چې د خلقو همدردي د چا سره وي نو هغه بیا سپین باز وي .... مونږ لا خبرې کولې، خلق لاهم هغسې جمع ولاړ وو........ خلق خو دې خدائے اُو بخښه، چرته دوه کسان چو ځائے راجمع شوي اُومهٔ وینه، کهٔ دوه تنه یو ځائے اودرېدل نو د سترګو په رپ کښې به د دغه دوُو تنو سره دوه نیم زره تنان راجمع شي اُو هر یو به تپوس کوي چې څهٔ چل دے هنّ؟...... ولې ولاړ یئ هنّ؟ دا څهٔ دي هنّ؟ (خندا) نو خلق لاهم هغسې ولاړ وو۔ چې په دې کښې سپائیٔ کاکا په دا نګو دا نګو راغلو..... "دا څهٔ چل دے هلکو "ډیره دې غټ پټ سړي دا کمزورے غوندې غریب زاکېر کړے وو وهلوئې"....... په سینه ورته سور شوے وو دا خو د خدائے فضل وُو، چې مونږ پرې راغلو کنې نو وژلے ئې وو۔

"ولې وے، دا څهٔ ستا حکومت دے چې تهٔ به بازار کښې خلق رانیسې اُو بې عزتَه کوې به ئې"

زهٔ:۔ (وارخطا) "نه نه نه ..... سپائیٔ ماما..... خبره د د داسې نهٔ وَه"

سپائي:۔ (په غصه) "مه قرتېږه ۔ خبره داسې نهٔ وه، زهٔ به اوس تا ته خبره اُوښایم"

زهٔ: (وارخطا) "ته ته ته زما..... خبره خو واورهٔ..... کنه"

سپائي:۔ (په غصه کښې) "ستا سترګې د بد معاشانو دي محکښې سخه تا نې ته" (خندا) او دلته په مرچکې باندې خولې راماتې

شوې. دلته راندګاه دے خطاشو. زړه مې تړتړ په شوه ....
ښېښې مې رېږېدې وا خستې .... تاڅنې ته؟ په خدايه دا به خه بلا وا وړېدم. دا مې ځان ته څه شر اوګرلو........
دې مغزو مې يو چکر اوخوړو، دا ټوله دُنيا را باندې لګېده دَ باڼې چغ تاؤشوه. په سترګو مې تيارهٔ راتله، او به مزکه بُوړې بُوړې لکه دَ لټې غوېې سملاستم .... چې په دېکښې يو سپين ږېرے سړے را مخکښې شو....... الله پاک دې ورسره دېرښه اوکړی دغه سپين ږيری سړی سپائیُ کاکا ته اُووے چې روږه تاڅنې ماڅنې ته ئې مه بوځه ....
دواړه دَ يو کلی دی. په لېن دېن کښې داسې راځي. څه نوره دُشمنی خوئې نشته ...." هلکه کلیه! خوارشې چې قرض دې اخستے دے نو ورکوې ولې نه؟"........ . کاکا انکار مې نهٔ دے کړے ورکوُم ئې وړله خو دے هسې اوراوبو اخستے دے. بس يو څو ورځې صبر دې اوکړی."
"په سړيه څو ورځې نه، چې څومره دے وائې هومره به ورته اوکودم. چې دا پينځهٔ کاله مې کتے شوُل، نو څو ورځې به نورهم اوکودم"........ او دلته کلے نورهم نږدې ورشو:
کلے ۱- دَ څو ورځو دا مطلب دا نهٔ دے چې په څلورمه ورځ مې بيا به بازار کښې راګېر کړې، خو بس چې راسره پېدا شی درله ئې کړم، خوړُونکے نهٔ يم.
" وَه څَه سړيه چې درسره پېدا شی را ئې کړه بس؟.....
سپائیُ ماما تهٔ څَه ستا به کار وی، بس مونږ فيصله اوکړه."
سپائیُ: که بيا دې داسې دَ قانون نه خلاف کار اوکړو، نو ما څو

درته څۀ اُو نۀ وئیل، کۀ زما په ځائې بل سپائی وے نو ښۀ به يې تا نې ته بوتلے وې۔

"نه نه سرېه! تا نه ماته پرېږده بس غلطي رانه اوشوه کنه بيا به داسې نۀ کوم۔"

(خندا) رونړو! لوظ مې اوکړو، هم دَ ګلي سره او هم دَ سپائي سره۔ او لوظ څۀ خو بس ګلي ته مې پينځۀ سوه روپۍ ورا وبخښلې۔ په دې دُنيا ترې وصولي ګرانه ده، په هغه دُنيا به سره ګورو ...... نو رُونړو زما دا يوه خبره په پيسکې پورې غوټه کړه چې اول خو قرض ورکوه مه۔ اُوچې قرض ورکړه نو دَ غوښتو په وخت به خپله غصه، خپل قهر، خپله کينه دا هر څۀ کور پرېږده او بيا به دَ قرضدارۍ کورته ورځه۔ اُوچې کورته ورشه، نو په کوڅه کښې به په رُعب داب کښې آواز نۀ کوه۔ نۀ! پام کوه ګورې، قرضدارے ډېر نازک مزاجه وي، دَ لږې خبرې نه هم دَ تا ترې غرجوړوي ...... خبرې به ورسره هم تروې ترخې نه کوه۔ اُو! هسې نه چې تا سو به غلط فهمي کښې يېه، چې قرضدارے مې دے، او چې هر څۀ ورسره کوم دے به غږ نۀ کوي۔ نه! تۀ به نرم شې او قرضدارے ګرم ...... (خندا) اول خو چې کوڅې له ورشه نو ......"ګل محمد خانه۔ وه ګل محمد خانه" ...... اَوْ اُو کۀ ټوله دنيا ورته ګلے وائي خوتۀ به ورته ګل محمد خان وائې ...... ويه نو قرض دې نۀ دے وړېورې .... اوچې څۀ وخت هغه بهر ته راووځي، نو دَ هغۀ سلام ته به انتظار نۀ کوے۔ تۀ به پرې سلام اچوې ......"سلام عليکم ګل محمد خانه۔ ښکه حال دے۔ جوړې ماشومان دې ښکه دی۔ اُورېدلي مې وو چې په مدّي شرے راختلے وو، هغه اُوس ښکه

دے۔ خدائے شته چې واهې وَرپېدل نو زړهٔ مې ډېر خفه شو، ماوې حَم د هغهٔ پښتوس به هم اُوکړم او........ ماوې کهٔ دَ هغه پېښور الله څهٔ بند وبست اوکړې نو........ (خندا) او دلته به کُلّے په غُصّه شی۔" یرَه مرَچکیه خو....... څهٔ به واېُم درته، زوره وره وخت بې وخته خوسړے کوری، داسې بنهٔ سترګې مې ورغلې وې۔ دَ کچه خوبه دې رابېدار کړم"...... " زهٔ معافی غواړم۔ مابه تاته تکلیف نهٔ وو در کړے خو......'........خو مو دې نهٔ پېژنم۔ څَه تُهٔ اُوس لاړشه، بیابه کورو"...... اوبیا؟ بیا څهٔ؟ خوچې هغهٔ درته اُووې چې بیا به کورو، نو بیا به بله خبره نهٔ کوې۔خو... ..... "خوشحاله اُوسې کل محمد خانه سلامُ علیکم".......... (خندا) نو اے رُوڼو څهٔ پوې شوې، قرض به داسې غواړې بنه، لکه زما په رنګ نه، چې ځان مې په شړ مونو اُوشرمُولو.

اے مسلمانانو! دا زمونږ دَ ایمانونو کمزوری ده، دا زمونږ احسان فراموشی ده، دا زمونږ دَ چا ښکې له لته ورکوُل دی، دا ې مه کوې، پردے قرض دَ قبر لړمانان دی۔ پردے قرض حصارُول دَ دوزخ اور په بَیعه اخېستل دی۔ راشی خیل محسن په خپلی ښکرېمهٔ پښېمانه کوې۔ هغه چې دې سره په سخت وخت کښې لاس کړے وی نو که په تاسو کښې احساس وی نو دَ هغه دغه امداد به ټول عُمر هېر نهٔ کړې۔ قرض چې څنګه واخلې هم هغسې ئې واپس کړې۔ دا دَ انسان اخلاقی فرض دی، دا دَ مُسلمان دَ ایمان نخښه ده او چې څوک داسې نهٔ کوی نو پوې شی چې ...... یره خو هېڅ به نهٔ واېُم نو....... (خندا) ۞

دَ پور دانۍ

او نو خدای شته چې ډېرې ژړا ګانې وې ... . او ژړا ګانې به ولې نه وې .... د تورې دقه وړو مېږې ډکې وُ .... غونډې .... مونډې .... ښهٔ خړه ے .... د ځنځو شپېښ و کالو ماشوم ...... هغه د چا خبره چې سم زلمے هلک وُ .... نو ژړا ګانې خو به خو وې نو .... د ماشوم مور ژړل .. .. تروریانوئ ژول ......مامې ګانوئ ژړل، .... او د هلک نیا چو چې یبو هم ژړل، یوه لویه برېښانګه ئ راویستلې وه .... هغه د چا خبره چې د یوې سترګې نه ئ ناوه او دیلی نه برنالہ جوړه کړې وه ----- او ښکې وې چې لکه د ججتې د باران په لپو لپو را توینږي.. .... بیو برېښانګه راویستې وه او ماوې چې لاړې او په دې خوله کښې مې ورله یوه داسې بوُجه وکړه چې د آواز سره ئ ساه هم بنده شي او د لا تهو د جنازې سره سمه ددې جنازه هم پورته شي (خندا) .... تاسو به وایئ چې هلکه مړ چکیه آفرین شه روتاله شه، دا ستا زړهٔ د کانړي دے کهٔ د روسپنې .... ترڅو پورې چې ما ته معلومه ده نو په سینه کښې مې یو ودکوټے غونډے مونډے دعوٰ

صورت نشته"... ... (خندا) نو ببو خپل نیازبین نمسي ته د
خالګر نه پټ کړو ...... " وئ نو نیازبین ته وُ ... ...
خالګر چې ورله خال وهلے وے نو غریب به مانده شوے وُ...
.... او چې لاهو مانده شوے وے نو چوچی ببو به ......
(خندا) خیر ببو ماشوم د خالګر نه پټ کړو .... دَ خدائے
قدرت نو ته ګوره چې په څو ورځې پس پرې حقې ننګې راوختې
...... ځه ګورم چې صباله هم دغه ببو مخ سروهي او ماله
راغله ...... مرچکیه تانه قربان په لاهوکي څو مې ننګې راوختې
...... خدائے شته چې ډیر خفه شوم .... او غصّه هم راله
راتله .... کله چرې چوچی ببو لاهو کے د خالګر نه پټ کړے
نه وے نو شاید چې ننګې پرې نه وے راختلے ...... څو خیر
...... اوس څو هر څه شوي دي .... ورته مې اووے
چې ډاکټر له یې بوزئ ...... چې هغه ورته څه علاج اوښائی
هغه کوئ" ... . ببو چې کوزته تللې ده .... دکور حالت
دا بوډئ بوډئ سپین سرې کله مانئې راغونډې شوی دی -
" نه خورې په توپه اوله ډانګترانو .... د ډانګترانو هسې
نوم دے ... ... اوس به ورله یخ دارو ورکړي او دشمنان به
یې لګ وترق شي .... هلک ته ګو ماڼې دېن کره ګوماڼې .....
اول ورله ورکړه سونډه ...... بیا ورله ورکړه څیفل او صباله
ورله کنځرې ورکړه نخوچې کلان ...... په یو ترق به پرې
ننګې راښکاره شي ...... او اینې چې ګورے نه پرې درننه
دنیا اولګي اونه هوا ... . او دکوټې په کوټ کښې ورله کټ
واچوه .... اور ورته غرغنډې کړه ....کله ژبه یې

دوه لیشتې داووځي څوګوډې چې د اوبو قطره ورته په خوله
کښې اونه کړي .... هلک ماشوم دې تنکول به کوي، خو
د هلک ذېل ته مه ګورئ .... او هغه ریښتیا پام کوئ
چې جامې او نه ونیځي ...... او نه په کور کښې بېکار اوکړي
...... د صابون ځګ او د بېکار څخ د داسې مریض د پاره ګوره
د توپک ګولۍ وي .... او هغه ریښتیا په کندې کښې
څو اوښا ټولو کورونو کښې هم وېنا اوکړئ چې او وه ورځې
به نه څوک جامې ونیځي او نه به بېکار کوي ... ... دا اووه
ورځې دې خدای په خیر سره تېرې کړي .... په اوومه
شپه به که خېرې میترانړې راځي، نو بیا به هغه نورې ټوټې
کوو بېنه! .... (خندا) ..... وا اومورېد و د دا انګرې
بیو لیکچر .... نو رونو چوچرې بیو د ټولو بیوګانو
یوه یوه خبره پخپله کېږي کښې سمباله کړه ...... د لاټوګي
کټ لاړو د کوټې ووم ګټ ته د ننه کړې شو ... .
ځیفل او ږه کېده .... سونډه تېکېده .... خوبي
کلان چنړېده .... که د ځیفل د چونړې سر وه نو
د سونډو د چونړې لکه وه ..... او رونه وو چې په کوټه
کښې غرغنډې کېده ..... ماشوم لتې تېکولې کړ ګوزرې
ئې کولې ...... ډ به ئې او چه لکه د باور چینځانې لهرې
...... د هلک په لړمون کښې ځیفل او سونډو او ربل کړې
وُ .... هغه اویه غوښتې، خو اویه د اکتر بیو
په ماشوم بند کړې وې ...... د اوبو په ځای به ئې ورته
د قهوې چاېو پیالې خولې ته اونیوه ...... (خندا) مړو

نو څه لویه شرمندګي وه .... آخر د لاټو د ړنګوړتیا اوومه شپه راغله ...... په اوومه شپه لوے انتظامونه وو ...... د لاټو د کټ سرته د پاندړې تال واچولے شو ...... په لوے کندول کښې سوچه د غواړې ګیښنو دے شو، د رانجو کټوره ورسره د نداسه او ورسره اینه او منګن هم ګیښنو دے شو ..... (خندا) ولې؟ ...... ځکه چې نن د حقو ننکو اوومه شپه ده، بیګاله به میترانړې د هلک د کټو د پاره راځي ... ... نو هغه چې څه وخت راشي نو اول څو به د پاندړې په دغه تال یو څو جوتې اووهي ...... (خندا) وے نو جوتو ته به ئې زړه شوے وي کنه ...... او! ...... نو چې جوتې اوخوري بیا به د کندول په دغه پیو سر وونیځي ...... او چې سر وونیځي نو بیا به خپل لوانده وېښته په لاټو څنډ وهي .... او د دغه وېښتو څاڅکي چې د ماشوم په بدن پرېوځي نو سحر له به ئې دانې او چې کلکۍ وي، نو به ئې اړولے وي .... (خندا) د سر څنډ لو نه پس به بیا میترانړې اول د نداسه او مږي بیا به په سترګو کښې رانجه واچوي او بیا به ځي په خپله مخه .... (خندا) بس د میترانړې ډیوټي به پوره شي ... . نو دا ټول انتظامونه د میترانړې بیو د خوشحالو د پاره کیږي .... که چرې میترانړې په زخور وېښته څنډ نه وهل نو بیا د مریض د ښځ کېدو امکان نشته. ددې جاهلانو په یقین کښې بیا نعوذ بالله خدائے پاک ئې هم د مرګه نشي بچ کولے ..... (خندا) توبه خدایه توبه .... دا مونږ په کومه

لاړ روان یو ...... دا موږ د جهالت او ناپوهۍ په کومو تیرو
کښې ټکرې خوړو ..... خدای دې زموږ مل شي، الله دې
موږ ته هدایت اوکړي .... نو رونو د لاټو سرته دا
ټول انتظامونه اوشول - د شپې دوه بجه خوله پرېښودے
شو، چې میترانړې نیغه د هلک کټ له دارسي، د هلک سنه
برسېرن اخوا کړے شوه - ټول له شپه لاټو الوټ بلوټ اوکړو..
.... ژړا کانې اوکړې، فریادونه ئې اوکړهٔ ......چې یخنې
مې کېږي ...... خو د لاټو په ژړا کانو چا غوږ اونهٔ ګرولو
او چې سحر شو، نو لاټو ډېر بد پروت و .... ټول له
شپه یخنې لګېدله د رباب راکو نټې کړے و .... بیا ورته
مور مخ وهلو ..... نیا ورته سر ټکولو ...... خو نهٔ دَ
مخ په وهلو او نهٔ د سر په ټکولو لاټو راژوندے کېدے شو
... ...نو دا دَ چوچې ببو چارې وې ...... ماشوم ئې
د خپله لاسه مړ کړو او اوس لګیا ده بړبړانګې وهي ....
دا ژړاړې او ماله ورته غصّه راځي ..... نو دا ګنې اوس
د غصې خبره نهٔ ده؟ .... دا ئې لا څه کوې ...... ډېر
ماشومان چې د حقو ننکو نه جوړ شي نو د هغوي د ننکو
هغه پوستکي راجمع کړے شي، هغه بېنځ مهین او ټکولے شي او
بیا؟ ...... بیا هم دغه مریض له ورکړے شي .....” اخ
تهُو" په بې سوچه پښتنو .... په ناپوهه پښتنو! په
بې کرکې پښتنو! په د ځان د شمنانو دا څه کوئ ...... دا دَ
انسان د ژوند سره دا لوبې ولې کوئ ...... دا ناحق خونونه
ولې ترغاړې کوئ ..... ستاسو ایمان نصیب شه بد سوچ اوکړئ-

بې عقل او کړئ ...... دا د جهالت او ناپوهۍ د زمانې خبرې
پرېږدئ ... ... په دُنیا کښې د هرې بیمارۍ علاج شته، دَ
هر مرض دارو شته، دا د وهمونو او وسوسې پرېږدئ دا دَ
هندوانو رسمونه پرېږدئ ...... سم مسلمانان شئ،
عقیدې مو سمې کړئ ... .. عملونه مو سم کړئ ..... د حقو
ننګو علاج شته ... ... د هر څه نه اول خالونه ...... او
کهٔ د خالونو نه پس) هم را وخیژي نو بیا د میترانړی استعمال
مه کوئ. تېغ مریض ډاکټر له یوځه ...... چې نوم ئې میترانړی
شو نو د هغې په راتلو کښې څه برکت شو، د هغې په لاس
کښې څه شفا شوه ... ... آیا یوه بیوه هم راته دا وئیلې
شي چې هغې چرې میترانړی په سترګو لیدلې ده ......
نه خدائے شته کهٔ هیچا هم لیدلې ده، نو بیا؟ ...... (خندا)
بیا دا چې د جهالت او ناپوهۍ هیڅ علاج نشته .... او موږ
به ټول عمر د چوچۍ ببو په رنګ مخونه سرونه وهو......
نور مو خپله خوښه ..... (خندا)

ګانړې

(خندا) څه ډېره شکر دے ...... ګانړې څو له خبرې
شروع شوې ... . ګنې دي چې راځليږي او په ګانړو
کښې کوتره کېږي ... . پوروته دي چې پخيږي او د
ګوړې دا خوږه خوږه بوئيونه دي چې په هر کلي کښې
خوره دي ......(خندا) خندا راله په دې را غله ....
.... چې هره ګانړه چې اول پوړ او باسي ...... نو دغه
اولنۍ پوړه د خداے د نامې وي ...... يعني د دغه اولني پوړه ګړه
مالک خرڅوي نه ...... بلکې خېرات کوي ئې .... او د کلي دا
ماشومان ډلې ډلې په دغه ورځ ګانړې ته را جمع شوي وي
.... او د خداے د نامې دغه پوړه ...... په مسواکو
ګوتو د پسترې او د اوړه په ډکو ...... او څنې څنې
حرصيان ئې لکه د حلوا په ګوپالو خوري .... څومره بنده
جذبه ده .... څومره ښه کار دے .... کله دغسې
دهر کار په شروع کښې موږ د خداے پاک برخه کوله نو
څومره به ښه وه ... . څومره برکت به وُ په هر څيز کښې
...... څو ارمان دادے چې موږ په خپل مال کښې د خداے
برخه نه کوُو .... د الله حق د هغه حقدار ته ښه
ورکوُو .... وايُو چې هر څُه مو را غونډه کوے او دې

پلو تنوروتو ته مو ورښکته کړے ...... چې دا ډک شوے
...... (خندا) څو دا تنورونه ډکیږي او نه دي ...... دا
سترګې د مړيو او نه دي ...... دا څولې د ښځو او نه دي
...... د لحد تورې خاورې به زموږ سترګې مړې کړي ...
... د هديرې سره خاوره به زموږ څولې تپې کړي ......
نو په هيڅ ځاى انسان نه مړيږي ...... ځکه چې انسان
حرصي شي، نو د حرص تنده بيا په آله آسانه نه سړيږي ...
...... نو خبره مې دا کوله چې د هغې کانړي اوسنۍ پوره خيراتي
وې ...... بيرو سګنے کړے چې د کانړي د ديوال ته ورودروے
شوے وُ، ټول کال به بارانونه شوي وو ...... دا دوړې
خاورې ...... شګې او کړودونه به په قط په قط جمع شوي
وو ...... هغه د کانړي په بټ کښې ښخ شو ...... د وينځلو
مينځلو ضرورت ئې نشته ...... ځکه چې هسې به هم په
کښې اول خيراتي پوره پخيږي ...... (خندا) د خيراتي پوره
دپاره هم څوک لا کړے وينځي ...... دغه د خيراتي پوره
شربت به په دې کړې کښې او څو تيکيږي او څو تيکيږي، دا
ټول رنګونه منګونه ...... خيرې او ګردونه به پکښې
دا پاسته شي ...... او که پاس د کړې په غاړه وماړو ځځه
رنګونه او خيرې پاتې وي، نو د ګوړې د ځځ دپاره ناسته دے
...... (خندا) هغه لکه د قولنګې چرګ د ټول کړې نه
تاويږي ...... او کله چې به شربت له په کاوتره داسې
ډيکه ورکوي چې د کړې غاړو ته ورسيږي او هغه خيرې او
رنګ د ځان سره راجاروکړي ...... خيراتي پوره چې پوخ شي نو

کوټې داسې روځلېږي، چې بیا په کښې د جوګو مخ هم داسې سپین
ښکاري لکه چونه کړې کوي دا ګې .... (خندا) دا خوشو د
کوڅې حال .... پاتې شوه هتره .... هتره هم پروسه کال
داسې د کانړي په کنډر کښې پرته وه .... ټول کال پرې سپو
او پیشوګانو شپې تېرې کړې دي .... (خندا) او نو سم
فرش وه آخر سپي او پیشوګان خو هم زړونه لري ....
د هغوي هم د فرش ملاسته خوښه وي - خو په ګرمۍ کښې
.... په یخنۍ کښې خو بیا د پلالې او د پټرې خوا لټوي
کنه .... (خندا) .... نو دغه د سپو پیشوګانو فرش
هتره .... د کوڅې سره په خوا کښې ښخه شوه ....
دومره خوصفا وه .... چې دا پته نهٔ لګېده چې دا د ټیکرې
نه جوړه ده کهٔ د خښتو ته .... خېر اتې پورېوځ شو .....
په څمڅۍ د کوڅې نه د پیشوګانو او سپو فرش .... نه
ریښتیا هترې ته دا ګن ارکړې شو .... او دلته غرشو چې دَ
ماشومانو یو بهیر په کانړي لکه د سپلانو کونترو را دننه شو
.... ټول لکه د کارغانو د هترې نه ګرچاپېره کښېناستل
.... هسې غوبل وُ .... ماشومان دیو د بل د پاسه سوړېدل
..... صبر اوکړئ، بچو صبر .... میاندې دریاندې بوګدې شه،
خېراتې پوره دے .... مونږ خو ئې څه کور ته نهٔ اوړو، خو
هم ستاسو د پاره دے کنه .... (خندا) دا دَ ګوڅې ماما اواز
وُ شه .... ماشومانو چاپه ډکو .... چا د چاکو په
پیل د زنګونو .... خېرو .... رو خاورو نه ډکه ګوڅه دَ
سترګو په رپ کښې داسې او څنډله لکه چې ډېر تېوسان مردار

تار تار او نیله نیله کړي ...... (خندا) دلته بیا نو مرچکې لاړو
د فکرونو او سوچونو په یو لوی بهیر ورګډ شو ...... سوچ
مي کولو چې دې ته اوس څه ووېم ...... آیا دا اولنۍ پوهاوی واقعي
د خدای په نامه څخوله شي ...... او که د کړهۍ او د هټرۍ
د صفا کولو د پاره؟ ...... ما خو چې پرې هر څومره سوچ اوکړو
نو دې نتیجې ته را ورسیدم، چې دا مونږ هسې د خدای پاک
سره چل ول او دهوکه کوو ...... مطلب مو د کړهۍ وینځل
وي ...... او نوم پرې کېږدو د خیرات ...... حقیقت دا
دے چې د پوهیې پوره ګټه دومره توره ...... دومره خیر نه
او دومره خرابه وي چې د څڅولو نه ...... نو چې د څڅولو
نه وي نو بیا دې پرې سړے ځیل خدای باندې ولې څخ
اونډکړي هڅ! (خندا)

وه زما رونړو ...... وه زما دوستانو ...... وه
مسلمانانو! دا چل ول پرېږدئ ...... نعوذ بالله خدای
پاک مونږ نه شو دهوکه کولے ...... که چرې تاسو په
خپله اراده کښې دومره مضبوط یئ ...... که چرې ستا
سو نیت ریشتیا د خیرات کولو وي ...... نو بیا داسې
چل اوکړئ چې اول مو کړهۍ او هټرۍ صفا کړئ ...... او
په دغه صفا کړهو او هټرۍ کښې چې کومه ګټه جوړه شي
نو هغه بیا اوتلئ ...... بیله ئې کړئ قیمت ئې واچوئ ......
او په دغه رقم چا غریب مسکین له جامې واخلئ یا ئې چا غریب
له د خدای په نامه ورکړئ ...... نو دغه به ستاسو خیرات
شي ...... (خندا) ...... ګټه خو څه روټۍ نه ده چې

تا سو ورله ماشومان را غونډ کړئ او اسلغاو تلغاو پرې جوړ
کړئ ... . خبره يې چې دا تاسو د خپلو ماشومانو سره
څومره ظلم کوئ .... د خيرات په نامه دغه ماشومانو له
د خپله لاسه زهر ورکوئ .... دا زنګ ...... دا خيرے ....
دا خاورې کنې زهر نه دي؟ ...... خدائے راستې چې زهر دي .....
.... دا سې زهر چې د ماشومانو ماشوم لړمون پرې ککړ شي او
شل قسمه بيمارۍ په کښې راپيدا شي .... دا سې مه کوئ به
..... دا ظلم مه کوئ .... دا ناروا مه کوئ .... د خيرات
په نامه پسات مه کړئ ...... (خندا) چې دا کانړې شروع
شي نو د موږ والو خلقو د غلي خرڅ څه قدارې کم شي .....
څکه څوک چې د پوره د ټخيدو هواړ راخوره شي ...... نو د
نزنېے هغه وي چې ځان بيا کانړې ته رسوي څه ګوره د
ژاولي په شکل کښې اوخوري ...... څه د نرمې په شکل کښې
او خوري ..... څه د کومې په شکل کښې د پوګ د پاسه
ډيرے جوړ کړي، او کور ته روان شي ... . په ورځ کښې که
څلور پوره خټل ..... لس ځله به پاو پاو ګوره خوري ...
نو کوم سرے چې د ورځې دوه سېره ګوره خوري نو هغه به
دانه روتېړه خاورې او خوري څه (خندا) خدا ے راستې که
دانه نمرېډه هم او خوري .... او خبره يې چې انجام يې
څه وي .... انجام يې مختلفي بيمارۍ ...... مرختلف رنګونه
..... قسما قسم تکليفونه .... د هر چا په ګېډه کښې
چينجي اوشي .... خېټې يې لوے لکه د مسې شي ...... ينګې
يې مړاوي لکه د بولې کټ لنګه شي .... بيا چې قدم اخلي نو

پښې په ځان پسې راکاږي ..... هروخت ئې د خولې نه لاړې بهیږي
...... هروخت ئې په وښکو کښې لاړې بربوکي وهي ..... وښکي
ئې یا خړ شي ...... ژبه ئې پخه شي .... د خولې خوند
ئې خراب شي ....(خندا) ددې هر څه دپاسه ...... د
دې هر څه باوجود هم د پوُ ربوځ راباندې اولګي نولکه
د پیشو به په تراټې ګانړېد ته خلاص یوُ ...... وئ ته
خدا ے زمونږ سره پوے شه .... دا مونږ خدا ے خبر
چې څنګه عالَم یوُ ؟ داسې عالَم به هم چا چرې لیدلے وي
چې په خپل خپل وښو نهٔ پوهیږي ...... او .... دا
مونږ پښتانۀ یوُ کنه - (خندا)

دَ بجلۍ غلاګرګي

(خندا) یره غلاګرګي خو به موږه دُنیا کښې ډېر لیدلي وي خو دَ بجلۍ دَ غلاګرګو نه په اخلاقي لحاظ سره به موکم غلاګرګي نهٔ وي لیدلي . . . . ته ګوره ورته چې دا موږ اُوس په اخلاقي لحاظ سره دومره راپرېوتو چې دَ بجلۍ غلا هم کوُو. . . . . . . توبه خدایه توبه . . . . . چې دَ کوم قوم افراد دومره راپرېوځي . . . . . چې دَ کوم قوم افراد دومره سپک او دومره خوار شي، نو دَ هغه قوم دې خدائے مل شي . . . . . . اے دَ خدائے په قهر او رېډ لوخلقو مهٔ کوئه . . . . . دا غلاګاني پرېږدئه . . . . . کښې واورئه . . . په دواړو غوږو چې ستاسو دَ یاړهٔ . . . . دَ غلاګرګو دَ یاړهٔ دَ الله تعالیٰ آټله فیصله او آټل قانون" دَ اورسرې لمبې، او دَ دوزخ سورا ور دے". . . . .

بیه ناپوهه مخلوقه کهٔ پوئې نهٔ یئه نو دَ چانه ځان پوئې کړئه . . . کهٔ خبر نهٔ یئه نو دَ چانه ځان خبر کړئه چې ستاسو انجام به دَ دوزخ عذاب وي. . . . . . (خندا) دَ بدقسمتۍ نه چې زهٔ په کوم محلت کښې اوسېږم نو په دغه محلت کښې زمانه کېرچاپېره دَ بجلۍ . . . . . . دَ محکمې بابوګان هم اوسیږي . . . . . تاسو یقین اوکړئه . چې په کومه شپه بجلۍ فېل شي، نو دَ دغه غلاګرګو دَ کورماشومان لکه دَ غشي زموږ په کوڅه را خلاص وي. . . . . . "بېو مور مې وائې چې یو څو تیلي خوراکړه" . . . . . بېو مور مې وائې چې لږ ډبلې خوراکړه" . . . . . "بېو مور مې وائې چې یو سرو ټکه خوراکړه" . . . . . . (خندا) نو بېو غریبه بیا لګیا وي چاله تیلې، چاله ډبلې اُوچاله

سروتکه ورکوی ..... ځکه چې دا دَ بجلۍ غلاګرکی غریبانان دومره غریبانان دي چې یو ماچس قدر لا هم نشي آخیستے - اودَ ماچس آخېستو څهٔ ضرورت دے. ماچس خو به هغه څوک اخلي چې څوک دَ بجلۍ غلا نهٔ کوی.

... ماچس خو به هغه څوک اخلي چې څوک غلا حرامه ګڼي .... اوُ دَ خدائے دَ قهر نه ویریږی ... سنهٔ نو دَ بجلۍ غلاګرکی ماچس ولې واخلي؟ آخر هغوئې ته دَ ماچس څهٔ ضرورت دے ..... دَ هغوئې خوکټوی په بجلۍ، روټۍ په بجلۍ، جامې وینځل په بجلۍ ..... آن تر دې پورې چې هغه یو ماما خو چې چلم څښی نو هیټر اولګوی په هیټر باندې څهٔ کښکے یا خاشه بله کړی او بیا پرې چلم اوڅښی ..... دا ماما چې په کومه ورځ اورګاروی نو ټوله ورځ به دَ سیګریټو نو دَ ډبلو نه نرۍ نرۍ باتۍ جوړَوی ..... (خندا) او نرۍ نرۍ باتۍ .... نه نه مرو په غوږ کښې دَ وهلو دپاره نه ..... وَه زوره ورو دغه دَ کاغذ باتۍ په هیټر بله کړی اوُ دَ چیلم نه پرې لوخړه اُوباسی ..... تاسو یقین اوکړه چې دَغه دَ بجلۍ ماما صرف په چیلم باندې هره ورځ دَ حکومت دَ شلو روپو بجلی خرڅ کوی ..... اوُ اوُ دَ شلو روپو ځکه ..... چې یو کاپر هیټر ئې ساتلے دے ..... او دغه هیټر چې یو ځل دَ چیلم دَپاره بل شی نو په ګنټو ګنټو دَ چیلم دَ خاطره سور لکه انګار پروت وی ..... او نو ماما له ئې څهٔ زور وررسیږی ..... بجلی دَ حکومت ده .... اوُ دوئې خو دَ بجلۍ په دفترکښې نوکران دی ..... نو دَ بجلۍ دَ محکمې دَ بجلی ګهر بجلی حلاله ده کنه ..... (خندا) آئه ته ئې کورئې خورکړې ... . هم دَ دې غلاګرکو دَ لاسه مې لاړو نظر خراب شو ..... اوُ اوُ نظر مې کمزورے شو. ځکه چې ګهر چاپېره دا نه غلاګرکو په بجلۍ دا سې څښتې اچولې وی، چې مونږ کره بجلی نه، بلکې دَ بجلۍ ایله زیُم قدر له

رارسی، دا دَ ښلو ښلو والهوتو بلبونو غریبانانو لکه دَ شړشمو دَ ډیوې په رنګې زیره ګونه مخونه نیولي وی۔ ...... اُوکۀ دَ غسې حال وی نو ډیر زر به خبرشی چې لاړو مرچکے شمکور شو....... (خندا) آخرچې یوه ورځ ډیر تنګ شوُم نو دَ بجلۍ دا غلۀ مې راجمع کړل او یُو لوئے لیکچر مې ورته اوکړو۔ اوچې ما بنۀ ځان ستړے کړو، نو هغه یو راته اُووے چې مرچکیه تۀ لیونے ئې لیونے..... زۀ؟ زۀ لیونے یَم؟.... اُو اُو تۀ لیونے ئې، کۀ لیونے نۀ وې نو دَ لیونو خبرې به دې نۀ کولې۔ دَ بجلۍ غلا هم لاخدائے روئې اومنه غلا ده؟.... بجلي خو دَ اُوبو نه جوړیږی دَ حکومت پرې کوم لاس پښې ستړی کیږی چې زمونږ نه دَ بجلۍ پلونه غواړی..... (خندا) ځه چلیږه اوُس ئې خوند اوکړو..... په دې زړۀ کښې مې وې چې راشه مرچکیه یوه داسې ناتوړقه ترې په دې مخوکه اوباسه چې سم برندے ترې جوړ کړې..... خوچې کیږ چاپیره مې اُوکتل نو غلا کوکی کښه سری ډیر وو، اُو زۀ یوازې..... د ناتوړقې دَ پاره اُوچت کړې لاس باندې مې نرزند ختې اُوکړَوُلو او کور ته را روان شوم..... په غولی کښې منګے پروت وو چې تیندک مې پرې او خوړو نو داسې بازیګره مې واړولہ چې هغه سپک غوړی ځوئے مې راپورې دَ خندا نه کُلمې شنې کړې...... (خندا) نه نړوند نۀ وُم..... خوپیشے خو هم نۀ یَم کنه چې په تیارۀ کښې به مې نظر نکیدو.... ... دَ بلبونو قیصه خو مې درته اوکړه چې دَ غلاګرکو کیږه ئې خوړلې ده...... دَ هلکانو مور راله بیا کُورکمانونه او غوړی کان سرۀ کوُل..... .... اَو زۀ دَسو چونو او فکرونو په سمندر کښې په لامبو وُم..... اوسوچ مې کوُلو چې اے مسلمانانو..... داولې ستا سو دَ زړونو نه داسې کرکه اُووَته داولې تاسو دومره باغیان شوی۔ دَ بجلۍ غلا غلا ده۔ دَ بجلۍ غل مجرم دے ..... هم دَ حکومت په نزد او هم دَ خدائے تعالیٰ په نزد۔ لکه چې دَ یو

ډاکو دَ پاره کومه سزا ده، هغه سزا ستاسو دَپاره هم ده. لکه دَ یو شوکمار چې کومه سزا ده، هغه سزا ستاسو هم ده، لکه دَ یو کنډرکوونکی دَ پاره کومه سزا ده، ستاسو دَ پاره هم ده. نو اے دَ بجلۍ غلاکوکو تاسو ډاکوان شوئ، تاسو شوکمار شوئ تاسو کنډرکوونکی شوئ ...... په دغه حرامه بجلۍ چې تاسو کوم بخلے کوئ، په خدائے باور اوکړئ چې دا حرام دے.... ... په دغه بجلۍ چې تاسو کوم اِنګولے پخوئ، یقین اوکړئ چې دغه حرام دے. دغه بجلۍ ته ستاسو ملا سته حرامه، دغه بجلۍ ته ستاسو ناسته حرامه. دغه بجلۍ ته ستاسو مونځ دَ قبلېدو نهٔ دے.

...... نو اے دَ ځان دُشمنانو دَ دې لږې غوندې فائدې دَ پاره موخپل هرڅهٔ حرام کړی دی. دَ دې لږې غوندې فائدې دَ پاره موخپل آخرت خوار کړے دے؟ .... اے ناپوهه عالمه اُوَ یوېږئ دَ قیامت دَ هغه ورځې نهٔ چې دَ تاسو سره به دَ یوې یوې ذرې حساب کتاب کوُلے شي. او ویرېږئ دَ دوزخ دَ هغه لمبو نهٔ چې پکښې به ستاسو په رنګ غلاکوکي لکه دَ خشاک ترقېږی. مهٔ کوئ رُونړو دَ خپل ځان سره دشمنی مهٔ کوئ... .... په خپل بال بچ ظلم مهٔ کوئ. راشئ سم مُسلمانان شئ، راشئ سم انسانان شئ، چې دَ خدائے تعالیٰ دَ قهر او عذاب نه په امان شو......

رُونړو یو دوست ته مې ژړا اوکړه. یو دوست ته مې فریاد اوکړو چې دَ بجلۍ غلا ډېر پړېوتے کار دے، ډېر سپک کار دے. نو هغهٔ راته په جواب کښې اُووې چې مرچکیه دا څهٔ په کندوکېرو سرئ؟...... وه زوره وره ټوله معاشره خرابه ده، هرڅهٔ خراب دی، نو دَ بجلۍ غلو غریبانانو کومه ګناه کړېده، چې تاور پسې ډانګ ډبلۍ راوا خېستل؟ .... (خندا) نو رُونړو زهٔ تاسو نه تپوس کوم چې دا معاشره چرته پېریان دېوان دی څهٔ؟....... دا قام چرته غېب عالم دی څهٔ؟ ...... خوزهٔ اُو تهٔ او بل چې را یو ځائے

شونو معاشره ترېنه جوړه شوه. چې زهٔ اُوتهٔ اوبل راپوځائے شونو قام ترې جوړ شو...... چې زهٔ ښهٔ شم، ته ښه شې اوبل ښه شي نو معاشره به پخپله ښهٔ شي....... چې زهٔ ښهٔ شم، تهٔ ښهٔ شې اُوبل ښهٔ شي نو قام به پخپله ښهٔ شي...... . رُونوکهٔ دَ پاکستان دالس کروړه خلق هر یو هره میاشت دَ حکومت نه دَ پينځو روپو سرې سر بجلی پټه کړی نو دَمیاشتې پنځوس کروړه روپۍ شوې...... نو اے بد نصیبو دَ خپلو پينځو روپو دَ پاره حکومت له پنځوس کروړه روپۍ دَ میاشتې تاوان ورکوئ؟....... دا تاسو ځان ته انسانان وایئ؟ دا تاسو ځان ته مُسلمانان وایئ؟ دا تاسو ځان ته دَ ازاد قوم افراد وایئ؟...... (خندا) خپلو ښوله پخپله تبررا خلاصَوُل کنی انسانیت دے؟ خپل کور پخپله ورانوُل کنی شرافت دے؟ راشئ مهٔ کوئ .... زمادا خبره په پیسکې پورې غوټه کړئ، چې دَ بجلۍ غلا حرامه ده ...... دَ بجلۍ غل، غل دے ...... دَ بجلۍ غل مجرم دے، هم دَ حکومت اُو هم دَ خدائے ...... دَ حکومت دَ نظر نه خو به ځان بچ کړئ، دَ بجلۍ دَ اِنسپکټر په سترګو کښې خو به خاوُرې واچوئ. خو ائے ناپوهه عالَمه! دَ خدائے سره به څهٔ چل کوئ؟ دَ هغهٔ نه به ځانونه څنګه پټوئ..... خدائے شته چې تاسو له خدائے پاک په دوزخ کښې هغه تراټونه درکړی چې تاسو هم اُووایئ چې شپاړس..... نو څنګه؟ څهٔ صلاح موده، دَ بجلۍ دَ غلا نه توبه اوباسئ اُوکه نه دَ دوزخ سر ولمبو ته غاړه ږدئ–؟ نو په دې خبره سوچ اوکړئ او بیا ماله جواب راکړئ ...... (خندا) بس زنګونوله مې دَ غوږواوکورکمان تکور ورکړو، زهٔ اوُس اُوده کیږم او تاسو په خدائے سپارم. خوکورې رُونړو چې زما په دې ترخو ترخو خبرو خفه نهٔ شئ. زما دَ دې ترخو خبرو په فائده به تاسو هله پوئ شئ چې تاسو خو بېرې عمل اوکړئ. اُوکهٔ نه خامخا

خفه کیږې نو خدائے مو داسې خفه کړه چې هیڅرې خوشحاله نهٔ شې زما خو هغه مثال دے چې ؛ یار له پند ورکړه اوچې پند نهٔ اخلي نو د ټسکو پنډه ورکړه اوچې د شکو پنډه ورته په سر کړې نو بیا ورله یو داسې دیکه ورکړه چې د ملا دا تیرې مات شي۔ (خندا)

شرک

اے دَکوګنې شهيده، زۀ نن ستا سلام له راغلے يم...... نن مې دا زړۀ غواړی چې ستا دَ مزار په دې خټې دَ عقيدت پوښو رنې رڼې اوښکې تويې کړم. خو په دې اوښکو به ګنې زما دَ زړۀ تسلی اوشی. دا دعقيدت څواوښکې به ګنې زما دَ زړۀ نه هغه غبار لرې کړی .... شهيده بابا! ستا په مزار خو خلق دَ عقيدت ګلونه غوړه وی ستا په مزار خو خلق اوږدې اوږدې جنډې ټکوی. ستا په قبر خو ستا عقيدت مند لوئے لوئے غلافونه غوړه وی. او دَ جمعې په مبارکه شپه درته شمعې او مشالونه بلوی...... نو زما دا څو اوښکې به ګنې دَ هغه غلافونو مقابله اوکړے شی، زما دا اوښکې به دَ ګلونو دَ هغه څهروځائے اونيوے شی؟.... زما دا اوښکې به ګنې دَ شمعو او مشالونو کمے پوره کړے شی؟...... شهيده بابا! زما زړۀ خو غواړی چې ستا دَ قبر په دې خټې دَ ګلونو انبارونه اولګوم...... زما زړۀ غواړی چې ستا په دې قبر دَ کمخواب غلافونه اوغوړوم...... زما زړۀ غواړی چې ستا په مزار دغوړو ډيوې بلې کړم...... خوښه اوکړم بابا؟ که زما زړۀ دا هرڅۀ کول غواړی خو بيا هم کولے ئې نشم...... بېګاه په خوب کښې خو هم تاراته وئيلی ووکنه...... او! اوس مې هم ستا په ياکو ستر ګو کښې هغه پاکې اوښکې را ياد دې شی،...... ستا هغه غمژنه څهره مې را ياده شی، ته څومره خفه وې شهيده بابا!....

......اوچې مادرنه تپوس اوکړو چې دا ولې، ...... نو تا یوسوړ اسویلے اوکړو. او راته دې اُووې ...... چې زړهٔ مې ډېر خفه دے ....مسلمانان لاړل دَ اِسلام دَ لارې نه په بله روان شُول .... دَ مسلمانانو نه نېغه لار غلطه شوې ده، مسلمانانو خدائے هېر کړو. اُو دَ خدائے مقام ئې زیارتونو او باباګانو له ورکړو. ته نهٔ ئې خبر چې زمانه دې قبر دا نا پوهه عالَم کوم کوم حرکتونه کوی...... خلقو خدائے پرېښودو زمانه سوالُونه کوی. خلقو خدائے هېر کړو دَ قبرونو نه سوالونه کوی...... دا ساده ګان دومره نهٔ پوهېږی چې قبرونه او زیارتونه چاله هېڅ نهٔ شی ورکولے ...... قبرونه او زیارتونه چاته دَ څهٔ بخښلو دَ پاره نهٔ دی...... بلکې زمونږ دَ قبرونو دا خلی دَ دُنیا دَ پاره دَ عبرت مقام دے. تاسو له پکار دی چې دلته راشئ چې عبرت واخلئ او دا یقین په زړهٔ کښې کښېنوئ چې مرګ حق دے. دَ مرګ نه خلاصے نشته. دَ هر انسان آخرنے منزل دا هدیره ده، اَو په دې هدیره کښې دا دوه نیم ګزه مزکه ده...... اے نادانانو! مړو هم چاله څهٔ ورکړی دی، چې زهٔ به ئې ورکړم؟...... شهیده بابا! ستا، خبره په سر سترګو منم،..... زیارتونه او باباګان به چاله څهٔ ورکوُلے نهٔ شی.... خو..... خدائے پاک ته خو زمونږ دَ ګنهګارانو سفارش کوُلے شی کنه؟......" دا دَ خلقو وهم دے، دا مسلمانان دَحقیقت نه سترګې پټوی. سفارش؟ اُو خدائے پاک ته؟........

اے نادانه انسانه! الله تعالیٰ ته دَ سفارش کوُلو حق صرف سرورِ کائنات صلی الله علیه واٰله وسلّم ته حاصل دے اُو هغه هم دَ محشر په ورځ..... نعوذ بالله خدائے پاک هم څهٔ انسان دے څهٔ، چې دَ یو بل پهٔ سفارشونو به خلق بخښي...... اے انسانانو،

اصل خیر عمل دے .... عمل بندٔ کړې ۔ کږې لارې پرېږدئ ـ سمې
لارې ته راواوړئ ...... او هر کله چې مسلمانان نېغې لارې ته راواوړي
.... هر کله چې مسلمانانو خدائے پاک د ټولو نه لوئے ذات
اُوګڼلو، نو بیا د هیچا د سفارش ضرورت نشته .... خدائے
پاک د چا سفارشونو ته نۀ ګوري، هغه د انسان عمل ته ګوري......
.... اے انسانانو الله تعالیٰ خو تاسو ته دومره نژدې دے لکه
شاه رګ ...... اُو تاسو چې اُووایئ چې یاالله! ..... نو خدائے
درته اُووائي چې وایه اے زما بنده څۀ وائې، غواړه اے زما بنده
څۀ غواړې؟ ...... خو کاش چې انسان خپل عمل هغه مقام ته اورسوي
چې الله ترې پخپله تپوس اوکړي چې وایه څۀ غواړې .... نو
غافلانو، مونځ مونشته، اودس مونشته، خېر خېرات مونشته،
اُو د دې د پاسه هم تاسو د شهیدانو مزارونه درېوئ ـ د باباګانو
قبرونه رالړځوئ، چې هغوئ خدائے پاک ته سفارش اُوکړي چې ستاسو
سوال قبول شي؟ ...... مۀ کوئ اے بدبختانو مۀ کوئ، زیارتونو
له د غوښتنې د پاره مه راځئ بلکې د عبرت د پاره راشئ ......
زیارتونو له د منښتو د پاره مۀ راځئ، د دُعا د پاره راشئ چې د زیارتونو
باباګان درنه خوشحاله شي ...... اُو اے ناپوهو! زما د دې قبر
نه دا غلاف راغونډ کړئ ...... یوسه ستاسو په کندي کښې د کچکول
یتیمانان دي، چې په تن بربنډ دي، هغوئ له ترې جامې جوړې کړه.
...... پاس په دې بېره کښې اوخېته او دا ټولې جنډې راکوزې
کړه د کچکول کونډې له ترې پړونے جوړ کړه، چې هغه سر توره ده
...... او دا ټولې شمعې او ډیوې راغونډې کړه، د کچکول کونډې
له ئې ورکړه، چې د هغۀ یتیمانان د شپې په تورتیپ کښې د خپل

سوری نه نهٔ ویریږی..... زما قبرته دَ غلافونو ضرورت نشته..
...... دا غلافونه زما په سینه لکه سندان پراتهٔ دی. دا کلونه زما په
سینه لکه ازغی پراتهٔ دی، زما رُوح به هله خوشحاله شی، چې دَ دې غلاف
نه دَ کچکول دَیتیمانو جامې جوړې شی، زما رُوح به هله په آرام شی چې دَدې
جنډو نه دَ کچکول دَ کونډې دَ پارهٔ پړونې جوړ شی، ستاسو غلافونه زما
نهٔ دی پکار. دا اسراف دے..... ستاسو جنډې زما نهٔ دی پکار، دا
اسراف دے..... ستاسو شمعې اُو ډیوې زما نهٔ دی پکار، ماته په دې
تورتیپ قبر کښې دَ عمل رڼا کافی ده...... دا په ډېرو ډېرو کلونه اوسېږي
چې زما په دې قبر پرتې دی دَدې نه ماته څهٔ خبر. تهٔ یقین اوکړه چې
ماته دَدې خوشبوئیګه ضرورت نشته...... نو بیا ولې دا خلق په
دې سهرو باندې په چُونګونو روپۍ خرچ کوی..... کهٔ په
دغه پیسو یو نهر به کښې ه موړ کړې شی، نو ګنی ښهٔ به نهٔ وی......
کهٔ په دغه پیسو دَ چا قرضدار ی قرض خلاص کړے شی نو ښهٔ به نهٔ وی
...... کهٔ په دغه پیسو دَ چا نادار مریض دارُو دَرمل اوشی نو ښهٔ به نهٔ
وی؟ نو بیا؟...... بیا دا خلق ما ولې آرام ته نهٔ پرېږدی...... چې
خدائے شته نو دَ قبرونو نه دا خلق څهٔ غواړی......چې خدائے
شته، نو بل چاته دَ وېنا څهٔ ضرورت. اے مسلمانانو توبه اُوباسئ...
..... دَ شرکُ کارُونه پرېږدئ...... راشئ صحي مسلمانان شئ...
...... راشئ صحي انسانان شئ..... دَ زیارتونو په سفارشونو مو خلاصے
نشته...... دَ باباګانو په سفارشونو مو غاړه نهٔ خلاصیږی.......
قاتل کهٔ په زیارتونو باندی دَ سرو زرو غلاف اوغوړوی خو دَ خُون
دَ ګُناه نه نهٔ شی خلاصېدے...... غل کهٔ په زیارتونو باندې
دَ سپینو زرو ډیوې بلې کړی، خو خلاصے یې نشته.......کهٔ

بېلمازه دَ زيارتونو خاوُرې دَ سترګو رانجهٔ کړي، خوحساب کتاب به ورسره کيږي...... زيارتونه قاتل ته خُون نشي بخښلے، زيارتونه غل ته دَ غلا مال نشي حلالولے...... زيارتونه بېلمازه ته نمونځونه نهٔ شي وربخښلے...... نو بيا؟...... بيا دا غلاف زما دَ قبر نه غونډ کړه اوُ دَ کچکول ځامنوله يې ورکړه...... دغه جنډې راکوزې کړه اوُ دَ کچکول ښځې له يې ورکړه...... اوُ لارښه دا خلق پوهه کړه، چې زما په قبر غلافونه نهٔ غوړه وي، بيا دې زما په قبر شمعې اوُ ډيوې نهٔ بَلَوي. ...... دا غلافونه، دا شمعې اوُ ډيوې اسراف دے...... اوُ زهٔ په خپلو سترګو پخپله نامه دا اسراف نهٔ شم زغملے"......

شهيده بابا! ستا خبرې ما دَ زړهٔ په غوږ واوُريدې......

زهٔ دا منم چې دا غلافونه، دا جنډې او دا سهرې ستا دَ هيڅ فائدې نهٔ دي...... زهٔ دا منم چې زيارتونه اوُ زيارکان چاته خُون نه شي وربخښلے. چاته غلا نهٔ شي بخښلے. څوک دَ نمونځ دَ ذمه وارونه بې غمه کوُلے نهٔ شي....

...... خو بابا! دُنيا په پټو سترګو په دغه سېلاب کښې لا هوشوې ده...

...... دَ مسلمانانو نه سمه لاره خطا شوې ده، مسلمانانو خدائے پاک هېر کړے دے...... زهٔ منم چې مسلمانان په قبرونو غېرشرعي سوالونه کوي...... زهٔ دا هر څهٔ منم...... خو...... کهٔ اوس چاته دا وائيم چې دا کار په شرعه کښې ناروا دے، نو...... اوس مې به کانړو اولوټو وُلي...... اوُ اے شهيده بابا! زهٔ دا منم چې دَ کچکول ځامن بربنډ دي...... دَ کچکول ښځه سرتوره ده، په ټول کلي کښې دَ کچکول دَ بچو په سر چادر دا نهٔ کېښلو...... دا هر څهٔ دې منم...... خو...... ستا دا خبره نهٔ شم منلې...... ستا دَ قبر نه غلاف راغونډ وُل...... ستا دَ مزار نه جنډې راکوزَ وُل...

...... دَ خلقو په نظر کښې يَو لوئے جُرم دے ...... نوائے شهيده بابا! زهٔ درنه معافی غوارم ...... ډېره معافی ...... معاشره ډېره خرابه شوې ده ...... مُسلمان دَ نېغې لارې نه ډېر لرې وتے دے ...... مسلمان اوس دَ پوئې لوئې حد نه تېر شوے دے ...... اُوس؟ اوس صرف يو الله پاک دا بې لارې شوی په لاره کولے شی. دَ هغهٔ په فضل وکرم به هر څهٔ کيږی ...... شهيده بابا! راځه چې دواړه لاس پورته کړو چې الله پاک دې دَ مُسلمانانو په زړهٔ کښې دَ مذهب سره مينه راپيدا کړی. الله پاک دې دَ مُسلمانانو په زړهٔ کښې دَ وحدت سره مينه راپيدا کړی. الله پاک دې په خپلې مهربانئ سره مسلمانان دَ شرک دَ خړ سېلاب نه په آمان کړی ...... آمين.

شهيده بابا! خدائے دې درله جنتونه درکړی، زما دَ زړهٔ نه دې يَو لوئے پېټے کوز کړو ...... شهيده بابا! اوس راته معلومه شوه چې ستاسو په مزارونو دَ مسلمانانو دا غير اسلامی سوالونه اَو غير اسلامی حرکتونه ستاسو رُوح ته څومره تکليف دررسَوی الله پاک دې مونږ ته هدايت اوکړی. الله پاک دې مونږ ته نېغه لاره اوښائي آمين يارب العٰلمين! ٭

اَمرُوتان

(خندا) تاسو به وايئ چې هلکه مرچکيه دا وُدې خندل ولې؟ ...... نو...... وُمې خندل په دې پورې ـ چې زۀ هم شُکر دے بنيادم يم، دَ خندا په خبرو پورې به خندا کوُم او دَ ژړا په خبرو به ژاړم.....

داسې چل وو چې تلے وُم کوهاټ ته ...... اَو اُو په لارى کښې...... نو چې کوهاټ ته لاړم ...... خپل کار مې اوکړو ...... اُوچې راتلم نوماوې راشه بنده تش تور پېښور ته مۀ ځه ...... ځان سره دَ کوهاټ مېوه هم يوسه ...... نو بُخت لاړم يو دُکان ته اُودرېدم، ماوې لږ امروت به واخلم ...... په يوې ټوکرۍ کښې غټ غټ امروتان پراته وو. ...... زړۀ ته مې خدائے شته چې پرېوتۀ ...... او نرخ ئې هم ښۀ وو؛ اَته آنې سېر...... دُوکاندار ته مې وې چې دَ دې ټوکرۍ نه يو څلور سېره اَمرُوتان اُوتله ...... ماما تله راواخسته ...... کاڼي ئې پکښې واچوُل...... او چې دوه امروتان ئې راپورته کړه ...... چې څلور ئې راپورته کړۀ ...... نو...... (خندا) دَ دې څلورو غټو غټو امروتانو دَ لاندې نور وارۀ وارۀ ...... پچوڼې پچوڼې امروتان پراتۀ وو... حق حېران شوُم...... په دې زړۀ کښې مې وې، چې مرچکيه دا جوړې دې غټو غټو امروتانو به آکله اچوُلې وی نو...... (خندا) يره اَکې خومې دَ چرګې لېدلې وې ـ دَ مرغانو مې لېدلې دې...... دَ کارغانو مې لېدلې وې...... خو دَ امروتانو اَکه مې خدائے شته کۀ چرې لېدلې وې.....

..... خړ خړ مې کتل او دوکاندار ماما ووچې تله ئې د امروتانو د اکونه ډکوله .... آخر صبر نهٔ شؤم - ورته مې اووې چې اے ماما زهٔ خوامروتان خلم. د امروتانو اکې خونهٔ اخلم ..... دوکاندار راته داسې بد بد اوکتل- ..... "د کومې علاقې روره"......

"د پېښور یمه"..... نوم دې څهٔ دے"...... نوم مې خاورې مرچکې- .... (خندا) دوکاندار تت تت په خندا شو..... "لکه چې نوم دې د بنیادمانو نهٔ دے، داسې درله سترګې او خوئ هم خدائے پاک د بنیادمونهٔ دی درکړی.. .... خو تا به دې نوکرۍ کوته کښېنوده، او هم د دې نوکرۍ نه درلـه امروتان تلم"...... "هغه خودې زهٔ منم چې نوکرۍ هم هغه ده خوامروتان هغه نهٔ دی چې کوم زما خیال وُه"....... "ولې دا امروتان نهٔ دی څهٔ؟..... ..... نه ماته خوامروتان نهٔ ښکاری، صوابېږې راته ښکاری- داسې ښکاری لکه چې دغه غټ امروتانو اکې اچولې وی...... نو زهٔ خوامروتان اوړم د امروتانو اکې نهٔ وړم....... (خندا)

.... او دلته د دوکاندار ماما سترګې د ډېر غصې نه برګې شوې....... ماوې لاړې مرچکیه په امروتوئې په سر اوویشتې، خو خدائے پاک خېر کړو....... "ځه ځه ورک شه، خوار شې، دې مشادې ته خو دې اوکوره، ستا په رنګ مشادې امروتان نهٔ شی خوړے"......

د دوکاندار ماما خبره خورا باندې خدائے شته چې ډېره ترخه اولګېده .... او بس دا مې ورته ووئیل چې ورشه شیشه راوړه، چې دواړه پکښې داخلې مشادې لړې اوګوره، چې ستا د دې کوډ ووډ او تو ډلې مخ نه زما دا مشاده ښهٔ ده او کهٔ نه .... خو په دې کښې لارۍ پوں پوں اوکړه نو امروتان مې ماما ته په تله کښې پرېښودهٔ، او ما شت وهلې لارۍ ته...... لارۍ مغنک ئې شو چې روانه شوه ...... او زهٔ د سوچونو او فکرونو په سمندر لاهو

شوُم..... اَن ترپېښوره پورې هم په دې سوچ کښې غرق وُم، چې دا موږ خلق داسې ولې سپين سترګی شو.........

:.... اول خوغلا او دهوکه سراسر غلط کار دے. غېراسلامی کار دے غېراخلاقی کار دے. اوکهٔ خامخاخوک دهوکه کوی نوکم ازکم دهوکه هم داسې بکارده چې هم په هغه ساعت خونهٔ په ډاګه کيږی...... هلکه لاندې وراړهٔ اوخراب او دَپاسه غټ اُوښهٔ امروتان ولې اړدی؟..... (خندا) دا غټ غټ امروتان جوړه دُبلارې کارکوی......چې هرڅوک ئې دَ لرې نه اووينی نو هم دغه ټوکری له به رامنډې وهی....... او بيا؟...... بيا به لکه زما په رنګ دُوکاندارسره يو څو تروې ترخې خبرې کوی اُولاړ به ته به ترپ کوی...... ای ته کورته خورکړې...... نه پوهيږم چې سړےکومې دُنيا ته اُوتښتی....... په هر څهٔ کښې چل..... په هر څهٔ کښې ول..... په هر څهٔ کښې دهوکه..... مخکښې دهوکه. روستو دهوکه...... لاندې دهوکه....... دَپاسه دهوکه....... دهوکه. دهوکه او دهوکه......

يَه هلکويَه دَ امروتانو ماماګانو..... کهٔ چرې تاسو دا غټ غټ ښهٔ ښهٔ..... امروتان بېل په يَو ټوکری کښې واچوئ...... او دا دَ غټو غټو امروتانو اُکی وړاړهٔ او خراب امرُوتان په بېله ټوکری کښې واچوئ......... اوُ غټ امرُوتان دَ اَته آنې سېر په ځائے لس آنې سېر، اُو وړاړهٔ امرُوتان دَ اَته آنې سېر په ځائے شپږ آنې سېر کړئ نو ګنی کور به موپوره نهٔ شی؟.........

ولې به موپوره نهٔ شی..... بالکل به پوره شی..... خومصيبت دا دے چې زموږ په خَټه کښې دهوکه اُو چل ول آخلے شوي دي. ګنی معامله به مو سپينه او صفا چلوُله....... نه به تاسو پخپل زړهٔ کښې ملامته وئ اوُ به درته آخيستوُنکی په زړهٔ زړهٔ کښې خېرې ازارکوُل.....کورې مهٔ کوئ....... په چل ول او دهوکو دهاکوڅوک مړيږے نهٔ شی.....

کهٔ څوک مړ ېدے شوے نو دَ امروتانو دُوکانداران به اُوس هم هغه دَ اَمرُوتانو
ټوکرۍ ته نهٔ وو ناست ..... . خوکهٔ ټول عُمرۍ په چل وَل او دهوکو تېر
کړو ولې بیا هم، هم هغه دَ امروتانو ټوکرۍ ته ناست دی چغې وهي ......
"آټھ آنې دَ سیر لالے آټھ آنې دَ سېر" .... (خندا) ..... خېر سر
به مو څهٔ خوُږ کوٴم .... ما هم دا سُوچونه کوٴل چې په دېکښې لارۍ دَ پېښور
په اډې را دننه شو ...... لارۍ مخکښې اُو دَ ټانګو قطار ورپسې ....
دوه ټانګې دَ لارۍ نه مخکښې روانې وې ...... درې ټانګې دَ لارۍ نه ښی طرفته
درې دَ لارۍ ګس اړخ ته، اَو څلور په لارۍ پسې را خلاصې وې ...... (خندا)
تا به وې چې لارۍ نهٔ ده دَ مامَدې ډولۍ روانه ده .... حق حېران وُم
چې یَه خُدایه پاکه دا ټانګې دَ دې لارۍ نه داسې مخکښې روستو ولې را خلاصې
دی ...... په دېکښې لارۍ اُودرېده ...... او ټانګې والاؤ ماماګانو
دَ لارۍ نه ګېر چاپېره خپلې ټانګې داسې قط په قط اُودرَولې چې دَ لارۍ نه
دَ کوزېدو لار هم ونهٔ وه .... مړو خوشهٔ به مو سر خُوږ کوٴم څهٔ په
شوا خُون دَ لارۍ نه راکوُز شوٴم .... اُوچې راکوُز شوٴم نو بیا دَ ځان دَحاله
نهٔ یُم خبر ...... یو ټانګې وال دَ مټ نه نیولے یو خوا را ښکلم، اَو بل
ټانګې وال دَ بل مټ نه نیولے بل خوا ته را ښکلم ...... یو ټانګې وال مې
لمن نیولې وه .... بل ټانګې وال مې ګرېوان نیولے ؤ .... هر یو خپلې
خپلې ټانګې ته راکښلم ..... . حق حېران وُم چې یَه خدایه پاکه دا په څهٔ بلا
واُوښتم ...... جامې مې اُوشلېدې . مخ مې نوکارې ...... غوږ مې
نوکارې ...... او پوُزه مې نوکارې ...... (خندا) نور په څهٔ دومره نهٔ
وُم خفه ..... خو دا زما پوزه میرات مړې چې ټول ځل زخمي شی، نو بیا ئې
زخم په آسانه نهٔ ښهٔ کېږی ...... خبره دُونو په څهٔ شوا خون مې ځان دَ
ټانګې والؤ نه را خلاص کړو ...... سرُوپ مُنکر شوُم ورته چې زهٔ هم و

په ټانګه کښې ځم نه. . . . ماسره، سړه پېسه په جېب کښې نشته نو په ټانګه کښې به څهٔ لاړشم . . . . تار تار جامې دَ بسو نو دَ اوړې نه را وُوَتم . . . . . .
په سړک اودرېدم يوه ټانګه راغله . . . . "صدر ته" . . . . کاکا څو پېسې به واخلې" . . . . "څهٔ دې چې خوښه وی ورکړه دوره" . . . . . . "آخر بيا هم څهٔ خو اُو وايه" . . . . "دوره تانه خوڅهٔ زياتې نهٔ اخلم، چې څهٔ لار ده هغه ورکړه" . . . . . نو آخر څهٔ لار ده؟ . . . . . "څه يره تهٔ دوه روپۍ ورکړه" . . . . (خندا) دَ دې دوهَ روپۍ آواز سره مې په زړهٔ يو دوه درې کانړے پاس دَ آسمان نه راخطا شو، . . . . . . دوه روپۍ؟ . . . . تر صدره پورې؟ دا دوه کامه ځائے اُودوه روپۍ؟ . . . . . "څه يره تهٔ پوکم دوه ورکړه بس" . . . . نه بابا پاؤ کم دوه هم نهٔ درکوَم . . . . يوه نيمه ورکوې" . . . . . . نه يوه نيمه هم نهٔ درکوَم . . . . . . (په غصه) "مفت ځې؟" . . . . . . په شيشه کښې لرې اوګوره نو بيا دَ ټانګې نوم اخله . . . . "ستا په رنګ مُشادې په ټانګو کښې نهٔ شی سورېدې" . . . . . واقعی چې زما په شان مُشادې په ټانګو کښې نهٔ شی سورېدې . . . .
چې دا ټانګې وال وی اُودا ئې حال وی، نو ځيرې ډېر زر به خلق دَ ټانګو نه توبه کار شی . . . . . . ټانګې وال ماما لګيا وو، را پسې به قدم قدم ټانګه تاؤله راتاؤله، او ما ترې دوه خپلې اُو دوه پردی کړې راغلم دَ چايو په دُکان ننوتم . . . . اوسوچ مې کوُلو . . . . . چې دا څهٔ چارې دی . . . . . .
دا څهٔ کانې دی . . . . . . دا مونږ څهٔ کوُو . . . . . . داولې دا ټانګې وال ډېر په دې لارے پسې راخلاص وی . . . . . داولې دوئې سورلے په زور په خپله ټانګه کښې سورَوي . . . . آيا دَ دوئې دا حرکت کښې سپک نهٔ دے . . . . دَ دوئې دا عمل کښې دَ خندا نهٔ دے . . . . .

اے ټانګې والاؤ رُونړو۔ دَ هر چا په قسمت کښې چې څهٔ ليکلی وی هغه وررسيږی۔ کهٔ تاسو دا خپلې ټانګې په دې لارے کښې دننه ورا وخيژوے

نوکني دا ټولې سورلۍ به تاسو سره کښېني .... نه! ستاسو دا بې صبرۍ ..... ستاسو دا حرص ستاسو دا سورلۍ په زوره مجبورَوُل، دا ټول دا سې حرکتونه دي چې په دې باندې کۀ تاسو پوخواته بد او سپک ښکاري نو بل خواته دَ سورلو په نظر کښې هم تاسو بد ليدے شئ .... اُو يقين اُوکړه چې اکثر سورلۍ هم په دې وجه تاسو سره نۀ کښېني ..... نو دا سې چل اُوکړه چې په دې بسو نو پسې دا سې په تراټ مۀ ورخلاصيږه ښه. اُو مۀ سورلۍ په زور په تا نګو کښې سورېدو ته مجبورَوه ...... هسې نه کۀ دې سورلو د ره ته چرته اتفاق اوکړو، نو کورې لوٹے شر به ترې جوړ شي. ..... (خندا)

خېرات

(خندا) .... هغه خلق مثل کوي چې انګېر انګې مل دې څوک
....! د ټولو د وروستو، نو زه هم په شتو خوږيم، څو د ټولو نه
وروستو يم او خدائے شته چې زه هم خوشحاله يم ځکه چې څومره
د ټولو نه وروستوئې نو هومره به دې غوږ ونه په ارام يې څومره
چې په هر ځائے او هره موقع کښې مخکښې مخکښې کيږي هومره به
کړيږي .... يوه ورځ دوه کسان په جنګ وو. ټوله دنيائې تماشې
ته ولاړه وه هيڅچا هم غبر نه کولو او زه برنا حق وروړاندې
شوم د دواړو د خلاصي کوشش مې شروع کړو. کله يو، يو خوا
ته راکاږه، کله بل، بل خواته راکاږه. په دې کښې به غيب شو چې
د ولو په دې مينځ کښې به يو سوک ووهلم. چې ده ته به مې څټ
راواړولو نو درب شو چې هغه بل به په دې څټ کښې ووهلم
...... (خندا) مړه خو سر به مو څټ خوږ ووم څو چې خلاصے مې
کولو کولو نو څ سر را باندې پړسيدلي وو او جامې مې بيل تار
تار شوې وې ...... وے نو خلاصے مې نه کولو. چې خلاصے مې
کولو نو دا حال مې څو به کېدو نو ...... نورو خلقو بندړ د مزې
د جنګ تماشه اوکړه، روغ رمټ کورونو ته رواڼ وو او ما چې
خلاصے اوکړو نو ټوټې ټوټې کورته لاړم ...... نو هسې مې دا وئيل
چې نکه د نورو خلقو زه هم په آرام ولاړوے او د جنګ تماشه مې کولے

نو نړ به مې څخ سر پر سپېدل او نړ به مې جامې تار تار کېدې . په خپل
ځان څو را ته خدای ښه شه چې ځان ډېر بد يې ښکاري چې دوه کسان
دې په جنګ وي او نه دې ئې تماشه کوم - هلکه زوره وره هر يو
کار څو د تماشو نړ وي کنه او س د خدای روي او منه د دوو کسانو
جنګ هم کني د تماشو کار دے چې دا خلق ور ته ولاړ وي او خلاصے
نړ کوي ..... نه ! د انسانيت او شرافت تقاضا دا ده چې دوه تنه
په جنګ شي نو نور کسان دې د هغوي خلاصے او کړي او بيا دې مرچکے
دې د ستن کانو جنګ ته نړ ځکښې کوي ...... خير نو خبره مې دا کوله
چې مرچکے د خلقو په ياد کښې اکثر نه وي څو خدای خبر چې څه چل
دې چې هغه ورځ سپفور ماما خيرات کړے وو، نو ما ته ئې هم په
کلکه وينا کړې وه چې څواه مخواه به راځې ..... دا سې چل وو چې
سپفور ماما نوے کور جوړ کړو نو د هلکانو مور ور ته ووے چې دې
نوي کور ته به کډه هله وړو چې يو خيرات وکړو چې خدای
پاک ئې را پاندې بختور کړي او بل د نظر نه به مو هم خدای پاک
په امان کړي - د خلقو سترګې ځان ته شه دا سې ئې را ته دا سترګې
نيولې دي کنه خيرات مو ونه کړو نو ته به مو او چوي ......
(خندا) او نو نظر څو حق دے ..... او بيا د کمزورو د عقيدې
په خاوندانو خو نظر دا سې لګي چې تپوس ئې مه کوه ....
سپفور ماما چې د ښځې دا خبره واورېده نو يو ساعت څو غلے غونډې
شو ...... او بيا ئې سر را پورته کړو .... د ښځې سل په لالي
پورې دا يوه پرې د بنګړو " ...... دا دومره دولت چې په
کور او ګلېدو نو دا خيرات هم په کښې سهي - ..... سپفور ماما

قرض دار اوکړو، او د خېرات دپاره وېړې غوړې را غلل ... ...
په ټول کلي کښې وېښا اوشوه ...... په لوړ لوړ غلا توکښې خانانو
مالدارانو وغیره ته وېښا اوشوه چې د جُمعې په ورځ خېرات
دے ماښپځین ..... (خندا) او د جمعې په ورځ څوک په ټانګو
کښې څوک په موټرونو او څوک په رکشوکښې د خېرات د
خوړو دپاره راغلل .... اؤ اوُ تاسو یقین اوکړئ چې د
موټرونو او د ټانګو خاوندان ئې د خېرات د پاره راغوښتلي
وو .... ولې دا خېرات یوازې په غریبانانو کېږي څهٔ
نه ..... خېرات په غریبانانو نۀ کېږي ......غریبانان
خو ...... انګې مل دي څوک ! د ټولو د وروستو ......
غریبانان خو د ټولو د وروستو وو - اوکۀ رښتیا راپاندې
وایې نو سپفور ماما خو د خېرات دپاره غریبانانو ته هډو وېښ
نۀ وه کړې هم د غه د موټرونو او د ټانګو خاوندان به راتلل.
کېښناستل، ډوډل او بیا به پاسېدل ...... سپفور ماما مالدارو
او خانانو ته لاس په نامه ولاړ وُ ......" او صوبېدار صیب
په خیر شبهٔ دي اوکړل چې را غلي" ...... " او خان په خیر
خیر ...... یره والله کمال دي اوکړو چې را غلي" .... وه
شېریه ! اوشره هدکه د یقیران، دا دوي څهٔ غوبل جوړکړے
دے؟ ...... (خندا) او شېرے به ډوکس په لاس په فقیرانو راشېر
شو یوترات به ئې ورله ورکړو او ورسره به ئې ورته یو څو
پوچ کنځل هم اوکړل ..... زۀ یو ځوانئ ولاړ وم دا ټولـه
ننداره مې کتله - د....... د سپفور ماما دې خېرات ته حیران

وم - د سپفوړ ماما هغه چې جان او خوشامندې مې کښتې کومې چې
هغه د خانانو او مالدارانو سره کولې - او د هغه د تندې هغه
کونجې مې هم کښتې کومې به ئې چې د چا غریب یا فقیر په لیدو په
تندې کښې دا پیدا شوې - حق حیران وم ..... ورونو تاسو
یقین اوکړئ چې په ټول خیرات کښې ما یو فقیر یا غریب په تالې ناست
اونه لیدو - البته چې د خلقونه به کومې ورېږې او ملبه یا تې
شوه هغه به ئې موټې موټې غریبانانو ته په جولو کښې واچولو او
په چوکه به ئې ورله یو درب ورکړو ...... " څه ورک شه چې
بیا رانشې یو خو دې فقیرانو پوزې له راوستو سرپه ......
(خندا) واقعي چې سپفوړ ماما فقیرانو او غریبانانو پوزې
له راوستې وُ ...... د هغه ټول پوزیشن ئې خراب کړې وُ - په
دې کښې د سپفوړ ماما ما ته پام شو .... " هلکه مرچکیه ولې؟
روټې دې اونخوړه؟ څه کښېنه دو ټېې اوخوره هسې نه چې بیا راسې
په کوسالت کښې د ماما غبن وې ته خو هم داسې ئې " او رونو
تاسو نه څه پرده نه هم لاړم ، ما هم د نا مې د خیرات په د غه
ورېږو ځان د یده کړو او کوره ته راغلم په کټ پریوتم .....،
(خندا) نن نه د پره مې نه وه خوړلې خوراک خو سړې دومره
کوي چې څو مره ئې زړه ته کیږي - زه په کټ کښې پریوتم او د
فکرونو او سوچونو په سمندر لاهو شوم - او سوچ مې کولو چې آیا دا
کني سپفوړ ماما خیرات کړې وُ ...... دا خیرات وو کني ؟....
خیرات دې ته وئیلې شي؟ ...... نه خدائے شته چې زه خو
ورته هیڅکله خیرات اونه وایم ...... د خیرات په حقله خو

په کتابونو کښې لیکلي دي چې خیرات به غریبانانو مسکینانو له دومره پټ او دومره په پرده کښې ورکوي چې په ښي لاس ئې ورکړي چې کس لاس ورنه خبر نهٔ شي ..... په اسلام کښې داسې خیرات هډو شته نه چې د یګونه دې په کښې اوکوډنګیږي - چې غوا ميښي دي په کښې حلالې شي - چې ماته پټ ماموره دې په کښې را اوغوښتې شي چې تپوله د نیا دې پرې خبر کړے شي چې فلاني خیرات اوکړو .... نه .... په اسلام کښې دې ته خیرات نشي ویلے دا صرف نمائش دے صرف نام ونمود دے صرف د ځان ښودل دي او په اسلام کښې نمائش منع دے چه اسلام کښې د داسې خیرات دپاره هډو ګنجائش نشته دا سې خیرات الله پاک هیڅکله نهٔ قبلوي .... خیرات صرف په غریبانانو کیږي د سیفوړ ماما په زنګ خیرات نه چې موړ پټ او مالداره خلق را غلل ، وریژې ئې اوخوړې او غریبانانو ته شړے چوکۍ په لاس ولاړ وُ ، دروازې ته ئې هم نهٔ پرېښودل .... په دوړو د خدائے خاطر اوکړي دا شي دا نمائشي خیراتونه پرېږدئ - دا د وریژو او د پیلاؤنو خیراتونه پرېږدئ دا خیراتونه د قبلیدو نهٔ دي .... دا ګورے هسې نمائش دے او الله پاک د نمائش په کارونو هیڅکله نهٔ خوشحالیږي ..... بلکې خفه کیږي پرې .... نو په زور ورو یو څو اته نو په وریژو غوړو په سوؤنو روپۍ سیند ته لاهو کړئ ، او بل خوا ته الله پاک ته منظوره هم نشي ، بلکې هغه پرې ناراضه شي - نو د داسې خیرات نه څهٔ فائده ..... راځئ چې خیراتونه کوؤ راځئ چې د الله تعالی په نامه ورکړه کوؤ - راځئ چې د خپل خدائے

د وینا مطابق د هغه په نوم ورکړه اوکړو، خو په داسې طریقه چې یو لاس بل لاس ترې خبر نشي. په داسې طریقه چې صرف ورکوونکی او اخستونکی او یو الله تعالیٰ ترې نه خبر وي ...... چې زمونږ په خیراتونو کښې نمائش را نشي - چې ریاکاري پکښې را نشي، چې د نیا داري په کښې رانه شي - او ددې ټولو نه ښه طریقه دا ده چې د خیرات مال دَ نغدو په شکل کښې پټ په پټه حقدار ته ورکړو چې د حاجتمندو حاجت روا شي او الله تعالیٰ را څخه خوشحاله شي په اسلام کښې دَ خیراتي دیګونو پخولو هیڅ گنجائش نشته ځکه چې ددې نه نمائش جوړیږي - او الله تعالیٰ نمائش هیڅکله نه خوښوي -

زما دې توبه وي

(خندا) او نو چې کور ته دا غلم په شیشه کښې مې اوکتل نو خدائے شته چې په ځان پوهې راله خندا را غله سر مې ټول کیارې کیارې او دوپچې دوپچې وو - داسې ښکاریده لکه چې مدین ماما راله سر په ټیکرې خریلے وي - یا حجامت راله نائی نه بلکې کوډ د هلکانو مور راله په چاړه کړے وي ... .

(خندا) او او تاسو یقین اوکړئ چې د مدین ماما پاکې په وړو وړو ستړشنونو نه اوډریږي ...... څو څو ځله مې مدین ماما ته اووے چې ماما دا پاکې دې بس دے لږه کړه زوره وره تا نه هم څلوېر کاله مشر ده، نو اوس ترې نه څه غواړې ...... خو مدین ماما را ته په جواب کښې ووائې چې ...... کښېنه مړه دومره مه قهرېږه، ته ډېر نیازبین را غلے ئې ټولې دُنیا له هم په دې پاکې سرونه کلوم غېږ هم نه کوي او ته دومره کلاتکارې چې بس هر وخت به قهرجن کوې - دا مې دې پلار خدائے وبخښې، دغه ځښنه ده" ... ... (خندا)

دغه واقعې چې زما په نخرې ډېرې زده وې، کنې د ټول کلي خلق هم دې پاکې ته سرونه ټیټوي او غېږ قدر له نه کوي او خلق غریبا به څه غبت اوکړي په دې ټول کلي کښې هم د غه یو نائی دے .....

نو اوشوه چې څنګه د مدین ماما خو بند وي، هغه به را سره کوي او
مونږ به د ټولې نه ټوقې هم نه اوباسو ...... اوکه څوک
ډېر ټرټ پرټ کوي نو بیا مدین ماما له هم چل ورځي ......
د کیادو او دوبچو په ځای په سر کښې سمې کندې او ارابونه
جوړ کړي ...... (خندا) خبره څو خپل ځاني چه مدین
ماما ته سر ټیټ کړم - او مدین ماما د پښو په سر ما ته کېنيني،
او هغه د حجامت خیرن څپن د خیرو لمسې څادر را له دغاړې
را چاپېره کړي نو زه بیا په پوزه ساه نه اخلم تر څو پورې چې
ماما حجامت کوي نو زه ساه په خوله را کابدم ځکه چې د دغه څادر
نه داسې سوړ سوړ وږم خېژي لکه د ماشوم اوربږې ......
(خندا) د حجامت د څادر نه د اوربږې بوي داځي کېدای شي چې
د ورځې ماما په دې څادر کښې حجامتونه کوي او د شپې په کښې بیو
خپل ماشوم نمسې تړي ...... نو څنګه بده خبره خونده د یو
څادر نه دوه کاره کېږي هم څوک اخستې شي - او ولې په دې څادر څو
څوک څنګه لاس نه اوچوي چې کېږي پاک صاف او سپین دې وي
خو هم دغه د خلقو کپړې پېکښې خړ ټپلې شي او هم دغه د خلقو
د کپړو وېښته په کښې راپرېوځي - او د سر وېښته نه زبرګاني دي
او نه معتبر چې نیان ماماګان دې ورله خواه مخواه پاک صاف
او سپین څادر جوړ کړي - چلیبزې یره، سپین څادر ته هم خلق
سرونه ټیټوي او خیرن څادر ته هم، نو بیا په ما څنګه چتې
ده چې دومره غمونه او دومره فکرونه دې کوم ......
(خندا) ...... زما په دې زړه کښې ډېر لوې ارمان ؤ چې یره

یوه ورځ خو دې قصه خوانۍ بازار ته لاړې او د شیشو په
دوکان کښې مې حجامت او کړو چې هلته راله ناڅي ماما تک
سپین څادر د دې مرۍ نه راچاپېره کړي او زه ورته بشه د مزې
په آرام کوسۍ کښې ډډه او لګوم ...... چې پاکي ئې په سر کښې
کیارۍ او دو بچې نه جوړوي ...... چې مشین ئې هر څلورم وېښته
د بېخ نه نه را اوباسي ...... (خندا) اُو اوُ زما دا سر چې تاسو
ته تاکد تاکد ګنجې ښکاري نو دا ګورې ګنجې نه دې دا خو د مدین
ماما مشین تره نه اکثر څلورم وېښته د بېخه را ویستې دې ...
..... د هغه مشین دا سې کوي، بېکاره او بې مطلبه وېښته د سر نه
د بېخه دا اوباسي .... دې نو په دې ښتو کښې دا خلق د رشتې
او شو تلو نه کنده بو تې د بېخه نه اوباسي څه؟ ... . (خندا)
دا سې د مدین ماما مشین هم بې کاره وېښته د بېخه دا اُوباسي - او
دا زمونږ د کلي خلق چې ټول ګنجیان ښکاري، نو دا ګورې ګنجیان
نه دي دا د مدین ماما مشین ګنجیان کړي دي ... . (خندا)
خېر نو خبره مې دا کوله چې لاړم د قصه خوانۍ بازار ته ...... دَ
شیشو دوکان ته ورا وختم ...... یوه اوچته کرسۍ باندې او
لکه د بوډلي کښېناستم - تک سپین څادر راله ماما د مرۍ نه را چاپېره
کړو ...... په ګی مو او بو ئې راله د سر وېښته پاسته کړه ......
پاکي ئې را وا خسته او په سر ئې شروع او کړه ...... چې یوه پره
ئې پکښې ووهله ...... نو بهر څه ګنه ګو نه شو ه ... .
ناڅي ماما زه هم دا سې په کوسۍ کښې ټرلې پرېښودم او بهر ته ئې
شت وهلې ...... نه وُ .... نه وُ ...... نه وُ ...... په

منتہ پس را غلو ...... "ولې ماما څه وو" ...... ؟ "هسې هلکانو بهر جنګ کولو" ...... "نو تا ئې تماشه کوله؟" ...... "نه! ماوے چې څه چل دے" ...... (خندا) ...... خیر ماما بیا د سر په خرئیلو شروع اوکړه ...... چې یو دوه پرې ئې تیرې کړې، په دې کښې د بده شامته یو سړے را غلو- ...... "آشنا اخبار دې کتلے دے" ...... تاتې ماما سمدستي مخ ورواړولو.... "ولې په اخبار کښې څه دي؟" ...... څه چلیږه نه بیا په ځائے پاتې شوم- تاتې ماما د هغه سړي سره په بحث اخته شو، لاړه خبره سیاسیاتو ته اووته په پارټیو بحثونه شروع شول ...... ووټونه په کښې اوشول جنګ جګړې اوشوې، چاته پکښې ښه او چاته پکښې بد اووئیلے شول ...... روژه لګه بوږنې په کرسۍ ناست ووم- نیم سر خرئیلے او نیم پاتې- چې په شیشه کښې به مې کتل نو په ځان پورې به راله خندا راتله (خندا) څه عجیبه غوندې څېرې ښکاریدم ...... آخر خدائے پاک اوکړه چې بحث ختم شو، او تاتې ماما بیا خپله پاتې ذما کېرې ته اونیوله ...... او دې ځل د خدائے پاک فضل ؤ چې نه څوک را غلل او نه بهر څه شور شغب اوشو ...... چې سر اوخرئیلے شو، نو د بده قسمته مې ورته اووې چې ماما په دې څنګرکه مې وېښته لوټے شوي دي، نو دا غړې راله هم لږ واخله- نو اوشوه ماما به په اوبو کښې ګوتې لوندې ولے او څنګرک له به مې زوروله ورکول ...... څو څو ځله ئې راله مرۍ خفه کړه، خو خدائے به خبر کړو- او چې څه وخت ئې راله د مرۍ چاړې کوله نو خبرې ئې هم راسره کولې ...... "آشنا جوړ دې ډېره موده پس حجامت ته راوزګار شوے ئې؟" ...... "آآآ اؤ" ...... اوزګار

به نه وي نو" .... مونږ ز... میندااران خلق ..... چرته اوزګار یږو" .... (خندا) مړو نو سمې د اوبنو پېښې ځارابند اوکړي - او چې څه وخت ماما لاس راکښلو، پاکي ئې را واخسته نو زما ایله په سترګو دنیا شوه .... ماما په غړو شروع اوکړه ......چې پاکي ئې راته په دې ځنګړک کېښوده نو..... " آشنا تنه کومې پارتۍ سره ئې ؟ " .... په خدایه پاکه جواب څرنګ ورکړم - کنه اوس څله څوزوم نو پاکي مې ځنګړک دوه ځایه کوي نه اوګوله شم نه تا .... ماما به را له ځنغړک صفا کولو او خبرې به ئې را سره کولې .... څو دیوې خبرې جواب مې هم ورنه کړو ځکه چې دماما پاکي ډېره تېره وه - کنه بې حرکت مې کولو نو د حلق نه مې تېریده ... . او دا سوالونه مې کول چې خدایه تو ځه را مه وله - خدایه پاکه انتروشه رامه ولي ......کښې ژوندي مرچکے به څنګه ترېکړې کورته یوړلې شي ...... (خندا)، نو خدایه پاک خبر کړو .... دمرګ چپې را باندې تېرې شوې ....او د هغه راسې مې توبه اوویسته چې د ښار د شیشو دوکان کښې حجامت کول دمرګ د چړې لاندې ځملاستل دي ...... (خندا) نو رو نبو د ښار د شیشو د دوکان ناځي ماما مې هم خوښ نه شو باس ..... هیڅ ضرورت نشته چې د شیشو د دوکان او د سپین څادر دَپاره دې په ځان دمرګ چپې تېره وم ...... هم د کلي د مدین ماما به منت زاري اوکړم چې د حجامت څادر په دوه میاشتې پس یو ځل وینځي - او دا پاکیانې او مشینونه دې په نوؤ بدل کړي چې مونږ د شیشو دوکانونو ته نه ځو......

نه یو هېنم چې دا ددې نایانو ماماګانو څه عادت

دے چې خبرې به ډېرې کوي - هلکه کور آباد وچې سړے راګېر کړی
نو بیا مو دې خلوته لېږ کوړے واچوئ .... او دا په تهمت
پرت خبرې پسې بهرته منډې مه وهئ ... . دا په
سیاسیاتو بحثونه پرېږدئ ...... د کار په وخت کار کوئ - او د
خبرو په وخت خبرې کوئ .... هم داسې به مو یوه ورځ
چاته په مرګ چاړه اېښودلې وي تاسو به ورسره خبرې کوئ،
هغه به د خبرې جواب درکړي .... او ځرې چې پاکې به ئې د حلق
نه تېرې شوې وي ..... او که حلال کړے چرګ به درته بوړې
بوړې په کرسۍ کښې پروت وي لتې به ټکوي - نو بیا؟ ... .
(خندا) .... بیا به مو هیڅ چې هیڅ د حوالات د دروازې په
سیخونو کښې ملاقاتیانو ته دا خپل بوتاړونه راویستلي وي ....
(خندا) ...... +

دَ څپلوغل

(خندا) .... لکه څرنګ چې دا دُنیا عجیبه ده، دغه رنګ دَ دې دُنیا اُوسیدونکی هم څهٔ عجیبه شان دی. عجیبه په دې دي چې دَ دې دُنیا په مخ په کروړونو انسانان اُوسیږی. خو ټول دَ یوبل نه مختلف شکلونه، مختلف نقشونه مختلف خویُونه عادتُونه اُوخصلتونه لری ..... (خندا) هغه دَ چا خبره چې دُنیا څهٔ ده سم چارنقل دے ...... دَ چا به تورخوښ وی دَ چا به سپین. دَ چا به شپه خوښه وی اُو دَ چا ورځ ..... دَ چا ګرمی خوښه وی. دَ چا یخنی. دَ چا به خواږهٔ خوښ دَ چا تراخهٔ ...... څهٔ؟ تراخهٔ د هیچا نهٔ وی خوښ؟ (خندا) زهٔ خو وېم چې دَ خوږونه دَ ترخو عاشقان ډېر دی. اُو مثال ئې دا دے چې تهٔ دوه ورځې دَ نشاستې حلوا اُوخورې نو څهٔ خیال دې دے چې به دریمه ورځ به دې ورته زړهٔ اُوشی؟..... به دریمه ورځ؟ اُو په دریمه ورځ .... یره ...... یره ..... (خندا) یره یره مهٔ کوه سم یارشه اُو اُووایه چې نه .... نو په دریمه ورځ خوبه دَ نشاستې حلوا ته او هم نهٔ ګورې هن؟.... ...... اُوکهٔ ښهٔ دَ مرچکو ډکه ترسکُونه سرهٔ کړې غوښه هره ورځ خورې، نو درې ورځې نه کهٔ درې میاشتې ئې هم شپه ورځ خورې نو زړهٔ به دې پرې دُروند نهٔ شی. نو دَ ترخو عاشقان ډېرشو کنه؟.......

اے ښه دا به پرېږدو. دا راته اُووایه چې په کوهلو او یمنکو کښې سبوا ئې دَ تریخوالی نه نورڅهٔ خوند دے چې په خټو خټو اُومنونو منونو هره ورځ بازارته راځی اُو دا خلق یاران ئې دَ تالو نه ورښکته کوی ..... داسې ډېر

مثالونه او ثبوتونه شته چې هغه دا ثابتوي چې که د خوږو عاشقانو شته نو د
ترخو عاشقان هم څه کم نه دي. نو ځکه زه دا خبره په پوخ یقین سره کوم
چې په دې دُنیا کښې ښه خلق هم شته او خراب هم. دا اوس نه شم وئیلې چې
ښه خلق ډیر دي که خراب. په شتو دواړه شته ...... (خندا) دا سې
چل وُو چې په هغه تیره جُمعه د جُمعې د مونځ د پاره لاړم د مهابت خان صیب
جُومات ته. زه چې د کله راسې په ښه بد ه پوې شوے یم نو ترخپله وسه د
جُمعې مونځ د مهابت خان صیب جُومات ته رسوَم ...... په دې جُمعه هم
ما پاکې سپینې جامې واغوستې ښځې مې را ته پښو کړې خو..... بیا مې د هلکانو
مورته اُووې چې ...... " ښځې د جُمعې ورځ ده را واخله هغه تورې نوې څپلۍ چې
په دې بختوره ورځ ئې په پښو کړم چې بختورې شي. د هلکانو مور کوټې ته منډې
کړې، څپلۍ ئې د صندوق نه را اووېستې، د لوېټې په پېسنکی ئې زر زر صفا
کړې اُو ما ته ئې مخکښې کېښودې..... " واخله وا ئې چوه سړیه د څه د پاره
دې ایښې دی بلا توره ورسېږ، چې دا زړې شي خدا ئے به درله نوې درکړي"
...... (خندا) نو رو نو تورې چغندې څپلۍ مې را په پښو کړې. څادر
مې په اوږه را واچولو او نېغ لاړم د مهابت خان صیب جُومات ته ....
زر زر مې څپلۍ اُووېستې، یوې ډډې ته مې کېښودې اُو په تالاؤ مې چارانداَم
شروع کړو ...... چې په مخ مې یوه لپه واچوله اُو د بلې لپې د پاره مې چې د
لاسُونو نه کنډو ولې جوړولو نو...... " وی زما څپلۍ؟ " ....
نو دُونو اودس مې په ځائے پرېښودو را پاسېدم اُو چې اُو مې کتل نو د پېزار
نه یو سرے په منډه بهر ته خلاص وُو...... ما هم ورپسې منډه ې
کړې اُو اواز مې اوکړو چې " نیسه ئې غل دے، زما څپلۍ ئې یوړې"......
غل مخکښې اُو زه ورپسې. په ټول بازار کښې یو شور شو چې چور چور، ما ته
خدا ئے شته که هیڅ ښکاریده ل ..... سترګې را باندې تورې وې ،

خودَ چور چور آوازُونه به مې په غوږونو کښې کړنګېدل۔ آخر يو سړے رامخکښې شواؤ زهٔ ئې کلک دَګوړوان نه اُونيولم ..... " اودرېږه خوارشې هم دې غلا اُوکړه اوهم منړې وهې۔ دې بړيږې ته خودې اوګوره شرم نهٔ درځي" .... " وَه سړه دَ خدائے خاطر اوکړه، زهٔ غل نهٔ يم، غل هاغه مخکښې چې منړې وهی هغه دے " ...... خو زما په خبره چا باور کُولو، دَخلقو داخيال ووچې دا هم دَغلو يو چال دے۔ دوؤ کسانو زهٔ کلک اُونيوُم اُونور په هغه بل سړي پسې خلاص شوُل۔ آخرئې رالاندې کړو۔ غل ئې اونيوُو اوراۓ وستو ...... (خندا) زهٔ اُو غل دواړه خلقوکيب نيولی وو۔ په سوُونو خلق راجمع شول ...... ما اُووے چې دا ښځلې زمادی، اوغل وے چې نه خدائے راستی چې ښځلی زمادی .... خلق حيران ووچې اوس څهٔ چل اوکړو .... آخر يو تماشبين پکښې اُووے چې هلکو ښځلې ورته په پښو کړی چې دَچا په پښو برابرې شوې، بس ښځلې به دَ هغهٔ وی اُوبل به غل وی .... ښځلې دَغل دَ ترخ نه رااُووېستې شوې۔ په مزکه کېښودې شوې اُوماته حُکم اوشوچې په پښوئې کړه ...... په دُونوچې دا زمازړهٔ په دغه وخت کښې په دَرزاری شواُو دا سوالونه مې شروع کړل ..... " يه خدايه ښځلې مې په پښو برابرې اُوخېژوې۔ يه خدايه په دومره ساعت کښې داښځلی چرته ارتې شوې يا تنګې شوې نهٔ وی۔ کهٔ دا ښځلې زما په پښوارتې يا تنګې اوختې نو بيا؟" ...... (خندا) بيا زما په تصوّر کښې دَ ما شومانو يو لوئے لښکر اُوځان راته دَدغه لښکر په مخکښې روان ښکاره شو۔ دَ تُوا تُوا نارې راپسې ختې تانه، هتکړې، سپاهيان، عدالت قېد اُوداسې نورې ډېرې شرمندګی راته راپه مخکښې شوې۔ چې په دې کښې راته يو ماما اوازاوکړو .... " واچوه کنه څهٔ ته ګورې" ...... " رشتيا وی کنه کدو، څهٔ ته ګورې؟ کهٔ ستا وی نو پښه پکښې ورا اُومنډه چې اوس رشتيا دروغ معلومه شی" ..... (خندا)

اُو زۀ لکہ چې دَ خوب نه رابېدار شوُم۔ زرزر مې کلیمه اُووئیله اُو پښه مې په ښپلۍ کښې وردننه کړه۔ دَ الله تعالٰی فضلونه وُو چې ښپلۍ نۀ ارته شوې وَه اُو نۀ تنګه شوې وَه۔ بلکې په پښو مې پوُره وَه، ایله مې په ستړګو رڼا شوه۔ په زړۀ کښې خوشحاله شوُم چې څۀ که خېرې ښپلۍ نه ارتې شوی دی اُو نۀ تنګې شویدی........

خو دَ خلقو تسلّی لا نۀ وه شوې یو کښې آواز اوکړو چې دَ دې بل سړی په پښو ئې هم اوګورې کۀ دَ هغۀ په پښو برابرې شوې نو بیا؟ (خندا) خبره معقوله وَه، کۀ دَ هغۀ پښو هم ښپلۍ برابرې شوې ..... نو بیا؟ او دلته زما زړۀ بیا بې واره په درزاری شو۔ مړۍ مې اُوچه شوه او په زړۀ زړۀ کښې مې سوالُونه شروع کړل چې ......"یَه خدایَه دَ دۀ په پښو خوئې برابرې مۀ کړې، یَهٔ خُدایَه پاکه..... " او باسه کنه بیا څۀ ته ګورې ؟ (خندا) اُو رُوښو تاسونه څۀ پرده دِ ہرېه مات زړۀ مې دَ ښپلۍ پېرمه پرانسته، اُوچلې ښپلۍ مې غل ته په مخکښې کېښودی۔ غل ښپلۍ په پښو کوُلې۔ اُو زۀ دَ ځان سره بېنېدم" یَه خدایه ارتې کړې۔ یا خدایه تنګې ې کړې۔ یاخدایه ارتې ئې کړې، یاخدایه تنګې ئې کړې:"...... (خندا) خلقو راپورې په برق برق اُوخندل، زۀ هم داسې کچه غوندې شوُم۔ غل په ښپلۍ کښې پښه دننه کړه .... زما دَ زړۀ حرکت لکه چې بند شو۔" ا..... ے ..... اے..... ښپلۍ تنګې اُوختې:" (خندا) زما دَ خُلې نه یوه بې واره چغه اُوخته، ای قوانګو غل دے ...... غل واقعی چې غل وو۔ ښپلۍ دَ هغۀ نه بلکې زما وې۔ غل خلقو لاس نیولے تانې ته روان کړو۔ اُو زۀ هم ورسره تانې ته روان شوُم۔ ځکه چې دَ ثبوت دَ پاره زما تانې ته تګ ضروری وو..... نو او شوه لا رو تانې ته۔ تا نېدار ناست وُه..... هلکه څۀ نوم دې دے؟ "جی مرچکے"۔ مرچکے؟ ..... اُو جی خاورې مرچکے...... دا دَ سړو نوُم دے"..... جی اُو زۀ سړے ہم او زما نوُم مرچکے دے. .... (خندا) تانېدار صېب ډېر اوخندل ...... او رپورټ لیکل ئې

شروع کړل...... زما نوم کلې اُو دَ غل نوم کلې اوبيکلې شُول. خو چې دَګواهۍ نِپاره تا نېږدار صيب اُووې نو دې دومره خلقو نه يو کس هم دا اُونه وې چې کنې دا غل، غل دے. حق حيران شوُم. دا خو شکر دے چې غل ما پخپله لېدلے وو. کنې نو ګواهۍ ورکوُلو ته هيڅوک هم تيار نه وو. لنډه دا چې غل دننه کړے شو. حوالات ته اُوزه په منډه منډه راغلم جُومات ته، خو......چې راغلم نو نمونځ را نه شوے وُو.

څومره دَ افسوس خبره ده څومره غلط کار دے، دَ اسلامي اُصُولو نه خلاف، دَ انسانيت اُو شرافت دَ دايرې نه بهر. غلا اُو بيا دَ جُومات نه دَ خدائے دَ کور نه؟........ يَه دَ نامې مسلمانانو دا څهٔ کوی؟ دَ اسلام نوم مو په ځان پورې اوشرمُولو...... وَه کور آبادو دا څهٔ کوی...... اے دَ خپلو او پېزارونو غلا کوُکو هم ستاسو دَ ويرې خو نمونځ گذار دَ پېزار غونډې ناپاک څيز دَ نمونځ په وخت ځان ته مخامخ ايږدی. دغه پېزار په جُومات کښې مونږ ته مخامخ پروت وی او مونږ ورته سجدې لګوُو...... . راځئ چې په شريکه دَ خپلې معاشرې نه دَ پېزار دَ غلا کوُکو دا ناسُور ورک کړو. راځئ چې په خپلې مُسلمانئ دا دُنيا نوره نهٔ خنده وُو. غلا هسې هم سپک کار دے اُو بيا دَ پېزار غلا خو دَ حد نه پرېوتے سپک کار دے. څومره خوند به کوی چې هرمسلمان دَ نمونځ په وخت خپل پېزار په خپل مخکښې دَ ايښودو په ځائے يو طرفته يو خوا ته ږدی اُو دَ غل غدو ويره نهٔ وی، څومره خوند به کوی چې بيا په نمونځ کښې دَ پښو اُو خپلو په خټو اُو سوټو نا ولی تلی زمونږ په مُسلمانئ پورې خندا نهٔ کوي.

کباب

(حصه ۱)... لاړو يره مرچکے هم له خپره شاعر شو ..... اوُ اوُشاعر
شوم اوس نو موکئ زما بدلې او چاربيتې واوريږې نو غوږونه
به اونيسئ غوږونه .... تاسو ته به مرچکے هغه دغه ځينې
ښکاريږي و .... نو هغه اغه دغه مرچکے لاړو په چل چل کښې
شاعر شو ..... او شاعري .... مرو ماته معسې دومره ګران
ځينې ښکاريږي و .... خدائے شته چې دومره آسان کار دے
لکه چې څوک د ګاځرې نه خرپ اوباسې ...... زما د ډيرې مودې
راسې دا هلوکې دې شاعرۍ ته خارښتېدل ، څو لونګ آشنا به راته
وے چې هلکه مرچکيه ځان مه شرموه - شاعري څه آسان کار نه
دے ، د شاعرۍ ډير لوازمات دي ، ډيرې پابندۍ دي او ځان
له اصول ئې دے - قافيه رديف تول وزن دا هرڅه به په شعر کښې
راولې نو هله به دې شعر شعر وي او هله به ته شاعر ئې ......
او خدائے شته چې د لونګ خبرې به مې واوريدې نو ټول اراده به
مې بدله کړه - دا څو دې چار ديو شاعر بنه وي هغه راته هغه
ورځ ووې چې مرچکيه دنيا مخ په ترقۍ روانه ده - شاعرۍ هم
رنګ بدل کړے دے اوس ددې دومره پابند وضرورت نشته قافيه
او رديف ئې مه تېسوه .... پرواه نشته ، د شعر يو مصرعه

کهٔ دوه ګزه او درې لېښتې اوږده او دویمه مصرعه دګوتې د بند هومره لنډه وي نو هم دغه شعر به شعر وي ...... (خندا) او خداۓ شته چې ماله خندا راغله ـ ځکه چې وړمبۍ مصرعه دوه ګزه او دوه لېښتې اوږده شي او دویمه مصرعه ئې دګوتې دَبند هومره وړه شي نو دا خو داسې شوه لکه چې څوک د مېښې لاندې کټې پرېږدي .... خو آشنا را ته وے چې پروا نشته، دې ته زياده شاعري ويلے شي .... نو رونړو ما هم شاعري شروع کړې ده .... تاسو ئې هم واورئ ـ

اے رونړو اے ملګرو
اے د حاله ېې خبرو!

یو ورځ زهٔ د غرمې په وخت کښې اوږے وم ډېر
د حد نه پرې ورتېر

او ختمه یو هوټل ته!
کښېناستم زهٔ یو ټېبل ته

نوکر په منډه را غلو را ته ئې او وے څهٔ به خورې
کباب او کهٔ ټیکې

ورته ما وے ټیکې پرېږده غابس مې نشته دے په خوله کښې
خوندا نشته دے ټیکه کښې

کباب کهٔ راله راوړې نو مزه به اوکړې دېره
د حد نه هم ورتېره

کباب ښهٔ سوزېدلي
ډلو کښې وو تلیدلي

په مخکښې مې پراته وو خوشبوئ توې نه ختله
خوله روبهٔ اوبهٔ کېد له

د دالډې يو تش ډېلې وُ
او بونه ډک لکه کوټې وُ

په مېز ئې دا ته کېښنوه لکه زېره شان پېښه
مرچکيه او په څښبسه

کټل مې دي ډېلي ته
هم کبابو هم تالي ته

خوړلي مې لا نه وو خولې وې په ما ماتې
اے کېږې شې ميراتې

مرچکي په دې کبابو کښې څرګند وُ ښکاريدلو
او تالو مې سوزيدلو

کۀ دا کباب مې او خوړه دا اوبه به څنګه څښمه
د ولچه به په خوله ږدمه

نو پاسېدمه ور غلم ماما له په سټلوار
ډېر زيات وومه په قار

ماما ماته او کتل
ما هغۀ ته او کتل

هغۀ ماته وے څۀ چل دے
ما وے چې داسې چل دے

د ولچه بانډې اوبۀ هم بنيادمو چړې څښلې
دا چا درته ويلي

ماما د غُصې سُور شو
تک سُور لکه تنور شو

نخرې دې ډېرې زده کړې مرچکه کور دې خور شه
هسې ځود په کور شه
هر څه کښې نخرې د تا عادت دے کلانکاره
روټئ اوخوره په قلاره
کني په دې کب کیس دې دا کېږه ما تووم
خپل ځان زهٔ قېدووم
راشه اے هلکه ټېله ودکړه چې ځې ورک شې
دے دې په خدا ے سپک شي
ټول عالم د دهٔ د لاسه ګړه په هسې سوران دے
دا څنګه انسان دے

(خندا) نو رونړو چې کبابي ماما خپل نوکر ته دا اُردر اوکړو نو بیا مرچکې دوه خپله کړې او دوه پېندې او یو تراټ مې داسې ووهلو چې د ورسک اړې ته مې ځان را اورسولو او دلته د پښو په سر کښېناستم - په درزېدلي زړهٔ په سوچونو کښې غرق شوم سوچ مې کولو چې خدایه پاکه نو اوس به څوک سمه خبره هم چاته نشي کولے په رونړو یه هوټلونو والو اے د کبابو دکانو مالکانو دا ستاسو دوکان ته چې کوم کسان راځي نو دا ګورے هم ستاسو ګاهکان دي او هم ستاسو مېلمانهٔ - په زور ورو نو مېلمنو ته څوک په لویو لویو پېسو کښې او بهٔ بندې دا ګلاس یا کټورے دومره قیمتي څیز دے چې تاسو یو څو ګلاسونه واخلئ او او بهٔ

په ګلاسونو کښې ورکړي ...... د هر کار څه طریقه وي، څه آداب وي، څه اُصول وي ـ وه کوره آبادو نو دې خپلو ګاهکانو ته تاسو دومره سپک ولې ګورئ راشئ دا خپل عمل موسم کړئ دا خپله طریقه مو بدله کړئ د صفایي عادت په ځان کښې را پیدا کړئ پوهېږئ توبه پرېږدئ ـ دا اوس خدای روي او منه څه شان دی چې د کبابو کندولې چې یو ځل د ګلال د کوره راغلی دی نو حرام شه که په کلونو کلونو بیا د غه کندولو د اوبو مخ لیدلی وي ...... هم هغه پرې وسکني چکه شوي ډل دي چې په کندولي کښې تک تور لکه ګرېس پرې اننښتي وي ...... د غه ډل د ګرمو کبابو سره ویلي کیږي او بیا چکه کیږي ...... (خندا) یره خدای مې دې غاړه نه نیسي څو په هر کندولي کښې د یو کال ډل پرې اننښتی وي ـ او چې تر څو پورې کندولې مات شوې نه وي تر هغې پورې دد غه ډلو بخت دی ...... او چې کندول مات شي نو ایله ئې قصه تمامه شي ...... ښه نو داکوم انصاف دی دا ولې د دې انسانانو د زړه ته ګوګړ داسې او وته دا ولې انسان داسې د انسان دښمن شو ...... د کبابو کندولي د مودو مودو ناولي ...... د کبابو کړهې د مودو مودو زنګ وهلي ...... چې پیاز ګران شي او تېپر ارزان شي ...... بیا نو هغه دي چې تېپر کوتره کوي او د پیازو کارترې ته اخلي ...... نو اې روڼو داګني دهوکه نه ده .... داګني فریب نه دی ...... دا حرکت ګني غیر اسلامي نه دی مه کوئ روڼو خپله حلاله ګټه مه حراموئ ـ څوک چې حرام کوي خدای ئې شته که د ښې ورځې مخ را نه ووینې .... او او

حلال حرام دي ، او څوک چې حرام کټي ، حرام خوري هغه د خدائے مجرم دے ، هغه ګناهګار دے ..... منع شي کني نو .... اوليکم درپسې يوه بله چاربېته ...... خبره نن معاف - بله چاربېته به بيا اوليکم - يوه داسې چاربېته چې ستاسو پوهٔ نقشه به په کښې مرچکي بنده دا ښکلي وي او بيا؟ .... بيا به غصه کيږئ نه نه .... (خندا) اوکنه که تاسو غصه شوئ نو کار به ټول خراب شي او چې کار خراب شي نو .... ؟

(خندا)

دَ مرګ ځانګوګانې

(خندا) يره مرګ خوحق دے کنه؟ ...... اَو په دېکښې شک نشته چې مرګ خوحق دے، ...... دَ مرګ نه خوخلاصے نشته. هر دَ ساه خښتن به يوه ورځ دا دَ مرګ ښېرې ځکې. نوچې دا ژوند اَو مرګ دا سې لازم او ملزوم څيزونه دی، نوبيا پکار ده چې هر دَ ساه خاوند په ژوند باندې يوځل دَ مرګ خوند واخلی، اَو که دَ مرګ خوند نه شی آخيستے نو دَ مرګ چېچې خودې اَرو مرو په ځان تيرې کړی. ...... (خندا) تاسو به وايئه چې هلکه مرچکيه دَ مرګ چېچې څنګه په ځان تيرې کړو؟....... نو. ...... ماته هم چې کلاب ماما يوځل صلاح راکړې وه چې مرچکيه دَ مرګ نه آکاهو په ځان دَ مرګ چېچې تيرې کړه، نوخدائے شته چې زهٔ هم ستاسو په رنګ حيرانه شوے غوندې وُوم. اَو ما هم دَ ګلاب ماما نه تپوس کړے ووچې ماما دَ مرګ چېچې څنګه په ځان تيرې کړم؟..... نو هغه راته مُسکے غوندې شو.... اَو نورې هيڅ اُونهٔ وې خو دومره قدر له ئې اُووے چې وګړن کښې لاړ شه کاکا صيب ته، ...... يا مردان دهوبيانو ته، نو پخپله به پوئې شې......!

دَ ګلاب ماما دا خبره ما په پيسکى پورې تړلې وه اَو دا مې ګلک نيت کړے وو چې دَ مرګ دَ چېچو خوند به ضرورا خلم........ (خندا) نو رُونو دَ تاسو نه څهٔ پړده ما په وګړن کښې دَ کاکا صيب اَو

دَ مردان دهوبیانو چکرا ولګولو....... اُوتاسو یقین اوکړی چې دَ ګلاب ماما خبره په روپۍ کښې تِلّل پېسې کړه وَه۔ ګلاب ماما خو صرف چیچې یادَوُلې اُو زهٔ خوویُم چې دَ مرګ چیچې نه بلکې دَ مرګ سپلابُونه راباندې تېرشوُل....... دَ نوښارنه چې په ځانګو کښې کښېنې......

(خندا) نه خدائے شته کهٔ ورته وېکن اُووَیُم....... ولې دا وېکن داسې وی څهٔ، لکه چې دا دَ کاکا صېب په لاره چلیږی......... زهٔ خو به پرې هیڅکله دَ وېکن نُوم اُو نهٔ شرموُم،....... نو رُوښو دَ نوښار نه چې په دغه کړکیچو کښې کښېنا ستم،....... نو دا خلق ووچې لکه دَ ډلګې چرګانوئې په دې ځانګو کښې را منډل۔ اُوچې څهٔ وخت دَ خلقو په اوړوباندې ئې هم خلق سوارهٔ کړل، نو ځانګو دَ نوښار نه دَ کاکا صېب په لور روانه شوه........ خلقو بِسمِ اللهِ ګانې اُو ما قُلْ هوالحمدُ په ځان چُف کړل....... وې نو دَ کاکا صېب په لاره تګ څهٔ داسې آسان کار دے۔ اُو بیا په ځانګو کښې؟....... نه خدائے شته مړو چې دا دُعاګانې تاسو په ځان چُف نکړې چې کاکا صېب ته خوداسې په آسانه صحي سالِم اُونهٔ رسی....... دَ وېکن، نه رشتیا دَ ځانګو خاوندانو خوهسې هم دَ سرنه دنګلی وی....... اُوبله خبره دا ده چې دَ خدائے قُدرت دے چې چرته هم ایکسي ډنټ اُوشی، نو ډرائېوراُو کلینډر دواړه یکښې غټ بچ شی، اُو دَ سوُرلو یکښې دَ چالاس مات، دَ چاپښه ماته اُو دَ چا ساه وتلې.......

(خندا)....... نو دا ډرائېوران او کلینډران په دې هم لږ دواړه وی نو ځکه ئې دَ سرونو نه هم داسې په آسانه دنګلی وی.......

خېر سر به موخهٔ خوګوُم....... ځانګو دَ کاکا صېب په لوری روانه شوه،....... فریادُونه ووچې ځانګو به کوُل.......

زبیړګی وُو چې دَ ځانګونه به راپورته کېدل ...... یو چړقارے اُوچنګارے ووچې دَ وېګن دَ اړخونو..... تشو..... پښتو اُو پایونه به راختو...... اُوچې څۀ وخت وېګن دَ بد رشو په خوا کښې دَ خوړ نه مخ په بره اوختو .... فریادُونه نور هم سېوا شو....... اُو په وېګن کښې دننه دندوکار شو...... حق حېران وُوم چې یَه خدایه پاکه دا لوګے دَ کومه راغلو.... دا دُوړې اُوګودُونه دَ کوم ځائے راخوارۀ شوُل،....... بهرخو سیلۍ هم نشته چې دا دُومره دُوړې په دې خیز کښې راننه شوې..... (خندا) یو دَ وېګن فریادُونه اُو بل دَ خلقو توخې مزکه اُو آسمان سره یَو کړی وُو، سورلۍ دَ یو بل په غوږونو کښې توخېدې....... دَ یو بل په خُلو کښې به بوغېدې....... دَ کاکا صېب په غږونو کښې به دا وېګن ځوځوځله داسې په یو طرف کوږ شو، چې ماوې لاړه جوړ مرچکیه دَ ژوند اُوریشه دې پوره شوه. اوس به وېګن لکه دَ لټ سنډا په کسه خنډه سوملی. .... اُو دَ دُه سملاستل زمونږ دَ ټولو سورلو په قبر کښې سملاستل وُو...... خو خدائے پاک به خبر کړو...... هم دغه رنګ په ټېلو په دیکو اُو په شرمندګو کاکا صېب ته اورسېد و....... اُوچې څۀ وخت سورلۍ دَ وېګن نه کوزې شوې نو دَ چا په مخ کښې ټکے وینه نۀ وه.. .... وې نو دَ مرګ چپې پرې تیرې نۀ شوې څۀ .... دا دَ مرګ چپې داسې آسان کار دے؟...... په کاکا صېب کښې مې چې دَ وېګن جائزه واخسته، .... دَ وېګن مخوکه،...... سپېرې مې..... غابنونه او لکۍ مې اوکتل، نو دَ خدائے قدرتونو ته حېران شوُم،...... یو اندام ئې هم سالِم نۀ وو...... یو ځائے هم جوړ نۀ وو...... ټول جا بجو پا بجو وو....... (خندا) اُو ماته دَ قصابانو ماما کڅانو دَ حلالې هغه خاروے رایاد شو، کوم

چې قصابان په منډو کښې ډېر په خوارۍ راپيدا کوي، اُو بيا يې په اړمونو اُو دربړلو تر کوره پورې رارسوي .... دا هم وېګن نه وو، بلکې دَ حلالې دَ ښاروي په رنګ جانجو پانجو اُو دَ هډوکو ترنګړه .....

ماخو چې په دې وېګن کښې دا ليکلي اُو ليدل چې :

،، ويگن ميں سوار ہونے سے پہلے اپنے گناہوں کی معافی مانگ لے.

شايد يه تيرا آخری سفر ہو ،، .... (خندا) نوخدا اُئے شته چې خولې رابانديږ راماتې شوې- اُو يقين مې پيدا شو چې دَ وېګن دَ مالک هم په خپل وېګن دا اعتبار نشته (خندا) ....

نه پوهېږم چې دَ کاکا صيب په ليکه چې دا کوم "ځېږونه" چليږي اُو سورلۍ بوځې رابوځي، چې دا دې آشنايانو دَ کوم ځلئے راپيدا کړي دي .... ځکه چې نه يې دَ ماډل پته لګي، اُو نه يې دَ ملک پته لګي .....

(خندا) زما خو دا سې خيال راځي چې دا وېګنونه دې آشنايانو چرته په خپله جوړ کړي دي ...... چرته په ډېران دَ موټريا وېګن پښه موندلې .... چرته لاره کوځه کښې کمانه موندلې .... چرته په کباړي بازار کښې ټاپ اُو ټائرونه موندلي .... دا ټول ځېږونه يُو يُو راجمع کوي .... اُو چې دَ وېګن ټولې پُرزې رابرابرې شي، نو دا رُونه ترېنه دغه ځېږ جوړ کړي، چې نوم ورله وېګن کيږدي...

...... خېر دوئي ورله که وېګن نوم اږدي- که موټر نوم اږدي، که تيز رفتار نوم ورله اږدي که هَوائي جهاز ورله اږدي، هر څه نوم چې ورله اږدي ايښودے شي، ځکه چې مالکان دي .... خو زه ورته هيڅکله نه وېګن وَوَيم اُو نه موټر..... بلکې ځانګوبه ورته وايم... ـ ځانګو هم هغه ځانګو چې په سورلو دَ مرګ چيچې تيروي.

.... (خندا)

توبه خدایه توبه۔ دې حرص اُو خودغرضۍ مونږ داسې په مخه راخستی یُو، چې دَ انسان دا دومره قیمتی ژوند هم راته هلاو څۀ څیز نۀ ښکاری .... دَ خپل غرض دَ پاره دَ نورو انسانانو دَ ژوند سره لوبې کوُو .... دَ نورو انسانانو دَ سرونو سره لوبې کوُو.........

کۀ انسانان مړۀ شی، څېر دے ... خو چې زمونږ تنورُونه ډک شی ...

.... کۀ په انسانانو دَ مرګ چپې تیریږی څېر دے خو چې زمونږ جیبونه ډک شی .... ضروری څیز دَ خود غرضو تنورونه اُو جیبونه دی، اُو دَ انسانانو ژوند اُو سَرُونه څۀ دومره اهمیت نۀ لری۔

آیه تۀ کورئې خور کړې، چې دَ کاکا صیب دَ لیکې دَ وږکنونو خاوندا ن به دَ خدائے پاک نه کله ویریږی .... دَ مرګ نه خو نۀ ویریږی .... خو خدائے پاک دې ئې په زړونو کښې څۀ کرکه راپیدا کړی چې دَ انسانانو دَ ژوند سره کَ دې لوبو نه لاس په سر شی ......

اے دَ وږکنونو خاوندانو! زۀ دا منم چې تاسو خلق دَ مرګ چپو سره بلَد یئې۔ خو لږ دَ کاکا صیب په خلقو باندې هم رحم اُوکړې۔ آخر دوئې غریبانان به ترکومه دغه دَ مرګ چپې زغمې۔ آخر انسانان دی دا سختئې به تَول عُمر تیروی اُو غږ به نۀ کوی۔ یَه زورَ ورو ښۀ ښۀ وږکنونه خو مو آخستی دی دَ پنډیٔ اُو لاهور په لیکه مو اچولی دی۔ اُو دا کباړې مال مو دَ کاکا صیب په لیکه راروان کړے دے ....

یره خو ډېر ښۀ خلق دی دَ کاکا صیب نو....... کنی دَ مرګ په دې ځانګو کښې ئې خدائے شته کۀ قدم هم ایښودلے وے۔

نو اے دَ وږکنونو خاوندانو! راشئ لږ دَ خلقو ژوند سره لوبې پریږدئ، او دا دَ مرګ ځانګوکانې یوسئ کباړې بازارته ....

نو نه خدای ته اوګوره چې کباړي بازار ته ئې مه اوړه .... ځکه چې هسې نه چې په کباړي بازار کښې ورته د چارسدې د لیکې د وږګنونو د خاوند انوپام شي، او دا د فریادونو او زبېرګو باجې چرته هغوئې وانخلي .... داسې چل اوکړه چې ټول په شریکه په یو قطار دغه وږګنونه راروان کړه او د نوښار سیند ته ئې ورلوږه کړه......... هم به ستا سو ځانونه په آرام شي او هم به د خلقو د سرونو نه د مرګ سورې اخوا شي...... . خګه خوښه مو ده؟...... آه ته خدای مو اوبخښه .... (خندا) انسانی همدردی دې ته وئیلې شي.

دُوکانداران

(خندا) ..... يَرَه خو چار دې دَ دې دُوکاندارانو بنهٔ وی۔ دوئ سره دَ مونږ والو خلقو ډېر غم وی۔ هر څهٔ راله په وخت وخت تیار کړی۔ په وخت وخت ئې راله جوړ کړی اُو چې څهٔ وخت زمونږ ضرورت پېښ شي نو تیار سنبال څیز را واخلی اُو مونږ له ئې راکړی ...... ولې کنی دروغ مې اُووَے؟ نَه خدائے شته چې بالکل رشتیا خبره مې اُوکړه، چې دَ دُکاندارانو ماماګانو سره دَ مونږ والو خلقو ډېر غم اُو ډېر فکر وی.... ..... دې بجازیانو غریبانانو دَ روژو نه مخکښې کنی زمونږ دَ جامو غم نهٔ وُو کړے؟..... اُودې پېزارونو والُو کنی یوه میاشت آګاهو شپه ورځ په ځان نهٔ وَه یوه کړې اُو زمونږ دَ پاره ئې پېزار نهٔ جوړ وُل ...... ؟ مړه خو دغسې ځی ورپسې هر چا ترخپله وَسه پورې زمونږ غم کړے وُو اُو بیا ئې ترخپله وَسه پورې رانه په دې روژو کښې پو ستکے اُووَ یستو......... (خندا) وې نو.... دَ اختر مخه نهٔ وَه، اُو ولې دا هغوئ دا زمونږ غم څهٔ دَ خدائ ئې په نامه کُولو څهٔ؟....... نه مړه تا سو دَ هاتي په غوَږ اُوده یَی....... په دې روژه اُو اخترونو کښې خو خدائے خبر چې څهٔ چل دے خو دَ دې دُوکاندارانو حرص لږ زیات غوندې شی، دَ هر څیز قیمتونه یک دم اُوخیژوی۔ کرولیه څیز په پاؤُ باندې اُو دَ پاؤُ باندې څیز په یوه نیمه....... (خندا) چې بازارته سړے لاړ شي نو دُوکاندار به درته په داسې سترګه ګوری چې ته به صفا پوهېږې

چې د دُوکاندار نیت راته خراب دے (خندا) یره .... دُوکاندارن
غریبانان هم ملامته نهٔ دی نو........ ځکه چې نهٔ هره ورځ روژه وی اؤ
نهٔ هره ورځ اختروی- په کال کښې یوه میاشت روژه، اؤ ایله بیله دوه
اَختروُنه وی........ نو د شمېر په دې ورځو کښې هر دُوکانداران د ځان
د پاره د کال خرڅ برابر کړي........ دُوکانداران خپل ځان ته د کال
راشن واچوي اؤ مونږ د یو کال د پاره بیا د قرضونو د لاسه په بازار کښې پټ مخ
ګرځو...... ځهٔ بره مونږ که پټ ګرځواؤکهٔ پټ مخ ګرځو، ګرځو به، خو د دُوکاندارانو
غریبانانو کار خو اوشی کنه...... زما په دې اعتراض نشته- بلکې د هیچا په
دې خبره څهٔ اعتراض نشته چې کښې دُوکانداران دې ګټه نهٔ کوی...... ته
ګټه دې کوي، ضرور دې کوي خو...... لږه په اندازه، لږه د انصاف
اؤ لږه د شرافت ګټه پکار ده- په یوه ورځ ځان مړه وُل نهٔ دي پکار- زمونږ
د مجبوری نه ناجائزه فائده آخېستل نهٔ دی پکار- آخر مونږ خو هُم
د خدائے تعالیٰ بنیاد مان یوُ....... څهٔ د دُوکاندارانو دشمنان خو نهٔ یوُ چې
دوئ راته داسې چړې تېرې کړې وی...... (خندا) تاسو یقین اوکړئ
چې په دې روژه کښې هر دُوکاندار دا پېسې داسې په لپو لپو راغونډې
کړی چې ...... زهٔ به ئې درته څهٔ اُووایم؟ خو چې لکه د هر څهٔ موسم
وی داسې د بجازیانو، مُوچیانو، اچاروالوُ، سبزی وغېرهٔ وُ په موسم کښې
باقی دوه یا درې ورځې پاتې شوې، د دوئ موسم ختم اؤ د حلوایانو اوکبابیانو
موسم شروع شو،...... د حلوایانو دې چاربند وی چې د روژې د سر نه
ئې متایانې جوړول شروع کړی دی، ځلوبې پخول ئې شروع کړی دی.
...... اودا متایانې دا امرسې اؤ دا ځلوبې د حلوایانو په دُکانو کښې قط په
قط د یوې میاشتې راسې پرتې دی...... نن صبا د شپې مرې منږکان
د متایانو اؤ امرسو په دې تالونو کښې توله شپه ګشتې کبډی، پټ پټونی

اُو ډب غپ کوی...... (خندا) اوُ اُو رشتيا وُہم درته، خدائے شته چې نن صبا دَ حلوايانو ماماګانو دَ دُوکانُونو منړګان دومره خوشحاله دی چې راشه که ئې کورې. اُو زهٔ خو وہُم چې ډېر ښهٔ کوی، ځکه چې آخر مړېٔ اُو منړګان خو هم زړهُونه لری، پرېږدی چې هغوئ زمونږ نه اَول خپل اختر اُوخپله مېله اُوکړی...... خېر دَ اختر په ورځ هم دغه متهايانې، امرسې اُو حُلوبه په شکَروړنو اُو تالُونو کښې مېلې ته راوُځی...... اُو مُونږ دَ کلوسادکان چې تول ورځ په مېله کښې اَګی اُوجنګوُو، نو مازيګر له دغه ملبه متهائيُ دَ اَکو په ځائے په رُومالُونو کښې واچوُو، اُوکورونو ته ئې يوسو، دا داسې متهائيُ اُو امرسې وی چې پروسنکال متوکی دَ مور دَ پارهٔ دَ مېلې نه متهائيُ راوُړلې وه، ...... متوکی ته مور ډېرې دُعاګانې اوکړې...... اُو په تلوارېُ يوه دانه متهائيُ خُلې ته واچوُله...... اُو په دېکښې......"آآآ غاښ مې مات شو"...... (خندا) اُو دلته دَ وينو يوه داره دَ متوکی دَ مور دَ خُلې نه رارَوانه شوه........ هغه ورځ شوه اُو نن ورځ شوه د متوکی موَر بيا متوکی ته اُونهٔ وې چې......"بچيه لږه غوندې متهائيُ خودَ ځان سره راوُړه.........
(خندا) اُو نو څهٔ لږونه خونهٔ ده...... کهٔ په خُلهٔ کښې ئې غاښونه پکار وی خو بيا به متهائيُ نهٔ غواړی. اُوکهٔ نه غاښونو ته ئې نيت خراب وی نو دوه ورځې پرله پسې دې دَ مېلې متهائيُ اوخوری چې له خېره دَ غاښونو نه بې غمه کيږی اُو کهٔ نه...... (خندا) نو رُونو تکړه شی حلوايانو ماماګانو درله سره سره متهائيُ...... زيړې زيړې امرسې اُو نارنجی نارنجی حُلوبه ډېره موده کيږی چې تيارې کړې دی...... ماخو درته خبره خلاصه کړې ده چې دَ دې دُوکاندارانو دې چاربنهٔ وی دَ دوئ سره دَ مونږ والو خلقو ډېر فکر وی...... نو زمونږ فکر حلوايانو ماماګانو له خبره کړے دے..... اُو کبابيانو آشنايانو هم دَ مېلې دَ کبابو دَ پارهٔ ښاروی دَ پخوانه آخېستی دی..

...... خوغوبیانان شپه ورځې لګیا دي د سرخېراتونه ئې غواړي، چې خدایه پاکه د مېلې ترورځې پورې ئې اُورسوې...... (خندا) اُو نو د مېلې د یاره خوشوک ښاربه ښاروي نه آخلي...... هم دغه چاچو پانجود هړوکو ترنګړ ښاروی اخلي...... چلیږي مړو په میله کښې هرڅه ځائیږي ...... اُو د کبابو څه پته نګی، د پیازو دې چاربنه وی د خرابو نه د خراب ځیږ خوند هم په خپل خوند کښې راو نغاړي...... اُو ښا ئسته ترسکون غوندې کباب ترې جوړ کړي...... اُو بیا ئې مونږ وال خلق ښه په مزې سره خورو...... (خندا) اَی ته ئې کورې خور کړې، دا انسان څومره خود غرضه شو، دا یو انسان بل انسان ته څومره بد نیته شو. هر انسان د بل انسان دُشمن شو، هر انسان د بل انسان وینه څښل غواړي خو چې خپل تنورې ډک شي ...... دا هغه د قیامت علامې دي. دا ځان ځانی، دا نفسا نفسی اُو دا خود غرضی د قیامت نخښې دي ...... الله پاک دې زمونږ په زړونو کښې انسانی همدردی واچوی، الله پاک دې زمونږ د سترګو د حرص پردې لرې کړي، الله پاک دې مونږ د انسانیت په تقاضو پوئې کړي، الله پاک دې زمونږ په زړونو کښې د انسان اُو انسانیت سره مینه راپیدا کړي، چې انسان د ژوند او انسانیت په خوبو پوئې شي...... ٭

صفائي

(خندا) رونو خدای شته چې د ښځې بیوه په شرمي ځان وارولو ...... زه هم ښه زوره وریم ...... هلکه ستا په څټ څه خندا په سینه ایښودلی ده، چې خواه مخواه د ښځو په کارونو کښې ګوتې وهي ..... هغه د ښځې بیو خبره چې مرچکیه قرآنګو شي چې دا په هغه خبره کښې خبره کول دي د ښځو عادت دے ...... (خندا، څه چلیږه ښځې بیو نوي دا یو عادت د ښځو کړو... او الله دې خبر کوي ...... چرته صباله دا رونه واخلي چې مرچکیه قرآنګو شي چې ښکوا ښکوا تر ښځه وے ...... او بیا دو رو سرے شوي، ځکه چې عادتونه دې تهول د ښځو دي ..... (خندا) خیر هغه څه چې وائي .... نو مرچکے د خپل عادت نه مجبوره دے ...... ښځنه بیو که خفه کیږي او که خوشحالیږي نو زه به دا سې ښځو له خواه مخواه آئینه په لاس کښې ورکوم، ...... چې دا پوارې ښځې پکښې لږې خپلې مشادې اوګوري.... او ګوره که چرته په سمه لار راواوړي ...... څه؟ ناممکنه ده؟.... (خندا، چې ناممکنه ده .... نو زه هم قلاریږ ونکے نه یم ......زما هم په خله چالاس نه دے ایښودلے ...... زه به خبرې کوم .... که ښځنه بیو خفه کیږي نو یو شل ځل دې خفه شي که پوره بیو په غصه کیږي نو یو شل ځل دې په غصه شي ...... که منه بیو ترېکې وهي نو په ځان دې چک اوګوي - (خندا) زما پرې څه هغ؟ ... .

داسې چل وو چې يوه ورځ ټکنده غرمه ..... ساده ګل ماما ستړے ستوما نه
دېتې نه راغلو ...... ټوله ورځ ئې يوه کړې وه ...... د لوږې
دلاسه ئې غوږ نه ليدو ...... او خنګه به ئې ليدو ..... سحر په توره
ګوګه دکوره وتلے وو .... د چايو يوې پيالۍ سره ئې بېګانے
سوکړک يو سپېتي خوړلے وو .... د هغه تور سحر نه دا دے
ټکنده غرمه شوه نو اوږے به نه وو ؟ .... ډېر اوږے وو
غريب ...... در اتلو سره ئې روټۍ اوغوښته ..... ښځنه بيو
روچته پاسېده ...... په جارګې لو ټکے پروت وو هغه ئې راوا خستو
......" هم هم هم بيو دلوټکي په بېخ پورې خټې دي زور وري
...... (خندا) څه چليږه ، غريب شو چې د شملو دونږې کښې ئې ورغوړه
کړو او ټو سپين مو سپين مو پورې ډک لوټکے ئې د دونږې نه
راوويستو د لوټکي د بېخ نه د سرو بخنو شوملو څاڅکي څڅېدل
.... (خندا) شوملې سرې نه وې ...... دا خو د لوټکي په بېخ پورې
خټې وې ، څکه چې په جارګې پروت وو کنه؟ ...... نو هغه خټو
د شوملو رنګ د سپين نه سور بخن کړو ...... ساده ګل د کټ په ډې
منځ کښې پرلت وهلے وو .... بيو د شوملو لوټکے په کټ کښې
کېښودو ...... ماما لږ اونخوزېدو ...... غرړ شو چې لوټکے
توئے شو .... ساده ګل په برنډو ستر ګو ښځنې ته اوکتل ....
اوښځنې ...... " خواره خو سم ما شوم ئې صبر دې نه کيږي..
..... په بشو بشو لوټکي ته ګورے اونيسي ئې نه ...... داسې
دربانديې سترګې تورې دي" .... (خندا) ساده ګل پښې ته
لاس کړو ...... خولاس ئې راکښلو ..... ښځنې بيا لوټکے راړک

کړو ، ماما ترې ئې په مخکښې کېښودو ..... سوکړک ئې راوا خستو .....
اخوا د نخوا ئې اوکتل نو ..... څه وو نه نو چې سوکړک ئې پرې
اېښودلے دے ..... " هغه وا خله په لاس کښې ئې اونیسه ـ تاله
روس هېر وه اوکړسې نه شو پېړ اکولے ـ یو شکوړ دے په هغې
کښې مې مرچکي تمر ته غوړولي دي " ...... ساده گل سوکړک په
لاس کښې اونیوو .... ببو لاړه ...... یوه چونګ مالګه ئې
راوا خسته د شوملو په لوټکي کښې ئې ورلړه کړه ...... اوزر زر
ئې پکښې مسواکه کو ته ووهله ...... (خندا) په دغه مسواکه
کو ته روس لږه شیبه مخکښې ببو د نسوارو چونډي هم ډرامنې
دلاندې کړې وه ، نو ..... نسوار څه پلیت څیز خو نه دے ... .
(خندا) چې مسواکه کو ته ئې په شوملو کښې ووهله ـ نو ساده گل
کاکا شونډې اوړپولې " نو څه نښته " ..... خچنې ببو زر د
پنډیري نه یوه غټه غوټه پیاز راوا خستو او په کټ کښې ئې
ورلړه کړو ..... هغه هم بل څه خبره اونه کړه خوکړپ ئې شو چې
د پیاز د سرنه ئې یو غټ چک ور خستو ..... او په روټۍ ئې شروع
اوکړه ..... خدا ے خبر چې خچنې ببو ته زړه څه اووے ـ زدکوټې
ته لاړه دوه آګې ئې راوا خستې ، ارکاره په جادګي ولاړه وه ،
هغه ئې راکوزه کړه ...... یوه کو ته غوړې ئې پکښې واچول .....
چق چق چې دوه آګې ئې ماتې کړې ..... شړپ شو چې دواړه ئې
په ارکاره کښې ورلړه کړے ..... څه ساعت پس چړقارے شروع
شو ..... آګې په پخېدو راغلې ... ببو اخوا د نخوا اوکتل (خندا)
ماسره غم شو چې روس به خچنه ببو مسواکه کو ته ارکاره کښې هم ووهي نو

..... ځخت په مزکه یو ډکې پروت وو هغه ئې را واخستلو او زر زر ئې په آرچې کښې او وهلو..... زهٔ چلینزه الګئ پخه شوه او ادکاره ئې د ساده ګل کاکا په مخکښې کېښوده ..... (خندا) ساده ګل هم په پټو سترګو په خوند خوند یوه نوړۍ داګۍ نه وریسې د پیاز نه یو چک او وریسې د شوملو یو ګوټ ...... بیا ئې په مړه ئې روټۍ او نوره ..... او بوړۍ بوړۍ په کټ کښې پرېوتو ...... ساده ګل کاکا اوده شو، او ما یو ساعت په دې ټوله قصه سوچ اوکړو ..... ښه ځېنې بېو لوټکې په مزکه ولې ایښودو، او چې په مزکه ئې کېښودو نو بیا ئې په دونړۍ کښې د غوړه کولو نه مخکښې وېنځلو ولې نه؟ ..... دا ځکه چې ځېنه بېو ځېنه ده کنه ...... (خندا) اے ښه چې بیا ئې د ښوا روړه ځېنو ګوټو مالګه راوا خسته د شوملو په لوټکي کښې ئې وا چوله، او زر ئې پکښې مسواکه ګوټه او وهله نو..... د خپلې مسواکې ګوټې په ځائے پکښې دے ګنې قاشوغه نشوه وهلې ځهٔ ..... خو ځېنه بېو ځېنه ده کنه؟ (خندا) ..... ښه بیا ئے چې ساده ګل له سوکړک په لاس کښې لګه د ماشوما نو ورکړو ..... او په شکور کښې ئې مرچکي نمر ته غوړول، نو دا مرچکي به ئې چرته په یوزي یا یوزۍ نهٔ شو غوړولې او په شکور کښې به ئې ساده ګل ته روټۍ ایښودلې وه او بیا چې ثابته د پیاز غوټه هغه له په لاس کښې ورکوله نو د غه غوټه به ئې په چاړهٔ وړې وړې ډکې کړې وه، بیا به ئې په اوبو وېنځلې وو، په کنډول یا د کېبۍ کښې به ئې ورته د غه د پیاز ډکې ایښودلې وې او مالګه به ئې پرې دوړولې وه .... نو ټومره خوند به ئې کړے وو ..... خو ..... ځېنې بېو داسې او نکې ئهٔ، ځکه چې ځېنه وه کنه .... (خندا) او نهٔ د مزکې نه ډکې را خستل او

اکثر پېړۍ لړل، کني د ځپلتوب، پوهارتوب او پېمن توب انتها نۀ ده؟
...... وه زوره ورې تماشوغه به دې را خستې وه ښنځه په مزې به دې
اکثر پېړۍ لړلې وه، او ساده ګل ته به دې په مخکښې اېښودلې وه
...... څومره خوند به يې کړے وو ...... څه؟ ...... تانه دومره خوارې
نۀ کېښې ...... (خندا) وئ ته د خوارۍ دلاسه دې زاره تق
اوچوه نو...... خوارې به درته کېښې يا نه، خو خوئ دې ځپلې دے-
عادت دې پوار دے ...... او کومه نسخه چې د پوارتوب عادت شي نو
خدائے پاک دې يې زاره اوچوئ ...... قول په شريکه او وايئ چې
آمين! ...... اے ته خدائے مو او بخښه ......(خندا)

دَ ښځې مُقَامْ

(خندا) د پښتو متل دے چې عالم په څه او سید عالم په څه ...... دنیا د کوم ځائے نه کوم ځائے ته اورسېده او زمونږ طوطي ګل کاکا لا هغسې د هاتي په غوږ کښې اوده دے ...... (خندا) یو اځې طوطي ګل کاکا غریب ملامته نه دے ځکه چې په دې دنیا کښې د دې زمکې په مخ د طوطي ګل کاکا رونړه نور هم ډېر دي، چې لکه د کوهي د چینړ خانو د دنیا د رفتارنه نه دي خبر او هم هغسې د جهل او ناپوهۍ په تورو تیارو کښې ټکرې وهي ...... هغوي د زمانې ترقۍ او مخکښې تګ منلو ته هډو تیار نه دي ......دَ ښځې چې په حجره کښې کښېني نو راشه کنه ګوره ...... ټوله ورځ به دیارانو په هو شه نږے، بوله شه نږے" و ښکي ستړي شوي وي ...... او دما سختن چې د تماکو لوخړه راکابدي نو بیا ورته غوږ کیږده ...... د دنیا په سیاسیاتو به تبصره شروع شي سائنسي معلومات به مېډاق ته را اوځي ...... دیو ګوټ نه به آواز راپورته شي " نه مړه قسم په خدائے چې قیامت نزدې دے - ته او ګوره دا روس د منلو خبره ده چې روس او امریکه سپوږمۍ ته د رسېدو کوشش کوي " ...... د بل ګوټ نه به بل آواز را وچت شي ...... " وه ځه مړه خدائے راستې کنه د دوي هغه پلار هم اورسي، سپوږمۍ ته رسېدل داسې آسان کار

دے -" بل آواز ..... دا په هکله اے ځه د یو ساعت دپاره په سوبن
دا او منو چې روس او امریکه به خپل سرې سپوږمۍ ته اوخېژوي.
خو زهٔ تپوس کوم چې کۀ د غه سړو چرته پاس متیازې اوکړې نو
زمونږ خو به ټولې جامې پلیتې شي ..... (خندا) لنډه دا چې د
شرمو د ډیوې په رڼا کښې ناست رونه سپوږمۍ ته په ختو او
نۀ ختو بے سر لګیا بحثونه کوي - کله کله پکښې ټخپلو کښې ګرم
هم شي یو بل ته پکښې ناشولتې هم اولي بیا پکښې دریم کړے ترمنځه
شي او خبره دفع دفع شي .... زما هم چې کله کله زړهٔ تنګ شي
نو د ساعت تیرې دپاره حجرې ته لاړ شم ...... یو ساعت کښېنم، دا
چې سر بې لګیا خبرې واورم ...... او ډوب زړهٔ د حجرې نه کور ته
راشم .... سوچ کوم چې خدایه پاکه دا بې تعلیمي او ناپوهي څومره
ناکاره څیز دے ..... دا خلق کوم تۀ دي - ځکه چې دوي خبر نۀ
دي .... او چې نۀ خبر نو نۀ کوم ترڅو پورې چې مونږ کښې تعلیم نۀ
وي عام شوے، تر هغو ختۀ پورې به هم د غسې د جهالت په تیرو
کښې ټکې ټوخورو ...... نو خبره مې د طوطي ګل کوله ..... پرون
چې طوطي ګل راغلو، نو ورپوزې دا سې کوږ غوندې وو ... ...
پوزه ئې په شوندو را غورزولې وه، پوے شوم چې څۀ چل
نو شوے دے .... وه په خبره دا نځر کله شکر دے چې تۀ رانسکاره
شوې، ذور وره چې یو ځل لاړ شې نو بیا دې هډو پته نۀ لګي.
دا کوم ځاے دې چې نۀ وې .... (خاندي) تا ته وایم
کنه طوطي ګله - په نیکۍ شې کو نکه روږه دې نیولې ده څۀ ؟..
.... طوطي ګل یو سوړ اسویلے اوکړو او راته ئې اووې چې "مرچکیه" اماوے هغۀ چرېدمې کړیدي
چې په دې ګلامیرمې سبق ویلے دے - طوطي ګله ګلامیر څۀ کړیدي چې داسې دې ترې زړهٔ

تکیدلے دے ۔ زما په خیال څو کلامیر ډېر ښهٔ هلک دے ، ډېر دلارې
هلک دے ډېر په سړې توب او د اسلامي احکامونه خبر هلک دے ،
او دا ټولې خوبۍ تعلیم په هغه کښې پیدا کړې دي کهٔ تعلیمې
نهٔ وے کړے ..... کهٔ تعلیم ئې نهٔ وے کړے ډېر به ئې ښهٔ کړي وو " ....
د طوطي ګل دا وړې وړې سترګې لکه د بېنو په رنګې سرې شوې ،
خدائے شته چې زهٔ هم ترې نه اوېرېدم ، او دا یقین مې پیدا شو
چې د کلامیر نه څهٔ غلطي شوې ده .... " آخر حال څو او وایه کنه
چې چل څهٔ شوے دے ؟ ...... طوطي ګل بیا یو اسوېلے اوکړو او
دا شروع شو ..... مرچکیه ! کلامیر ډېر بې سړیتوبه دے غېرت
پکښې نشته ، حیا پکښې نشته ..... تهٔ ګوره ورته دا بې غېرته
چې هره ورځ کورته رانوځي ، نو په ښځې سلام اچوي ؟ .....
وه بې غېرته په ښځو هم چرې سړو سلام اچولے دے ، چې تهٔ
اوس په دې غټه تنه رانوځې نو د خبرې نه مخکښې رېبښې "
" چلا مالیکم " (خندا) .... او خاندم کهٔ اوژاړم دا اوس دَ
دهٔ د کولو کارونه دي چې کوي ئې ۔ ټول ځله مې منع کړو ، چې هلکه
ستا دا عادت ګوړے زما نهٔ دے خوښ ۔ بیا ګوړے په ښځې سلام
وا نهٔ چوې ، څو چې لکه په کانړې اوبهٔ نهٔ حصاریږي ۔ دا سې
په دې بې حیا هلک زما خبره اثر نهٔ کوي او ښه دا ئې لا څهٔ
کوي ..... ما ئې د سلام غم ژړلو چې پرون د غرمې کورته
ورننوتم ، نو څهٔ ګورم چې دے اوس د کټ سرته ناست دے
او بي بي صاحبه ئې د کټ لنګې ته ، دواړه په یو تالي کښې روټۍ
خوري ..... ، پره رشتنا د دې سرنه مې یوه لمبه اوخته دې زړهٔ

نو راته وے چې راشه طوطي ګله دا چوکه ئې دې ملاته او نیسه او
بنهٔ دلاده باده ئې روباسه، چې بیا داسې بې سرېتوبه کارنهٔ کوي
...... نو ماوے اوس به دا ګلې حالت ددهٔ په دې بې سرېتوبه
کارخبرشي اوخندا کاني به راپورې کوي ... . نو چُوکه نو
مې کېښوده، نو راشروع شوم ورته اود بنړې نه مې زیات
سپک کړو، .... هکله سندا میره، ته په نو اري خوارشې د
ښځو سره هم په یو تالي ځوک روټې خوري، ...... ښځه نو د
پښې پنهه ده، ..... ښځه خو د دېوال د سر سپیاکه ده .... د
پښو پنهه چې تارا واخسته، په یو تالي دې د ځان سره کېښنوله،
نو سبا له به د هغې ګنې سترګې اوسوزي، خدائے شته کنهٔ د سپې
په نظر درته هم اوګورې ..... ښځې ۹ د ښځو نه امان پکار دے،
کوم کسان چې ښځو شرمولي دي نو هغوي به لا ځائے ته چې ئې
راځي .... د ښځې نه چې سحر مازیګر د خدائے د پاره دوه غربه
روباسې نو هله به ښځه وي، ګنې نو بیا نو د سړې موړکېږي .... (خندا)
طوطي ګل ترېه د ملا نه راتاؤ کړې وه، په یو سالګیا وو
چې بنهٔ سترے شو نو تپوس مې ترې اوکړو، چې ګلا میر ځهٔ نهٔ وے؟
..... ګلا میر؟ .... .. د هغه لېږې غټې سترګې دي ..... هغهٔ راته وے
چې ښځه دومره سپک ځیز نهٔ دے، ښځه هم لکه د سړو په شان بنیادم
دے - او زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم به د خپلو بیبیانو ډېر
عزت کولو .... .. چې هغوي به کورته راغلل نو په بیبیانو به
ئې سلام اچولو..... او هغوي سره به ئې په یوتالي روټې خوړه
.... مړه نو داسې نورې ډېرې د نهٔ منلو خبرې ئې اوکړې ......

زهٔ نو ئې خدائے راستي کهٔ او منم چې کني زمونږ پيغمبر صاحب به چرې په بيبيانو سلام اچولے وي يا به ئې د هغوي سره په يو تالي روټۍ خوړلې وي ...... آخر دا په کوم کتاب کښې راغلي دي؟ .... وه مير غضبه - وه مير غضبه ..... په نيکئ شې، ملامير درته رښتيا وائي ..... " رښتيانه دهاتي سړ وائې ..... مرچکيه او خوره قسم چې تهٔ به د زرغونې د مور سره په يو تالي روټۍ او خوړې؟ ...... د خاندې) ..... زهٔ؟ او خدائے راستي چې نهٔ او د زرغونې مور هره ورځ په يو تالي روټۍ خوروٌ ...... توبه توبه خدايه توبه، آخره زمانه شوه، هر څهٔ به واورو، لا ره د خلقو د سترګو نه حيا اووته، غير توخه پاتې نهٔ شو يره مرچکيه زما ستا په عقله د پړ ښهٔ ګمان وو خو اوس راته معلومه شوه، چې تهٔ هم د ښځې مريد ئې ......" ته اوس د هلکانو مور سره په يو تالي روټۍ خورې او تهٔ چې کور ته راننوځې، نو تهٔ هم د زرغونې په مور سلام اچوې، يره زمسکه به او نهٔ چوې چې ستا او د ملامير غوندې شرمونه خو تړې (لاندې شي ... . بس طوطي ګله! نور دې ژبې ته قرار ورکړه وا چوه کني نو حلق به دې تريخ کړم ...... ما ته خو ئې اوښيسه اے ناخبره انسانه ښځه نه د ديوال د سر سپيساکه ده او نهٔ د پښو پڼه ده، ښځه هم انسانه ده، ښځه هم د عزت او احترام قابله ده - او د ملامير چې درته څهٔ وئيلي دي، بالکل ئې رښتيا وئيلي دي - زمونږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم خو هغه هستي وه، چې چاد ښځې ذات په عقله د جهالت د زمانې نظريه هسې و بدله کړه، د اسلام نه مخکښې به هم ښځې ته د پړ په

سپک نظر کتې شو، بلکې ښځه ذات به یو لوی پېغور گڼلے شو، ولې هر کله چې زمونږ پېغمبرﷺ دنیا ته تشریف راوړو، نو اول ئې کار دا اوکړو چې ښځې له ئې خپل اصل مقام ورکړو او دنیا ئې په دې پوهه کړه، چې ښځه لکه د سړو هومره په دنیا کښې د ژوندون ولو حق لري ...... زمونږ پېغمبرﷺ چې به کور ته راغلو نو په بیبیانو به ئې سلام خامخا اچولو ... . د هغوي سره به ئې په یو تالي روټۍ خوړه، ... . خو طوطي گله د تا غوندې کسانو د لاسه ښځه ذات بیا سپکه شوه او د دې سزا به تاسو له خدائ پاک ورکوي ... . تاسو د اسلام د تعلیماتو مخالفت کوئ، نو ځکه به په تاسو د خدائ قهر نازلیږي ...... څه؟ ... . په غصه یم؟ په غصه نه یم طوطي گله، خو خوستا په دې ناپوهۍ دا له افسوس راځي ...... دا مې واوره چې د آزاده چابازار سونډ لے نه دے ...... ته روستا په رنگ نور رونبه به هم هیڅکله د ښې ورځې مخ نه وینې که خبرې ...... څه؟ ته؟ په غلطه؟ ...... په غلطه نه زه وایم چې سم په گمراهۍ کښې پروت ئې ..... بیا؟ ...... بیا دا چې دَ خدائ په ښودلې شوې لاره روان شه، د رسول پاکﷺ په تعلیماتو عمل اوکړه، او ښځې ذات ته سپک مه گوره ...... څه؟ او او د گلا میر په مور سلام هم اچوه ... ... او دواړه په یو تالي روټۍ هم خورئ .... څومره خوند به کوي چې بوډا بوډۍ په یو تالي ناست یئ روټۍ به خورئ .... او دا مستہ کې به موشروع کړے وي (خندا) ...... اف ..... په خندا شوې ..... خوند ئې درکړو کنه (خندا) پره خو ......

★ ★ ★

لوظ

(خندا) ...... نن راله یو څو ښځې په ګیله راغلې وې ....
او نو ولې به په ګیله نه راتلې ...... هغه چا هسې خوند دي وئیلي
چې ربښتیا وئیل د پیر مذهب کنځل دي" .... نو زه خو هم ربښتیا
وایم کنه ..... نو زما دغه ربښتیا وینا په ځینې ځینې زنانه وُ بده
لګي ...... بده څه، سم د پیر مذهب کنځل پرې لګي نو بیا ګیلې له
خو به ضرور راځي ...... (خندا) د تشه ګیله خو خیر دے ......
د ښځه ده چې کوسره په لاس راپسې نه راځي هله به مزه وے، چې
سحر ماښکی د اکوه کوسرې په لاس د ښځو قطار ونه ولاړ وي .... چا مې د
ولودا منځ سهي کولے او چا مې د مشاره ...... چا مې د انړې ملا او
چا راله د اکیړے وهلې .... نو واه واه مرچکیه ...... خو نن
خو به ئې هله درکړے وو ...... (خندا) خو شکر دے چې خبره لاکوسرو
ته نه ده رسیدلې ...... خو دا مې یقین دے چې که زما ټیپه هم
د غسې یې واکه او بې شخو نده چورلي او زنانه وُ خپند و میاندو
له په دې شان غصه ورځي نو شاید چې یوه ورځ به داسې هم راشي
...... خو الله مې دې شرم پرده ساتي ...... او خدائے مې دې د
شر پسندو د شر نه په امان لري آمین .... (خندا) نو خبره مې کوله
چې یوه ښه یوه ابې او یوه ترور ..... درې واړه ماله په ګیله راغلې..

...... ولې؟ څکه چې زهٔ په ښځو پسې خبرې کوم ...... خدائے شته چې دَ
دوي په راتلو څو زهٔ د څهٔ ساعت دپاره داسې وارخطا غونډې شوم
...... څو آخر مې زړهٔ ټینګ کړو او تپوس مې دیوې نه اوکړو "چې
ببو خېر شه" ...... وئ تهٔ ببو دې په شیوه مړه شه" ...... په
خدایه خېر - ببو څو جوړ دمړه په غصه ده هغه بلې ته مې مخ
واړولو ...... " ابې خېر خو به وي څنګه مو لا رخطا کړه؟ ....
" وئ تهٔ ابې دې سر ته ویرونه اوکړه، تهٔ د ابې د کوسرې نشه
ځارشې" ...... په خدایه خېر دا په څهٔ شر واوړېدلم، دانن څو
جوړ ...... زړې هغه بلې ته مخ کړو ...... "ترورې څهٔ چل دے - څنګه
داسې بې وخته راغلې یئ" ...... " نور به درته هیڅ نهٔ وایم څو
هرچکیه بنده، خدائے درته هیڅ کله د نیې ورځې مخ او مهٔ ښایه - په
تابا ئدې ذمکه چکه شه، چې سونږ عقربانې درنه خلاصې شو" ......
(خندا) ...... نیه! اوس پوے شوم چې ببوګانې ولې داسې په غصه
دي ...... رونړو کبر چاپېره را نه درې واړه ببوګانې داسې بېرې ناستې
وې لکه سرې پیچې ... . چې هرڅو اته به مې مخ اړولو نو هرې یوې
په سترګو څوړم ...... د خبرې کولو شان نهٔ وو ...... غلے پلے ناست وم
لکه د ختې ګوګوشتو .... آخر مې زړهٔ را ټینګ کړو او ورته مې اووې
چې ایمان مو نصیب شه په خپلې ګناه څو مې پوې کړئ ...... " وئ تهٔ
مخ تورن د دنیا نه تېر شې، تهٔ په خپلې ګناه لا نهٔ ئې پوې ...... داستا
دومره غټې سترګې دي .... په دې دنیا کښې صرف دا ښځې دي چې تهٔ
ورپسې داسې ودې سترګې وا ئې او کهٔ نه سړي هم شته" ......(خندا)،
ښه ښه پوے شوم، ستاسو دا ګیله ده چې زهٔ په سړو پسې خبرې ولې نهٔ

کوم هغه! د هغوی کمزوری او غیبونه دنیا ته ولې نه ښکاره کوم هغه؟
...... خو ...... ګورئ بیوګانو ایمان مو نصیب شه، د ښځو د غمه
مو خدای او ساته ...... زما خو د ښځو سره څه قصد نه دے. زه
خو په ښځو کښې غیبونه وینم نو هغه ورته په ګوته کوم. او که
په سړو کښې څه غلطی وینم هغه هم دنیا ته ښکاره کوم ...... دا په
ساده ګل پسې کښې مالېږې خبرې کړې دي. هغه خو یو ځلې هم ماله په
جنګ را نغلو. خدای پاک دې د ساده ګل سره د هر تبه او کړي. الله
پاک دې ورله د ډېرې خوشحالی ورکړي. ما خو چې کله د هغه غیبونه را څرګند
کړې دي نو په صبا باندې ئې را ته د ګلې په ځائے شاباسے راکړے دے.
نو دا ساده ګل کښې تاسو ته سړے نه ښکاري چې تاسو دا ګِله کوئ چې ته
په سړو پسې هم وخبرې نه کوې! ...... رخندا) چې ما دا بیان تېر
کړو ...... نو بیوګانې د اسې غلې غونډې شوې ...... یوې بلې ته
ئې او کتل، چې ګنې یوه خبره خو مرچې د لارې او کړه ...... خو بیا
هم هغه یوې ابۍ پکښې سر را پورته کړو او را ته ئې او وے چې هر څه
چې وي خو نن به زمونږ په مخکښې هم په دې ساعت په سړو پسې
د اسې سپینې سپینې خبرې کوې چې دا تهول سړي لږ کچه شي" ....
رخندا) په خدایه پاکه دا څه په پیسات واورېدم ...... "ګورئ"
...... ګورئ مورئ دې نه پېښ نم. په سړو پسې به خبرې کوې.
په دې ساعت به ئې کوې بس؟" ...... رخندا) ...... او ئې بس
بس ...... یوے شوم، چې نن تاسو ما ته خبر ونه پرېږدئ ......
ښه نو رونړو بهاییګانو ما هېدان شئ نن ستاسو نمبر دے ...... خفه
کېږئ به نه ...... او خفه کېږئ به ولې ...... سړو له خو خدای ئے

پاک لوئ زړونه ورکړي وي ..... دا سې چل دے ..... "چې داسې
چې دې کنه دا ټول خراب دي." بیوبس؟ ...... نه نه مړه قرآنګو
که دا نه په دې خلاص شې، سم په زور زړه به ئې ثابتوې چې سړي
خراب دي ...... (خندا) یه د نامې نه دې ځار شم دا په څه پسات
واوړېدم ...... بنه ...... کمزورۍ په هر انسان کښې شته عیبونه
په هر چا کښې شته ..... خامې په هر بنیادم کښې شته ....
ځنې کمزورۍ او ځنې عیبونه داسې دي چې هغه برداشت کېدے
شي چې په هغې باندې انسان دومره بد نه ښکاري چې بل انسان ترې
نه کرکه اوکړي ...... او ځنې عیبونه او کمزورۍ داسې دي چې
هغه سړے واخلي د بل په نظر کښې ئې دومره پرېباسي چې بیا ورته
داسې سپک ښکاري لکه د بادمځکښې بنه ..... تاسو به وایئ چې
مرچکیه ثبوت؟ ..... نورونو ..... یو ثبوت نه، ثبوتونه خو به
درله درکوم اے څه ..... یو لنډ مثال به ئې واخلو ..... دا مثال
واوړئ او بیا پرې لږ سوچ اوکړئ چې دا عادت د ځنې ځنې سړو
په لمن د سپک والي څومره ناکاره داغ دے ..... اکثر روښه په بازار
کښې ..... په سړک ..... په لاروکوڅو کښې روان وي ..... د بلې
مخې نه ټانګه راشي چې په کښې زنانه ناستې وي ..... ټانګه تېره
شي او دلا دې د غه لاروے په ټانګې پسې مخ په وروستو ترهغې پورې
ګوري چې تر څو ئې ټانګه د سترګو نه پناه شوې نه وي - که په سائیکل
سور وي نو هم، که په موټر سائیکل سور وي نو هم، خو دے به د زنانه وُ
په ټانګې پسې یو ځل دا خپله مشاهده روموو داروي ..... د ېرو کسانو په
دې عادت کښې ایکسیډنټونه هم اوکړل .... لاسونه پښې ئې هم مات

ښوول ..... ولې د زنانه وُ په تېانګې پېسې د کتو نه منع شول (خندا)
په انصاف دا رو ..... په تاسو ته خدائے د نیکۍ هدایت اوکړه
..... دا څه کوئ ..... دا څه په بلا اخته یئ ..... دا څومره سپک
کار دے ..... ښه نو فائده ترې نه څه ؟ ..... اے څه تاسو په
تېانګې پېسې اوکتل ..... پردې تو د سرې زنانه مو اولیدې نو فائده
ترې څه ؟ لږ شرم خو اوکړئ ورورو ..... لږه حیا خو اوکړئ نېک
بختانو ..... آخر دا کومه پښتو ده ..... دا کوم شرافت دے .....
تاسو ته ځانونه په دې عادت بد نهٔ ښکاري ..... تاسو ته ځانونه
په دې علت سپک نهٔ ښکاري ..... پرېږدئ مړو ..... خدائے راستې چې
شرمونه مو او شرمول ..... آیا دا سې یو مثال را ته ښودلے شئ ، چې
زنانه وُ هم چرې د سړو په تېانګې پېسې دا سې په زړهٔ ور تیا کتلي دي.....
..... زنانه وُ هم چرې دا کوشش کړے دے چې زما په خیال چې زنانه به
هیڅکله دا سې اونهٔ کړي ، زنانه به هیڅکله د سړو په تېانګو پېسې مخ وانهٔړوي
..... نو بیا ؟ ..... بیا دا چې دا خراب او سپک عادت صرف او صرف په
سړو کښې دے ..... او سړو له پکار دي چې دا عادت د ځان نه اوباسي
..... ځېنې خورمور هر څوک لري ..... ځېنې تورسرې هر څوک لري .....
او چې په چا باندې د خپلو تورسرو عزت ګران وي نو هغه د نورو تورسرو
د عزت خیال ساتي ..... راشئ د نن نه تهول په شریکه دې بېوګانو په
مخکښې دا لوظ اوکړئ چې پس له دې نه به دا سې سپک کار نهٔ کوؤ ، او که
څوک ئې کوي نو هغه به هم منع کوؤ ..... لوظ شو ؟ ..... اے تاسو خدائے
اوبخښه ..... الله دې در ته د نېکو هدایت اوکړي ..... (خندا) .....
ښه بېوګانو وایئ کنه ..... بس ؟ ..... اوس خو موږ ره ښهٔ شو کنه ؟ .....
رېښتیا تاسو سره خدائے انصاف د کړه ..... څنګه خو مو او خندول ؟ ..... (خندا) .....

نصیحت

(خندا) ..... رانږدې شئ، اوګ ..... ا ..... نن ..... دې شئ .....
غوږونه اونیسئ ..... (خندا) توبه مهٔ اوباسئ ..... داسې غوږونه
نیول نهٔ وېم زوره ورو ..... مطلب مې دے چې غوږ ونه راته ټکئ
کړئ ...... اُمید دے چې وعدهٔ کړو زلمو به نن د میانو وسره
څهٔ چل ول کړے وي او دا وخت به ئې رېډیو ته نږدې نهٔ وي پرېښودلي.
او کنه. خبره د وعدهٔ کړو زلمو د مطلب او د میانو د پاره بې مطلبه ده...
داسې چل دے چې هغه تېر ځل ما وعدهٔ کړو زلمو ته د مور د صلاح او
خوشحاله ساتلو په حقله یو څو تدبیرونه او طریقې ښودلي وې.
خو بده شامته زما هغه ټول تدبیرونه میانو هم واورېدل.
او وعدهٔ کړو زلمو چې څنګه په هغه چلونو عمل شروع کړو نو میانې
ورته دا ببرې شوې، چې ولې موږ څهٔ ماشومانې یو څهٔ. موږ کښې
څهٔ نهٔ یو نصب چې دا چلونه ورته مرچکي ښودلي دي ..... (خندا)
او ماما دے غریب خولو څهٔ کښې مور په کوڅه په دې کېږدي ویشتلے
وو، خو خدائے پاک خیر کړو، خو داسې ئې سپک کړو لکه بنړه ......
ماما دے غریب ښار ته تلے وو، کوپیان ئې داوړل او نیغ لاړو مورې
له ..... د بې بې سبزي منډۍ کښې کوڅېدم. الوګان مې واخستل،
خو چې سوچ مې اوکړو نو ستا کوڅي ډېر خوښ وي، نو دا کوڅي مې تالا

داوړو - ته اوګوره څنګه ......" او دلته یو شرپ شو چې ګوډې
د مامدې په سر دا قه وانه لاړو ......" څه څه ورک شه، زما د
غمه غریب له خوب نه ورځي یو سه دا دې هغه بې بې مېرمنې له ورکړې
چې د دله یې پوخ کړي - تا خدای دومره سه کړه چې زما د طبیعت کار
اوکړې دا ټول چلونه درته مرچکي ښودلي دي ما هغه شپه د هغه
ټولې خبرې اورېدلې وې، .... اے ته د ده نه مونږ خدای
خلاصې کړه"...... (خندا) مامدے غریب په سپین میدان
حق حیران پاتې شو کله ګوډې ته ګورې او کله مزکې ته - د مزکې غبر
ختو او د مامدې نه ...... غلے غونډې روان شو، په کوټې
ورننوتو....... او صباله آشنا نیغ ماله راغلو، چې قصه په دې
زمک خرابه شوه ......، نو قصه تمه وه واقعي چې خرابه وه چې د مامدې
مور زما بیان آورېدلے وو- نو بیا به مامدې په چل ولې نه
پوهېده ...... خبر امید دے چې نن به زما دا خبرې صرف
واده کړی زلمی آوری او دوي به خپلې مېندې د دېلې یو ځه
پو ځواته کړي وي -.......-

مامدے دوره! خبره ټوله په ښځو کښې ده ...... که د
واده کړو زلمو ښځې لږ غونډې ناکام وکړي نو خبره ټوله سمېدے
شي - انګیانډو له پکار دي چې دوي غصه، تریخے، بدخوئي او
بدزباني په ډولۍ کښې د کښېناستو په وخت د مور په کور کښې
داسې اوتوکي لکه یو نسواري چې نسوار توکي او د ځوانۍ په کوټه
داسې خوږه پسته، نرمه او خوش اخلاقه راننوځي لکه فرښته
...... د ځوانۍ په کور کښې په دواړو غوږونو کڼه د ځوانۍ په

ښځې داسې چپ لګه ګونګې ...... په غوږونو به د خوانۍ بدې
ردې او سپکې سپورې هر څه اورېدې، خو ځان به ئې ړندې کڼوي ....
خوانۍ به ورته په خوله ښځې سپکوونه هم کړې خو سونږ به نه کوي
...... څه؟ ..... ولې ناممکنه ده ...... (رخندا) زورورو ما خو
درته اوویل چې ترېخې، غصه، بدخوئي اوزبه وغېره خو به
ئې هسې هم د مور کره پرېښودلې وي کنه او چې د کوم بنیادم ترېخې
نه وي طبیعت ښځې ګرمې نه وي، بلکې داسې سوړ طبیعت ئې وي
لکه یخه تبه، نو د هغې دپاره د خوانۍ دا بدې چارې زغمل هیڅ
ګران کار نه دے ......، دا خو دې شوه یوه بله خبره ...... د کور
کاروزګار ځلے غوښے او ځلے یخلے خو هسې هم د ړنګو په ذمه
وي کله مرې کله پاتې کېږي نو دا خو به کوي نو ددې سره یو کار دې
بل هم کوي ...... چې کوټې ته ننوځي نو ..... "بي بي دا کټ دې
سورې ته دے یخنې به دې شوې وي او درېږه چې لږ ئې نمر ته
راکاږم" ...... او ګرررر چې کټ نمر ته راکښلے ...... کټ نمر ته شو
او ړنګو لاړه غوجل ته ...... چې د غوجل نه روزګاره شي نو ......
وئیل بي بي دا نمر میراث مړے خو دومره تېز دے، ستاسو خو به
ګرمي شوې وي او درېږه چې دا کټ در له لږ سورې ته کړم" ......
ګرر چې کټ سورې ته راکښلے شو، کټ سورې ته شو، او ړنګو
لاړه کوټې ته اوړه راغبرګي ...... کړنګ کړونګ اوړه واغبرګلے
شو ......، چې د کوټې نه بهر راووځي ...... " وئ بده مې ورکه
شه، بي بي ته خو داسې ګنجې لګه پر ته ئې، یخنې به دې شوې وي
چې کټ دې نمر ته راکاږم" ...... ګرررر چې کټ نمر ته بیا راکښلے

..... (خندا) مړو خو چې په دې تېرېږي کټ نمر ته را کښېلې، چې په هغې
تېرېږي کټ سورې ته را کښېلې ..... بس بې بې خوشحاله ده، د بې بې
په ذړه کښې دا یقین را پیدا شي چې دا اېنګور مې په ما ډېره زېرېږي
دې سره زما ډېر فکر دے - او بیا په سر سرتورېږي او په پېو پېو دُعا
ګانې به د مامدي تېږ ته کېږي - بیا مامدے ښځه او هم د مامدي
ښځه پاکه فرشته ..... (خندا) او دا اېنګیانو تورسرو په
دې کچه غرمه کښې چې د کار نه څه بزې غونډې هم او زګارې شي..
..... نو د شرشمو د تېلو پیالې را خلي، تېنغې را څي او بې بې ته د
کټ په لنګه کښېني ..... بې بې د نخوا کوره چې سر در له او لېتوم
..... " او بیا ..... بیا ئې کله په سر اکښې سپېره ریچه هېڅ نه وي نو
هم د دروغو یوه ترېږ غونډې سکونډې ورته په سر کښې لګوي او
د دواړو نوکونو نه د دروغو تېک او باسي ..... او ورسره " پوّے "
آواز هم کوي او چونګ تېل ورته شړپه شړپه شړپه په کېږه کښې
ور واړوي ..... (خندا) ..... دا بوډۍ ګانې ښځې خدائے خبر چې څه
چل دے خو د سر په لټولو ډېرې خوشحالیږي ..... چې هر وخت ورته
څوک نا څوک په دې کېره کښې لګه د چړ ګانو لټې وهي نو دوي ډېرې
په طبع کښې وي ..... دا چل یوه ورځ نه هره ورځ د خوابنې سره
یکار دے - که ډېر نه وي څس دے دوه درې سکونډې ورته په کېږ
کښې لګوئ، خو لګول ئې ضروري دي ..... زور ور و هسې مو د
خوابنیانو غریبانانو نه بُو بلا ګانې جوړې کړي دي - د خوابنیانو
مثال خو د ماشومانو دے په معمولي خبره دومره خوشحالیږي
چې بیا به په جامو کښې ځائېږي ..... (خندا) خدائے خبر چې څه چل

دے ...... خو دې بوډۍ ګانو بیوګانو زړهٔ هوا ځورې ته ډېر
کېږي ...... (خندا) اوٓ! هره بوډۍ دا غواړي چې په هر وادهٔ
ښادۍ کښې دا موجوده وي ...... نو کهٔ داسې د اُ مبارکې، کوژدې،
وادهٔ ښادۍ موقعه راشي نو اینګیاندو له پکار دي چې داسې موقعو
ته ځوانسیانې وړاندې کوي ...... "بي بي د ګلاچې بیو تمسے شوې
دے - نن ئې سر کلے دے ځه ته هم لاړه شه، زړه به دې لږه هوا
اوخوري" ...... او بي بي بیا پرېږده چې یونډې په تهکۍ صفا
کوي او په هغه چال د ګلاچې کوه روانه وي ...... په داسې وخت
کښې د بي بي بیا نهٔ پښې خوږېږي او نهٔ سر - داسې اېغه ښغه
روانه وي، لکه هوسئ ...... او چې څهٔ وخت دا مبارکې نه راشي،
نو بیا ورله د ما سختې لږې پښې چاړې کول هم ښهٔ دي ...... (خندا)
وې نو سترې شوې به نهٔ وي غریبه ...... او چې ځوانې سترې
شوي وي نو اینګیاندې به ورله پښې نهٔ چاړې کوي؟ چې د کور
دا دومره بامبېږ سنبالولے شي، چې دا دومره سر خوږے کولے شي)، نو
ځوانې له سر لټوول، کټ نسر سورې ته راکښل او پښې چاړې کول کښې
دومره ګران کاروته دي؟ ...... هېڅ ګران نهٔ دي، خو کهٔ اینګیاندې لږ
غوندې زړونه لوے کړي - او چې څوک د ځوانې په کور د حیا او د
عزت ژوند تېرول غواړي نو هغوي له پکار دي چې زړونه لوے
کړي کني خاوره به ئې په سر او ژړې به ئې به تهوپل وي ......
(خندا) کومه اینګور چې هرې ښادۍ له خپله بُرقعه په سروي هغه
اینګور د ځوانې ډېره بدې شي - خو چې څنګه اینګور بُرقعه په
سر کړي، ورسره سم د ځوانې په زړهٔ تیارهٔ راشي نو بیا د اینګور په

مانه
وینو نه مړېږي، او چې څه وخت اینګور د ښادۍ نه ستړې ستو
راشي نو خواښې ورته لکه سره مچۍ ناسته وي، په کوټې راننوتو
سره ورپورې داسې ونښلي چې د ورځې هغه ټوله خوشحالي یې د
مرګه تېره کړي، ...... رخندا) نو اے اینګیانو و تور سرو،
داسې خوشحالي څوک په تندر ولې نه اولي - چې سحر دې بنده
خوشحالي اوکړي او ماښام له دې یې ترې نه خواښې اوباسي ....
په داسې خوشحالو بلا واچوي - هیڅ ضرورت نشته بالکل چې قدم پورته
نه کړې پرېږدئ چې خواښیانې غریبانانې لږې زړونو له هوا ورکوي -
د ځوانانو زړونو ته هډو د هوا خوړو ضرورت نشته - رخندا) ..
...... ځوانانې ښځې اکثر په دې اخترونو کښې په لاسونو پښو
نکریزې پورې کوي - او پکار ده چې پورې کړي، نو هر کله چې
اینګیاندې د اختر په شپه نکریزې پوره کوي نو بي بي ته دې هم
ست کوي بي بي به ډېر وائي چې نشم پورې کولے یخني ده - زړه مې
نه غواړي وغیره وغیره خو د خواښې په انکار پسې ګورے مه
ځئ - په خوله خو ناناکوي او زړه یې غواړي چې که په لاسونو
پښو نه وي، نو چې سر له خو کم از کم د نکریزو لیو ورکړي ....
رخندا) یه خدایه خو نکریزې پورې کول دي یا په لاسونو پښو او یا
په سر ..... او صباله چې بي بي د اتک سوربمبل سر نیولے وي، نو
پوملې به ترې نه ضرور تپوس کوي او دا به پسې پسې دعاګانې اینګور
ته کوي ...... " خدائے متوکې سره د ډېر ښه اوکړه بچیه، ما خو
نه پورې کولې خو هغې را له پورې کړې الله یې د بچو د غمه اوساته "
...... رخندا) څه چلېږه بیو خوشحاله شوه ...... نو اے

وادهٔ کړو رونړو دا ووهغه نو د چلونه چې درته مې او ښودل..
...... ښې تاسو مې ټول د لوی مصیبت نه خلاص کړئ - او یا تې
شوې اینګیاندې، ...... نو اینګیاندې پوې شه او نخوا ښیانې
پوې شه ...... زما کار چل او طریقه ښودل وو او س عمل کول او
نهٔ کول د اینګیاندو کار دے ..... څنګه منئ مې او که نه، ......؟
چې بیا اونهٔ وایئ ...... ما سره چې ګرځئ نو دا مزې به کوئ -
(ختم)

دَکیلې پوستکے

(خندا) ..... په قصه خوانئ بازار کښې روان وُم۔ کُنه کُونه د بره وه ...... اصلي خبره دا ده چې قصّه خوانئ خو د پېښور ښار زړهٔ دے کنه ...... نو کُنه کُونه خو به پکښې ضرور وی ...... په دې کُنه کُونه کښې زهٔ هم په خپل ترنګ کښې روان وُوم ...... زما نه مخکښې يو سړے روان وُو، ټوکرئ ئې په سر وَه۔ لوئے لوئے بازوګان برسنډ ئې پکښې پرتې وې ...... ناګهانه به ئې لګه دَ چېلئ آواز اُوکړو "پئُن" ..... حق حېران شوُم ورته چې يَه هلکه سم دم سړے ولې دَ چېلئ آوازُونه کوی۔ په دېکښې بيا سړي آواز اُوکړو "پېن" ..... يؤ دوه درې ځله ئې چې "پئُن پئُن" اوکړل نو يقين مې پوخ شو، چې سړے لېونے دے ځکه چې په خود سړے به ولې دَ چېلئ آوازُونه کوی ..... مخکښې روستو، لاندې باندې ورته مې ښهٔ اُوکتل ..... خو خدائے شته چې سړے دروغ رمته ښکارېدو ...... په دېکښې ئې بيا يو پئُن نارې کړې ..... اُو خدائے شته چې زما زړهٔ خفه شو ..... ته ګوره ورته سم دم ځوان دے، خو چې مازغهٔ ئې خراب دی نو دَ چېلئ آوازُونه کوی ......

(خندا) په دې کښې لالے بخش په دا نګو دا نګو را خلاص وُو ...... اوراتلو سره ئې ..... "اَو لالے مرچ خېرې نال" ..... ګوره بخش يو خو خدائے ته اوګوره چې ماته مرچ مهٔ وايه۔ سم دم مرچکے نوُم مې دے خو تا را نه مرچ جوړ کړو"

(خندا) بخش خپ خپ چې په خندا شو.... "او تاته خدائے مور کړې مړ چکی ته هندکو کښې مرچ وائي کنه" " يره هر څه چې وائي وړته خو ماته سم دم مرچکے وایه، مرچ راته مۀ وایه- په ما دا نوم ډېر بد لګی".

(خندا) أله أله يار. بيا تاته سرخ مرچ وبم بس.

"بنه یار پرېږده دا سړے چې مخکښې روان دے أو ټوکرۍ ئې په سر ده، أو دَ چېلې آوازونه کوی، دا ګنې لبو نے نهٔ دے".

(خندا) او تاته خدائے خوار کړی، چلاؤ نِنګا. پېڼ خرچ کوی پېڼ.

"پېڼ"...... پېڼ څهٔ ته وائي؟

"او دا ټوکرۍ کښې پېڼ تا ته نظر باندې نۀ راځي؟"

"برسنډې؟..... يَهٔ هلکو برسنډو ته تاسو پېڼ وايئ؟ دَ سمو دمو برسنډو نه مو راته پېڼ جوړې کړې (خندا) يره خدائے شته چې دا خو ډېره زيادتي ده-

"اوچھوڑ یار اِناں ګلاں نوں لالے مرچ. تا باندې چائے او څښو م؟ ......"

"نه یار مهربانی چائے نۀ څښم - څم زما تا دی ده."

"او یار ګانا تاته بہتر باندې کښېنوم، هلته تا باندې چائے او څښوم".

(خندا) نه نه مهربانی بہتر باندې ما مۀ کښېنوه زۀ چائے نۀ څښم.

"بنه ده سلام علیکم".

"وعليکم السلام الله دے حوالے لالے مرچ"

(مُسکا) نورُونو لالے بخش مې په ځائے پرېښود او زۀ ترې مخ په وړاندې روان شوم...... چې څو قدمه مخکښې لاړم نو څهٔ ګورم چې دَ برسنډو ماما بوړې بوړې په سر پروت دے، أو برسنډې ئې لګه دَ کټ بازوګان په بازار کښې شيندلے شوی دی.........

خلقې دي چې دَ ماما نه راچاپېره شوي دي ...... "زهٔ هم ورنژدې شوُم ......"هلکه مامدې څهٔ چل دے" مامدې خټ خټ چې په خنداشو ...."يره مرچکيه! ارمان دے چې لږ غوندې مخکښې راغلے وې عجيبه ډرامه وَه کنه"....... . "نهٔ حال اُو وايهٔ چې څهٔ چل شوے دے"...... مرچکيه تهٔ په خدائے باور اوکړه چې دې غټ پټ سړي په دې سړک داسې بازيګرې اُووَهلې چې لکه دَ ماشومانوئې خرپوسې اوکړې"..... (خندا) "يره مامدې دا عادت مې دې ډېر بد ی شي چې نه به دَ خبرې سروي اُونهٔ لکه اُو تهٔ به چرچقې وهې، وَه زوروره سمه خبره اوکړه"- ...... "مړه دا برسنډووالا نهٔ دے؟ تهٔ ګوره ورته چې داسې پړې سترګې پټې دي چې په لاره څې نو هډو زمکې ته نهٔ ګوري- هلکه کورآبادو چې په لاره څه نولږ زمکې ته خوهم ګوري کنه ...... دا دے چې زمکې ته ئې نهٔ کتل نو دَ کېلې په پوستکي ئې پښه راغله..... تهٔ په رب باور اوکړه مرچکيه چې دا يوه پښه ئې لاړه باچا با مخېلوته اُورسېده اودا بله پښه ئې دَ قيصه خوانۍ په دې مېنځ کښې پاتې شوه اُوتم تړاق شو چې دَ سړک دې مېنځ له راخطا شو...... . (خندا) نومرچکيه آشنا چې دا غټ پټ سړے په ډک بازار کښې لکه دَ ماشُومانو په خرپوسې نوداخوژوندي دي زهٔ وئېم چې مړولـه به هم ورپورې خندا ورشي..... مامدې چې دا خبره اُوکړه نو دَ دې سړ نه مې يوه لمبه پورته شوه. دا اوس خدائے روئ اومنه دَ خندا خبره ده. وَه کور آبادو دا مونږ به کله دَ ژوند طريقې زده کوُو. دا مونږ به کله په ښهٔ بد کښې تميز کوُو. دا مونږ به کله دَ ژوند دَ اصولو نه ځان خبروو. دا اوس خدائے روئ اومنه انصاف دے چې هرڅوک به په لاره په بازار کښې روان وي اُو لکه دَ اُوښ به شخوند وهي. کېله خوړلې پوستکے دَ بازار مېنځ ته لره کړے. مالټه خوړلې، پوستکے

لکه دَ فټ بال په لته وهلے...... په دغه پُوستکی تهٔ راځه ښښه پرېابده اُو خرانګې ورانګې په بازارکښې راغورزېږه بل راځه په پوستکی ښښهٔ خوښېدلی اوُبوُرې بوُرې په بازارکښې په خرپوسوکېږه..... دَ چا سرمات. دَ چا لوس اُو دَ چا پښه ...... نوآخر داکوم انصاف دے. انسان خو هغه انسان بللے شی چې دَ انسانیت چارې کوی. ګنی نو په انسان او حیوان کښې فرق څهٔ پاتې شو؟........ راشه رُوښوچې لږ غوندې دَ سوچ اوُ فکر نه کار واخلو اوُ دَ ژوند دَ آدابونه ځان خبرکړو...... په لاره کوڅه او بازارکښې په ولاړې یا په روا نه خوراک کوّل ښهٔ عادت نهٔ دے، پوستکی په لاره په سړک غورزوّل ښهٔ خصلت نهٔ دے...... هرڅهٔ چې اُوخوری نوپوستکےېُ یوخواته یوې ډډې ته غورځوی. اوُس خو شکر دے موږ آزاد قوم یُو، نو داسې چارې زموږ سره نهٔ ښائي. داسې عادتونه به اوس پرېښودل غواړی. که موږ دا عادتُونه هېر نهٔ کړل نو دَ مهذبې دُنیا او سېدونکی به راپورې خنداګانې کوی.....!

هم په دې سوچونو کښې ډوب ولاړوُم چې په دې کښې لالے بخش بیاراغلو......

"کیوں لالے مرزے کیوں کلوتیئں"۔

" پخیر بخش. ولې هلکه تهٔ خو بیاراغلې"۔

" هاں یارکورنه سوال جواب شوی دی چې زما ځوئې ته اَتهوّاں ډنک وهلے دی"۔

" اَتهوّاں؟..... اَتهوّاں څهٔ ته وائې بخش"۔

" تهٔ اَتهوّاں نهٔ پېژنې"۔

" نه خدائے راستی که ئې پېژنم"۔

" او بچهو بچهو ته پېژنې نهٔ پېژنې"۔

"لړم ؟"......

اُو اُو لړُم۔ لړُم۔"

(خندا) "يَه خدايه پاکه۔ تاسو اوس لړم ته اَتهُوّان وايئ.....؟
سم دم لړم نه مو اَتهُوّان جوړ کړو؟"......

"او تا ته خدائے خوار کړی۔ هره ژبه کښې اَلگ اَلگ نام دی نا
........"

"يره اَلگ اَلگ نام به وی، خو دا اَتهُوّان نُوم خو مې بالکل نهٔ
دے خوښ...... لړم نه.... نو اَتهُوّان۔ يره خو...... (خندا)

جوارګر

(خندا) .... یره داسې آورم چې دا غلهٔ چې دی نودوئ ډېر زړهٔ ور وی، او د زړهٔ ورتیا سره ډېرې کرکې هم وي، دا خبره به خدائے خبرې چې صحي وی یا غلط..... په دې مې څهٔ کار نشته..
..... خو زهٔ خو چې دې جوارګرو ته فکر اوکړم نو زهٔ وېرم چې د دوئ سره زیات زړهٔ ور او سپین سترګی غلهٔ خو به هډو د خدائے په مخلوق کښې نور هډو څوک وي نه .... تا سو به وایئ چې هلکه جوارګر خو جوارګر دی خو ورسره غلهٔ خونهٔ دی...... او! زهٔ هم دا منم چې جوارګر جوارګر دی خو ورسره غلهٔ هم دی ...... او غلهٔ هم داسې چې ډېر زړهٔ ور او ډېر سپین سترګی...... دا جوارګر چې څهٔ وخت پېښور ته جوړه کړی او جوارے ته د پېښو په سر کښېنی...... او چې څهٔ وخت دا نه مېدان ته را لاړه شی،...... نو هر جوارګر دا نه پورته کوی شهید بابا ته سلام کوی، او دا سوال کوی چې شهید بابا را اُورسېږې خدایه په جولۍ کښې مې خېر واچوې ...... (خندا) یعنې د خدائے پاک نه دا سوال کوی، چې اے خدایه پاکه تهٔ را باندې جوارے اوګټې ...... د جوارے د ګټې سوال د خدائے پاک نه؟ نعوذ بالله یعنې د ګناه په کار کښې د خدائے پاک نه د امداد سوال کوُل؟......
د ګناه په کار کښې شهید بابا ته سلام کوُل؟ ...... دا سپین سترګتوب نهٔ شو نو څهٔ شو،...... نه خدائے شته که د جوارګرو هو مره غټې

سترګې ښې خو به دَ بل مخلوق وي ...... اے ښه څه دا به ئې پرېږدو .... دا جوارګر ـ په يوه پېښه کښې ناست وی، نو دوئ ګنی دَ يو بل جېبونو ته غلهٔ نهٔ وی؟ ولې نهٔ وی؟ .... خدائے شته چې هر جوارګر ذړهٔ دا غواړی چې دَ دې بل جوارګر جېب مې را لش کړے، اَو خپل جېب مې ډک کړے ...... هر جوارګر بل ته غل وی. هر جوارګر به په بل جوارګر پوئ وی چې دے زما جېب ته غل دے، ولې بيا هم په يوه پېښه کښې ناست وی دَ دانې په چکه او تری خپل قِسمتونه جنګوی .... (خندا) نو دا ګنی سپين سترګتوب نهٔ شو، دا ګنی غلانهٔ شوه؟ .... په غرېدلو سترګو غلا .... دَ وښې مور نه څوئ تښتوَل ...... اَے تهٔ کورئ خور کړې چې دا خلق څهٔ په بلا آوړېدلی دی، دا خلق څهٔ دَ خدائے په قهر آوړېدلی دی، ښهٔ پوهېږی ولې بيا هم نهٔ پوهېږی، چې پوهېږی اَو بيا ئې هم ځانونه ناچاړه کړی دی نو دَ دا سې مخلوق سره به سرے څهٔ اوکړی .... اے دا دی جوارګر ناست دی، لس کسان دی ..... دَ سحر نمر خاته نه ناست دی ...... دَ پښو په سر به مزکه، يخه لکه واوره زمکه .... اُوړی تری اَو نهر ..... نهٔ دَ ځانه خبر دی نهٔ دَ جهانه .... نهٔ دَ خوراک غم، نهٔ دَ خبناک فکر ..... دا نه ده چې بې واره ميدان نه راالره کيږی ..... کنځل دی چې دا ني ته کيږی ...... هر ځل چې دا نه غورزيږی نو ورسره سم دا آواز راځی ..... "چک ! اَے ستا ......". (خندا) ..... "شش ، اَے ستا" ...... (خندا) "تری، اَے تهٔ ته .... !" ياران دانه راپورته کوی، اَو دانه لره کوی ..... اَو هر نوے چکرچې شروع کيږی، نو دَ پېښې نه يو ټک تور لاس راوړاندې شی اَو دَ رُوپو دَ ډيری نه دَ پينځو يا دَ لسو نوټ دَ غوبړه اُونيسی اَو ځان ته

ئې راکاږی ...... اُوکمال دا دے چې یو جوارګر هم ورته غږ نۀ کوی یو جوارګر هم پرې اعتراض نۀ کوی، بچې هلکه کډُوسر پېږولې؟ هلکه خبر خو دے؟...... (خندا) خو جوارګو آشنایان غږ نۀ شی کولے ځکه چې دغه ډیک تورلاس خاوند ته پړَیّ یا "نالی" وئیلے شی۔ پړی به دَ هر چکر نه یو نوټ راکاږی که دَ پنځوروپو وی که دَ لسو روپو وی، دا دَ هغۀ حق دے دا دَ هغۀ دَ مورپے دی ...... جوارګران غریبانان ټوله ورځ دَ پښو په سر په ناستې، ټوله ورځ دَ زمکې په دربوُلو، دَ لاده باده اُوځي۔ ټوله ورځ ئې په چکه اُوترِی دَ خُلې و ښکې اُوشلیږی اُوچې ماښام له دَ هر جوارګر نه تپوس اوکړې نو...... "یاروالله سل مې بیالودې"...... یاروالله پنځوس مې ګټلو دې"

یاروالله شل مې داُوکړې"...... اُوچې چاپکښې ګټلې وی نو هغه یو قسم پورته کوی او بل را خلا صوی چې ایله شل روپے مې اوګټلې...... (خندا) نو یا هلکه دا څنګه چل دے، یوسل، یو پنځوس اُو یُو شل بیالودې اُوګټونکی صرف شل اُوګټلې۔ نو هغه باقی اُووُه ئیمې شلې روپے څۀ شوې؟...... هغه لاړې دَ پړَی ماما جیب ته۔ څومره په آسانه ئې واخیستې، څومره په آسانه ئې غلا اوکړه، اُوچې دَ چاغلا ئې کوُله هغوئې ورته په غټو غټو کتل، ولې بیا ئې هم ورته څۀ وئیلے نۀ شو...... نو ځکه زۀ وایم چې اے دَ یو بل جیبونو ته غلو رُونو" جواری غلا ده، تاسو ټول دَ یو بل جیبونو ته غلی یئ، نو ځکه خو ټول داسې خوار و زار یئ کنه، هغه دَ رحمان بابا خبره چې ے

کوهے مۀ کنه دَ بل سړی په لار کښې
چرې ستا به دَ کوهي په غاړه لار شی

(خندا) خو دا جوارګر دومره زورَور عالم دے چې هره ورځ بل ته کوهے کنی، هره ورځ په دغه کوهی کښې پخپله ورپرېوځي ولې بیا هم دَ خپل عادت ځنې مجبوره دی .... بیا هم چې تر څو پورې دوئې دَ سحر نه

تر ما بنامه پورې د پښتو په سر نهر نهور کښې ننی، اُو دا ناروا ناروا کنځل
اونۀ غره وی نو په دوئ ساعت نۀ تیریږی - یۀ رُوڼو! یۀ جوارګر وروڼو
یه مسلمانانو رُوڼو، دا څۀ کوی ؟ دا ولې د ځان سره دُشمنی کوی ......
کوم جوارګر بلډنګونه جوړ کړل ؟ کوم جوارګر موټرونه واخستل؟ ......
نه خدائے شته کۀ یو جوارګر هم د ښې ورځې مخ لیدلے دے ....
اُو منم چې د جوارګرو په خوَلې د پړخاونډانو بلډنګونه جوړ کړل، موټرونه
ئې واخستل، عیشونه عشرتونه کوي. اُو جوارګر چې څنګه خوارووُ داسې
به خواروی .... دُنیا ئې خرابه، آخرت ئې خراب، په معاشره کښې
ورته خلق په سپک نظر ګوری، اُو د خدائے په نزد هم ګنهګار اُومجرمان
.... (خندا) نو بیا د داسې جوارۍ فائده څۀ ؟ ...... د داسې
خوارۍ میوه څۀ؟...... نۀ خاوُرې نه ایرې...... هسې د بل د پاره ځان
کړۀ وُل اُو خاورې په سر نوستل دی...... نو ځکه درته وۀ وئیم چې اے
جوارګرو رُوڼو! راشئ دا جوارۍ پریږدئ - راشئ دا خوارۍ پریږدئ
شُکر دے خدائے پاک درله لاس پښې درکړې دی. شُکر دے صحتونه ئې
درله درکړی دی، شُکر دے د چانه کم نۀ یئ - هر څۀ شته خو صرف احساس
مومړ شوے دے - ضمیرونه مومړۀ شوی دی...... د لاس پښو محنت
درته مړګ ښکاری...... په مزدورۍ درته ځان بدی ښکاری - په
محنت درته ځان بدی ښکاری...... تاسو وایئ چې په ناستې ناستې
مالداره شوے - تاسو وایئ چې په یوه ورځ کښې موجبونه د روپو نه ډک
شوے - خو اے رُوڼو! ستاسو ډېر رُونه په دې ارمان د ګور تورو خاورو
ته تلی دی...... تاسو به هم یوه ورځ د جوارۍ په پېلنډه کښې ناست
یئ، شش به مو د خُلې نه وتلی وی، اُو ترې به مو په خُلۀ کښې باتې
شوې وی، نۀ به مالداره شئ اُو نۀ به موجبونه ډک شئ اُو بُوری بُوری

بیا به داسې چل اوکړي چې داکومې پیسې چې تاسو هره ورځ په جوارۍ دوره کوئ، په دغه پیسوخهٔ کار روزګار شروع کړئ، ...... د حلالو ګټه به وي، خدائے پاک به پکښې برکت واچوي بیا به ګذاره به مو ښه کیږي. یعنې زوئ ورو راشئ تاسو خولې ته د حرامو ګټې خوند واخلئ، راشئ تاسو خولې د محنت د ګټې خوند واخلئ چې په اندازه ئې پوې شئ چې په حلاله ګټه کښې څومره خوند دے .... نهٔ پوهېږم چې زما په دې خبرو به څوک عمل اوکړي اوکهٔ نه؟ ...... خوائے خدایه تهٔ په خپل فضل اومهربانۍ سره د جوارګرو زړونو زړونه د جوارۍ نه تورکړې، حلالې ګټې ته ئې پام کړې، چې زمادا په معاشره کښې سپک زړونه د عزت اوقدرځائے بیامومي. آمین!

ژوند

(اسوېلے)

سحر شي ما ښېښن شي، ما زيګر شي، ما سختن شي
د ژوند ګهړۍ کمېږي، ناګهانه به پوره شي

او د ژوند ګهړۍ تېرېږي - ژوند د خپل منزل په لور په تندۍ سره روان دے ...... څوک خپل منزل ته رسېدلي دي او څوک بس ور رسېدونکي دي .... د چا د ژوند ډېوه پخوا ګل شوې ده او د چا د ژوند ډېوه بس په سلګو ده .... د ګل کېدو په انتظار ده ...... د مړه کېدو په انتظار ده ...... بس د باد يوه نرۍ غونډې چپه ...... د هوا يوه نرۍ غونډې چپه به ئې ګل کوي ...... او بيا ...... ؟ د دې آبادۍ او ودانۍ د دنيا نه به ...... د ټولو مصيبتونو او تکليفونو د دې .... دُنيانه به ...... د دې ښکلې ښايسته او رنګينې دنيا نه به د ګورستان هغه خموشې خموشيا ته ورسي ...... د قبرستان هغه چُپې چُپيا ته ورسي ...... دوه لاس او دوه پښې به د منونو خاورې د لاندې ښخ کړے شي .... او بيا .... ؟ بيا به په دغه تور لحد کښې ...... بيا به د مړو په دغه خپل خانه کښې

...... نه څوک د فریاد اورېدو شته .... نه څوک
د ژړا اورېدو شته، نه څوک د تسلي شته او نه څوک
د ډاډګیرنې ...... زوړ ئې نشته چې د فریاد سره رامنډې
کړي ...." ولې بابا .... څه تکلیف دې درته،
سر درله ومنډم ...... پښې درله ومنډم ؟ " ......
لور نشته چې دوی سره رامنډې کړي چې ...... خپل
شه بابا - ولې بابا..... څه دي بابا؟ ......" ښځه
نشته ...... ور نشته ...... خپل نشته، پردې نشته ....
یو ځان .... یو د لحد تورې تیپ توره تیاره او یو عمل
.... عمل زموږ د لارې مل .... عمل زموږ د قبر ملګرې
دی ...... عمل به موږ د لحد سختۍ آسانوي ... .
تورې تیپ لحد به راله روښانه کوي .... عمل به
راته د لحد نرسرې سرو ټکي جوړوي .... سور تنور
به راته تورې نه جوړوي .... او په دغه سرو سرو ټکو
به موږ تېرېږو او په دغه سور تنور کښې به موږ ورتیږو
...... ډېر سخت مقام دی، رورو ډېر سخت ...... د
دویم ژوند ابتدا ډېره سخته ده .... د ابدي ژوند د
شروع کېدو مقام ډېر سخت دی ...... را ځئ رورو چې
هغه سختۍ ځان ته اسانې کړو .... را ځئ رورو چې
د لحد تورې تیارې په سرو ګلونو بدلې کړو .... را ځئ
چې د لحد تورې تیارې په رڼاګانو بدلې کړو .... را ځئ
.... را ځئ .... اے مسلمانانو چې سم مسلمانان شو
.... را ځئ چې د خپلو زړونو نه بغضونه او باسو، او د

بغض کینې او حسد په ځای .... د غوښې په دغه کور
کښې د غوښې په دغه بوټي کښې د بغض په ځای مینه
را پیدا کړو .... د کینې په ځای محبت را پیدا کړو ......
د کینې په ځای الفت را پیدا کړو .... هغه مینه چې
انسان پرې د انسانیت معراج ته رسیدای شي ....
هغه مینه چې انسان پرې انسان خپلولی شي .... چې انسان پرې
انسانیت خپلولی شي ... . هغه مینه چې د خدای خوښه ده
.... هغه مینه چې د رسول علیه السلام خوښه ده ...... را ځئ
چې د مینې په برکت دا ټول مقامونه خپل کړو ...... را ځئ چې
د مینې په برکت په معاشره کښې ځان له هغه مقام را پیدا کړو ......
چې د مرګ نه پس .... زمونږ په جنازه باندې د ګلونو د سهرو
په ځای د انسانانو د ګکو رښې او پاکې پاکې او ښکې
سهرې شي .... ګلونه .... امیلونه شي .... د پاک ضمیر
د خاوند په جنازه .... د ګلونو د امیلونو ضرورت نشته ....
د مینه ناک زړه خاوند په جنازه باندې د ګلونو د سهرو ضرورت
نشته ..... ځکه چې ګلونه د محبت د اوښکو سیالي نشي کولی ....
..... ګلو ته د عقیدت د اوښکو سیالي نه شي کولی ....
ګلونه د چامتین د اوښکو سیالي نشي کولی ...... را ځئ چې
صحیح انسانان شو، چې انسانیت را باندې سر هسکې شي ....
را ځئ چې صحیح مسلمانان شو چې اسلام را باندې سر هسکې شي.
...... را ځئ چې سم مخلوق شو چې خدای پاک زمونږ په تخلیق
ویاړ وکړي .... دا موږ د ځان نه څه جوړ کړي دي..
...... دا موږ د ژوند په کوم ډګر کښې روان یو .... دا

موږ د کږ لېچونو ...... پېچمونو او کندو کپرو په کومه لار روان یو ...... موږ په نامه انسانان د انسانیت نه څومره لرې شوي یو ...... موږ په نامه مسلمانان د اسلام نه څومره لرې شوي یو ...... سمه لاره موږ ته ښېښي ده ...... په کندو کپرو سر یو ...... نېغه لاره موږ ته ښېښي ده په کږو وږو روان یو ...... آخر تر کومه به ...... موږ د غه ټکرې څورو ...... تر کومه به موږ د حقیقت نه سترګې پټوو ...... اې غافله انسانه! ...... اې ناپوهه انسانه ...... زموږ هر قدم موږ مرګ ته یو قدم ورنږدې کوي ...... زموږ هر پل موږ لحد ته ورنږدې کوي ...... دا مزل به آخر یوه ورځ ختم شي ...... دا لار بیا آخر یوه ورځ اووهله شي ...... او هر کله چې مزل ختم شو ...... لار ختمه شوه نو بیا؟ ...... مخ په وروستو هڅه هم نشته ...... مخ په شا هڅه هم نشته ...... بیا مخکښې قبرستان دې ...... او په دغه قبرستان کښې یوه وړه غونډۍ ټکره په کچه کچ کړې دوه نیم ګزه مزکه ...... او په دغه مزکه یو ژور ...... ډېر ژور ډکه کوهې لحد ...... دغه زموږ کور دې ...... دا بنګلې دا موټرې ونه به شا ته پاتې شي ...... دا مزکې جائیداد ونه به شا ته پاتې شي ...... په دغه تور لحد کښې به دولت زموږ په کار نشي ...... سره سپین به زموږ په کار نشي ...... بلکې په ناجائزه ګټلې دولت به زموږ دپاره لرمانان شي ...... دیتیم حق به راته ښامار شي ...... د مظلوم آه به راته سرې لمبې شي ...... د مزدور اسویلې به راته لوګې لوګې او تورې تیرې شي، نو اې انسانه! ...... اې

مسلمانه! که ځان د قبرد لړمانو نه په امان کول غواړې نو ناجائزه ګټه پرېږده .... حلاوت پرېږده .... که ځان د قبر د مارانو نه ساتل غواړې نو یتیم ته خپل حق واپس ورکړه ...... یتیم ځان ته رانزدې کړه ... . دیتیم په سر د مینې، همدردۍ او محبت لاس راکاږه ... . رونړو ویرېږئ د یتیم د ژړانه.... ... د یتیم د سترګو هره اوښکه کورے طوفان دے .... دیتیم د سترګو هره اوښکه کورے عذاب دے .... د مظلوم هر آه .... په خپله لمن کښې سرې لمبې لري ... . د مزدور هر اسویلے به مو کورے لوګے لوګے او ایره ایره کړي ... . په دې فاني دُنیا پورې زړونه مه تړئ .... په دې نیمګړې دُنیا دومره مه مینېږئ ... . د مرګ خیال د زړونو نه مه وباسئ ... . مرګ؟ ...... یو حقیقت دے .... مرګ د هر ژوندي په قسمت کښې لیکلے دے ... .. نو د داسې حقیقت نه بې پرواه کېدل کښې هوښیارتیا ده؟ ... . داسې حقیقت نه بې پرواه کېدل کښې عقلمندي ده؟ ... ... نه! دې ته هوښیارتیا نهٔ شي وئیلے ... . بلکې دا زمونږ غفلت دے ... . دا زمونږ ناپوهي ده ... . او د دې غفلت او دې ناپوهۍ انجام به ډېر خراب وي ... ... ډېر ... ... ډېر — روس هم وخت شته ... . اوس هم موقعه شته ... . اے انسانه! که ته اوس هم صحیح انسان شوې، نو مبارک دې شه -

اے خدایه! ته انسان په صحیح معنو کښې انسان کړې...

اے خدایه! ته مسلمان په صحیح معنو کښې مسلمان کړې ......

چې انسان ستا په دې دنیا کښې د ژوند په خوند پوه شي،
آمین - ے

سحر شي، ماښام شي، ماز یګر شي ماسخوتن شي
د ژوند ګهړې کمیږي ناګهانه به پوره شي